
# کرزی



Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

د افغانستان ولسمشر حامد کرزی

# کرزی

## (د افغانستان د ولسمشر حامد کرزي ژوندلیک)

لیکوال

**نیک بي مایلس**

پښتو ژباړن
غلام ولي نوري

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کتاب پېژندنه:

| | |
|---|---|
| ❖ د کتاب نوم | :: کرزی |
| ❖ ليکوال | :: نيک بي مايلس |
| ❖ ژباړن | :: غلام ولي نوري |
| ❖ خپرندوی | :: سنځر خپرندويه ټولنه |
| ❖ کمپوز او ډيزاين | :: مطيع الله روهيال |
| ❖ چاپکال | :: ۱۳۸۷ ش – ۲۰۰۸ ع |
| ❖ چاپشمېر | :: ۵۰۰ ټوکه |


اړيکي

aracozia@yahoo.com

گرځنده

۰۰۹۳(۰) ۷۰۰۳۱۸۴۹۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ډالۍ

خپله دا ژباړه د هیواد د تکړه لیکوال
او پېژندلي خېړونکي
استاد محمد معصوم هوتک
نامه ته ډالۍ کوم

غلام ولي نوري

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ژباړن خبري

دا نصیب هم په سړي نوري کوي روان کندهار ته وم، خو خپل ځان مي په کاناډا کي وموند. دا د ۲۰۰۷ م کال د اکسټ ۱۲ مه وه، چي د کندهار ښار ته نژدي مي موټر ټکر سو. دا سي ښکاريده لکه تقدير چي د افغانستان او پاکستان په نسخو زما روغتيا نه وه نويشته کړې.

خو د غرب د عصري او پرمختللي ټکنالوژۍ څخه په مننه، چي زه يې بيرته د دي جوګه کړم چي د خپلي خوارکۍ پښتو په ننګ قلم راپورته کړم. دا ځل مي درمنله د يوه کاناډايي ډاکټر له خوا کېده. پر کټ تر کښېنستلو وروسته مي د عادت له مخي افغاني ټولي نسخي او ايکسرې ورښکاره کړې، خو افغاني ايکسرې حتی په دې کي هم پاته راغلې وه، چي زما د سر په کوپړۍ کي درزونه ونيسي. ډاکټر هغه ايکسرې وکتلې، چي کومي نتيجي يې نه ځني واخيستې. له همدې کبله يې زه د ايکسرې خوني ته بوتلم هلته يې د عصري ايکسرې ماشين په غېږ ورکړم. تقريبا تر ۱۵ دقيقو وروسته يې زه بيرته هغه خوني ته راوستم، چي ور څخه بيولې يې وم.

تر لږ ځنډ وروسته د اوو ډاکټرانو يوه ډله راغله راته ويې ويل، چي د وروځو له منځ څخه بيا تر نزلې پوري دي دا هډوکي دوه ځايه درز کړي دئ.

اوه زما خدايه!

دا څه اورم؟

فکر نه کوم په هغه وخت کي چي پر ما څه تېرېدل بل څوک يې حس کړي، خو د تقدير په وړاندي به خوار انسان څه وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما وویل نو چاره څه ده؟

دوی وویل چاره دا ده، چي موږ باید ستا سر د یوه غوږ څخه تر بله پوري عملیات کړو تر څو وکولای سو هغه هډوکي دننه تداوي او له نس څخه دي غوښه پریکړو د هغو وینو و مخ ته یې ورکړو، چي د هډوکو د ماتېدو پر وخت بهېدلي او د مغزو پر خوا تللي دي.

یا پاکه ربه چي ستا فضل او کرم نه وي نو زه خوار به څه وکړم. اې د کایناتو خالقه ! زه دي لکه چي د خپل هیواد ، اسلام او ژبي د چوپړ له پاره نور نه وم په کار؟ رب العالمینه بس تاسي پوهیږئ او کار مو.

له ډاکټر څخه مي وپوښتل که چیري زه عملیات ونه کړم نو څه به وسي؟ ده په جواب کي وویل چي ته په بخت ډېر بیداره یې، چي ستا د سر وینه مغزو ته نه ده رسېدلې که چیري رسېدلې وای نو تاسي به یا تر نامه لوړ یا کښته فلج سوي وای، او که چیري عملیات ونه کړې نو د پورتنیو یادو سوو مشکلاتو سره د مرګ خطر هم تړلی وي. دا چي په زړه کي مي څه تېرېدل یو الله خبر دئ. بس د الله امر ته مي غاړه ایښې وه. د کایناتو رب په خپلو کارونو ډېر ښه پوهېږي.

ما د ډاکټر څخه ۱۵ دقیقي وخت وغوښت، چي تر څو په همدي اړه د خپلو قریبانو او دوستانو سره سلا او مشوره وکړم. ټولو د عملیات کولو مشوره راکړه چي ما هم ډاکټر ته په هو سر وخوځاوه. تر ۱۷ ساعته وروسته چي پر هوښ راغلم که ګورم د جانسن په نامه یو امریکایي ډاکټر راته ولاړ و، چي تازه د خپلي فلسطینۍ مېرمني له کبله د اسلام په مقدس دین مشرف سوی و. ده چي زه ولیدم چي را پر سد سوم پر ځیګر یې لاس راکښیښوی راته ویې ویل Noori you will be all right Inshaullah . خو وروسته چي به ما د خپل صحت په اړه پوښتنه ځني کول ډېر به خواشینی

(c) ketabton.com: The Digital Library

کېده او کوښښ به یې کاوه، چي په یو چم مي له ځان څخه تېر کړي. یو وخت چي مي ډېر مجبور کړ راته ویې ویل ستا روغتیا به ډېر ډېر وخت وغواړي. ده زما سره دومره مینه کوله، چي زه ډېر ورته حیران وم ما ته دا سي ښکارېدی لکه خپل ورور.

په روغتون کي نور غیر مسلمان ډاکټران هم وه، خو د جانسن مینې او اخلاص بېخي حد نه درلود. دا مینه د اسلام د هغي رڼا له کبله وه، چي زما او د ده زړه ته یې لار موندلې وه تر دې نو بل کوم ټینګ تړون کېدا ی سي؟

تر ده وروسته ډاکټر رټکوسکي راغلی، چي زما عملیات یې تر سره کړي وه. ده وویل چي ښه کېږې انشاالله. زما تر دوباره معاینې او ایکسرې وروسته یې راته وویل چي هر څه ډېر سم دي او تاسي کولای سئ، چي نن پر ۱۲ بجې د روغتون څخه ولاړ سئ. ایا که زه په پاکستاني او یا افغاني روغتون کي وای څو ورځي به یې ساتلی وای؟ د دوولسو بجو په شاوخوا کي زما خوږ دوست ابر هم راورسېد ، چي سمدستي مو د روغتون څخه خپله کډه را بار کړه.

دا کیسه مي ځکه دونه اوږه کړه، چي یو خو لوستونکو ته وښیم، چي دا کتاب مي په څنګه وخت کي ژباړلی او بل د هغو ملګرو د ډاډ له پاره چي زما د روغتیا په اړه اندېښمن دي، خو زه اوس الحمد الله بالکل روغ رمټ یم.

تر دې دوې میاشتي وروسته د کاناډا د البرټا ولایت د مرکز ایډمنټن د لوي مارکېټ پر کتابتون وربرابر سوم. هلته مي د نورو کتابونو تر څنګ دغه کتاب هم پیدا کړ. ډېر مي خوښ سو، چي سمدستي یې د ژباړلو فکر راسره پیدا سو. د روغتیا په دغسي وضعیت کي مي د دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کتاب ژباړه پیل کړه. د ژباړې په وخت کې به همېشه د کورنۍ د غړو له خوا د سختو نیوکو سره مخامخ کېدم، چې ویل به یې دا ستا صحت او دا کتاب! کله ښه سې بیا به یې وژباړې خو ما د چا دا ونه منل او نه مې تر اوسه په خپل ځان دا منلې ده، چې ما دومره سخته ضربه لیدلې، خو که مې ومنل په هغه صورت کې نو رښتیا هم مریض یم. تر اوسه لا د تندې پاړسوب راسره دئ او دا چپه سترګه خو مې ببخې ډېره پړسیدلې وه، ما به خپلو ملګرو ته ویل لکه دا غربیان چې هم په کړوپ کشي کې ښه تجربه نه لري. خو اوس چې یې پاړسوب کښېته سوی هر څه سم معلومېږي. خو کله چې به مې دغه سرګذشت خپلو ملګرو ته وایه نژدې و، چې د زړه حمله پر راسي. خو ما الحمدالله هیڅ کمې نه ده احساس کړې او د دغه کتاب پر پښتۍ عکس مې هم تر عملیاتو وروسته اخیستی دئ.

یو څه هم د کتاب او لیکوال په اړه:

د ژباړې په وخت کې مې کوښښ کاوه، چې ژباړه یې ډېره ساده وي. د ارچیوال په نامه یوه دوست له دې کبله د کتاب د ژباړلو څخه منع کولم، چې د مسعود صفت پکښې سوی دئ. ارچیوال ورور او د ده همنظروته وایم چې د مسعود له پاره همدومره بس ده، چې مړ دئ.

ښاغلی لیکوال یې د افغانانو سره خورا ډېره مینه لري او د افغانانو د کلتور او تاریخ څخه ښه خبر دئ، چې د احساساتو یې باید درناوی وسي. په کتاب کې ځینې غلطې وې، چې هغه مو تر وسه او پر خپل ځای اصلاح کړې دي. په کتاب کې د ولسمشر کرزي ډېر اړخونه را اخیستل سوي دي چې د راتلونکو تاریخ لیکوونکو له پاره تر ټولو ښه سند دئ، خو که چیرې دغه کتاب د ولسمشر کرزي د خولې څخه یو تکړه افغان لیکوال لیکلی وای ډېر به خوندور وای.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پای کې د ښاغلي مطيع الله روهيال څخه مننه، چې په خورا سخت وخت کې يې د دغه کتاب کمپوز په ورين تندي وکړ او ګټوري مشورې يې هم را څخه ونه سپمولې. ويښ ملګري فرهنګي ټولنه هم د هېرولو نه ده، چې د دغه کتاب په چاپ کې يې تر خپله وسه مرسته وکړه.

نور نو دا تاسو او کتاب!

په سپېڅلې مينه او ادب
غلام ولي نوري
٦/ ٦/ ١٣٨٧ ش

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د سر خبري

په لومړي ځل ما له حامد کرزي سره په ۱۹۸۷م کال د پاکستان په پېښور کي هغه وخت ولیدل کله چي ما د افغان مطبوعاتو پروژې له پاره افغان زده کونکي نیول دا د بوستن پوهنتون د ارتباطاتو د کالج پروژه وه او زه یې ساحوي مشر وم.

د حضرت صاحب په تنظیم کي کرزی زموږ ارتباطي کس و، د ده ډله یوه له هغو ۷ ډلو څخه وه، چي په افغانستان کي د سرو لښکرو پر ضد جنګېدل.

د ځینو ډلو سره په ځانګړې توګه د بنیاد ګرو سره چي له غرب سره یې حساسیت درلود، معامله ډېره ګرانه وه، چي له هغوی څخه کسان تر لاسه سي او موږ دغه افغانان په ژورنالیزم کي ور وروزو.

د دې بر عکس بیا د حضرت صاحب ډله ډېره دوستانه وه دا ځکه چي هلته به موږ همېشه د کرزي د ګرم هر کلي سره مخامخ کېدلو او له بله پلوه ده ډېره ښه روانه انګلیسي ویل چي زه ډېر ور څخه متاثر سوی وم.

ما او کرزي دوه ځله په رسمي توګه سره ولیدل او په پېښور کي څو نور واره په غیر رسمي توګه په هغه ځایونو کي چي غربیان، افغانان او پاکستانیان به سره راغونډ سوي وو، ما د خپلي نوي دندي له پاره چي په بوستن پوهنتون کي د ښوونکي په توګه ټاکل سوی وم د ۱۹۸۸ م اګست په اخیر کي پېښور پرېښود او تر دې ورسته مي بیا ۱۶ کاله له کرزي سره ونه لیدل، بیا مي هغه وخت ور سره ولیدل چي دی کله د لنډ مهالي ادارې مشر و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ۲۰۰۴ کال کي مي دا موقع تر لاسه کړه، چي پسرلی په کابل کي تېر کړم هلته مي د کرزي د ویاند او د ده په مطبوعاتي دفتر کي مي د مشاور او ژورنالیزم د ښوونکي په توګه دنده تر سره کړه. بالاخره مي هغه کابل ولید چي په اړه مي یې د خپل افغان ملګرو څخه ډېر څه اورېدلي وه چي ډېر تکان ورکوونکی و.

په اوونۍ کي مي ۶ ورځي په ارګ کي د ولسمشر د ویاند جاوید لودین له پاره کار کاوه چي دا زما له پاره یو په زړه پوري امتیاز و، کوم کسان چي مور په پېښور کي روزلي وه له هغوی څخه ځیني اوس په کابل کي وه او له هغوی څخه دوو یې په ارګ کي کار کاوه.

حامد علمي د ولسمشر د ویاند مرستیال و او عبدالصبور د ولسمشر رسمي عکاس و، زمور د مرکز بل فارغ اکرام شینواری و چي اوس په کابل کي د امریکا ږغ راډیو د پښتو څانګي راپورتور و.

ما دی په دغه دوبي کي ډېر ونه لیدی یو وخت دی د خپل دفتر څخه په ګل خانې ماڼۍ کي د خپل ویاند دفتر ته د هغوی پوښتني ته راغلی و مور په هغه ورځ د پېښور د وختونو په اړه په مفصله توګه وږغېدلو او کله کله به مو په مطبوعاتي کنفرانس کي چي د ارګ په باغ کي تر ونو لاندي جوړېدی سلام سره وایه.

کله چي زه د دوبي په پای کي تللم، د ولسمشر د ویاند مرستیال ماته یو فلزي بکس راکړ، چي په لاجوردو ښکلی سوی و. دننه په بکس کي یو کارډ و چي پر هغه لیکلي وه ،د افغانستان د ولسمشر جلالتماب کرزي لخوا ډالۍ، خو لاسلیك یې نه و پر کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ۲۰۰۵م کال په پیل کې د بوسټن پوهنتون مرستیال جوسیپ میرکودیو راته وویل چې ولې ولسمشر کرزی ته زموږ په پوهنتون کې د مېلمه وینا کوونکي په توګه بلنه نه ورکوو؟

ما هم جاوید لودین ته تلیفون وکړ، هغه اوس د ولسمشر د دفتر مسئول سوی و، کله چې ما لودین ته وویل، هغه لومړی شکمن، خو بیا یې وویل ته ودرېږه زه به د ولسمشر تقسیم اوقات وګورم (دا دئ وخت سته خو زه باید په دې اړه له ولسمشر سره وږغېږم).

یوه ورځ وروسته جاوید لودین راته ټلیفون وکړ ده وویل چې ولسمشر راضي دئ، زه ډېر خوشاله سوم.

یوه شپه وړاندې چې دی زموږ پوهنتون ته راسي، کرزي ته په یخ او باراني بوسټن کې د مسچوسیټ د والي میټ رومني لخوا تود هر کلی وویل سو، والي د هر کلی پوره ترتیبات د استقبال د قطعې او بجه خانې په شمول په هوایي ډګر کې ورته نیولی وو.

په دا سبا باران نه و او پنځه ویشت زره تماشاچیانو چې په هغه کې زده کوونکي، والدین یې، کورنۍ او دوستان یې، د بوسټن په پوهنتون کې کرزي ته د یو اتل په څېر ښه راغلی ووایه. کرزي زده کوونکو ته د نړۍ سره د خپل هیواد اړیکې او بیا د دغه کوچني او خوار ملت د نړیوالو لخوا هېرېدل ور په زړه کړل چې د یوولسم سپټمبر پېښې یې یو ځل بیا خلکو ته ور په یاد کړې.

تر دې وړاندې چې کرزی د بوسټن څخه لیدنه وکړي ما له هیلن دیر د جنرال الکتریک مدیر جک ویلخ او مېرمن یې سوزي او د ښارنوال الن ډېرشویز سره ولیدل، هیلن راته وویل چې ولې کرزي ته نه وایې چې ستا سو په اړه به کتاب ولیکم، هغه ته د دې وړاندیز وکه او خلک له دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره ډېره مینه لري چي د کرزي له کیسو څخه خبر سي، ما هم دوې پاڼې پروپوزل ولیکی او جاوید لودین ته مي ورکړی چي ولسمشر ته یې تقدیم کړي، په بوستن پوهنتون کي تر وینا وروسته ده او ورسره پلاوي واشنګټن ته پرواز وکړ، له هغه ځایه نیبراسکا ته، چي هلته کرزي افتخاري ډګري تر لاسه کړه او بالاخره کابل ته لاړ.

تر دې وروسته مي د خپل وړاندیز په اړه یوه میاشت هیڅ وا نه ورېدل، وروسته لودین راته ټلیفون وکړ راته ویې ویل چي ولسمشر د کتاب په اړه راضي سوی دئ نو اوس باید څه وکړو؟.

ما له بوستن پوهنتون څخه رخصتي واخیسته او د سپټمبر په نیمایي کي مي کابل ته پرواز وکړ.

ما درې میاشتي په یوه مېلمستون کي تیري کړې چي (Chez Ana) چیز انا نومېده او زما د ژورنالیزم د یوه پخوانۍ ملګري ایدوارډ ګیراډیټ لخوا چلول کېده، ما به له کرزي سره چي کله به یې وخت درلود لیده، حتی زه به یو څو ساعته وړاندي لا نه پوهېدم چي نن ماښام به له کرزي سره وینو که نه، یاور به ټلیفون راته کوي چي نن ماښام ښاغلی ولسمشر غواړي ستاسو سره ووینې، په کومه شپه چي به مو له ولسمشر سره لیدل یو تور روسی لاډا موټر به د چیز انا مخ ته راته او زه به یې تر ارګ پوري وړلم، تر ټولو امنیت ځایونو به تېر سوو، تر هغه چي موږ به د ارګ دننه ته ورسېدو زه به له موټره کښته سوم، پیاده به د دېوالونو په بغل کي د ولسمشر د دفتر پر لور روان سوم، د دېوالونو بغل ته به وسله وال کسان ولاړ وو او په (Lapel Microphones) لیپل مایکروفونونو کي به یې خبري کولې، په ګل خانه کي دننه د ولسمشر دفتر ته تر رسېدو وروسته ما یو ګړی انتظار ایسته او بیا د ولسمشر دفتر ته ور ننوتلم چي

(c) ketabton.com: The Digital Library

هلته به مو د افغان کلتور له مخي د غیږي روغبړ او د لاس روغبړ کاوه او د ولسمشر له تود هر کلي سره به مخامخ کیدو .

اکثره وخت به موږ د ده په دفتر کي سره لیدل دا یو لوی دفتر دی چي مستریح خونه، د څرمنی قیمتي سوفا ، چوکیو او د ولسمشر په مېز ښایسته سوې ده، په دغه وخت کي به یاور، مشاورین او حتی د کابینې وزیران هم حاضر وه، چي ده به هغوی ته د پاته کېدلو ویل، کرزی د نورو افغانانو په شان د کیسې ویلو خورا ښه استعداد لري چي اورېدونکي ور څخه خورا خوند اخلي، کله کله به زه او دی د ده د دفتر تر شا په جلا ځای کي تنها و ، چي هلته به مو تر خپل کار وړاندي د یو څو دقیقو له پاره په تلوېزون خبرونه وکتل، په دغه ساړه مني کي به د شپې لخوا کرزي، کریمي رنګه پټو پر ځان تاو کړی و ، چي دا ډول پټوان ټوله افغان نارینه پر اوږو کوي، مرکز ګرمي په نور افغانستان کي خو څه، حتی په ارګ کي لا نه وه پاته.

موږ به قهوه څښل، خو کرزي به تر قهوې چای له افغاني اوسکو ، بادامو ، پستې، انګور او کلچو سره خوښول چي دا هر څه به تر موږ وړاندي د ولسمشر د پخلنځي خدمتګارانو لخوا ایښودل سوي وه، کرزي به لکه یو سوداګر همېشه د افغاني تولیداتو صفت کاوه، ده به امر کاوه، دا وخوره او دا وخوره، دا انګور، بادام او اوسکي تر ټولو غوره دي، موږ به یو څو دقیقې بانډار سره وکی، پسته او انګور به مو خوړل وروسته به ما خپل ټیپ ریکارډر چالانه کی، ما به موضوع ورته وټاکله او ده به پر هغه خبري پیل کړې، دی یو ډېر ښه ویاند ، فصیح او ډاډمن او هغه څوک دئ چي د خپلي پوهي او ځیرکتیا څخه خبر دئ، حتی یو په یو په غیر رسمي ناسته کي هم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوه غرمه ټلیفون راغلی چي راته ویې ویل، ولسمشر غواړي ماخستن ستاسو سره په خپل استوګنځای کي ووینې، دا ځای د ارګ په ساحه کي دوه پوړه ودانۍ ده، دې ځای ته په ورتګ سره باید سړی د څو نورو امنیتي پوستو څخه تېر سي تر څو سړی د همدې سرای او سپنیزي دروازې ته ورسېږي، د دروازې او کور تر منځ دایره شکله لار وه، دغه دایره په اصل کي باغ و، چي د کبانو حوضونه یې هم لرل.
یو یخ نومبر چي زه ورغلم کرزي د دغه باغ پر شاوخوا پر جغلین سړک چابک قدم واهه، دننه په سرای کي زه د انتظار صالون ته رهنمایي سوم او وروسته به هغه خوني ته چي ولسمشر به مېلمانه پکښې لیدل.
کله چي ما د کرزي سره د سرای په انګړ کي ولیدل خونه د خلکو څخه ډکه وه. ده له ټولو سره په لوړ اواز روغبړ وکړ او کله چي ما مرکه پیل کړه نو ټوله به خاموش سول خو کله کله چي به د کرزي د کوم ځای نوم او یا تاریخ په یاد نه و بیا به یې یوه مېلمه ته د هغه دور په یادولو له پاره ور ږغ کړه خو کله کله به دا مباحثه تر ډېره روانه وه تر څو چي ټوله به پر هغه موافق سول، د ده په کور کي زموږ لیدني به خامخا د ماخستن ډوډۍ له ځان سره لرله.
ولسمشر به د ډوډۍ خوړلو په خونه کي د هغه اوږده مېز پر سر کښېناست او زه به یې راسته اړخ ته کښېنولم، ده به د ډوډۍ خوړلو په وخت کي راته وویل د دې خوند وګوره او دا خو بیا افغاني ځانګړي خواړه دي او اکثره وخت به یې سالن په خپله زما په غاب کي را اچاوه، پلو چي خوندور افغاني خواړه دي همېشه به د مېز پر سر له ترکارۍ، تازه کاهو، رومیانو، ملیو او افغاني وچي ډوډۍ سره پروت و، د دې تر څنګ به په کوچني بوتلانو کي اوبه او د انارو جوس هم پروت و، خو هیڅ ښځه به

(c) ketabton.com: The Digital Library

زموږ سره پر مېز نه وه، د افغاني کلتور له مخې ښځې بايد د نامحرمه له سترګو څخه پناه وي، زما سترګې تر پايه په دغه کور کې پر يوې ښځې هم ونه لګېدې، د مېز پر سر ټوله خبري په پښتو او په دري ژبو وې، ښېله دې چې ما ته به يې يو څه په انګليسي ويل غوښتل، تر ډوډۍ وروسته خواږه خواږه به تازه مېوه، پوډين، چای او يا قهوه وه، ډوډۍ به اکثره وخت پر نهه يا نهه نيمې بجې ختمېدل چې تر هغه وروسته به زه بيرته خپل هوټل ته تلم چې د خپل ټيپ په ترتيبولو به مصروف کېدم او د راتلونکي ټليفون انتظار به مي ايسته.

څه چي ما غوښتل هغه مي بالاخره پر ۸ سپټمبر تر لاسه کړل او ما خپل کورته د کرسمس له پاره ځان را وروسوی او کوم څه چي ما په هغه مانښامونو کي له حامد کرزي څخه تر لاسه کړل اوس دا دئ ستاسو په لاسونو کي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پېژندنه

په ۱۹۸۰م کلونو کې د پاکستان پېښور د مځکې پر مخ له په زړه پوري ځایونو څخه و.

د زاړه هندوستان پلازمېنه چې اوس د پاکستان شمال غربي وحشي پولي ولایت ، د لرغونو پښتنو ښار او د اوښانو د بې شمېره کاروانونو او بریمنو لښکرو تم ځای دئ، چې د افسانوي کوتل خیبر څخه تېرېږي چې له همدی ځای څخه ۲۵ مایله لېری د غرب پلو ته د افغانستان خواته پروت دئ.

په نولسمه پېړۍ کې برطانوي اردو دلته یو ګارنېزون جوړ کړ چې ور سره سم یې د هندوکوش په لوړو څوکو کې امنیتي پوستې هم واچولې. یوه له هغو پوستو څخه چیري چې ځوان وینسټن چرچل له هغه څخه د برطانیي تر رهبري لاندي د هندو سکانو او پښتنو تر منځ جګړه څارل تر اوسه د چرچل په څار ځای مشهوره ده.

کله چې سرو لښکرو په ۱۹۸۰م کال کې پر افغانستان یرغل وکړ پېښور ور سره سم په لومړیو کې د لس ګونو وروسته د زرګونو او په پای د ملیونونو هغو افغانانو په موقتي کور بدل سو، چې د کمونیستي رژیم او مجاهدینو تر منځ د جګړو څخه به یې امان غوښت.

جهاد د مسلمانانو د هغې جګړې نوم دئ چې د سرو لښکرو په مقابل کې به جنګېدل او جنګیالیو ته به یې مجاهدین او یا سپېڅلي فرشتې ویل.

مهاجر لا د وړاندي په پېښور کي په پنډغالو کي ځای پر ځای سوي وه چې اکثرو دغه پنډ غالو د ښار ګوټې بڼه لرل. افغانانو د زاړه پېښور په

(c) ketabton.com: The Digital Library

نريو او کړو وړو بازارونو کي ځانو ته دوکانونه جوړ کړي وه چي د کور غالۍ او زېورات يې پکښي پلورل چي په دغه زېوراتو کي د بدخشان د نامتو کانونو لال او جواهر کار سوي وه. د دې تر څنګ به يې د سرو لښکرو چکوشونه، لورونه، نظامي نښانونه د سرو لښکرو د سر تيرو خولۍ چي اکثرو دغو شيانو به له ځان سره خورا خيالي کيسې هم لرلې داسي چي په څه ډول يې دغه شيان د سرو لښکرو د مړو سوو سرتيرو څخه تر لاسه کړي دي.

د ښار د بهر په دوړنه ميداني کي به افغانانو د انسانانو وحشي لوبه يعني بوزکشي کول.

مهاجرينو ته په کنډکونو خيريه اداري جذب سوي وې لکه د ملګرو ملتونو خوراکي پروګرام، د سره صليب نړيواله کمېټه او نورو دې ته ورته تجارتي کمپنيو، اکثرو دغو کمپنيو مهاجرو ته د خپل بخت د ځلېدونکي ستوري په سترګه کتل او خپل د خيرات خورجينونه به يې هغو غربيانو ته نيولي وه چي د افغانانو سره به يې خواخوږي لرل او دوی به بيا په دغه ټولو پيسو په پېښور کي د ځان له پاره په ښکليو ودانيو کي خورا مستريح ژوند جوړ کړی و، چي خدمت ګاران، اشپزان، کالي مينځونکي او چوکيداران به يې د اند له پاسه وه.

افغان جنګياليو د خون ګرمو غربيانو د سرې جګړې اتلان جوړ سوي وه چي په دغه ډله کي يې خپله ولسمشر رونالډ ريګن هم راتلی. ټيکساسي کنګرس مين چارلي ويلسن خو جهاد خپله شخصي جګړه بلل او د ريګن اداري مالي مرسته چي په هغه کي وسلې هم راتلې، برابرولې او تر څنګ يې CIA د افغان جنګياليو سره پټ عمليات هم تر سره کول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

CIA خو بالاخره د اوږې څخه ويشتونکي الوتك ضد سټينګر* او ميزايل هم مجاهدينو ته ورکړل له همدې کبله روسان د افغانستان پرېښودلو ته اړ سول. د سرو لښکرو د اشغال سره سم د افغانستان پوله دغربي ژورناليستانو پر مخ وتړل سوه خو که به څوك افغانستان ته تللي نو به د مرګ جدي ګواښ ورته متوجه و، خو که به افغانستان ته دننه د مجاهدينو د وسله والو ګروپونو سره تللې هلته به هم د نيولو او ايسارولو وېره موجوده وه، چي بې شمېره دغسي کسان د افغانستان تر ټولو په بدنام او وېره وونکي د څرخي پله په زندان کي ساتل کېدل چي هلته هره لحظه د مرګ امکان موجود و په داسي حال کي نو بيا هيڅ ژورناليست افغانستان ته د ننه د تګ زړه نه ښه کاوه.

خو ځينو بيا لکه د کريشن ساينس مونيټور ايډوارډګيراډيت او د نيويارك ټايمز ډوناټيلا لورچ بيا دا خطر پر ځان منلی و ځکه چي دوی کابل ته په بورقه کي ننوتل، نو ويلای سو چي د دوی دا کار د مېړاني يو ستر مثال او ژورناليزم ته يوه نه هېرېدونکې ډالۍ ده.

دا چي پېښور د افغانسان سره نژدې او افغانستان ته دننه تګ هم خورا خطرناك و نو له همدې کبله پېښور د معلوماتو په بازار واوښت او د مقناطس ښه يې غوره کړه چي د نړۍ له هر ګوټ څخه يې ژورناليستان ځان ته راکش کړل.

د افغانستان د مقاومت هري لويي ډلي او ځينو کوچنيو ډلو هلته مرکزونه لرل او د دوی وياندويان به ډېر لېوال وه چي د غربي ژورناليستانو سره نه يوازي معلومات شريك کړي، بلکي په افواهاتو

---

* امريکايانو هغه وخت مجاهدينو ته سټينګر او ميزايل ورکړل کله چي په دې باوري سول چي نور نو روسان د مجاهدينو د مقابلې توان نه لري، (ژباړن).

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوغلطو معلوماتو اضافه. اکثره دغه ژورنالیستان د دې ځای له ژبې، کلتور، مختلفو کورنیو، ګروپونو او ډلو تر منځ د اړیکو څخه نا خبره وه.

هري افغاني ډلي خپله خبرپاڼه لرله چي په هغه کي به په پیخر د دوی د مجاهدینو د بریالیتوب په زړه پوري داستانونه چي اکثره به یې بې اساسه او له حقیقته لیري وه، راتلل.

هغه ژورنالستان چي هلته یې ډېر وخت تېر کړی و اکثرو به د پروفیسر سید مجروح پر خبرپاڼه اعتبار کاوه. ښاغلی مجروح د کابل پوهنتون د فلسفې پخوانی استاد و، د ده د معلوماتو مرکز چي د (افغان معلوماتو مرکز) نومېده تر نورو ټولو افغانو ډلو تر معلوماتي مرکزونو د اعتبار وړ و.

ښاغلی مجروح په ۱۹۸۸ کال کي د حکمتیار ډلي د بنسټ پالو له خوا ووژل سو. پېښور یوازي دا نه چي د ژورنالیستانو څخه ډک و، بلکي ګڼ شمېر نور افغان مهاجر، قوماندانان، مجاهدین، جاسوسان، ورانکاران، ایجنټان او نیك بخته سرتیري هم پکښې اوسېدل.

ښار به اکثره وخت په ترهګریزو چاودونو لړزېدی او داسي شپې خو بیخي لږ وې چي په هغه کي دي د ماینونو ډزي نه تر غوږو کېدلې.

د پاکستان د قوي استخباراتي شبکې ISI جاسوسان چي اوس په KGB ننوتلي وه او د KGB همکاره استخباراتي اداره (خاد) امریکایي CIA او برطانوي M16 جاسوسان به په مشهوره زرغون هوټل کي سره را ټول وه او مېزونه به د چایو څښونکو څخه ډك وه او هر یوه به خپل غوږونه د هغه بل مېز کسانو ته متوجه کړي وه تر څو پر هغه مېز د ناستو کسانو څخه چي هغوی به په پوسکي خبري کولې، یو څه واوري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا و هغه پېښور چي ما ورته په ۱۹۸۶م کال کي د بوسټن پوهنتون د افغان ميډيا پروژې له پاره زمينه پکښي برابره کړه، په لومړي سر کي مي هيله لرله چي د پاکستاني حکومت څخه به رسمي اجازه تر لاسه کړم تر څو دغه پروژه د پاکستان په خاوره کي تر سره کړم. ډېر ميټينګونه او روغبړونه مي وکړل او د چايو کوپونه مي وڅښل، خو وروسته وپوهېدم چي هيڅ پاکستانی افسر به زما پر مکتوب لاسليك ونه کړي له همدې کبله مي تصميم ونيوی چي بېله پاکستان له اجازې هلته خپل کار پيل کړو وروسته به ګورو چي بيا څه پېښيږي.

موږ د پېښور په يونيورسيټي ټاون کي يوه ټولګۍ پيدا کړه چيري چي اکثره د خيريه مرستو اداري ميشتي وې او زموږ د پروژې د لومړۍ دورې شپږمه اوونۍ وه ،چي شاګردان مو ونيول، همدلته په لومړي ځل ما له حامد کرزي سره وليدل.

موږ د هري ډلي څخه په مساوي توګه کسان وغوښتل د کسانو د تر لاسه کولو له پاره به موږ د هري ډلي مرکز ته ور تللو او خپله پروژه به مو ورته تشريح کوله، تر څو نيم درځن کسان زموږ دغه کورس ته راولېږي. موږ يې په انځوريزو خبرونو، تصويري ژورناليزم او چاپي ژورناليزم په ډګرونو کي وروزو، خو کله چي به موږ د پروفيسر مجددي د ګوند سره تماس نيوی نو زموږ تماسي کس درون، خوشاله، د زوم په شان پاك حامد کرزی و.

په هغه وخت کي دېرش کلن ځوان و خو د سر وربښتان يې رژېدلي وه او په پاکه ږيره کي يې سپين وربښتان پيدا سوي وه. اکثره غربيان به له ده سره په اړيکو نيولو ډېر خوشحاله کيدل، ځکه چي دی ډېر ځېرك، ښکلی

(c) ketabton.com: The Digital Library

او د درانه شخصیت خاوند و او په روانه انګلیسي ژبه ږغېدی، له همدې کبله که به له ده سره ږغېدلو ، نو د هغه مشکوکي ژباړي خبره به هم حل وه.

د دې تر څنګ ډېر ډیپلوماتیک و او د سخت دریزو ډلو څخه یې کرکه لرل په ځانګړې توګه د ګلبدین حکمتیار له اسلامي ګوند څخه.

کرزی منځلاری دئ، د ښه شخصیت خاوند او فصیح و له همدې کبله نو ( ANLF) ملي نجات د ده نوم د دعوت سوو کسانو په لېست کې کېښود ، ده به هم اکثره وخت په دغسې مراسمو کې چې په پېښور کې به د امریکا قونسلګرۍ، د جان دوکسن په ځای کې جوړېدل، ګډون کاوه.

جان د امریکا د معلوماتي خدمتونو امریکایي مرکز مشر و چې وروسته یې بیا ځای ریچارد هوګلنډ ونیوی، دغسې غونډې به د اکثرو پاکستاني او افغاني مېلمنو د شرابو د تندي د ماتولو تر ټولو ښه وخت برابر کړې و خو کرزي به خپله تنده په چای او یا فانتا ماتوله.

تر دوو دورو فارغینو وروسته افغان مطبوعاتي مرکز تاسیس سو او هغه کسان پکښې په دندو وګومارل سول چې موږ په دغو دوو دورو کې د مختلفو ډلو څخه روزلي وه. دغه مرکز په یقیني توګه هغه کارونه وکړل چې موږ یې هیله لرل، دوی به ټوله خبري اړخونه تر پوښښ لاندې نیول چې دا کار د غربي ژورنالستانو له پاره خورا ګران او له بله پلوه یې نړۍ ته د افغانستان دننه حقیقي انځور وړاندې کاوه چې په رښتیا هلته څه روان دي؟

د ۱۹۸۸م کال په اګست ما پېښور پرېښود او بیا مې ۱۶ کاله د کرزي سره ونه لیدل، په دغو کلونو کې چې له افغانستان څخه کوم خبرونه راتلل خورا وېره ونکې وه. د سرو لښکرو ضد جهاد په کورنۍ جګړه واوښت، افغانستان چې څونه د سرو لښکرو د اشغال په وخت کې وران

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوی و او کورنۍ جګړې نور هم پسې وران کړ. کورنۍ جګړې د طالبانو و مذهبي تحريك ته د راتګ زمينه برابره کړه، په لومړي سر کي يې د افغانستان ځينو سيمو ته سوله راوړه چي له همدې کبله نړۍ ورته شاباسي ووايه، دغه شاباسي ډېر ژر په وېره، تکانونو او کرکه د طالبانود سختي واکدارۍ او اسامه او د هغه ترهګري ډلي ته په فنا ورکولو بدل سو.

وروسته د ۲۰۰۱م کال د ۱۱ سپتمبر پېښه رامنځ ته سول او نړۍ هم په ګډه پرېکړه وکړل چي طالبان بايد نور له واکه لېری او اسامه بايد له دغو کارونو څخه منع سي.

تر دغه بد امنۍ وروسته زه ډېر حيران او خوشاله وم کله چي د بون په غونډه کي زما د پېښور د وخت زوړ ملګری حامد کرزی پکښي د افغانستان د لنډ مهالي اداري مشر وټاکل سو. وروسته د لويي جرګې لخوا د افغانستان د انتقالي اداري د مشر په توګه وټاکل سو، په پايله کي د ۲۰۰۴م کال په مني کي د ازادو ټولټاکنو له لاري د افغانستان لومړنی منتخب ولسمشر وټاکل سو.

د طالبانو له ماتي څخه نيولې بيا د ولسمشری تر ټاکنو پوري خلکو د افغانستان د ښه راتلونکي له پاره خورا ښه اميدونه لرل، طالبانو چي کوم هيواد يرغمل نيولی و اوس تري ازاد سوی و، موسيقي په لوړ اواز ږغېدل، خلکو به ملي اتڼونه کول، په هوټلونو کي به يې ودونه کول چي هالونه به يې په پلاستيکي ګلانو ښايسته سوي وه دا ځکه چي په افغانستان کي تازه ګلان خورا لږ پيدا کيږي.

بازارونه له مالونو او خامي جادې له ترافيکو ډکي وې، رستورانونه پرانيستي وه، نوي کورونه، ودانۍ او دفترونه په خورا زور ليدل کېدل،

(c) ketabton.com: The Digital Library

د موبایل ټلیفوني کمپنیو تر منځ سیالۍ زور اخیستی و او د شخصي راډیو سټېشنونو او ورځپاڼو هم همدا حال و.

کرزی بالکل د راك ستوری جوړ سوی و، د ده شنه لویه چپنه، وړینه قره قولي، د نوي افغانستان سمبول او هیله جوړ سوی و، چي کرزي د نړیوالي ټولني په مرسته د افغانستان هغه وقار چي د ترهګری له کبله داغ سوی و، بیرته پر ځای کړی او افغانستان بیرته نړۍ ته راغلی و. د افغانستان مشکلات خورا ډېر وه چي ابادي یې د ټولو ګډه هیله وه خو په مخ کي یو مایوسه او غریب افغانستان پروت و، چي هر څه یې وران سوي وه.

نژادي او قومي تربګني چي څو لسیزي خورا په زور رواني وې په یوه شپه کي نه سو حل کېدلای، یو نوی حکومت باید له سره ودان سوی وای چي په هغه کي اجرائیه قوه، مقننه قوه او د قضائیه قوې ټولي څانګي راتلې.

په مکمله توګه زیربنا ته اړتیا وه چي په هغه کي سړکونه، د برېښنا ماشینونه، مکتبونه، د اوبو سیسټم او داسي نور چي ټوله د کلونو جګړو په جریان کي وران سوي وه او یا بیخي له منځه تللي وه خو دا هر څه په بیړه نه سوای رغېدلای او دې ټولو یو امنیتي ځواك ته اړتیا لرل تر څو په افغانستان کي یې یو خوندي چاپېریال را منځ ته کړی وای.

امریکا او د ناټو غړو هیوادونو باید دغه ځواك برابر کړی وای خو د سپټمبر د ١١ نېټې څخه بیا تر اوسه پوري دغه سي یو پوره ځواك چا افغانستان ته برابر نه کړ، په امریکا کي د بوش اداري تصمیم ونیوی چي د افغانستان امنیت به ساتي او ولسمشر کرزي ته به د نوي افغانستان د وعدې د پوره کولو توان ورکړي. افغانستان اوس هم ژغورل کېدای سي

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو نه په هغه لومړۍ بيه، طالبانو اوس په پاکستان کي خوندي پنا ځايونه موندلي دي او هلته د وران کارو کارونو له پاره تنظيم کيږي.

اسامه لا ژوندی دئ چي کېدای سي په راتلونکي کي پر امريکا او غرب باندي بريدونه وکړي

د مخدره موادو سوداګرو حکومت کمزوری او په فساد اخته کړ، حامد کرزی چي د هيواد ژغورونکی و د کابل په ارګ کي بندي پاته سو.

زه په دې باور لرم چي کرزی د افغانستان د مشرتوب له پاره تر ټولو غوره کس دئ، دی یو رښتونی افغان دئ او پر خپل افغان ملت باور لري، دی يو فاسد انسان نه دئ، د ده فصاحت، پوهه او ښه شخصيت ده ته دا ځواك ور کوي چي د هيواد د غرب او شمال تر منځ پول جوړ کړل سي چي تر اوسه دا کار هيڅ افغان ونکړ خو کرزی هم دا کار په تنهايي نه سي کولای.

که په افغانستان کي د امريکا او د هغه د ملګرو دا زړه نا زړه حالت وي افغانستان به بيا يو ځل ناکامه سي خو که چيري اوس موږ د افغانستان د کاميابی بيه ادا نه کړو نو ضرور به يې د ناکامۍ بيه ورکوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د افغانستان تاریخ ته لنډه کتنه

هغه سیمه چې د افغانستان په نامه سره پېژندل کېږي په دوامداره توګه د ډېرو زمانو څخه انسانان پکښې اوسېدلي دي. د لرغون پېژندنې شواهد ښيي چې افغانان د هغو لومړنیو خلکو له جملې څخه وه چې په کرهڼه او مالداري يې لاس پوري کړ. د افغانستان پخواني ښارونه د لرغوني نړۍ د لومړنیو ښاري مرکزونو څخه وه. د (Bronze) زمانه چې (۲۰۰۰-۳۰۰۰) قبل الميلاد ده د منډيګک اقتصاد چې همدا نننۍ کندهار ته نژدې دی پر غنمو، اوربشو، پسونو او بوزو ولاړ و*. په دغه زمانه کې افغانستان د (Mesopotamia) او شرق تر منځ د مهاجرت او تجارت عمومي لار وګرځېدل. د ۲۰۰۰ قبل الميلاد په پيل کې افغانستان د اريايي قومونو کور سو، چې د دې هیواد لرغونی نوم اريانا و. همدا نوم نن هم په پراخه توګه استعمالېږي، ځکه چې د افغانستان ملي هوايي کرښه اريانا نومېږي، دا اوسنی کابل هم په هغه زمانه کې منځته راغلی دئ.

د ۴۸۶ – ۴۲۲ قبل الميلاد کلونو کې ستر فاتح داروس (Darius) د افغانستان تقريباً ټولي سيمي د پارس د امپراتورۍ برخه وګرځولې خو پارسيان لومړني خلک وه چې د بهرنيو يرغلګرو په وړاندي يې د افغانانو کرکه وپېژندل چې د دوی واکمني به همېشه د قومونو بلواو چلنج کوله. لوی سکندر دوهم يرغلګر و چې پارس يې لاندي کړ. د خپل پلار د وژنې په بدل کې يې داروس وواژه، او تر دې وروسته د ده راتلونکي فتح

---

* منډيګک د کندهار د خاکريز ولسوالۍ په جنوب کې واقع دئ، (ژباړن).

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانستان و، خو کله چي دی په ۳۳۰ قبل الميلاد افغانستان ته ننوتی او د ستري مقدونيې د امپراتورۍ برخه يې وګرځوي د سخت مقاومت سره مخامخ سو. دده واکمني هم د بلواو سره لاس او ګرېوان وه چي تر ځلور کاله جګړې وروسته يې خپل پوځ مرکزي اسيا ته روان کړ. تر هغه وروسته بيرته افغانستان ته راوګرځېد لوی ښارونه يې فتحه کړل او تر هغه وړاندي چي پر هندوستان حمله وکړي د روخشانې په نامه د يو قومي مشر د لور سره يې واده وکړ. نوموړی په هندوستان کي ټپي او په بلوچستان کي د دوه دېرشو کلونو په عمر مړ سو. خو د يونان کوم کلتور چي ده سيمي ته د ځان سره راوړی و افغانستان يې په راتلونکو پېړيو کي تر سختي اغېزې لاندي و. د سکندر تر مړيني وروسته افغانستان د يوناني ځلورو واليانو لخوا سره ووېشل سو چي دوی هم بالاخره د يونان څخه خپله آزادي واخيستل او پنځه پنځوس کاله يې واکمني وکړه. تر ميلاد دري پېړۍ وړاندي بودا له هندوستان څخه په افغانستان کي معرفي سو، چي دلته يې د سوونو کلونو په اوږدو کي خورا ښه وده وکړه، چي دوې غبرګي ستري مجسمې يې په باميان کي په ځلورمه ميلادي پېړۍ کي په پرښه کي جوړي سوې. دغه مجسمې پنځلس سوه کاله د بهرنيو يرغلګرو په وړاندي ولاړې وې، چي حتی هغه وخت هم، چي چنګېزخان دغه ښار ټوله وران کړ خو طالبانو په ۲۰۰۱ م کال کي ټوټه ټوټه کړې. د عربيا څخه په اوومه ميلادي پېړۍ کي اسلام افغانستان ته راغلی چي د دوه سوه کالو په اوږدو کي نژدې ټوله هيواد سوني اسلام ومانه. د ديارلسمي پېړۍ په نيمايي کي د چنګېزخان مغول ډلي د مرکزي اسيا زياتي اسلامي سيمي فتحه کړې خو د همدې پېړۍ په پای کي مغولو پخپله اسلام قبول کړ. نن تقريباً د افغانستان ۹۹ فيصده وګړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

مسلمانان دي، چي ۸۰ سلنه يې سوني او ۱۹ يې شيعه ګان دي.

د ديارلسمي او اتلسمي پېړۍ تر منځ د افغانستان خاوره او د هغه مهمه تجارتي لاري چي په هغه کي د وربښمو لرغونې لار هم راځي د امپراتورانو د ځای ناستو، کورنيو او ټوپکسالارانو له خوا تل تر حملو لاندي راغلي دي چي واکمني پر کول يې اسان کار نه و. غزنوي کورنۍ چي په ۹٦۲ م کال کي راپورته سوه په ټينګه توګه يې اسلام په افغانستان کي حاکم کړ، چي تقريباً دوې پېړۍ يې واکمني وکړه چي د غوريانو له خوا برطرفه سول، هغوی بيا چنګېزخان له واکه ليري کړي وه چي ځان يې سره منظم او يوه پېړۍ وروسته بيرته رادبره سول. ګوډ تېمور ځلور د پرش کاله واکمني وکړه چي د هغه ځای ناستی بهلول د هندوستان تخت لاندي کړ. ده هلته د لودي کورنۍ واکمني رامنځته کړه. او هغه وخت يې پای وموندی چي کله بابر د مغولو واکمني راوستل، او کابل يې ونيوی. د ده په وړاندي افغان آزادي بخښونکي توريالیان له روښان څخه نيولې تر خټکه، ميرويس، او د ده تر زوی مير محمود پوري چي هغه نه يوازي د بهرنيو يرغلګرو په وړاندي وجنګېدل بلکي پارس يې هم لاندي کړ، تر هغه وخت پوري چي پارسي مشر نادرشاه بيرته د پارس د مځکي تر څنګ يې د افغانستان ډېري جنوبي سيمي هم لاندي کړې. په ۱۷۴۷ م کال کي نادرشاه ووژل سو پارسيان پسې واخيستل سوه او نوی افغانستان د احمدشاه دراني په واسطه منځ ته راغی. درانيانو مغولو ته د اوسني پاکستان په سيمه کي ماته ورکړه، او له هرات څخه يې پارسيان وشړل د افغانستان واکمني يې د مرکزي اسيا څخه تر ډهلي او کشمير څخه تر عربي سمندر پوري وغځول. تقريباً نوي کاله افغانستان د بهرنيو يرغلونو څخه خوندي و، خو کورنۍ شخړي خورا پکښې ډېري وې، چي بالاخره

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوست محمد خان په دې بريالى سو چي نژدې ټوله افغانستان يې سره يو ځاى کړ.

وروسته برتانويانو په ۱۸۳۹ م کال پر افغانستان يرغل وکړ چي يو غلام باچا يې پر تخت کښېناوه، چې ډېر ژر پر خپل دغه تصميم پښېمانه سول. افغانانو د برتانويانو د واکمنۍ پر خلاف په ۱۸۴۲ م کال کي د اکبر خان په مشري پاڅون وکړ چي د کابل د ټوله برتانوي ګارنېزيون او د هغوى د ساتونکو په وژنه تمام سو. د ۴۵۰۰ سرتېرو او ۱۲۰۰۰ د کمپ له کارکوونکو څخه يې يوازي يو کس په جلال آباد کي برتانوي اډې ته ژوندى ورسېدى. دا د افغانانو او برتانويانو د لومړۍ جګړې پاى و. دوست محمد خان چي د برتانويانو د لاسه جلا وطن و بيرته راوګرځېد او پر تخت کښېناست. په ۱۸۷۸ م کال برتانويان بيرته راوګرځېدل دوى په دې وپوهېدل چي افغان مقاومت ته به هيڅکله ماته ورنکړي نو د يوې لويې معاملې د لاري يې د افغانستان څخه يوه لويه سيمه جلا کړه، چي افغانانو بيا تر اوسه دغه سيمه نه ده تر لاسه کړې. د ۱۸۸۹ م کال د جولاى د ميوند په مشهوره جګړه کي يوې افغاني پښغلي ملالۍ له دې کبله چي په جګړه کي هغه سرتېري چي د افغانانو بيرغ يې لېږدوى ووژل سو دې بيرغ راپورته او مخ په وړاندي يې يووړ او نه مړ کېدونکى نوم يې وګټى. کله چي برتانويان له افغانستان څخه ووتل د خپلو بهرنيو چارو د اداره کولو حق يې ځني واخيست. همدې شي د ډيورنډ کرښي رامنځته کولو ته لاره هواره کړه، چي د افغانستان او برتانوي هند پوله يې وټاکل، چي افغان قوم يې پر دوو دايمي برخو ووېشى چي هغه يوه يې اوس د اوسني پاکستان برخه ده. افغانستان همدا شان تر ۱۸۹۵ م کال وړاندي چي روسان د پولو و ټاکلو ته راضي کړې ځيني سيمي يې وبايللې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د شلمي پېړۍ په شروع کي چي افغانستان په کراره د ترقۍ پر لور حرکت وکړ برتانویانو د دریم ځل له پاره په ۱۹۲۱ م کال کي د افغانستان د لاندي کولو هڅه وکړه، بیا یې هم ماته وخوړل. افغانستان یو ځل بیا د خپلو بهرنیو چارو واک تر لاسه کړ او امان الله خان د باچا په توګه خپل ځان غوره کړ. دی په ۱۹۲۹ م کال د یوه غاصب حبیب الله کلکاني له خوا له واکه لیري کړل سو. حبیب الله د نادرخان په واسطه ووژل سو او دی پخپله په ۱۹۳۳ م کي ترور سو. تر ده وروسته یې زوی ظاهرشاه واکمن سو، چي په ۱۹۷۳ م کال کي نوموړی د داود خان او افغان کمونیستې ډلي له خوا له واکه ګوښه سو. ظاهرشاه ایټالیا ته په رخصتۍ تللی و، چي کودتا رامنځته سوه او هلته پسې پاته سو چي په ۲۰۰۲ م کال کي ولسمشر کرزي بیرته کابل ته راوست تر څو د خپل ژوند پاته وخت د ارګ په ماڼۍ کي تېر کړي.

په ۱۹۷۸ م کال کي داود خان د کمونیستي کودتا د لاري له واکه لیري او ووژل سو. تره کی واک ته ورسېد، چي ورسره سم د شکمنو مخالفینو پراخې نیوني، شکنجې او وژني پیل سوې. مجاهدینو د کمونیستې حکومت پر ضد جهاد شروع کړ. په را وروسته کال یعني ۱۹۷۹ م کال کي تره کی ووژل سو او حفیظ الله امین ولسمشر سو. د ده د واکمنۍ په وخت کي د امریکا سفیر اډولف ډبس په کابل کي ووژل سو. څو میاشتي وروسته امین ووژل سو او روسانو ببرک کارمل د افغانستان د ولسمشر په توګه نصب کړ. په ۱۹۸۶ م کال کي د ده پر ځای ډاکټر نجیب وټاکل سو.

د مجاهدینو سر سخت ویني بهوونکي ښورښ په پایله کي ۱۰ کاله وروسته په ۱۹۸۹ م کال کي روسان له افغانستان څخه ووتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مجاهدينو د نجيب د کمونيستې حکومت په وړاندې خپلې مبارزې ته دوام ورکړ، چې بالاخره يې کابل په ۱۹۹۲ م کال کې ونيوی او د پروفيسر رباني په مشرۍ يې د مجاهدينو حکومت جوړ کړ* د مجاهدينو د خپلمنځي شخړو له کبله د دوی حکومت بريالی نه سو، چې په ۱۹۹۴ م کال کې د طالبانو غورځنګ رامنځته سو، د کابل پر لور يې حرکت وکړ، چې په ۱۹۹۶ م کال يې کابل لاندې کړ او نجيب چې د واک څخه تر ليرې کېدو وروسته د ۱۹۹۲ م کال راهيسې په کابل کې د ملګرو ملتونو په دفتر کې پناه اخيستې وه راوايستل سو او په دار کړل سو. د طالبانو حکومت د عام وژنې، شکنجو، په عام محضر کې د اعدامولو او د ښځو سره د بد سلوکۍ له کبله په نړيواله کچه وغندل سو. دوی همدا شان د سعودي اسامه په مشرۍ نړيوالې ترهګرۍ ډلې ته اجازه ورکړه چې افغانستان د خپل مرکز په توګه وکاروي. دوی تقريباً د افغانستان ټوله خاوره لاندې کړه، خو د شمال هغه سيمې چې د بختور مسعود له خوا اداره کېدې په نيولو تر پايه بريالي نه سول. د مسعود شمالي ټلوالې د ۲۰۰۱ م کال پر نړيوال تجارتي مرکز او پنټاګون باندې د حملو په تعقيب چې په افغانستان کې د اسامه په روزن ځايونو کې پلان سوي وې د طالبانو په ماته کې د امريکا د اشغال پر وخت خورا مهم رول ادا کړ.

تر طالبانو وروسته لنډ مهاله اداره د حامد کرزي په مشرۍ رامنځته سوه، چې ائتلافي او نړيوال سوله ساتو ځواکونو يې امنيت ساته. بيړنۍ لويې جرګې کرزی په ۲۰۰۲ م کال کې د انتقالي ادارې د مشر په توګه وټاکی او وروسته بيا په ۲۰۰۴ م کال کې د آزادو ټاکنو له لارې د

---

* د يادوني وړ ده چې د مجاهدينو لومړی ولسمشر رباني نه بلکي پروفيسر مجددي و، (ژباړن).


(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانستان د اسلامي جمهوریت ولسمشر سو، نوي اساسي قانون رامنځته سو او په ۲۰۰۵ م کال کي پارلماني ټاکني تر سره سوې او افغانستان سولي، ثبات او خوشبختۍ ته پر هغه اوږده او مشکله لار سفر پیل کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# (۱)

# حامد کرزی



ولسمشر کرزی د آس د سپرلۍ پر مهال

(c) ketabton.com: The Digital Library

په نولس سوه اتیایمو کلونو کې افغانانو سرو لښکرو ته ماتې ورکړه، خو د دوی هغه هڅې چې خپل هیواد به اداره کوي د کلونو په ورانیو او تشدد واوښتې، د اتیایمو کلونو په نیمایي کې طالبانو یو څه نظم او ثبات راوستی، مګر د هسپانیې د توندلارو عیسوي ډلو په شان زاړه پالي او زیږ رژیم ،چې له دوی سره سعودي متعصب هم ورسره و، چې همدلته یې د نړیوال تروریزم له پاره اډې هم جوړې کړې، خو د افغانانو له پاره دا کار د تحمل وړ نه و.

د ۲۰۰۱ م کال د ډسمبر پر پنځمه نېټه یعني پر نیویارک او واشنګټن باندې د القاعدې تر حملو دوې میاشتې وروسته د امریکا متحده ایالاتو او برتانیې پر افغانستان باندې د حملې تابیا وکړه. د ډسمبر پر اوومه پر افغانستان باندې د هوا له لارې حمله وسوه، خو د دواړو هیوادونو سپېشل فورس (ځانګړي پوځ) لا د وړاندې په افغانستان کې دننه د هوایي بمباریو له پاره د هدف ټاکلو او د شمالي اتحاد په راټولولو اخته وه، تر څو له دغې لارې طالبان له منځه یوسي. طالبانو پر دوی حمله په اصل کې پر اسلام حمله بلل. د متحده ایالاتو او د هغوی ملګرو هدف یوازې دا نه و، چې د طالبانو کرغېړن حکومت له منځه یوسي، چې یو وخت یې حمایه کاوه، بلکې د القاعده سازمان د اډو او ښوونیزو روزنځایونو له منځه وړل هم وه، چې د شتمن سعودي الاصله اسامه بن لادن له خوا چلول کېدل. په همدې وخت کې بیا د جرمني په بون

(c) ketabton.com: The Digital Library

کي يوه ببړنۍ غونډه راوبلل سوه، تر څو تر طالبانو وروسته د يو نوي حکومت پر جوړښت سره وږغېږي.

حامد کرزی چي په همدې غونډه کي د افغانستان د لنډمهالي ادارې د مشر په توګه وټاکل سو، د سپتمبر تر يوولسمي وروسته دستي افغانستان ته داخل سو، تر څو په جنوب کي پښتانه د طالبانو په وړاندي راپورته کړي. د امريکا د هوايي ځواک او سپېشل فورس په ملاتړ د حامد کرزي کوچنۍ ډلي په چټکۍ سره غټ کلي او ښارګوټي يو په بل پسې تر خپلي ولکې لاندي راوستل. د نومبر پر دوولسمه شمالي ټلواله له غرونو څخه راکښته سوه او پر کابل يې حمله وکړه او طالبان يې بېله کومي نښتي له کابل څخه وشړل. په دوهمه ورځ د شمالي ټلوالي جنګيالي کابل ته د جشن لمانځلو په موخه داخل سول او د ښار د ځېل سوو خلکو له خوا يې تود هرکلی وسو. طالبان چي پخپلو پيک اپ موټرونو کي له ښار څخه وتل، ادعا يې کوله، چي دوی پخپله ښار پرېښووی، دا مهال کرزی او يو شمېر افغان جنګيالي د سپېشل فورس د مشاورينو سره د کندهار په شمال کي د شاه وليکوټ په کلي کي وه. امريکايي الوتکو پر هغه کرښه بمباري کوله، له کومه ځايه چي د طالبانو يوې کوچنۍ ډلي پر ياد سوي کلي باندي ډزي کولې.

افغان جنګيالي، څو کليوال او امريکايان د همدې کلي په څنډه کي يوې غونډۍ ته وختل تر څو هوايي حملې وڅاري. کرزی هم همدې غونډۍ ته پر لاري و، چي يو ملګري يې ورته وويل، چي د سيمي مشران راغلي دي او هغوی غواړي ستاسي سره ووينې. کرزی بيرته راوګرځېدی او هغه کور ته ولاړی چيري چي د کلي مشران ناست ول. نابېره يوې درنې چاودني د سرای کړکۍ ماتي کړې، دروازې يې والوزولې او د کنډوکپري

(c) ketabton.com: The Digital Library

ودانۍ خاورې خځلي پر کرزي او هغه مشرانو راتوی سوې. دا ځکه چې یو لوی ۲۰۰۰ پونډه سټلایټ رهبري سوی بم د امریکایي B - 52 ډوله الوتکې څخه په غلطه توګه و ناسم ځای ته رهنمايي او وغورځول سو.

په دې پېښه کې درې تنه امریکایان، یو شمېر افغان جنګیالي د ځینو ملکي کسانو په شمول ووژل سول. په همدې وخت کې یو امریکایي سرتېري او یو قومي مشر پر کرزي ځانونه واچول، دوی کرزی له هغه ځای څخه راوایستی او د یو غرګي په منځ کې یې یو سرای ته بوتلی. یاور یې سمدستي ورڅخه د وینو او خاورو په پاکولو پیل وکړ. په همدې وخت کې یې سټلایټ ټلیفون ته زنګ راغلی، د کرزي یاور ټلیفون راپورته کړ، خو له هغه خوا په انګلیسي خبري کېدې او ورته وویل سوه چې ټلیفون کرزي ته ورکړه.

دا د بي بي سي راډیو خبریاله لیزدوسیټ وه چې له بون څخه یې ټلیفون کړی و، هغې ورته وویل: تبریک دي وي تاسي د افغانستان د انتقالي ادارې د مشر په توګه ونومول سواست. تر دې وروسته بل زنګ راغلی، دا په کندهار کې د یو افغان قوماندان ټلیفون و، چې ویل یې: د طالبانو یو لوړ پوړی استازی شاه ولیکوټ ته پر لاري دئ، غواړي چې تاسي ته د طالبانو د تسلیمۍ لیک وړاندې کړي.(*)

حامد کرزی د ۱۹۵۷ م کال په ډسمبر کې د افغانستان په کندهار ولایت کې دې نړۍ ته راغلی دئ. کرزی معنی دی د کرز د کلي دئ او د ده د کورنۍ نوم هم له همدې څخه سرچینه اخلي. افغانان د خپلو کوچنیانو د زېږېدلو نېټه نه لیکي، نه یې لمانځي او حتی ځیني افغانان په دې نه پوهېږي چې په کوم کال زېږېدلي دي، خو کرزی یوې تعلیم یافته او مشهورې کورنۍ ته منسوب دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کرزي پلار د پوپلزيو د قبيلې مشر و، لکه څنګه چې تر ده وړاندي يې پلار هم همدا دنده لرله پوپلزي د ابدالي قبيلې يوه پښنه ده، چې دوې پېړۍ يې تر هغه وخته پوري چې پاچا ظاهرشاه په ۱۹۳۷ م کال کي واک ته ورسېد افغانستان اداره کاوه. خو کله چې په ۱۹۹۹ م کال د کرزي پلار د طالبانو له خوا ترور سو، نو کرزی د خپلي قبيلې مشر سو، خو نوموړی په قومي مسايلو چندان سر نه ګرځوي، دی وايي: زه يو ساده افغان يم.

دا چې د کرزي کورنۍ د پخواني پاچا محمدظاهرشاه سره نژدې اړيکي لرلې، نو کله چې دی د لنډمهالي ادارې د مشر په توګه ونومول سو، لومړی کار يې دا و، چې پاچا له ايټاليا څخه تر يوې اوږدې جلا وطنۍ وروسته بيرته خپل وطن ته راولي او پخپل پخواني قصر کي يې ځای پر ځای کړي، چې دوستان او د کورنۍ غړي به يې پر راټول وي.

حامد کرزی اته وروڼه او يوه خور لري، خو دی د عمر له مخي منځنی دئ. ده به ويل چې مور يوه لوستې، خو محافظه کاره او دوديزه کورنۍ يو، مور ډېر شتمن نه وو، په کندهار کي نوري کورنۍ وې چې هغه تر مور ډېري مړې وې.

خو دا کورنۍ د خپلي اوږدې او ښې سابقې له مخي چې د وخت د حاکمي کورنۍ سره يې لرله او په يو لوی کور کي د مستريح ژوند کولو له کبله ډېره مشهوره وه. په داسي حال کي چې د کرزي پلار يو ځواکمن خان او مور يې يوه روحاني ښځه وه، چې اکثره وخت به يې روژه وه. ده وويل چې ښه راشه درشه او د لوړ مورال لرل يې د خپلي مور څخه زده کړي دي.

کرزی د افغانستان د تاريخ د څو هغو سوله ييزو دورو څخه د هغې دورې په پای کي زېږېدلی دئ، چې د پاچا واکمنۍ قومي فيډرالي

(c) ketabton.com: The Digital Library

شکل درلود، داسي چي اکثریت پښتانه په جنوب، تاجک او اوزبک په شمال او رټل سوي شیعه هزاره اقلیت په مرکز کي مېشت وه.

کرزي د خپل ژوند یو څو کلونه په کرز کي تېر کړل او مکتب یې هم دلته پیل کړ، خو تر لومړۍ ټولګي ویلو وروسته یې کورنۍ کابل ته کډه سوه، دا مهال د کرزي پلار (اروابناد عبدالاحد کرزی) په پارلماني ټاکنو کي د ولسي جرګې غړی سو، چي ډېر افغان تاریخ پوهان دغه لسیزه د دیموکراسۍ لسیزه بولي. د ظاهرشاه حکومت یو اساسي شاهي نظام و، د پارلمان له پاره به داسي آزادي ټاکني تر سره کېدې لکه د نن ورځي آزادي ټاکني، کاندیدانو به د خپل ځان او هم د خپلو همفکره کاندیدانو له پاره تبلیغاتي کمپاین چلاوه، ویناوي به یې کولې او خپلو مؤکلینو ته به یې مېلمستیاوي جوړولې، دا مهال مشر کرزی (عبدالاحد کرزی) ځلوېښت کلن و.

کابل په هغه شپوورځو کي پاک، منظم او یو نړیوال ښار و، چي د جادو هري خوا ته یې ګڼي وني ولاړي وې، غربي دیپلوماټانو به په کابل کي هستوګنه خورا خوښول په ځانګړې توګه د هندوکش د غرو لمنې. د کابل د هغه مهال عکسونه د دغه ښار د برم ښه نماینده ګي کوي، چي ټولو حکومتي کارکوونکو به غربي جامې اغوستې وې او د وزارتونو ودانۍ ډېري منظمي او ښایستې وې.

د افغانستان کوکنارو د اروپا په نشه یي کلتور کي ښۀ نوم درلود، خو شتمن او مالدار قاچاقبران د هغوی د هیروئینو کارخانې د لېږد د نړیوالو چینلو څخه لا څو کاله لیري وه.

کله چي افغانستان شاهي نظام او پارلمان درلود، د حکومت زیات کارونه په ولایتي او کلیوالي سطحه تر سره کېدل. د افغانستان ډېر

(c) ketabton.com: The Digital Library

سياسي ځواک له منتخبو حکومتي چارواکو او حتي د شاهي کورنۍ سره نه و، بلکي ډېر څه د محلي خانانو په واک کي وه. په دي کي شک نسته چي په کابل کي حکومت حاکم و، بلکي اطراف محلي رواياتو اداره کول. ډېر شيان د سوونو کلونو پخوا په ډول په افغاني لارو چارو تر سره کېدل او حلېدل، چي هيڅ ليکلي اسناد به يې نه لرل. د کرزي په ياد دي چي څنګه به د ده پلار محلي ستونزي د قوم د مشر په توګه هوارولې، نه د هغه ځواک څخه په استفاده چي دی يو منتخب چارواکی و.

کرزی راته وويل، چي اکثره وخت به زما پلار د محلي ستونزو د هواري له پاره ورغوښتل کېدی، دغه شخړي به يا د ځمکي، ملکيت، اوبو، واده او داسي نورو پر سر وې. دا هر څه د مسئلې په لوی والي پوري اړه درلوده، ځيني به د کوچنيو خانانو له خوا هوارېدلې او د ځينو له پاره خو به د يوې ډلي مشهورو خانانو اړتيا وه. دعوه د دواړو خواوو څخه اورېدل کېده او پرېکړي بيا په خان پوري اړه درلوده، چي تور ته تور او سپين ته سپين ووايي. هيڅ کاغذ او لاسليک ته اړتيا نه وه، بس همهغه فتوا هر څه وه. د حامد کرزي د کورنۍ ورځني ژوند همېشه د دغسي پېښو ډک و.

افغانان په کورونو کي يو مېلمستون لري، چيري چي هلته مېلمانه د کورنۍ د مشر او د هغه د زامنو سره چای د بادامو او وڅکو سره څښي او حتی ډوډۍ هم خوري. په دې وخت کي ښځي بالکل د نظره نهامي وي، ښېله دې چي مېلمه د نژدې خپلوانو څخه وي، که داسي نه وي نو مېلمه به د مېلمستون پرته د کور بله برخه هيڅ ونه ويني. د حامد کرزي مېلمستون په کُلي توګه د محلي سياست له پاره ځانګړی سوی و، چي همېشه به د ستونزو حل، د خوښيو او کوزدو مراسم پکښې تر سره کېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځیني وخت به مسئله ډېره لویه وه، چې د خان لخوا به ډېر کسان پکښې دخیل وه، تر څو دواړو غاړو ته په مېلمستون کې ښه راغلې وایي، مشر کرزي (عبدالاحد کرزي) او نورو مشرانو به د همدې مشکل د هواري له پاره هغه کلي ته سفر کاوه.

د کرزي (حامد کرزي) د مځکې پر سر یوه داسې مسئله په یاد ده، چې د هغه د حل له پاره د کندهار د ټولو بانفوذه کسانو اړتیا وه. حامد د خپل پلار سره د دغې لوبې د لیدلو له پاره د کندهار او ارزګان ولایتونو تر منځ د نېش په نامه یوه کلي ته ملګرې و، شاید دا د دغه ځوان له پاره په اصل کې یو درس و، چې کله دی یو ورځ د قوم مشر سي، څنګه به د خلکو ستونزې حلوي. د کلي د خلکو له پاره دا یوه لویه لوبه وه، چې د سلو په شاوخوا کې کسان ورته راغونډ سوي وه، چې په هغو کې به ځینو شاهدي ورکول او نورو به یوازې له مشرانو سره لیدل او د پرېکړې پایلي ته به یې انتظار ایسته، دواړو خواوو به خپل دلایل وړاندې کول، د کرزي پلار او نورو مشرانو به په خورا دقت غوږ ورته نیولی و، وروسته به مشران پخپل منځ کې سره جرګه سول او پر مسئله به وړغېدل. کرزی (حامد کرزی) وایي چې کله به دوی موافقې ته سره ورسېدل بیا به یې دواړو غاړو ته ور ږغ کړل او فیصله به یې ورته واورول، دواړې غاړې به له پرېکړې څخه راضي وې او تر پایه به هغه ته وفاداره وو.

د افغان کلتوري ځواک څخه چې په دغه ورځ یې ځوان کرزي توان ولید ډېر ځني اغېزمن سو او هغه هر څه یې اوس هم ښه په یاد دي، مګر دغه پېښه د یوه بل علت له کبله هم د ده په ذهم کې پاتې ده. کرزیان د کلي تر ټولو مشهوري او روحاني کورنۍ مېلمانه وه، چې د کرزي د قوله هغه کورنۍ لا تر اوسه هم په همهغه کلي کې اوسېږي، چې د خپلو ښایستو

(c) ketabton.com: The Digital Library

اسانو په لرلو سره هم د ډېر اعتبار څښتنه وه. افغانان د اسانو په سپرلیو کې افسانوي شهرت لري او هغو اسانو ته زیات ارزښت ورکوي، چې ګړندي، ځواکمن او زړه ور وي.

دا هر څه د افغانانو په ملي لوبه بزکشي کې رانغښتي دي. د دې لوبې وتلي کسان د شمال څخه دي. د بزکشۍ ټکي په ټکي معنی (goat grabbing) ده، چې د دغه لوبې سوچه فورم بېله لوبډلو په آزاد میدان کې تر سره کېږي. بوزه او یا سخوندر حلال سوی او یا یې سر پرېکړل سوی وي، وروسته پر مځکه ایښوول کېږي، آس سپاره په زاړه آزاد فورم کې (۵۰) او حتی (۱۰۰) کسان وو، پایځې یې رانغښتې، د لرګي لاس لرونکې غمچینه به یې په غاښو کې وه، چې خپل یا د بل آس غاښ ور وانه چوي، کوښښ به یې کاوه چې د مړې بوزې پر لوري مانور وکړي، چې ورسره سم یوه وحشي اله ګوله د اسانو شیشنی او کپ اچونه رامنځته سي. د دوړو او غبار په منځ کي یو سپور داسي کښته سي چي یوه پښه به یې په رکباب بله د آس تر خېټې لاندي (۷۵) پونډه سخوندر له مځکي څخه راپورته کړي او کوښښ کوي چي له هغه سره د میدانه ووزي. په داسي حال کي چي هغه نور سپاره دی تعقیبوي او هڅه کوي چي سخوندر د ده له لاسه وباسي چي په دې ډول نومرې جوړې کړي، باید سپور کس سخوندر د اس پر ملا باندي په روښانه او آزاده توګه د ټولو تعقیب کوونکو څخه یوسي.

کله کله داسي کېږي، چي دوه سپاره چي یوه یې یوه پښه نیولې او هغه بل یې بله پښه نیولې وي له میدانه وزي. زیات وختونه دا د دغو کسانو په ځواکمنتیا پوري اړه لري، چي ځیني وختونه له ډېره زوره د سخوندر څخه پښه جلا کېږي او یوه ته یوازي پښه پاته کېږي، او هغه بل د نور سخوندر سره د بري تر سرمنزله رسېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په اوس وخت کې دغه لوبه د دوو لوبډلو تر منځ تر سره کېږي، چې میدان یې هم د فوټبال د لوبغالي په اندازه وي. داد تماشاچیانو له پاره یو څه خوندي بڼه لري، تر هغه چې په آزاد میدان کې به د خپل ژوند د ژغورلو له پاره په داسې حال کې ځغاستل چې د یوې لویې ګلې په پښو کې پایماله نه سي، خو هغه انفرادي آزاد شکل د دغې زړې لوبې هم له منځه ورسره ولاړی.

بزکشي رسمي بڼه لري چې په دقت سره باید سره منظمه سوې وای او دغه لوبې څو ورځې په بر کې نیولې وای، هغه خان چې فکر کوي چې د دې لوبې اقتصادي توان لري نوبه یې په اوونیو دغه لوبه غځوله، له همدې له پاره به یې بلنلیکونه لېږل، خوراکي توکي به یې ذخیره کول، د خوب خونې به یې اماده کولې او غوره لوبغاړي به یې د لوبې د تر سره کولو له پاره ورته راغوښتل. شاید خان له یوه مهم بلونکي او یا هم له یوه ستوري لوبغاړي لخوا وننګول سي، خو که چیري دی خپلو مېلمنو ته په وړ خوړو او سرپناه کې پاته راسي او یا د سیالو ډلو تر منځ شخړه رامنځته سي او یا نقدي جایزې مناسبې نه وي نو هغه خان به اعتبار او ځواک دواړه له لاسه ورکړي.

د بزکشۍ د تر سره کولو فکر دې باید تر هغو پورې په مغزو کې در ونه ګرځي، تر څو چې تاسي ډاډه نه سئ چې تاسي یې تر اوده وتلای سئ او یا هغه صلاحیت، ځواک او نفوذ چې تاسي په افغان حکومت کې تر لاسه کړی دئ د بایللو خطر ته غاړه کښېږدی خو کله چې کرزی واک ته ورسېد تر همدې اغېز لاندې راغلی و.

حامد کرزی د نوي دیموکراتیک افغانستان د ولسمشر په صفت په ډېره ښه توګه د خپل واک له محدودیتونو څخه خبر دئ او د دې هڅه نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوي چي هر هغه څه چي دی پوهېږي تر سره کړي. د مختلفو جنګسالارانو سره د ده ګذاره يې تر ټولو غوره ښېلګه ده، نوموړی پر دې برياليی سوی دئ، چي ځيني زورواکان د خپل ځواک له مرکزونو څخه ليري کړي، د مخدره موادو د توليد د مخنيوي په ساحه کي ځکه پاته راغلی دئ، چي نوموړی پوهېږي چي په اوسني وخت کي د دغه کار په تر سره کولو کي ښېوسه دئ.

بيرته د نېش کلي ته ورګرځو، څنګه چي کرزي او پلار يې د کوربنو سره چای وڅښلې، يو کس د دوی د درناوي له پاره خپل يو کورنی آس راوست، ځوان حامد پر آس د سپرلۍ پرېکړه وکړه، که څه هم تر دې وړاندي نوموړی پر آس نه و سپور سوی، نوموړي پر آس پښه واړول او حرکت ته يې چمتو کړ او په کراره يې له کلي څخه ليري بوت. ده په کړه خندا وويل چي تر دې مهاله خورا ښه و. خو کله چي مي د آس مخ د کلي پر لور راوګرځاوه نوموړي آس د برېښنا په شان په ډېره تلوسه د خپل کور پر خوا منډي کړې. همدا د ده لومړی ځل دئ چي پر آس سپرېږي نو په دې نه پوهېدی چي په څه ډول يې ودروي، ځکه نو نوموړي د خپل قيمتي ژوند دژغورلو په هڅه کي و او اس هم سيخ سيده و خپل غوجل ته منډي وهلې. څنګه چي اس د غوجل دروازې ته په ورننوتو و، کرزي په همدې وخت کي له مغز څخه کار واخيست او د غوجل ددروازې د سر تير يې ونيوی، له همدې کبله دی لوړ د دروازې پر سر پاته سو او اس تر ده لاندي تېر سو. نوموړی هلته ځړېدلی پاته سو، چي وروسته له ژوبل کېدو پرته مځکي ته را کښته سو.

کرزی وايي: دا حالت ډېر ښېروونکی و، ټولو راوځغستل چي وګوري زه خو به نه يم خوږ سوی، د کلي يوه سپين ږيري سړي راته وويل،

(c) ketabton.com: The Digital Library

چي ډېر ښه ته ډېر چالاکه هلک يې ! وروسته چي دوی کلی پرېښووی يو کس له يوه ډېر ښايسته کوچني آس سره راغلی او هغه يې حامد ته د تحفې په توګه ورکړ. کرزی وايي چي ما هغه ته د نصواري روښانه رنګ او سپين ټکو له کبله د (بادام ګل) نوم ورکړ. نوموړي دغه آس ډېر کلونه د ځانه سره وساتی،او اکثره وخت به هغه پېښي ته د افغاني سيرت او عنعنې د ښېلګي په توګه کتل. سره د دې چي د ده د هيواد بې رحمه تاريخ په خونخواري کي د افغانانو شهرت او د نه بخښونکي توريالیتوب سره سره کرزی د خپلو خلکو پر سخاوت او مېلمه پالنه باور لري.

په رشتيا د ټولو افغانانو په ځانګړې توګه د پښتنو ژوند خو د عزت، مېلمه پاني او کسات څخه جوړ دئ، دا د يوه افغان فريضه ده، چي پخپل کور کي د ټولو خلکو مېلمه پالنه وکړي حتی که دښمن هم وي. مګر عزت او وقار ته د هر ډول سپکاوي کسات بايد واخيستل سي، چي بل هيڅ شی نه پکښې ځايېږي. د کرزي پلار او نورو مشرانو پرېکړې کولې او قومي شخړې يې هوارولې، د پرېکړې د دواړو غاړو په عزت او حساسيتونو پوهېدل، چي په يوه معظله کي يې د راپورته کېدو امکان وي.

په کندهار کي کرزيانو په خورا اساسي کور کي ژوند کاوه، چي باغ هم پکښې و. د کور غولی خورا لوی و، چي حامد کولای سوای پر آس سپرلي پکښې وکړي، په دغه سرای کي باغ، د کبانو حوض، ونې، ګلان او د ده پکښې ډېر الوتونکي هم په ياد دي، دی وايي چي ډېر مستريح او باډسپلينه ژوند مو درلود. کرزی وايي چي په سلوك کي اصول ډېر سخت وه خو زما په روزنه کي يې مهم رول ولوباوه او په ژوند کي يې ښه لوري ته سوق کړم. مور دا زده کړل چي نه يوازي د خپلو والدينو احترام او

(c) ketabton.com: The Digital Library

اطاعت وکړو بلکې عموماً ټولو مشرانو ته په درنه سترګو وګورو. دا د افغانانو د ژوند اصلي لار ده، خو دا لاره په ځانګړې توګه په کليوالي سيمو کې ډېره قوي ده.

کله چې کرزی ولسمشر سو، ده يوه والي ته بلنه ورکړې چې په ارګ کې د ده سره وګوري او والي خپل کوچنی زوی هم ورسره راوست، دا هلک د دوه نيمو کلونو و، کله چې پلار او زوی د ولسمشر و دفتر ته ور ننوتل، کرزي سمدستي دغه هلک واخيست په غېږ کې يې ونيوی او مچ يې کړ.

کرزي وويل چې دغه هلک هم خپله وظيفه لرل، ځکه چې همدا سي روزل سوی و، چې تر سره يې کړي او سره له دې چې ما په روغبړ سره د دغه کوچني هلک هر څه ور ګډوډ کړل بيا هم ده خپله ذمه واري هېره نه کړه. دې هلک مخکې لا له خپلې کورنۍ څخه زده کړي وه، چې تر معرفت وروسته څونه ژر چې کېدای سي بايد دمشرانو لاس ور مچ کړي، خو کرزي ده ته دا موقع په لاس ور نه کړه، مګر کله چې ولسمشر دغه کوچنی ملګری کښېنه کړ، سمدستي يې ورته اسلام عليک ووايه، او د کرزي لاس يې ور مچ کړ. کرزی وايي چې وروسته نومړي د دې احساس وکړ، چې اوس يې نو په سمه توګه خپله وظيفه تر سره کړې ده. په همدې ډول موږ را لوی سوي يو، په افغاني عنعنوي کورنيو کې بايد کوچنيانو ته ور ښوول سوي وي چې بايد دمشرانو ډېر درناوی وکړي.

ځوان کرزی ډېر آرام هلک و، خو کله چې يې کورنۍ کابل ته ولاړه، يوه ډله انډيوالان يې پيدا کړل، په حقيقت کې دا دوې کوچنۍ ډلې چې يوه يې په مکتب او هغه بله په ګاونډيتوب کې. هر هغه ملګری چې بايد د هغه بل کور ته ورسي بايد د خپلې کورنۍ اجازه ولري، والدين تل

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوهېږي چي کوچنيان يې چيري او له چا سره دي. حتی په تنکۍ ځوانۍ کي د کرزي کوچنيانو بايد يو ځای ته د تللو له پاره د خپلو پلرونو څخه اجازه اخيستې وای، په ځانګړې توګه سينما ته. کرزی وايي ما د عمر د تفاوت په خاطر د خپلو ورونو او خونديو سره ډېره راشه درشه نه لرل، مګر کله کله به زموږ دوستان لکه د کاکا، ماما ،عمه او خاله زامن او اکاګان سره راغونډېدل او سينما ته به تللو، حامد او ملګرو يې له فوټبال سره مينه لرله او همدا شان پر بايسکل به يې د ښار چکر واهه.

د کرزي تر ټولو ښې خاطرې اکثره په استالف کي له مېلو څخه دي، دا يو کوچنی کلی دئ، چي د کابل څخه د يوه ساعت د موټر د مزل په اندازه ليري پروت دئ، او د خپلي کلالۍ له کبله خورا مشهور او زرغونتوب يې پر ښاري کورنيو خورا اغېزه ښندي، چي په مېله ور ووزي او يا د اوونۍ پای هلته تېر کړي. استالف د (۲۰۰۱ م) کال په جګړو کي سخت وران سو، خو په هغه وخت کي خورا زرغون او په زړه پوري کلی و، لکه يو رغيانه چي سيندونه، حوضونه، باغونه او ځنګلونه ولري. د همدې ځای د اکثرو کورنيو د ژوند روزګار د لاسي کلالۍ توليدات دي، چي خورا روښانه زرغونه او په شنه ښيښه سينګار سوي وي، چي په مارکيټ کي د ښار په هره برخه کي تر لاسه کېدلای سي. په کال کي يو ځل به د کرزي ماما چي د دولتي مطابعو رئيس و* په استالف کي به يې لويه مېله جوړول، کرزی وايي چي د کورنۍ ټوله کوچنيان، ټوله زما د کاکا او ماما زامن له خپلو والدينو، نيکونو او اناګانو سره هلته درې يا څلور ورځي تېرولې، چي شاوخوا به مو ځغستل، ونو ته به ختلو او په سيندونو کي به

---

* د کرزی ما ما اروانباد محمد ابراهيم کندهاری و، چي د پخواني شاه اعليحضرت محمد ظاهر د پاچهۍ په دوره کي د دولتي مطابعو رئيس و، ژباړن.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مو لوبي کولې او دامېلې زما د کوچنيوالي تر ټولو غوره وختونه وه.

کوچنيانو تـه د امتيـاز پـه توګـه ځـوان کـرزي هـم د موقـع څخـه پـه استفاده سره ځان ښودنه کړې وه او د ده هغه توره تر اوسه پـه يـاد ده، چې يو وخت يې په استالف کې د مېلې پـر مهـال کـړې وه. د ده اکـا يـو افغـان هنرمند د نتو په نامه راوستی و، چې غزلې ووايي. نتو په ټوله هيواد کـې د محلي غزلو په ويلو شهرت درلود. حامد چې په هغه وخت کې بـه نهـه يـا لس کلن و د نتو تر څنګ کښېناست، او هغه ته يې غـوږ ونيـوی، کلـه چـې نتو غزله ختمه کړه کرزي ورته وويل :

"ښاغلې !"

زاړه هنرمند کښته ورته وکتل او ورته ويې ويـل :

بلې زويه !

حامـد غوښـتل چـې ده تـه پـه افغـاني موسـيقي کـې خپلـه وړتيـا وښووي، او ترې وې پوښتل : آيا تاسي کلاسيکه غـزل هـم ويـلای سئ؟ د ده مطلب راګونه وو، لکه کلاسيک هندي راګونه، چې په افغـانستان کـې هم ويل کېږي. کـرزی وايـي دا داسـي و لکـه سـړی چـې د کليـوالي هنرمنـد څخه وپوښتي، چې بيتون راته ووايه او له همـدې کبلـه نتـو پـر مـا ډېـر پـه غوسه او قهر سو او ويې ويـل ، چـې لـه مخـې مـي ورک سـه، او تـه بيـا پـه کلاسيکه موسيقي څه پوهېږې؟

د کـرزي يـاد دي چـې کابـل پـه هغـه وخـت کـې نـه يـوازې پـاک، خوندي، پر موډ برابر او د يوې ښې فعالي اداري درلوونکی و، د پخواني پاچا له واک څخه تر ايسته کېدو وروسته چې کله کرزی هندوسـتان تـه د لوړو زده کړو له پاره ولاړی، او د لـومړنۍ ژمنـۍ رخصـتيو پـه جريـان کـې بيرته کابل ته راوګرځېد نو ډېر حيـران سـو، چـې د پاکسـتان پـه نسـبت پـه

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانستان کي څونه ښه اداري نظام حاکم دئ. پاکستان ته په اوښتلو سره باید ټول مسافرین له بس څخه کښته سوي وای او د پاسپورټ له کنټرول څخه تېر سوي وای. مګر کله چي افغانستان ته راواوښتو نو ټوله مسافر په بس کي پر خپلو سیټونو ناست وه او پولیس بس ته راپورته سو، پاسپورټونه یې له مسافرو څخه ټول کړل، وبهرنیو مسافرینو ته یې بیرته بس ته پاسپورټونه راوړل، او کرزي ته یې وویل چي ستاسي پاسپورټ دلې په پوله کي راسره ساتو، چي وروسته بیاتاسي کولای سئ د بهرنیو چارو له وزارت څخه یې تر لاسه کړئ. کرزی وایي په ډېر ډاډ سره چي زه یوه اوونۍ وروسته د بهرنیو چارو وزارت ته ورغلم پاسپورټ مي تیار هلته پروت و. ما د افغانستان د اداري سیستم په مؤثروالي ډېر ویاړ کاوه، کله چي ځوان کرزي د بس په ذریعه د پاکستان او هندوستان سفر وکړ کابل ورته اروپایي ښار غوندي ښکارېده. تقریباً هر چا غربي جامې اغوستلې، د هغه وخت عکسونه د ده د دې ادعا تایید کوي، که څه هم هلته ډېر موټرونه نه ول، خو ښار د برېښنایي او ډېزلي بسونو خورا ښه ترانسپورټي سیستم درلود، چي د ښار ټولي برخي یې تر پوښښ لاندي راوستلي وې. کابلیان ډېر جهان دیده او د غرب اغېزه له ورایه پر څرګندېدله. کرزی وایي تاسي کولای سوای چي هر ډول عصري موسیقي واروئ، لکه د Tom Jones او Engelbert Humperdink. نوموړی به همېشه د افغان موسیقۍ مرکز په نامه د موسیقۍ دوکان ته ورتلی، چي د ده یو دوست یې خاوند و. تر دې وړاندي چي د کوم یوه د رانیولو پرېکړه وکړي دی به په یوه کوچنۍ غرفه کي کښېناست، ګوشکي به یې په غوږو کړې او هغه به یې واورېد. په همدې ډول زیات ښه رستورانتونه هم موجود وه.

د کرزي د زده کړي په وخت کي افغاني ټولګي د زده کړي او

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډسپلین مرکز و. ټولګی د افغان ځوانانو د جوړښت په بنه کي خورا مهم رول لوباوه، دی وايي چي موږ د ښوونکو خورا زيات احترام کاوه. هيڅ پروا يې نه کوله، چي ته د خپلو ملګرو سره تر ښوونځي بهر څونه بد يې خو په هغه وخت کي چي تاسي ښوونکی ليدلی وای نه يوازي ستاسي شخصي ښوونکی بلکي هر يو نو بايد ځان دي سم کړی وای.

په لومړي سر کي د حامد ښوونځی خورا ډېر خوښېده، مګر دا خوښي پر ظاهرشاه تر کودتا وړاندي وه، چي وروسته هر څه کمونيزم پرغمل کړل.

کله چي په ۱۹۷۳ م کال کي ظاهرشاه د ايټاليا په سفر بوخت و، داود خان چي لومړی وزير او د شاه اخښی او د اکا زوی و، واک په خپل لاس کي واخيست، کله چي داود خان لومړی وزير و ببله دې چي کمونيست و په بهرنيو اړيکو کي روسيې ته خورا نژدې و، له همدې کبله روسانو ورسره خورا زياتي نظامي مرستي د عصري وسلو په شمول وکړې. دلته په دننه کي داود خان پلان درلود، چي د خلق او پرچم افغان کمونيستې ډلي شا ته پرېږدي، کوم چي د شاهي نظام سرسخت دښمنان او په اردو کي يې سختي ريښې لرلې. شوروي اتحاد په لومړي سر کي د داود خان کودتا وستايل، خو دی کمونيزم ته نژدې خورا وطن پال افغان و، چي پر يوې قوي سياسي ډلي مرکزي حکومت او د مرکز لخوا کنټرولېدونکي اقتصادي پرمختګ يې باور درلود. هغه کمونيستانو چي د داود خان سره يې د واک په نيولو کي مرسته کړې وه اوس د کابل په اداره کي د نوي اعتبار تر لاسه کولو په خاطر په جامو کي نه ځايېدل او د دوی اغېزه تر ښوونځيو پوري ور ورسېده. د حبيبيې لېسې په شمول چي کرزی هم همدلته زده کړي کولې چي د ښار تر ټولو لوی او غوره منځنيو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښوونځیو څخه شمېر کېده کرزی وایي چې موږ ته د کمونستي ښوونکو راتګ پیل سو او هغوی په ځانګړې توګه ځیني خلک تعقیبول.

زه نه وم خبر چې یو ښوونکی به د داسي چا خلاف وي لکه زه، زما تر اوسه د بیالوژي یو کمونیسټ ښوونکی په یاد دئ چې زه یې ښه نه ایسېدم، ځکه چې ده فکر کاوه چې زه ډېر مستریح ژوند لرم. هغه ډېري احمقانه نظریې لرلې، ده فکر کاوه چې زموږ په کور کي هر څه په برېښنا تر سره کېږي، چې مازي یو بټن ووهو نو د اشپزخانې څخه خواړه پر پټه باندي راوزي. یوه ورځ د لسم ټولګي ځوان حامد د بیالوژي ښوونکي د انسان تکاملي نظریه چلنج کړل. کرزی وایي چې دا داسي مضمون و، چې ما ډېره مطالعه پکښې لرله، د ډاروین تیوري او داسي نور او زه پوهېدم چې په همدې اړه زه تر همدې ښوونکي ډېر معلومات لرم. کله چې ما هغه چلنج کړ نژدې و، چې زه یې ټکولی وای، او همدا لومړی ځل و چې په ښوونځي کي د مشکل سره مخامخ سوم.

د ۱۹۷۳ م کال کودتا په ډېرو شیانو کي د کرزي د فامیلي ژوند په شمول تغیر راوست. د ده پلار د شاه سره د نژدې اړیکو له کبله تر فشار لاندي و، یو څو کاله وروسته خو د همدې اړیکو له امله د ځرخي پله زندان ته ولېږل سو. همدې زندان ته کمونیستانو په لسګونو زره سیاسي بندیان ولېږل، چې اکثره شکنجه او ووژل سول.

کله چې کرزی له حبیبیې ښوونځي څخه فارغ سو، پرېکړه یې وکړه چې نوري زده کړې په هندوستان کي تر سره کړي. کودتا او کمونیسټ ښوونکو کېدای سوای چې د ده پر انتخاب اغېزه کړې وای، مګر د دې په مخنیوي کي د ده ورونو ډېر رول ولوباوه. د ده دوو ورونو په متحده ایالاتو کي زده کړې کولې او هغوی ده ته وویل: چې ته باید داسي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځای ته ولاړ سي چيري چي انګليسي زده کولای سي. ده په دوو ژبو خبري کولای سوای پښتو او دري. دري ته فارسي هم ويل کېږي او دا د فارسي افغاني ډول دئ. همدا دواړي ژبي د کرزي په کور کي ويل کېدلې او دا د افغاني سيرت تر ټولو ښه نمونه ده. کابل او نور افغان ښارونه څو قوميز دي، چي د هيواد د هري برخي خلک پکښې تر سترګو کېږي. کرزی وايي ټوله لوستي کسان په دواړو ژبو ږغېدای سي، او دواړي په مساوي توګه دوې افغاني ژبي وې، چي هيڅ يوې تر هغه بلي امتياز نه درلود، هيچا دا فکر نه کاوه چي پښتو يوازي د پښتنو ژبه ده او فارسي د نورو ګروپونو. دوی د افغانستان ژبي وې چي دا تر ټولو غوره ټکی دئ، موږ دوه ژبيز خو يو کلتور مو دي.

کرزي د يوه کلتور داسي مثال وړاندي کړ: ده وويل چي په راوروستو کي د زابل څخه زما يو ملګری زما د ليدو له پاره راغلی. د ده ښه، چپنه، بګړۍ، کالي، کړه وړه او هغه د خبرو کولو طرز يوه ذره هم زما د يوه نژدې بدخشاني انډيوال د ښې، کړه وړو او خبرو تر طرز توپير نه درلود. يادي سوي دواړي سيمي يو له بل څخه د زر کيلومتره په واټن ليري دي. کرزی وايي څومره ډېر چي د افغانستان تاريخ ته ورننوزې هغونه لږ توپير به د سيمو تر منځ ووينې. د کرزي پلار چي د کندهار و، قرقولي يې پر سر کوله (د کرزي له خولې) په همدې ډول يوه بل خان مهين يار له هزاره جاتو څخه او نورو هم د هيواد له هره ګوټه څخه همدا خولۍ پر سر کول او يو شان کړه وړه يې لرل.

کرزی وايي تر ټولو غوره کتاب چي پر لويه جرګه باندي وکښل سو، ليکوال يې د شمال و نه د جنوب په کوم ځای کي چي دا جرګه زېږېدلې ده. موږ ټول يو افغان يو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډېر افغان ځوانان په هغه وخت کي هندوستان ته د زده کړو له پاره تلل، چي په هغو کي يو د کرزي د ماما زوی و، چي هلته د طب لوستلو له پاره تللی و (په را وروسته کي هغه په متحده ايالاتو کي د سرطان يو مشهور متخصص سو). کرزی په لومړي سر کي ډهلي ته ولاړ، چي ډېر ژر ورته معلومه سوه چي د هغه ځای د وژونکي ګرمۍ توان نه لري،ځکه چي دی د سمندر له سطحي څخه په شپږ زره فوټه لوړ کابل کي رالوی سوی و، چي حتی په دوبي کي يې هم ګرمۍ سړي ته تکليف نه ورکاوه، خو ډهلي د ده له پاره ډېر ګرم و. د کرزی د ماما زوی ده ته وويل چي ته بايد شيملا (Simla) ته ولاړ سې، هغه ځای د غونډيو پر سر آباد دئ، او د Himachal په نامه يې پوهنتون درلود.

د کرزي هغه شپې په ياد دي، چي کله د ډهلي څخه اورګاډی و شيمله ته ورداخل سو، چي خورا ډېر حيرانوونکی و، موږ د ښار ګرمي تر شا پرېښووله او اورګاډی په ښايستو کليو کي مخ په وړاندي روان و او د غونډيو سيمو ته په ورختو و. د هغه ونو ګلان چي پټلۍ ته به نژدې ولاړي وې چي کله به اورګاډی ورسره ټکر سو نوګلان به ډېو ته رادننه سول او وريځې به داسي کاښکابډلې لکه په يوه کړکۍ چي راننوزي او تر هغه بلي ووځي. شيملا د غونډيو پر سر آباد دئ، چي په دوبي کي به برتانوي افسران او لوړ رتبه دولتي چاروا کي د خپلو کورنيو سره د ښارونو څخه له ګرمۍ ورته راتښتېدل. د برتانويانو همدا ځای ډېر خوښېده له همدې کبله يې دا ځای په اوړي کي د هندوستان مرکز وټاکه. همدې ځای له کرزي څخه زړه يووړ. کرزی وايي چي هغه ډېر په زړه پوري ځای و. حيرانوونکي منظرې يې لرلې، د غرونو سرونه به يې په واورو پوښلي وه، او موسم يې زما خوښېده. ده هغه پوهنتون ته درخواست وکړ خو هغوی د حبيبيې

(c) ketabton.com: The Digital Library

لېسې و ډيپلومې ته اعتبار نه ورکاوه، خو نوموړی لومړی افغان و چې هلته داخله ورکړل سوه.

لومړۍ څو مياشتي د کرزي له پاره ډېري سختي وې، ځکه چي نوموړی همدلته تنها افغان و، له کورنۍ او دوستانو څخه ليري و او درسونه يې هم ټوله په انګليسي ژبه وه، چي د ده هم په هغه وخت کي نه وه زده. دی وايي کوم ژوند چي ما په کابل کي درلود دا تر هغه خورا سخت و. په لومړي سر کي نوموړی قصر ته ورته جورجايې مېلمستون په يوه کوچنۍ خونه کي چي په (Summer Hill) کي واقع او د ښار غربي سيمه ده اوسېده او دا هغه سيمه ده چي کله به مهاتما ګاندي له شيملا څخه ليدنه کوله دلته به پاته کېدی. وروسته همدا ځای د All India د طبي ساينس د انسټيټيوټ په مېلمستون واوښت. کرزی وايي چي دا ډېر په زړه پوري ځای و، خو دلته نه ډوډی او نه هم حتی چای ورکول کېدې، او له بله پلوه زموږ د کالج څخه د يوه ساعت پياده تګ په اندازه ليري و. کله چي به د ټولګيو څخه وزګار سوم بيا به په غونډيو کي يو جونګړي ته ورتلم، چي هلته د بيا رغوني څو تنه کارګر اوسېدل او ما به ډوډۍ له هغوی سره خوړل. دا خواړه ډېر ښه نه وه، چي اکثره به له رېګو څخه ډک وه. تر دغه غريبي ماښامنۍ وروسته به کرزی بيرته خپلي خوني ته راګرځېده او د پوهنځي کتابونه به يې لوستل.

کله چي دی هلته و، نو انګليسي بيا اجباري وه. دی په دې هم وپوهېده، چي په افغانستان کي تعليم دی په لابراتوار کي د ساينسي تمرينو له پاره سم نه و اماده کړی. په عمومي پوهنه، ساينسي تيوريو او نړيوالـه پوهنه کي ده احساسوله چي تر اکثرو هندي زده کوونکو په مايلونو مخکي دئ. دی وايي چي د رياضي، فزيک او کېميا ټولي

(c) ketabton.com: The Digital Library

فارمولې او عنصرونه مو په زړه کې ناست وه. موږ د امریکا تاریخ ، د ناپیلیون جګړې، اوسنۍ چارې لوستې وې. ما د میسیسیپي ، امازون او نورو شیانو په اړه خورا ډېر معلومات لرل او تر خپلو هندي ټولګیوالو زیات مخکې وم. خو کله چې به په لابراتوار کې عملي درس ته راغلو نو بیا به هغوی زما څخه خورا ډېر وړاندې وه. په تیوریو کې ځوان کرزی بېخي بلبل غوندې و. خو کله چې به لابراتوار ته ورداخل سو نو بیا به هر څه ځنې ورک سول. د ده د بوټاني درسونه په لومړي سر کې ډېر سخت وه.

په شیملا کې مشکلاتو دغه تازه ځوان پر یوه جګړه واړاوی. کله چې دی ولسمشر سو، نو ډېر ځله یې په کنفرانسونو کې د دې یادونه وکړل، چې د افغان تعلیمي بنسټ باید سم سي. داسې چې د عمومي زده کړې او عملي زده کړې تر منځ باید مناسب توازن وي.

په لومړي سر کې د کرزي له پاره د انګلیسي ژبې ټولګی هم خورا مشکل و. وروسته د ده له استادانو څخه یو دې ته متوجه سو چې دی په انګلیسي کې مشکل لري، البته چې دا ډېر غوره انسان و، له ده څخه یې وپوښتل چې څه ډول قاموس کاروي؟ کرزي په جواب کې ورته وویل چې فارسي – انګلیسي قاموس کاروم. پروفیسر خپل سر وټکاوه او وې ویل: نه! نه! هغه بیا مه کاروه! له هغه قاموس څخه به ته هیڅکله انګلیسي زده نه کړې، داسې قاموس کاروه چې ټوله انګلیسي وي. کرزی هم یوه دوکان ته ولاړ یو لوی انګلیسي قاموس چې د Random House له خوا چاپ سوی و په ۳۰ روپۍ چې د هغه وخت دوه ډالره کېدل رانیوی.

د ماخوستن تر ډوډۍ وروسته به کرزی خپلې خونې ته تلی او خپل کتابونه به یې لوستل. کله چې به له داسې یوه لغت سره مخامخ سو، چې د ده به نه و زده، نو قاموس ته به یې مراجعه کول. دی وایي چې په

(c) ketabton.com: The Digital Library

قاموس کي به له نورو داسي لغاتونو سره مخامخ سوم، چي زما به نه وه زده، چي هغه به مي هم ورسره وکتل. هره شپه به ده پنځه يا شپږ پاڼي له لغاتونو او د هغوی په ساده تشريح ډکولې. کرزی وايي چي همدا کار مي دوې درې مياشتي وکړ، چي زيات مشکل و. خو کله چي زه ډهلي ته د خپل استوګني د اوږدېدلو د درخواست له پاره ولاړم، او هغه افغان هلکان چي هلته ما پېژندل چي کله زه په انګليسي ږغېدم ډېر حيران سول. البته زه دې ته نه وم متوجه خو انګليسي مي په دوو درو مياشتو کي زده کړې وه.

کله چي کرزی بيرته شيملا ته راوګرځېد په يوه هوټل کي يې استوګنه غوره کړه، چي د يوې کوندې او د هغې د درو لوڼو له خوا پر مخ بېول کېده. چي يوه يې د ده همزولې او هغه نوري دوې يې تر ده لږ څه مشري وې. دی وايي چي د هغوی پلار وفات سوی و او دا يوه ډېره ښه کورنۍ وه او هلته محاورې زما د انګليسي په قوي کولو کي ډېره مرسته راسره وکړه. په همدې ډول دی د هندي او افغاني کورنيو تر منځ په توپيرونو هم پوه سو.

افغاني کورنۍ د پرېمانۍ ژوند خوښوي ، هر څه چي لري هغه را اخلي او هيڅ د سپما فکر نه لري. دوی هر شی پرېمانه را اخلي، دوی د مېز پر سر خورا زياته ډوډۍ ايږدي، دوی پيسې مصرفوي او حتی که دوی کالي هم و نه لري چي دا د افغانانو يو جلا کردار دي.

پوهنتون په کرزي له يوه ليول څخه بل ته پورته کاوه، خو تر اوسه لا هغوی د حبيبي ليسې ډيپلومه نه منل او نه يې کرزي ته ويل چي څوم نومره دئ. خو کله چي يې د ليسانس دوره پای ته ورسول د ماسترۍ پروګرام ته ور داخل سو، وروسته نو پوهنتون د ده د لېسې ډيپلومه و منل

(c) ketabton.com: The Digital Library

او د تېرو درو کلونو نومرې یې هم ورته وویلې. وروسته دی وپوهېدی چې یوازې د لومړۍ دورې د انګلیسي په مضمون کې ناکامه سوی دئ او په نورو مضمونونو کې بریالی سوی دئ، له همدې کبله به نومورې ته اجازه ورکول کېده چې د یوه لېول تر ختمولو وروسته په لوړ لېول کې زده کړې ته دوام ورکړي.

په ۱۹۷۸ م کال کرزی کابل ته د ژمي د یوې بلې رخصتۍ تېرولو له پاره کور ته راغلی. دی په کابل کې و هغه کس چې شاه یې له واکه لیري کړی او شاهي نظام یې ختم کړی یعني داودخان پخپله په یوه ویني بهېدونکي کودتا کې د کمونیستانو له خوا له واکه ګوښه او ووژل سو. کرزی په هغه ګړي و ارګ ته نژدې د خپل یوه ملګري په کور کې و چې د داود خان مخالفینو ارګ محاصره کړ.

کله چې داود خان د افغان کمونیستډلو په ملاتړ شاه له واکه ګوښه کړ، دی په تدریجي توګه و ښي خوا ته وګرځېد او زیات کمونیستانو یې له خپل حکومت څخه وشړل. ده همدا شان هڅه وکړه افغانستان چې یوازې اقتصادي او نظامي تکیه یې پر شوروي اتحاد ده له اتکا څخه یې خلا کړي، په جنوب کې هندوستان او په غرب کې اېران او عربي هیوادونو ته وروګرځېده. همدې شي په ماسکو کې ډېر تشویشونه راولاړ کړل، چې افغانستان ته یې په غربي اسیا کې د روسیې د نفوذ د خپرولو او د چین د تېري په وړاندې د کیلي په سترګه کتل او د هند ګرمو اوبو ته یې د روسیې تر ټولو لنډه لار بلل. روسان په پټه لګیا وه چې د افغانستان په اردو کې خپل جاسوسان اختراغ کړي چې د اړتیا په وخت کې استفاده څني وکړي.

داود خان د پښتونستان په موضوع کې په نرمښت ښوولو د خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټبر پښتنو ملاتړ هم له لاسه ورکړ دا د پښتنو سیمه ده چې په ۱۸۹۳ م کال کې انګرېزانو په خودسرانه توګه د ډیورنډ د کرښې په توګه ورڅخه جلا کړه. د هندوستان د تجزیې په وخت کې د هندوستان پښتونستان پاکستان ته پاته سو. داود خان په اول سر کې د واحد پښتونستان شعار ورکاوه، چې د پاکستان قهر یې راولاړ کړ، خو په ۱۹۷۸ م کال کې بیرته د خپلي خبري څخه پر شا سو او د اسلام اباد سره د ښو اړیکو په لټه کې سو.

د ۱۹۷۸ م کال د اپریل پر ۲۷ مه د شورویانو په ملاتړ خلق او پرچم په نیمګړي ائتلاف سره پر ارګ حمله وکړل، داود خان او د هغه تقریباً ټوله کورنۍ یې ووژل. کرزی وایي چې داود خان د کمونیستانو په مقابل کې د اتل په څېر ودرېد. داسې ویل کېږي چې کله داود خان له کمونیستانو سره مخامخ سو، د افغانستان بیرغ یې په لاس کې و. هغه ځای چې داود خان پر وژل سوی دئ، په ګلخانه کې دننه د لوی دروازې سره نژدې دئ. د عصل رنګه ډېرو څخه جوړه د هغه ودانۍ سره چیري چې حامد کرزی د هیواد د ولسمشر په توګه هره ورځ د خپل هیواد چاري پر مخ پکښې بیایي. کرزی چې هره ورځ خپل د کار دفتر ته ځي پر هغه ځای تېرېږي او چې کله ورته راورسېږي د ډېوالونو تر شا او درانه امنیت لاندي چابک چابک قدمونه پورته کوي. که څه هم هلته د هغه وژني اوس هیڅ فزیکي نخښه نه ده پاته، مګر هغه ځای ولسمشر کرزي ته یو ډېر ښه ور یادونکی دئ، چې ډېرو لږو افغان مشرانو له دې دفتر سره په ژوندوني مخه ښه کړې ده.

د ۱۹۷۸ م کال کودتا په اصل کې د افغانستان په یوه لویه غمیزه واوښتل. نوي کمونیستي مشرانو د افغانستان د پېړیو د عنعناتو او

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژوند په بدلولو پیل وکړ. دوی پر ټولو کسانو چې زړو اصولو ته به ژمن، پر تعلیم یافته اوروحاني قشرونو، قومي مشرانو او د مځکي پر څښتنانو باندي تېري او ظلم وکړ. دوی د هر هغه چا په وړاندي ډېر له تشدده ډک چلن کوي چې مازي به د دوی د مخالف شک پر کېده، او ډېر داسي کسان چې هیڅ شکمن به نه وه. په لسګونو زره کسان ووژل سول، خو کمونیستانو د هغو په اړه لاپي وهلې. دوی پر یوه ودانۍ باندي د هغو وژل سوو کسانو یو لیسټ راځوړند او علان کړ، چې ۱۲ زره کسانو ته رسېده. همدې شي د افغانستان د ورانۍ بنسټ کېښېښود.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# (۲)

# د جهاد پیل



ولسمشر حامد کرزی

(c) ketabton.com: The Digital Library

حامد کرزی د شاهي کورنۍ سره د خپل فامیل د نږدې اړیکو او د پلار د سیاسي بوختیاوو له کبله به همېشه د سیاسي چارو څخه خبر و. د کرزي په کوچنیوالي کي مشر کرزی لومړی ولسوال او بیا په کندهار کي د تجارت د خوني رئیس و. د حامد په تنکۍ ځواني کي په طبعي توګه د دوی کور د سیاسي بحثونو مرکز و. دی وایي چي هیڅکله یې د خپل پلار سره په دې اړه بحث نه دئ کړی. په راوروستو کي د سرو لښکرو ضد جهاد په دوران کي او تر هغه وروسته کرزیانو او د هغوی سیاسي محور بې شمېره سیاسي بحثونه کړي دي، چي په هغوی کي به د ډلي د غړو سره تصمیمونه هم شامل وه.

دی وایي چي ما ته خپل ځان سرزوری سیاسي او داسي څوک ښکاره سو، چي بېړنی عمل مي غوښت. زه ټینګه عقیده لرم او همېشه مي عمل په همدې رڼا کي وي که کوم شی صحیح را ته ښکاره سي، د هغه له پاره جګړه کوم. کرزی فکر کوي چي د ده د شخصیت همدا برخه یو څه ورته له خپله پلاره په میراث پاته ده، خو زیاته یې له خپلي مور څخه بولي، چي ډېره قوي روحیه او عقیده یې لرل. د حامد کرزي سیاسي عقیدې هغه ته دا توان ورکړ چي خپل ژوند اداره کړي.

د ۱۹۷۸ م کال تر کودتا وروسته چي کله کرزي افغانستان پرېښود او په شیمله کي خپل پوهنتون ته راوګرځېد په کابل کي یې د خپلي کورنۍ سره اړیکي وشلېدې. دا کشمکش لا په افغانستان کي جاري و، وروسته نوموړی ته خبر ورسېد چي پلار یې د کمونیستي حکومت له خوا چي په رأس کي یې نورمحمد تره کی و زندان ته لېږل سوی دئ. مشر کرزی او د حامد له یوه اکا سره د څرخي پله په بدنام زندان کي بندیان وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کرزی وايي چې دا يوازې د خدای په فضل او چانس سره و چې هغه ژوندی پاته سو. ډېر افغانان چې دغه زندان ته لېږل سوي وه بيا ژوندي راونه وتل. دا د ځوان کرزي له پاره خورا سخت وخت و، چې خبر يې تر لاسه کړ، چې پلار اوتره يې په دغه بدنام زندان کې زنداني سوي دي او له بله پلوه د خپلې کورنۍ سره د تماس نيولو هيڅ امکان نه و. ده کوښښ کاوه چې د افغانستان چاري تعقيب کړي او د وضعيت د ښه والي هيله يې لرل، خو هر څه ورځ تر بلې بدترېدل.

څو مياشتې وروسته چې تره کي د داود خان ځخه واک تر لاسه کړ په خپله ووژل سو. د تره کي د قاتل او ځای ناستی حفيظ الله امين دوره لنډه اوږده وه. دی هم په يوه بله کودتا کې يو کال وروسته د کريسمس په ورځ ووژل سو. دې کودتا د افغانستان تاريخ په ژوره توګه بدل کړ او د نړۍ سياسي ډګر ته يې تکان ورکړ.

کرزی په هغه وخت کې په شيمله کې د ليسانس د کچې شاګرد و او په (Political science ) کې د ماستري ډيګرۍ د تر لاسه کولو په هڅه کې و او د همدې دورې وروستی سمستر يې و چې د ده سره يو ځای د ميليونونو افغانانو ژوند چپه سو. د ۱۹۷۹ م کال د ډسمبر په وروستيو کې ده د پوهنتون په انګړ کې قدم واهه، چې دوې نجونې يې ولېدې چې ډېرې احساساتي رېږدلې او له هغوی ځخه يې د افغانستان نوم واورېد او له موضوع ځخه خبر سوم. کرزی وايي څه چې ما هلته واورېدل په کامله توګه يې زما ژوند تغير کړ، دا د ۱۹۷۹ م کال د کريسمس ورځ وه، چې روسانو پر افغانستان يرغل وکړ. حفيظ الله امين يې ووژه د واک واګې يې په لاس کې ونيولې او د دوی ګوډاګی ببرک کارمل يې د نوي افغان مشر په توګه نصب کړ. د روسانو يرغل سره جګړه خپل اوج ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورسول، داسي چي د امريکا ولسمشر جيمي کارټر يې په جواب کي د پاکستان سره خپلي اړيکي پياوړي کړې او د ۱۹۸۰ م کال د ماسکو د المپيک له لوبو څخه يې خپل لوبغاړي ور وغوښتل.

د همدې خبر په اورېدلو سره کرزي په لومړي سر کي پرېکړه وکړه چي زده کړي پرېږدي او د افغان مقاومت سره يو ځای سي، تر څو خپله خاوره بيرته تر لاسه کړي. دی وايي چي تر ډېر فکر او سوچ وهلو وروسته زه دې پايلي ته ورسېدم چي دا به زما د هيواد له پاره ډېر په ګټه وي چي زه په هندوستان کي پاته سم او خپلي زده کړي پای ته ورسوم.

د هغه ډراماتيکو پېښو سلسله چي په ۱۹۷۳ م کال کي د شاهي نظام په ړنګېدلو سره پيل سوې وه، د يوه ښورښي غورځنګ راپورته کولو ته لاره هواره کړه، چي وروسته مجاهدين او په سپېڅلو فرشتو مشهور سول. دا داسي غورځنګ و، چي په ژوره توګه د اسلامي توندلارو او عنعنوي منځلارو تر منځ سره وېشلی و. خو هدف يو هغه داسي چي يوه هم د روسيې مداخلې ته اجازه نه ورکول، د پېښو دغه سلسله چي د ظاهرشاه د واکه د ليري کولو څخه راپيل سوې وه داسي ښکارېدل چي يوه يې تر هغه بلي خورا خطرناکه ده. د تره کي د کمونيستي وحشي ځانګي زيږ او ناروا چلن ډېر افغانان د خپل هيواد پرېښوولو ته اړ ايستل او پاکستان او ايران ته مهاجر سول، چي هلته بيا په مجاهدينو بدل سول. کله چي امين واک تر لاسه کړ وحشت يې تر تره کي څو چنده سو، چي دې د ياغيانو په قوي کولو کي ډېره مرسته وکړه. دا کار روسانو ته د زنګ د خطر په معنی و، چي په زياته پيمانه يې په افغانستان کي سرمايه ګذاري کړې وه او غوښتل يې چي پېښي همدلته کنټرول کړي. روسانو د اسلامي بنسټپالني د راپورته کېدلو څخه بېره لرل چي کېدای سوای د شوروي اتحاد د

(c) ketabton.com: The Digital Library

جنوبي پولي په اسلامي هيوادونو کي لکه تاجکستان، ازبکستان، ترکمنستان او په قرغزستان کي په پراخه پيمانه خپور سي. په همدې خاطر دوی لاس په کار سول چي امين له واکه ليري کړي او پر ځای يې منځلاري او نرم ببرک کارمل نصب کړي، کوم چي تره کي له دې کبله چي د کابله يې ورک کړي چکسولوا کيا ته د سفير په توګه لېږلی و.

د ۱۹۷۹ م کال په فبروري کي په افغانستان کي د امريکا سفير اډولف ډبس (Aduloph Dubs) چي د شوروي چارو يو تکړه کارپوه و، په کابل کي و خپل دفتر ته پر لاري د ځينو کسانو لخوا چي د افغاني پوليسو لباس يې اغوستی و يرغمل ونيول سو. نوموړی د کابل هوټل ته يووړل سو او هلته يې يرغمل کوونکو د ځينو بنديانو د خوشي کولو غوښتنه وکړه. امريکايي مرکچيان په خبرو لګيا وه تر څو افغان حکومت په دې راضي کړي چي د هوټل پر خوني يرغل ور نه وړي چي ډزي پيل سوې. ډبس ووژل سو او هغه درې نور يرغمل کوونکي ژوندي پاته سول. امريکا چي په هغه وخت کي يې افغانستان ته محدودي مرستي ورکولې تر دغي پېښې وروسته يې په کلي توګه بندي کړې. د ډبس په مرګ کي د روسيې پر لاس لرو شک کېږي، خو تر اوسه يې په دقيقه توګه پخلی نه دئ سوی.

تر دې لس مياشتي وروسته د روسانو د پلان نتيجه د ۱۹۷۹ م کال د ډسمبر د ۲۵ مي يرغل راووت.

په پاکستان کي د کمونيستي رژيم مخالفينو ډېر ژر وده وکړه، او په پرله پسې توګه يې و حکومت ته سرايت وکړ. په لومړي سر کي په لسګونه زره بيا په سلګونه زره او د شوروي تر اشغال وروسته په ميليونونو افغانانو خپل هيواد پرېښود. د افغان او شوروي د جګړې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوج په وخت کي د افغاني مهاجرينو شمېر چي پاکستان، ايران او نورو ځايونو ته مهاجر سوي وه څلورو ميليونو ته رسېده، چي دا د نړۍ په تاريخ کي د مهاجرو تر ټولو لويه شمېره ده. د حامد کرزي له دې فکره څخه چي زده کړي پرېږدي د مقاومت سره يو ځاى سي د تشدد اندازه له ورايه معلوموﻻى سي.

د شوروي تر اشغال وروسته هغه ځوان افغان چي په هندوستان کي يې زده کړي کولې د امريکا د حکومت له خوا ورته وړانديز وسو، چي امريکا ته وﻻړ سي، ځکه چي د ده ځيني ورونه ﻻ د وړاندي په امريکا کي په زده کړو بوخت وه. نوموړي په ډهلي کي د امريکا سفارت ته ورغلى او اړين فارمونه يې ډک کړل. ده ته وويل سول چي د خپلي کورنۍ له کبله ته ډېر قوي کېس لرې، چي ببله کوم مشکله به امريکا ته د تګ اجازه درکول سي. خو کرزي د هغه په مخالفت پرېکړه وکړه. دی وايي ما فکر کاوه که زه هلته وﻻړ سم نو د هندوستان په پرتله به زه هلته د افغانستان د پېښو له جريان څخه ليري يم له همدې کبله مي پرېکړه وکړه چي د ۱۹۸۰ م کال په پسرلي کي په پاکستان کي د مهاجرو د کمپونو څخه ليدنه وکړم.

دی او د اکا زوی يې لومړی د پېښور او وروسته له هغه ځاى څخه کوټې ته وﻻړل او يوه مياشت يې د افغان مهاجرو سره وليدل او هغه وضعيت يې وليدی، چي دوی ژوند پکښې کاوه. تر دې وروسته نوموړی بيرته شيمله ته راوګرځېدی چي خپله ډګري واخلي او ډېر ژر د مقاومت د ليکو سره يو ځاى سي.

د کرزي زده کړي مفتي نه وې، ځکه چي په همدې وخت کي يې پلار په زندان کي او کورنۍ يې په ګډوډ حالت کي په افغانسان کي تر شا پرې ايښې وه. خو له ده سره د کورنۍ يوه بل غړي مرسته کوله. کرزی

(c) ketabton.com: The Digital Library

وايي چي زه د خپل ورور چي په شيکاګو کي يې په هوټل کي د خدمتي ويټر په توګه کار کاوه ډېر پوروړی يم. هغه ډېري پيسې نه ګټلې خو په مياشت کي به يې د سلو ډالرو د چک سره يو ليک رالېږی، تر څو د پوهنتون مصارف په تر سره کړم. هغه وروسته خپل يو شخصي رستورانت پرانيست او وروسته نور چي خورا ښه ګټه وټه يې لرل د شوروي تر اشغال وروسته د ببرک کارمل نوي غلام حکومت ډېر هغه سياسي بنديان چي تره کي او امين زنداني کړي وه د ښه نيت په توګه آزاد کړل. د کرزي پلار او اکا هم په همدې جمله کي وه، خو په لومړي سر کي نه وه. دوی له دې کبله چي د شاهي نظام سره يې تودې اړيکي لرلې بايد يو څو اوونۍ نور هم د څرخي پله په زندان کي پاته سوي وای. کله چي دوی خوشي سول مشر کرزی سيده له افغانستان څخه مکې مکرمې ته د حج د ادا کولو له پاره ولاړ. له هغه ځايه د پاکستان کوټي ته ولاړ.

د کورنۍ نور غړي به د افغانستان څخه يو يو يا دوه کسان پر وخت وتل، چي ځيني به امريکا ته تلل او ځيني به بېا په پاکستان کي پاته کېدل.

حامد د فراغت په ډګري سره په ۱۹۸۲ م کال کي ونازول سو. دی وايي چي په پوهنتون کي يې وخت ډېر ښه تېر سو. خو اوس زه دې ته اماده وم چي په مقاومت کي د خپل پلار او نورو افغاني ورونو سره يوځای سم او په هغه جګړه کي برخه واخلم چي افغانستان د خپلو افغانانو له پاره ګټي.

د ۱۹۸۳ م کال په پيل کي کرزي شيمله پرېښوول، د کوټي پر لور روان سو. دی وايي چي د دغه ۴۸ ساعته سفر په جريان کي چي د بس او اورګاډي په اقتصادي کلاسونو کي و، په لومړی ځل له دې څخه خبر

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوم، چي د سرو لښکرو په وړاندي مبارزه کي څونه اختلافونه موجود دي له کوم شي سره چي دی مخامخ سو هغه اسلامي تونددلاريتوب و.

د يوې پېښې په دې سفر کي کرزی په همدې اورګاډي کي د ځينو ځوانو افغانانو چي د ده همزولي وه خبري واورېدې، چي د سرو لښکرو په وړاندي د جهاد په اړه يې کولې. دا د اسلامي حزب کسان وه، چي په افغان مقاومت کي تر ټولو ډلو راډيکاله ډله وه. کله چي دوی خبري سره کولې کرزی په دې پوه سو، چي د افغانانو مبارزې ته يوه بله ناروغي ورپېچکاري سوې ده، چي همدې شي دی ډېر ناآرامه کړ.

ده وويل زه د هغو سياسي او ايډيالوژيستي غورځنګونو څخه خبر سوم، چي غوښتل يې افغاني عنعنات، ارزښتونه او د هغوی د ژوند کولو طريقه يو مخ بدله کړي. داسي چي د حکومت ټوله فورمونه بايد په يوه بنسټ پاله مذهبي حکومت بدل سي او ټولي چاري د قرآن څخه د دوی د خپل ډول تونددلاري ژباړي په رڼا کي تر سره سي. کرزی وايي چي دغو ځوانانو په اورګاډي کي دا هم ويل، چي د دوی لار تر ټولو غوره ده، او په افغان مقاومت کي نور عناصر او د هيواد نور ټوله خلک بې معنی دي. د دوی دا نظريه د هغه وطن پالي روحيې سره په ټکر کي راتلل، چي د کرزي ژوند ته يې لار موندلې وه. په اورګاډي کي بانډار د راډيکال اسلام په اړه د ده لومړی بحث و، نه وروستی.

کرزی وايي د مياشتو او کلونو په تېرېدو سره زه وپوهېدم چي دغه راډيکال غورځنګونه ډېر پلرونه لري. هر يوه د هغوی په قوي کولو کي لاس درلود، لکه غرب، ګاونډيانو او هر يوه ،چي بالاخره په افغانستان، متحده ايالاتو او ټوله نړۍ کي د وراني سبب سو.

کله چي ولسمشر کرزی د ګاونډيانو په اړه ږغېږي، نو اشاره يې

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوازي یوه ګاونډي ته وي چي هغه پاکستان دئ. له ده سره په خبرو کي به ثو ځله د ګاونډیانو خبره رامنځ ته شول چي ور سره سم به یې د خواشیني ځپې پر مخ راماتي سوي ، چي ویل به یې چي وګوري یو مسلمان ورور هیواد دده هیواد څونه له دربدري سره مخامخ کړي دي.

په همدې میاشتو کي ده په ډېره آزاده توګه پر پاکستان او د هغه پر نظامي مشر جنرال پروېز مشرف باندي له دې کبله انتقادونه کوله چي افغانستان ته د طالب او القاعده جنګیالیو د را اوښتلو په مخنیوي کي پاتي راغلي دي. دا هغه څه وه چي د امریکایي قوماندانانو او په ایساف کي د ناټو د قوماندانانو په خبرو کي هم څرګندېدل.

په ۱۹۸۳ م کال کي د کرزي منزل کوټه د بلوچستان محافظه کاره ښار و. دا د پاکستان شمال غربي قبایلي ولایت دئ او د هیواد تر ټولو سیمو عنعنوي سیمه ده. بلوچستان یوه لویه سیمه ده، چي د افغانستان د جنوبي پولي څخه بیا تر عربي سمندر پوري غځېدلی دئ. دا ولایت همهغسي پاته دئ لکه څرنګه چي د برتانوي هند سرحدي سیمه وه او د پښتونستان د نظریې له پاره مهمه کیلي ده، چي تر اوسه د عمل تر بریده نه ده رسېدلې، که چیري د عمل جامه ور واغوستل سي نو دواړه افغانستان او پاکستان باید ډېري سیمي د لاسه ورکړي. برتانویان تر هغه وروسته چي په دې ونه توانېدل چي پښتانه د زور د لاري مهار کړي. بالاخره یې په سیمه کي د خپل حیثیت ساتلو له کبله سیاسي وېشني رامنځ ته کړي ، چي تر اوسه لا هغه وېش پر خپل ځای پاته دي او بلوچستان په قبایلي سیمو کي راځي چیري چي اسلام اباد محدود واك لري*.

---

* د لیکوال له معلوماتو څخه ښکاري لکه د پاکستان درواغجن جادو چي پر ده هم اغېزه کړي وي چي هر وخت يې

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ۱۸۹۳ م کال دظاهرشاه نیکه عبدالرحمن خان د برتانیې لخوا د هندوستان د ګورنر مور تیمور ډیورنډ سره یو قرارداد لاسلیک کړ. د ډیورنډ کرښه د افغانستان او هندوستان تر منځ پوله سوه او پښتانه یې په دوو هیوادونو سره ووېشل. دغه کرښه له پیل څخه وغندل سوه او هیڅکله د پښتنو له خوا په رسمیت ونه پېژندل سوه، کوم چې له هغه پیل څخه یې د قوم د یووالي له پاره مبارزه پیل کړه. دغه یووالی تر سره نه سو او په ۱۹۴۸ م کال کي د هندوستان د وینې بهېدونکي تجزیه کېدو وروسته چې کله یو نوی هیواد د پاکستان په نامه وزېږېدی او د هند د ډیورنډ کرښي ټولي سیمي پاکستان ته په میراث پاته سوې او افغانستان خپله خاوره تر لاسه نه کړه، نور هم مشکل سو.

هغه تړون چې ډیورنډ کرښه رامنځته کړه تر یوې پېړۍ وروسته په ۱۹۹۳ م کال کي پای ته ورسېد، چې باید پاکستان همدا سیمي افغانستان ته حواله کړي وای، خو پاکستان هغه تر اوسه لا ورسره ساتلي دي. دغه پوله په سیمه کي ژوره اغېزه لري په ځانګړې توګه خو د امریکا او ناټو له پاره یو زېښناک جوړ سوی دئ. د کله چې دوی په ۲۰۰۱ م کال کي طالبان له واکه ګوښه کړل. دا ټولو منلې ده چې طالبان او القاعده د پولي د دواړو غاړو ته آزاد تګ راتګ کوي، خو امریکایې او ناټو ځواکونه بیا په دې اړ دي چې دغه کرښه مراعت کړي او له بله پلوه پاکستان هم د قبایلي سیمو په ساتلو کي پاته راغلی دئ. کوټه او پېښور د طالبانو د غورځنګ او القاعدې له پاره خوندي ځایونه دي او طالبان او القاعده چې په هغه سیمو کي نن هم خپل آزاد مرکزونه لري خورا خوند

---

په همدي پلمه غرب غولولي دي. دا څنګه امکان لري چې بلوچستان دي د پاکستان د اټومي ازمايښتونو مرکز وي او بیا دي هلته د دوي واك محدود وي. ژباړن.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځني اخلي.

کله چې کرزی د ۱۹۸۳ م کال په جنوري کې کوټې ته راغلی نو هيڅ ورته حيران نه سو، ځکه چې دا ځای داسې و لکه افغانستان، داسې چې ټوله خلک، کلتور او موسيقي يې يوه وه. کرزی وايي چې ډېر په دغه دوکانونو کې افغاني موسيقي اورېدل کېدل او همدا شی نن هم حقيقت لري. د محلي خلکو لخوا د افغان مهاجرو خورا تود هرکلی وسو، داسې ښکارېدل لکه دغه قوم، چې د ډيورنډ کرښې د پاکستان خوا ته سره يو سوې وي. په لويه پيمانه د ايران او پاکستان لخوا د مهاجرو قبلول د دې ښکارندوی دي چې د روسانو ضد جګړې ښه ملاتړ درلود او دا د کرزي تر ټولو خوښ شی و. دی د همدې شي په ليدلو خوښ ښکارېده، خو د شيمله څخه د سفر پر مهال چې د اسلامي توندلاري څخه خبر سو خفه و، ځکه چې هغوی د کوټې په ټولنه کې ځالي جوړې کړې وې.

مشر کرزی د پروفيسر مجددي په ملي نجات حزب کې د کوټې د دفتر مشر و، او حامد کرزی هم هلته ورغی چې کار ورسره وکړي او د خپل پلار سره په يوه کور کې اوسېده.

صبغت الله مجددي منل سوی اسلامي عالم دئ، په پراخه توګه يې سفرونه کړي دي، په ۱۹۷۳ م کال د داود خان تر کودتا وروسته تر ممکنه نيوني او يا وژني د بېرې له کبله له هيواد څخه جلا وطن سو، په اوسلو او کوپنهاګن کې يې د اسلامي زده کړو مرکزونه جوړ کړل، او د منځلاري سياسي نظريې خاوند دئ. له وړاندې يې په افغانستان کې د کمونيستيانو د زېږېدلو سره مخالفت درلود او په کابل کې له ۱۹۵۹ م څخه تر ۱۹۶۴ م کال پورې په دې تور بندي سو، چې په هغه ځای کې د هغو ځوانانو سره ملګری و کوم چې د روسيې د لومړي وزير د وژلو پلان

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې درلود. ده ملي نجات په ۱۹۷۹ م کال کې جوړ کړ، تر څو د افغانستان د آزادۍ له پاره جګړه وکړي.

ملي نجات يوه له هغو اوو لويو ډلو څخه وه، چې په افغانستان کې يې د کمونيستي حکومت او روسانو د اشغال پر ضد جګړه کوله. دوی ټولو په کوټه او پېښور کې دفترونه لرل، چې د خيبر د افسانوي کوتل څخه يو څو ميله ليرې موقعيت لري او دغه سيمه د پاکستاني حکومت تر کنټرول لاندې ده. ځوان افغانان په دواړو ښارونو کې د جهاد له پاره د نوم ليکنې له پاره ورمات وه.

دغه مقاومت کوونکې ډلې هرې يوې ځان ته خپله ايډيالوژي لرلې د اسلامي حزب د ګلبدين حکمتيار د زهرجني توندلاري نظريې څخه نيولې بيا تر منځلاري ملي نجات پورې چې د کرزي غوندې روايتي او پاچا غوښتونکې يې تر اغېزې لاندې راغلي و. حکمتيار چې وروسته يې کابل په کنډواله بدل کړ، په نولس سوه اويايمو کلونو کې چې کله دی د تياره مسلمانانو وروڼو د ډلې مشر و، هغه وخت په متعصب مسلمان مشهور سو، چې ويل کېږي د کابل په پوهنتون کې به يې پر لڅ مخو ښځو تېزاب پاشل.

خو هدف يو و، هغه دا چې ټولو په افغانستان کې د روسانو ماته غوښتل، خو مقاومت کوونکو ډلو د مبارزې له پاره هيڅ ګډه ستراتيژي نه لرل. هر چا جهاد کاوه، په انفرادي شکل د کوچنيو ډلو په سطحه، د قومونو، کليو او ولايتونو په سطحه. کرزی وايي چې دا يوه ملي مبارزه وه، خونه هماهنګه او متحده. مجاهدينو د کوچنيو او لويو ډلو په واسطه په ګوريلايي شکل نظامي عمليات تر سره کول، د عملياتو جزئيات ،چې څه وخت او چيري بايد حمله تر سره سي او څنګه بايد هدف ته ورسېږي په

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساحه کي قوماندانانو ته پربښودل سوي وه.

دا د امریکا د ویتنام ځوروونکي جګړې ته ورته جګړه وه، په افغانستان کي شخړه د نظامي لحاظه داسي وه، چي یو منظم اردو د جګړې یوې خواته او یو خپل سری ګوریلایي ځواک بلي خوا ته و. ځواکمن سور لښکر پر افغانستان په درانه ټانکونو او مځکني ځواکونو چي هغه په هوا کي د ( MIG) او (Sukhoi) جنګي بم غورځوونکو الوتکو او ښه مجهز او بېرړونکو (Hind) څرخکو له خوا حمایه کېدل. مجاهدین لکه ویتنامیان په سپکه توګه په روسي جوړ کلاشینکوفونو سمبال وه او د جنګ ډګر ته به اکثره وخت چي په واورو پوښلي کوتلونو اخوا به وه ورځي او اوونۍ په چمپلانو کي سفر کاوه تر څو یوه هدف ته ورسېږي. روسانو په ځایي ژبه خبري چي پښتو او دري وې خبري نه سوای کولای چي د همدې له پاره به یې تکیه پر افغان ژباړونکو وه، چي هغوی به اکثر وخت دوه طرفه اجنټان وه. مجاهدینو کولای سوای چي سرپناه، ډوډۍ، اوبه او استخباراتي معلومات په هر کلي کي تر لاسه کړي. په لومړي سر کي زیاتو څارونکو په افغانانو کي داسي کوم څرک نه لیدی چي روسانو ته دي ماته ورکړي، ما ته په همدې اړه د جهاد د لومړي سر د یوه امریکایي او افغان تر منځ د بحث وویل سوه.

دغه امریکایي تازه د افغانستان څخه راستون سوی و، ویل یې چي روسان ډېر قوي دي افغانان هیڅکله هم هغوی ته نه سي تکیه کېدای. هغه پیاده رو ته اشاره وکړه او وې ویل چي زه نه غواړم داسي ووایم چي اخیر به دوی تاسي د دغه پیاده رو په شان له مځکي سره برابر کړي. افغان ورته وویل چي بلې ! کانګریټ کلک ښکاري خو هغه درځ ته وګوره چي وابنه سر ترې را ایستلی دئ. مورږ همداسي شان یو. اوس د ټولو لرغونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښارونو او نظامي کلاګانو په اړه فکر وکړه، چې یو وخت ټوله ابدي ښکارېدل خو اوس هغوی ټول په کنډواله بدل سوي دي. موږ او روسان هم همداسي یو چې په اخیر کي به یې موږ وګټو.

همداسي د طالبانو په خبرو کي هم ښکارېدل، چې د امریکا ملګرو ځواکونو ته چې طالبان یې له واکه لیري کړل ویل چې که امریکایان ساعتان لري موږ بیا وخت لرو.

کرزی وایي چې موږ همېشه خوشبین و او زه فکر کوم چې په همدې اړه هیچا موږ ته د هیلي تمه نه لرل. خو موږ ټوله په دې پوهېدلو، چې موږ به بالاخره بری تر لاسه کړو او اشغالګر به له خپله هیواد څخه وشړو.

په کوټه او پېښور کي د ملي نجات په مرکزونو کي کرزیانو او د نورو ډلو مشرانو تقریباً په لویه سطحه مجاهدینو ته سیاسي، دیپلوماتیکي او لوژستیکي ملاتړ برابروي. کرزی وایي چې هره ورځ به موږ کوښښ کاوه چې دا ډاډه کړو چې جنګیالي، وسلې، مرمۍ ، کالي، خواړه، طبي اسانتیاوي او نور هغه اړین توکي لري چې د دوی په عملیاتو کي په کار راځي. کله چې د مقاومت اغېزه راڅرګنده سول خورا زیات نړیواله توجه حضور او ملاتړ یې راجلب کړ. په دغه ملاتړ کي وسلې، پیسې او د هیوادونو سره ملاقاتونه او روابط ټینګول چې په هغه کي پاکستان، سعودي عربستان، متحده ایالات، برطانیه، فرانسه او نور شامل وو. د وخت په تېرېدلو سره حامد کرزي په زیاته دغه نماینده ګي پر غاړه لرل. د ډلي اداره لویه سول او یو مغلق تشکیل یې رامنځته کړ. چې پر مختلفو ریاستونو او کمېټو وېشلی و، لکه نظامي، سیاسي او عملیاتي.

د روسانو اشغال نړۍ په دوو علتونو د افغانستان دروازې ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

راوستل. لومړی علت بشري و، مهاجر د سېلاب غوندي له هیواد څخه د پاکستان او ایران تر پولو ور اوښتل. غربي مرسته کوونکو ادارو ته په لويه کچه په ايران کي ښه راغلی ونه ویل سو له همدې کبله يې په لوی تعداد پام د پاکستان شمال شرق سرحدي سیمو ته واړاوه، چي له پاکستان سره د مهاجرو د دغه ناڅاپي څپې په اړه مرسته وکړي او د ښووني او روغتیا په ډګرونوکي ورسره په پراخه پیمانه اساسي او د تجهیزاتو مرسته وکړي. په ځانګړې توګه د هغو افغان زخمیانو سره چي خپلي پښې يې د کمونیستي ځواکونو په ښخو سوو پرسونل ضد ماینونو کي له لاسه ورکړي وې. دغه ماینونه شوپرک نومېدل، چي په لسګونو زره د روسي الوتکو له خوا غورځول سوي وه. د دغو کوچنیو پلاستیکي وزرونه د هغوی په پراخه اندازه خپرېدل ډاډمنوي کله چي د څو زره فوټه لوړي څخه وغورځول سي. او د دوی خام زرغون رنګ دوی ته دا زمینه برابروي، چي په سیمه کي خپاره سي او د دوی اندازه او شکل پر کوچنیانو اغېزه ښندي چي کله دغه اله راپورته کړي نو لاسونه او کله کله خو سترګي له لاسه ورکوي. اکثره دغه خیریه ټولني د پاکستان په خوا کي پاته سوې او په کوټه او پېښور کي يې خپلو هڅو ته دوام ورکاوه. بې پولي ډاکټران او دوو نورو فرانسوي طبي ټولنو افغانستان ته دننه ولاړې او د دوی ډاکټرانو او کارکوونکو ژوبل مجاهدینو ته د خپل ژوند په بیه طبي مرستي برابرولې. د بې پولي ډاکټرانو یوې ډاکټري (Laurance Laumonier) سلګونه مایله د شمالي افغانستان په غرونو کي پر پښو مزل وکړ، تر څو د احمدشاه مسعود ټپیانو ته چي په دوامداره توګه به د سرو لښکرو او افغان کمونیستې ځواکونو تر حملو لاندي راتله طبي مرستي برابري کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له افغانانو سره د نړیوالو خیریه مرسته دویمه درجه علت سیاسي و. کله چي روسانو افغانستان اشغال کړ امریکا یې په وړاندي سمدستي عکس العمل وښود. په ضرب د یوې شپې کي پاکستان د سړې جګړې په لومړي کرښي واوښت او د دوی اړیکي چي یې د متحده ایالاتو سره بېخي د پرېکون په حال کي وې بیرته جوړي سوي وې. ولسمشر کارتر هغه وخت پر پاکستان خپلي مرستي بندي کړې کله چي د پاکستان قوي نظامي مشر ضیاء الحق په اپریل کي د خپل هستوي پروګرام له بندولو څخه انکار وکړ. په نومبر کي پاکستاني پاربدلو کسانو د امریکا پر سفارت حمله وکړه هغه یې وسوځاوه او یو امریکایي سمندري سرتېری یې مړ کړ. مګر د روسانو اشغال دې ته زمینه برابره کړه چي پاکستان او امریکا دا هر څه یو طرف ته کړي او امریکا ته په پاکستان کي دا زمینه برابره سي چي د افغان مقاومت کوونکو سره پټي مرستي وکړي، که وکولای سي چي دا ځای ورته په ویتنام بدل کړي.

کرزی وایي زه فکر کوم چي د نړۍ له پاره دا ډېره ګرانه وه چي په دې پوه سي چي افغانان دي د نړۍ له دوو زبرځواکونو څخه یوه ته ماته ورکړي، خو وروسته په تدریجي توګه به موږ د روسانو د افغانستان اشغال د امریکا د ویتنام د تجاربو د مقایسې خبري اورېدې، روسان په یوه داسي جګړه کي موښتي وه چي نه یې د بري څرک ښکارېده او نه یې پای درلود.

ستره لوبه په غربي اسیا کي دبرتانوي امپراتورۍ او تزاري روسیې تر منځ د یو بل د لاندي کولو د هڅو نښان و. سړه جګړه تر دویمي نړیوالي جګړې وروسته د امریکا او شوروي اتحاد تر منځ ونښتل. خو اوس د نولس سوه اتیایمو کلونو په جریان کي سړه جګړه په توده جګړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

بدله سوه، چي د ستري لوبي يو اضافه دور و او افغانستان يو ځل بيا د لوبی ډګر ګرځېدلی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# (۳)

# زبر ځواک ته ماته ورکول




د افغانستا ولسمشر حامد کرزی په بوستون پوهنتون کي د وینا پر مهال

(c) ketabton.com: The Digital Library

حامد کرزي افغانستان هغه وخت پرېښود ، چې د لېسې شاګرد و ، خو کوټې ته په داسې حال کې راورسېدی چې لوستی ځوان و. دا مهال د افغانستان په جهاد کې د شمولیت له پاره تیار و ، مګر په بل ډول. دی وايي چې زه په دې وپوهېدم چې تر ټولو لوی جهاد زده کړه ده، هغه څه چې ما ته کوم چا رازده کړل د بهرنیانو تر هغه ښکاره مداخلو کم نه وه چې د افغاني جهاد د عملي کولو له پاره يې کولې. دا هغه هڅې وې چې وروسته يې افغانستان د اور په لمبو کې وسوځاوه. "ګاونډیان همدلته په کار بوخت وه"

پر افغانستان د سرو لښکرو یرغل د سهېل لوېديزې اسیا سیاسي نقشه په یوه شپه کې رامنځته کړل. تر روسي یرغل لاندې د سیمې نورو هیوادونو ته تیوریکي ګواښ و. په تاریخي توګه روسانو پلان درلود چې ګرمو اوبو ته ځان ورسوي او دا یوازې د پاکستان او ایران د لاندې کېدو په صورت کې کېدای سوای. ځکه چې ناټو يې مدیتراني ته ټولي ممکنه لارې بندي کړې وې. د امریکا او پاکستان اړیکي چې د امریکا د سفارت تر سوځلو وروسته خړې پړې سوي وې په بېړه بیرته سره ورغول سوې. د پاکستان د اردو ځواکمن کس ضیاء الحق پر افغانستان د سرو لښکرو په تېري کې په سیمه کې د خپل نفوذ د زیاتولو له پاره یوه موقع ولیده. نېکپال ضیاء په تمامه معنی د ساړه جنګ محاسبه کړې وه او په دې پوهېده چې تر څو د رېګن اداره دې ته ژمنه وي چې روسان به راپرځوي نو پاکستان ته به د مرستو سېلاب ورمات سي او جنرال ضیاء به دا پرېکړه کوي چې دا مرستې په څه ډول مصرف کړي او چا ته يې ورکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ضیاء د هغه خطر چي شورویانو د ده هیواد ته متوجه کړی و پروا ونه کړه، ده یو داسي افغانستان غوښت چي د دواړو هیوادونو پاکستان او شوروي اتحاد دوست وي. عنعنوي افغان پښتانه په زیاته چي بیا یې له پاچا سره خواخوږي لرل او د یوه متحد پښتونستان خوبونه یې لیدل د ضیا په زړه کي کوم ځای نه درلود. ده له بنیادګرو سره د خپلي استخباراتي اداري ISI په واسطه اړیکي بسته کړې له همدې کبله نو د امریکا مرستي یوازي تر دغو ګروپونو پوري رسېدې.

د اوو لویو جهادي ډلو څخه درې یې منځلاري وې، چي جهاد یې د افغاني ارزښتونو سره سم کاوه، په دغه کي د کرزیانو مشر پروفیسر مجددي، پیر سید احمد ګیلاني چي د اسلامي محاز مشر و او محمد نبي محمدي د اسلامي حرکت مشر شامل وه، چي په راوروسته کي د مجاهدینو د حکومت مرستیال ولسمشر سو.

کرزی همدا شان د همدغو منځلارو په ډله کي برهان الدین رباني هم راولي (چي بیا وروسته د مجاهدینو په حکومت کي ولسمشر سو) او د اسلامي جمعیت مشر و خو نورو ډېر تفاوت درلود. رباني د حکمتیار سره په ګډه په نونس سوه شپېتمو کلونو کي د تشددي او راډیکالو مسلمانانو ورونو سازمان رامنځته کړ. د دغو منځ لارو ډلو پلویان نیشنلیسټ او ملت پال وه، چي د افغاني ارزښتونو او عنعناتو له پاره یې جګړه کول. د دوی تر منځ خورا لږ سیاسي اجنډاوي، پټې معاملې او یا یې بهرني ملګري لرل. په همدې حساب نو دوی د پیسو او هغه پټو نظامي مرستو د وېش د لیست په پای کي راتلل. هغه نورو درو لویو ډلو ته کرزی توندلاري وایي، چي د عربو تر نفوذ لاندي راغلي وې، او هغوی مالي مرستي ورسره کولې، تر څو په افغانستان د راډیکال اسلام

(c) ketabton.com: The Digital Library

ایډیالوژي مسلطه کړي. په دوی کي د حکمتیار اسلامي ګوند ، یونس خالص چي د اسلامي ګوند د یوې بلي څانګې مشر و او عبدالرب رسول سیاف د اسلامي اتحاد مشر و. سیاف اسلامي زده کړي کړي دي او د اسلامي ورونړو (اخوان المسلمین) سازمان غړی و او د جهاد په دوران کي د سعودي عربستان له خوا خورا ډېري مالي مرستي ورسره کېدې او د اسامه بن لادن نژدې ملګری و. د ۹/۱۱ کمېسیون په راپور کي د ده نوم د خالد شیخ محمد د ښوونکي په توګه راغلی و کوم چي د ۹ /۱۱ د حملو طراح و. په راپور کي دا هم راغلي وه، چي د ۲۰۰۱ م کال د سپټمبر پر ۹ چي په کومه حمله کي د شمالي ټلوالي قوماندان احمدشاه مسعود ووژل سو د مرکې زمینه یې ده برابره کړې وه.

کرزی وایي دغو توندلاور د ټولي نړۍ د غرب په شمول د مرستو زیاته برخه تر لاسه کوله. چي په پایله کي یې منځ لاري په کُلي توګه هېر سول او ځنډي ته سوي وه. دا رشتیا وه چي توندلارو د غرب تقریباً ټولي مرستي تر لاسه کولې دا ځکه چي غرب دا هېره کړې وه چي هغه مرستي چي دوی د افغان جهاد له پاره کوي د کومو مارانو په روزلو مصرفېږي، ځکه چي جهاد لا د وړاندي د پاکستان له خوا یرغمل سوی و.

د غرب د دغو مرستو تر ټولو وړ کرشمه حکمتیار و، نوموړي د توند لاري اسلامي نظریې څښتن و او په مکمله توګه یې ددې زغم نه درلود، چي د خپلو نژدې شیطانانو سره معامله وکړي او بېله درېغه یې پر هغه چا حمله کوله چي د ده په مخ کي به یې ځان اچاوه.

د جهاد په جریان کي حکمتیار په منظمه توګه په افغانستان کي دننه پر خپلو رقیبو افغان ډلو ګزارونه کول، په ځانګړې توګه په هغو سیمو کي چي ده به غوښتل خپل ځواکونه د سرو لښکرو سره مخامخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړي. البته دا خبره تر همدې ځایه نه خلاصه کېدل نوموړي همدا کار په پاکستاني خاوره کې هم کاوه او هلته به یې منځ لاري او هوښیار مشران هدف ګرځول. نوموړی په افغانستان کې دننه د غربي ژورنالیستانو په وژنه هم ګرم دئ، تر څو د ده افغان رقیبان لکه احمدشاه مسعود له شهرته څخه لیري وساتي، د حکمتیار د افغانستان د ورانۍ هڅې د ودان افغانستان له وخت څخه پیلېږي د شوروي تر جګړې وروسته کلونه تر همدې ورځې پورې دوام کوي، چې په پټه د عربي القاعده غورځنګ ملاتړی کوي.

د پروفیسر مجددي په تنظیم کې د حامد کرزي وظیفه د عملیاتو په څانګه کې وه، چې مجاهدینو ته د وسلو اکمالات وکړي او افغانستان ته د تګ چارې یې منظمې کړي. همدې ډلې د مهاجرو په ټولو چارو کې مرستې کولې، تر هغه ځایه چې په توان کې به یې وه. د دې ټولو سره په هند کې لوستي کرزي د مهاجرو افغانانو له پاره د انګلیسي ژبې زده کړې یو مرکز جوړ کړ. کرزی وایي هر څه چې ما په دغه جریان کې تر سره کړل د انګلیسي ژبې زده کړې دغه مرکز مې تر ټولو لوی خدمت و. دا ډېر لوی او ستر کار و، ډېرو افغانانو چې په دغه مرکز کې یې انګلیسي زده کړل خپلو زده کړو ته پسې ادامه ورکړه، ځیني خو بې تر لوړې سطحې پورې ورسېدل. زما هغه افغانان په یاد دي او کله چې مي راپه زړه سي چې ما له دوی سره د دوی په ښوونه کې مرسته کړې ده ډېر خوشحاله سم.

دغه جهادي ډلو منځ لارو او توندلارو په منظمه توګه په دغو وختونو کې غونډې تر سره کولې تر ۱۹۸۵ م کال پورې لا هیڅ ډلې رسمي اتحاد نه درلود. کرزی د ګیلاني د اسلامي محاذ، د رباني د جمعیت او د مولوي یونس خالص د اسلامي ګوند د خپلې څانګې د مشر سره په ښه

(c) ketabton.com: The Digital Library

اړیکو لرلو سره خوند اخیست. کرزی وايي چي ما خورا لږ یعني بیخي لږ تماس د حکمتیار او سیاف د اسلامي اتحاد سره درلود، دا تر هغه وخت پوري چي دی ولسمشر سو، خو کله چي يې د سیاف سره ولیدل او په دغه لیدنو کي سیاف له خپلي توندلاري تاریخچې سره پر کرزي اغېزه وکړه. په دا تېرو درو کلونو کي د بون د غونډې څخه نیولې او د اساسي قانون څخه د ملاتړ راهیسي سیاف د افغانستان د دولت د پیاوړتیا له پاره کار کړی دئ، او بله لا دا چي هغه اوس د پارلمان غړی هم دئ.

کرزی وايي چي همېشه موږ په خپل منځو کي پر توپیرونو سره ږغېدلو، موږ منځلارو به تل د لویي جرګې او شاه د بیرته راوستلو ننګه کوله او توندلارو به زموږ وړاندیزونه به يې ردول خو متأسفانه دوی پیسې لرلې چي زموږ وړاندیزونه به يې شا ته کړل. کله چي مجددي، ګیلاني او محمد منځ لاري توب خوښاوه او د يوه ازاد افغانستان په لټه وه نو بلیونونه ډالر دغو راډیکالو ګروپونو ته ور پمپ سول کوم چي د افغانستان دمسخه کېدو په لټه کي وه. دوی غوښتل چي افغانان د پېړیو د عنعناتو څخه بې برخي کړي، خپله توند لارې نظریه پر وتپي او د ملت په چارو کي بهرني نفوذ ته په ستره پیمانه لاره اواره کړي. کرزی وايي د دوی همدا کار په ژوره توګه زموږ پر روحیاتو تاثیر کاوه خو موږ پوهېدلو چي دا غلطه لار ده او همدا سي هم سول او د همدې شي تر ټولو لوی بار افغانانو پر اوږو پورته کړل.

منځلارو په اصل کي دوې جګړې پر مخ بېولې: يوه د سرو لښکرو د هیواد څخه د شړلو جګړه او بله افغانستان هغسي ساتل لکه څرنګه چي منځلارو پېژانده، داسي هیواد چي منظم حکومت به لري په سر کي به يې شاه وي، ټوله عنعنوي ارزښتونه به يې ساتلي وي او داسي

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانستان چي په افغانانو پوري اړه ولري. دا د هغي دسيسې په وړاندي مبارزه وه چي د افغانستان په وړاندي عملي سوې وه. داسي چي تجزيه يې کړه او حکومت پر وکړه. دغه شخړه د سرو لښکرو تر وتلو وروسته خورا وغوړېده او تر هغه ډېر کلونه يې دوام وکړ، چي کله د سرو لښکرو اخيري ټانک د امو له سيند څخه واوښت. دا هغه رود دئ، چي شوروي اتحاد او افغانستان سره بېلوي، خو دا هر څه لا خورا ليري وه.

د شوروي د اشغال په سبب څو ميلونو افغانانو خپل کورونه پرېښوول، اکثرو يې په ايران او پاکستان کي په بې شمېره کمپونو کي واړول او کرزي به اکثره وخت د بهرنيو مرسته کوونکو پلاوو سره د ژباړن په توګه له دغه کمپونو څخه ليدنه کول. ده يو وخت د ستر اغا خان سره د ژباړن په توګه هم کار کړی دئ. شهزاده صدرالدين اغا خان هغه څوک دئ چي په راوروسته کي د ملګرو ملتونو د مهاجرينو د عالي کميشنرۍ UNHCR مشر و. اغا خان د شيعه فرقې د اسماعيليه څانګي روحاني مشر دئ، چي په ۱۱ مه پېړۍ کي منځته راغله. زيات شمېر اسماعيليه په شمالي پاکستان او يو کم شمېر هزاره اسماعيليه په افغانستان کي ژوند کوي. تر طالبانو وروسته د نوي رژيم په راتګ سره اغاخان د افغانستان د بيا رغوني له پاره پنځه اويا ميليونه ډالره مرسته وکړه. د ځينو مهاجرينو له پاره په کمپونو کي ژوند داسي و، لکه په افغانستان کي د دوی ژوند. د مهاجرينو ځينو کمپونو خو ښځي د دايمي کلو بڼه غوره کړل، چي منظم کورونه، ښوونځي او مسجدونه به يې لرل. ځيني داسي پېښي خو هم ليدل سوي وې چي د کلي ټولو خلکو د خپلو مشرانو سره يو ځای د سرو لښکرو تر اشغال وروسته پاکستان ته رامهاجر سوي وه. په ځينو ځايونو کي خو د خلکو ژوند عادي ببله کومه تغيره روان و. خواړه، کالي، اوبه،

(c) ketabton.com: The Digital Library

سرپناه، روغتیايي خدمتونه او داسي نور اړین توکي ورته د نړیوالي ټولني له خوا برابرېدل. ډېرو غیر حکومتي ټولنو NGOs مهاجرو ته ډېري مرستي او هر ډول د ښووني او روزني چاري برابرولې.

د سرو لښکرو تر اشغال وروسته شوروي اتحاد په سوونو میلیونه ډالره مرسته د افغانستان سره وکړه، کله چي غربي هیوادونو پر کمونیستي رژیم خپلي ټولي مرستي ودرولې او پر ځای یې د پولي هغه بلي غاړي پاکستان کي د افغاني مهاجرو سره پیل کړې. انجوګانو روغتیايي کلینیکونه، ښوونځي او د حرفوي زده کړو مرکزونه جوړ کړل او د ملګرو ملتونو د خوراک نړیوال سازمان په زرونو ټنه خوراکي توکي برابرول.

کرزی په دې باور دئ، چي د مهاجرت یو تر ټولو مثبت اړخ دا دئ، چي افغانان سره ګډ سول، د افغانستان د مختلفو برخو خلکو سره وپېژندل چي دا په بل صورت کي له امکان څخه لیري وه. کرزی وایي چي د مثال په توګه د افغانستان د شمال ځیني ازبکان کوټي ته راغلل، چي البته دا د جنوب د پښتنو سیمه وه، هلته یې په زړه پوري د ازبکانو بازار (ازبک بازار) جوړ کړ او موږ په دې ډېر خوشحاله و، چي دوی زموږ سره هلته اوسېدل. ټولو کسانو په دغه کمپونو کي خواخوږي سره لرل او ټوله ځپل سوي وه او موږ په دغه غم کي ټوله سره یو ځای وو. د مهاجرت یو بل ښه اړخ دا دئ چي افغانان د پراخي نړۍ سره آشنا سول چي خورا لږو یې دغه پېژندګلوي لرل.

په پېښور او کوټه کي به دوی پاکستانی ټلوېزیون کاته او بي بي سي راډیو چي په پښتو او دري یې خپروني لرلې غوږ نیوی. هندي فلمونه به یې په سېنما کي کتل او د هالیوډ جنګي فلمونه به یې په ویډیو کي

(c) ketabton.com: The Digital Library

کتل* همدا شان مهاجرو د مختلفو غربیانو سره وپېژندل، د اروپايي او امریکايي خیریه ادارو له کارکوونکو سره او کولای يې سول چې په مفت ډول انګلیسي ژبه زده کړي همدا اسي دوی ته د ښووني موقع برابره سول، او ښه روغتیايي مرستي ورته برابري سوې، چې پخوا تر دې هیڅکله نه وي ورته برابري سوي. دا چې مهاجرو زیات وخت له هیواد څخه لیري تېر کړ، خو کله چې دوی خپل هیواد ته راستانه سول نو دوی د هغه ډول تعلیمي او روغتیايي خدمتونو هیله لرله، لکه دوی چې له هیواد څخه بهر لیدلي وه. خو دا د کرزي د حکومت له پاره ډېره ګرانه وه، چې هغسي شرايط ورته برابر کړي.

کرزی د هغو افسانوي جنګیالیو په لیکه کي نه و، لکه احمدشاه مسعود، عبدالحق، جلال الدین حقاني او جنرال عبدالرحیم وردګ. په پېښور کي نوموړی د هغو غربیانو په منځ کي و چې په خیریه ادارو کي يې کار کاوه په (Best-dressed Afghan) غوره پېر افغان سره مشهور و. د نوموړي رول د ده د زده کړو، د ژبي د مهارت او د کرزي د کورني اعتبار له کبله په سیاسي او ډیپلوماتیکو چارو کي خورا د هوښیارتوب و. چې همېشه به يې سروکار د نورو افغاني ډلو د استازو پاکستاني او بهرني حکومتونو له چارواکو سره و. د بله پلوه په جهاد کي د مجاهد په صفت ګډون کول فرض او په یو ډول د ده د اعتبار له پاره ډېر ضروري و، چې د مقاومت کوونکو سره یو ځای سي. له همدې کبله په ځانګړې توګه د جنګ په وروستیو یعني په ۱۹۸۷ – ۱۹۸۸ م کلونو کي د ځینو کوچنیو او لویو ګروپونو سره افغانستان ته دننه ورتلی، چې هلته د سرو لښکرو په وړاندې په وسله واله مبارزه کي برخه واخلي. کرزی وايي چې زه ببخي په

---

* په پاکستان کي هندي فلمونو ته په سینما کي د ایښوولو اجازه نسته، (ژباړن).

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې پوهېدم چې د دغې مبارزې جګړېزه اړخ څونه ستونزمن و، روسان او د هغوی افغان ملګري په اورنۍ جګړه کې خورا ګټور و.

دوی مځکه په ټانکونو، هوا په خپلو (Hind) هیلوکوپټرونو او (Sukhoi) جنګي الوتکو کنټرولول او همدا شان یې درنه توپچي لرل. کله چې به مجاهدینو ته د مختلفو هیوادونو له خوا په پټه وسلې رسېدلې هغه به هم د پاکستان د لاسه موږ ته راوتلې، چې اکثره به سپکې وسلې وې، چې هغه افغانستان ته د مجاهدینو پر اوږو او د قچرو، اسانو او اوښانو پر شا وړل کېدلې.

دا د مجاهدینو د جنګ ډول و: د جنګیالیو یوه کوچنۍ ګروپ به سپکې وسلې او یو څو د (RPG) راکټونه او یا هوان افغانستان ته دننه د یوه خاص هدف له پاره د ځان سره وړل، چې هغه ته رسېدل به څو ورځې وخت په بر کې ونیو. کله چې به دوی د هدف ځای ته راورسېدل دا به یا د افغان اردو اډه یا به د سرو لښکرو پوسته او یا به د غرونو په منځ کې پر غزېدلې لار د کمین سیمه وه. دوی به هلت ځای پر ځای حمله به یې وکړه، څونه مرګ ژوبله چې به یې اړولای سول وابه یې ړول، بیرته به په غرونو کې پر همهغه لار خپلې فناه ځای پاکستان ته واوښتل. نور وختونه به ګوریلایي ګروپونه په یوه ځای کې تر څو ورځو پورې پاته سول او هلته به یې ډېر هدفونه په نښه کړل.

د مجاهدینو اکثره جنګي عملیات په غرونو کې پر پښنو تر سره کول، چې دغه غرونه به په کال کې څو میاشتې په واورو پوښلي وه. کرزی وایي چې زیات وخت به جنګیالیو د سړک پر ځای د موټرونو له پاره د سیندونو د نس او یا د اسانو او اوښانو له لارو څخه کار اخیست چې هغه یې هم یوازې د شپې لخوا بېله بتیو کارولای سول، زه تر اوسه ډېر حیران

(c) ketabton.com: The Digital Library

یم چې دغه ټویوټا ،نیشان او میټوبیشي وسایطو څنګه پر دغسي لارو تګ کاوه.

په افغانستان کي د پخو سړکانو څخه اخوا په موټرو کي سفر کول کوړ ووړ او ډارووونکی دئ. ځیني وختونه خو سړک داسي ښکاري لکه هیڅ لاره چي نه وي هغه وخت خو بیا ډېر خطرناک وي، چي د کړنګ سر ته په ورختو وي. د یوه ګړي په جریان کي کېدای سي،چي موټر په سوونو فوټه لاندي شوه سي، چي زیاتره دغه د اوښانو لرغوني لاري د هوا څخه په نصواري منظرو کي خو داسي ښکاري لکه یو چا چي په لرګي کرښه ایستلې وي. دغه فرعي لاري د موټر له پاره مناسبي دي خو لویي لویي ډبري پر پرتې دي، تر دې وړاندي چي پر هغه دي موټر تېر سي نو ډبري یې باید په لاس ورڅخه لیري سي.

د جهاد په ورځو کي د دې سخت خطر هم و چي په ناڅاپي توګه د یوې څوکي څخه روسي څرخکي رانښکاره سي او د موټرو، اوښانو او قچرو پرهغه کاروانونو حمله وکړي چي د متحده ایالاتو مرسته سوي وسلې به یې مجاهدینو ته وړلې.

کرزی د همداسي یوه سفر یادونه داسي کوي : یو کوچنی کاروان په پاکستان کي بسته او د لوړو غرونو د لاري افغانستان ته ننوت. دوی څو ساعته پر ډېره خرابه لار سفر وکړ. دی وایي چي موږ تر یوې درې واوښتو چي هلته بیا رود ته ور داخل سو او په رېګستان کي تېر سوو چي هلته واوره اورېدلې وه، چي سړی یې تصور هم نه سي کولای. ما خپل سر د موټر تر کړکۍ دباندي را ایستلی و، چي زکام سوم. همدې ګروپ ټوله شپه سفر وکړ، چي بالاخره د شپې درې بجې یو ځای تم سول. دی وایي چي کله څو ساعته وروسته زه راکښېنستم زما په شاوخوا کي د

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانستان د غرونو ښکلا حیران کړم، تر غرمې وروسته لمر موږ ګرم کړو، او یوه شپه مخکې چې زکام سوی وم ورسره ښه سوم.

کله چې دوی هلته ولاړ وه، له دوی څخه یوه کس د خپلې وسلې یو ټک پر واورین غره باندې وکړ، چې ورسره سم د چې ورسره سم د یخو او پاکو اوبو رابهېدل پیل سول. یوه کس یو نلکه ورسره واخیسته په سوري کې یې ور ووهل چې ورسره سم د غره څخه د اوبو رابهېدل پیل سول، چې البته ده دغه کار بل وخت هم تر سره کړی و.

دا په هغه ګروپ اړه لري چې د روسي ځواکونو څخه څنګه ځان چېوي او کومه لار اخلي. دغو موټري سفرونو به په ښه ورځ کې ۱۲ ساعته سفر کاوه خو که به کوم مشکل پېښ سو تر دې به هم اوږد بده، کله چې به دوی خپل منزل ته ورسېدل هلته به پنځلس یا شل ورځې پاته کېدل د حملې وکه او وځغله عملیات به یې تر سره کول او په کلیوالو سیمو کې به اوسېدل. استراحت، خوراک به یې کاوه او د محلي خلکو سره به یې کتل. کرزی وایي دا له دې کبله و، چې مجاهدینو دننه په هیواد کې د پوره ملاتړ څخه برخمن وه او هر چیري چې به موږ تللو دوی به موږ ته اوبه، ډوډۍ او نور هغه څه راکول، چې د دوی به په توان کې وه. همدا ډول محلي خلکو به موږ ته استخباراتي معلومات هم برابرول پر وخت به یې د کمونستي ځواکونو له حرکت څخه خبرولو. خو همېشه د دې خطر و داسې نه چې په دغه کلي کې کمونستانو کوم جاسوس ونه لري له همدې کبله نو مجاهدینو هیڅکله په پوره توګه استراحت نه دی کړی. موږ همېشه هڅه کوله چې ځان پټ وساتو خو بیا به هم له دې څخه بېرېدلو چې په کمین کې ونه خېژو.

یوه شپه کرزی د یوه ګروپ جنګیالیو سره د کندهار ښار هغې

(c) ketabton.com: The Digital Library

سیمي ته ولاړ، چي دی پکښې بلد و. دوی تر نیمي شپې وروسته هغه ځای ته په خیر ورسېدل او ورته د محلي خلکو له خوا شلومبې ورکړل سوې، کرزی وایي چي زما هغه عملیات یو څه د هغه خلکو د سخاوت له کبله په یاد دي، او یو څه له دې وجي چي زه تر اوسه په دې پوه نه سوم، چي ولي هغه موږ تر سره کړي. ده له ځانه سره د (RPG-7) راکټ ګولۍ وړلې او د جنګیالیو ګروپ تر ۵ - ٦ ساعته پیاده تګ وروسته د شپې پر یوه بجه کندهار ته راورسېدل. د چای او شلومبو تر نوشجان کولو وروسته مو یوه کوچنۍ حمله تر سره کړه، چي یو څو دقیقې یې دوام وکړ، چي وروسته په ځغستا بیرته د خپلو مرکزونو پر لور وخوځېدو.

دی فکر کوي چي دا ډول عملیات په کلیوالي سیمو کي ګټور وه، خو په ښارونو کي بې ګټې وه. ځکه چي غیر ضروري تلفات به یې د لږ څه په بدل کي اړول. کرزی وایي چي زه تر اوسه هغه ته زموږ د غورځنګ د غیرتاکتیکي عمل د نمونې په توګه ګورم.

کله ناکله به مجاهدینو د سرو لښکرو سرتېري او هغه افغانان ونیول چي د کمونستانو سره به یو ځای سوي وه.

کله چي کرزی په لومړي ځل د کمونیستي اردو د افغان نیول سوي سرتېري سره مخامخ سو، د هغه څه له امله چي هغه بندیانو ورته ویل ډېر حیران سو. دوی فکر کاوه چي موږ یعني مجاهدین د افغانستان سره خیانت کوو، ځکه چي موږ له هیواد څخه بهر په یوه بهرني هیواد کي ژوند کاوه او دوی همدلته وه، چي د هغه څه له پاره جنګېدل چي فکر یې کاوه صحي دئ.

کله چي به کمونیستي سرتېري ونیول سول، که به افغان او یا روسی و نو ژوند به یې خورا لنډ بده. ځیني وختونه روسي عسکر د

(c) ketabton.com: The Digital Library

مجاهدینو د یو قوماندان د تبادلې له پاره ساتل کېدی، خو په ټولیز ډول په افغانستان کې د ننه ګوریلایانو پر پښتو عملیات تر سره کول چې په داسې صورت کې نو د بندیانو سره د معاملې هیڅ ځای نه پاته کېدی. د کرزي د ګروپ پالیسي دا وه ،چې یا بندیان پاکستان ته ورسره بوزي او یا یې د (ICRC) دفتر ته ورتسلیم کړي. کرزی د دغسې یوې پېښې یادونه کوي، چې په یوه ډېر یخ غره کې د چای څښلو له پاره په یوه جونګړه کې تم سو. په هغه وخت کې له بندیانو څخه یو تن چې افغان کمونیست و کرزی ته راغلی ورته وې ویل : لطفاً ما پاکستان ته مه وړه. دلې مې ووژنه،پرېږده چې په دا خپل وطن کې مړ سم.

کرزي په جواب کې ورته وویل : ولې دا فکر کوې چې موږ به تا پاکستان ته تا په لاس ورکړو ؟هیڅ فکر مه خرابوه، موږ به هیڅکله داسې ونه کړو. کله چې دغه ګروپ پاکستان ته ورسېد دوی بندیان (ICRC) ته ور حواله کړل او کرزي له (ICRC) څخه وغوښتل هغه نفر چې د دې خواست یې کړی و ، چې په خپل وطن کې دې ووژل سي بیرته خپل وطن ته بوزي او په خوندي توګه یې د کابل او کندهار پر لویه لار آزاد کړي. کرزی وایي چې هغه کس تر اوسه ژوندی دئ. زه هغه پېژنم ځکه چې هغه ما ته راغلی او راته ویې ویل چې هغه پېښه مې په یاد ده، او زه اوس وپوهېدم چې تاسې یو رښتینی وطن پال یاست او زه له دې کبله چې د کمونیستانو د پوځ سره ولاړ وم پر غلطه وم. هغه څه چې د سرو لښکرو سره د جنګ په ډګر کې یې تغیر راوست امریکایي ستېنګر توغندي وې، چې د CIA له خوا پټې مجاهدینو ته ورکړل سوې. دغه قوي د اوږې څخه ویشتونکي توغندی د (Raytheon) کمپنۍ له خوا جوړي سوي وې چې په مقناطیسي برېښنایي پلټونکي الې سمبال او خورا مغلق چلېدونکي سیستم لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغـه توغنـدۍ ډېـرې سـپکې وې، چـې د مجاهـدينو پـر اوږه افغانـستان تـه ولېـږدول سـي. د يـوه ښـه تربيـه سـوي ويـشتونکي پـه لاس هغـوی د روسـي حملـه کوونکـو څرخکـو او الوتکـو پـه مقابـل کـې خـورا اغېزمن و. CIA پـه سوونوستېينګر توغندۍ مجاهدينو تـه ورکړې او داسي ويل کېږي چي له کبله يې درې سوه الـوتکي راغورځول سوي دي. لـه دې کبله چي د مجاهدينو هر ګروپ ستېينګر د ځان سره لـرل د جنګ بڼه بدلـه کړل ځکه چي روسي الوتکو به پـه لوړه فضا کـي پروازونـه کولـه چي لـه همدې کبله به پر مځکه د جنګياليو پـه مقابل کي بې اغېزې وې.

د مجاهـدينو پـه لاس کـي ددغـو توغنـديو ايـښوول د روسـانو هوايي بهتري ته د پای ټکی کښېښود. او د زيـاتو الـوتکو او پيلوټـانو د بايللو له کبله يې جګړه ډېره لنډه کړه، کرزی وايـي چـي د نـړۍ لـه پـاره دا ډېره ګرانه وه، چي پـه دې بـاور وکـړي چـي افغانـان بـه د نـړۍ د دوو سـترو ځواکونـو څخـه يـوه تـه ماتـه ورکـوي. پـه تـدريجي توګـه مـوږ د روسـانو د افغانستان د اشغال او د امريکا د ويټنام د تجربو د مقايسه کولو اورېدل پيل سول. عينـي هغـه څـه چـي امريکـا پـه ويټنـام کـي ليـدلي و داسـي چـي روسان د يوه ښورښ سره مخامخ و داسي جګړه چي د پـای او ګټلو هـيڅ څرک يې نه ښکاري. د سياست پـه ډګر کي تـر ټـولو لـوی تغيـر ورکـوونکی ټکی دا و، چي کلـه ميخايـل ګورباجوف واک تـه ورسـېد او د کمونيـسټ ګوند کانګريس ته پـه وينا کي يې وويل چي افغانستان شـوروي اتحـاد تـه د يوه ويني بهېدونکي ټپ پـه توګه اووښتی دئ.

کرزی وايـي کلـه چـي د شـوروي اتحـاد د مـشر څخـه داسـي خبـري اورېدل کېدې، دا د دې نښه وه چي هغه غـواړي د افغـانـستان څخـه پـر شـا سي. موږ پـه دې پوهېدو چـي د روسانو وتـل حتمـي دي، او پـه نظامـي ډګـر

(c) ketabton.com: The Digital Library

کي هغوی لا د وړاندي ماتې خوړلې وه.

د نونس سوه اتیایمو کلونو په وروستیو کي روسي ځواکونه د کلیوالي سیمو څخه ورتهول سول چي هلته خورا بې اغېزي وه او ښارونوته راغونډ سول تر څو د هغوی څخه د وروستي کرښي په توګه دفاع وکړي. تر دې وروسته د هغوی سره یوازي د ښارونو او لویو لارو کنترول پاته و. کرزی وایي چي افغان ولس د هغوی سرسختی دښمن و. هیڅ یرغلګر ځواک نه سي کولای چي په افغانستان کي پاته سي. چي تر اوسه هیڅوک پر دې نه دي توانېدلي او نه به وتوانېږي. له همدې کبله نو موږ له هغه لومړي سره پوهېدو، چي روسان به وزي. څه چي موږ یې په اړه وړاندوینه نه سو کولای هغه ورسره راوروسته غمېزه وه.

د کرزي په ۱۹۸۷ م کال کي د یوه ځوان امریکایي ژورنالیست سره خبري کول په یاد دي، دا هغه وخت و چي ما تازه د ملي نجات د معلوماتو څانګه جوړه کړې وه او د یوه ژورنالیست سره مي لومړی سلسله یي مرکه وه. هغه زما څخه وپوښتل چي روسان به ووزي؟ ما ورته وویل چي بلې! هغوی به ووزي. تر هغه وروسته موږ د روسانو سره تر وروستۍ مورچې پوري جنګ وکړ.

د ۱۹۸۸ م کال په اپریل کي پاکستان او افغانستان او متحده ایالات او روسیه د ضمانت کوونکو په توګه یو قرارداد لاسلیک کړ، چي د ۱۹۸۹ م کال تر فبروري پوري د ټولو روسي سرتېرو د وتلو غوښتنه پکښې سوې وه.

دا چي د روسي لښکرو تر وتلو وروسته به څه پېښېږي کرزی یې په اړه هیڅ نه پوهېده، خو نورو بیا دا هر څه لیدلای سوای. په ۱۹۸۵ م کال کي دی فرانسې ته د ژورنالیزم په یوه کورس کي د ګډون له پاره ولاړ،

(c) ketabton.com: The Digital Library

چي د فرانسوي حکومت له خوا افغان معلوماتي افسرانو ته اماده سوي او دا په ملي نجات کي د ده وظیفه وه. د اوو تنظیمونو د هر یوه څخه دوه دوه تنه ولاړل. کرزی وایي چي زما په یاد دي، چي د پاریس په یوه جاده کي مي د اسلامي حزب د یوه ملګري سره قدم واهه، چي هغه هم د همدې کورس ګډونوال و، په همدې وخت کي د فرانسې پر ښایست او ترقي رغېدو، چي دا ځونه په زړه پوري ځای دئ. ما خپل ملګري ته وویل کله چي سرې لښکري له افغانستان څخه ووزي افغانستان به په داسي سوله کي وي لکه فرانسه. په همدې شان مترقي او خوشبخته به وي، زما ملګري راسره مخالفت وکړ، چي نه دلته نور ځواکونه په کار لګیا دي.

د اسلامي حزب همدې غړي ده ته وویل چي د سرو لښکرو تر وتلو وروسته به د راډیکالو ډلو تر منځ د افغانستان د کنټرول پر سر په کلونو جګړه روانه وي. کرزي په هغه اعتبار نه کاوه. دی وایي چي ما ورته وویل، چي ستا په خبرو باور کول راته ګران دي. کرزی یوازي په جنوبي او جنوب غربي افغانستان کي جګړه کړې وه، په ځانګړې توګه په کندهار کي چي د ده سیمه وه، چي د راډیکالو پر ځای یې خپل قومیان پکښې واکمن وه. دی په دې نه پوهېده چي د هیواد په نورو سیمو کي توندلارو څونه نفوذ کړی دئ.

خوالبته په خواشیني سره هغه څه پېښ سول، لکه زما ملګري چي ویلي وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# (۴)

# د سولي له منځه تلل

## کله چي نړۍ افغانستان هېر کړ



(c) ketabton.com: The Digital Library

د څلورو ډلو تړون چې له افغانستان څخه د شوروي ځواکونو وتلو ته لاره برابره کړې په جنیوا کې د افغانستان د کمونیستې حکومت، پاکستان، امریکا او روسیې چې دا وروستیو دو هیوادونو د ضمانت کوونکو رول لوبوی تر منځ سره سو. د نړیوالي غلطي ډیپلوماسۍ په پایله کي چې په افغانستان کي یې پر مخ بېول مجاهدینو هیڅ قانوني ارزښت نه درلود. په رسمي توګه خو افغان کمونیستې حکومت روسان افغانستان ته وروبلل. پاکستان چې افغان مقاومت ته یې مهاجر برابرول په رسمي توګه هغه هیواد و، چې پر خپل ګاونډي یې د سرو لښکرو یرغل خپه کړی و. امریکا چې په هغه وخت کي یې مقاومت ته د پاکستان له لاري پټې مرستي ورکولې او روسانو چې په کابل کي د رژیم سره نظامي مرستي کولې د دوی په زړه پوري ډلې وې او دوی یې ضمانت کوونکي و.

د مجاهدینو ډلې په دې باندي چې په رسمي تړون کي نه وه شامل سوي ډېر خوابدي وه، ځکه چې هغوی فکر کاوه چې همدا اوس یې د نړې یو زبر ځواک پر ګونډو کړ. د پردې شا ته هم د مجاهدینو او نجیب الله د حکومت تر منځ خبري رواني وې، چې ځیني پټې او ځیني ښکاره وې چې د حامد کرزي له نظره چې دا تر روسانو وروسته افغانستان په وضعیت پوري اړه درلوده، په جنیوا کي د کابل او مقاومت کوونکو ډلو تر منځ غیر رسمي تماسونه هم نیول سوي وه او داسي پلان هم و، چې مجاهدین د هغه څه څخه خبر کړي څه چې د څلورو ډلو تر منځ په خبرو کي وویل سول.

روسانو موافقه وکړه چې د ۱۹۸۹ م کال د جنوري پر ۱۵ نېټه به خپل ټول ځواکونه له افغانستان څخه باسي. د دې موافقې تر ټولو منفي ټکی دا و، چې روسان او امریکایان پر دې سلا سول، چې په افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library

کي دخيلو ډلو ته به وسلې نه ورکوي او د افغانستان په چارو کي به لاسوهنه نه کوي، خو دې ببله تشريفاتي چارو بل کوم څه د ځان سره نه لرل.

کرزی وايي چي د مقاومت هغو ډلو چي د دغه تړون سره يې نظريات ډېر په ټکر کي راتلل او ځينو نورو ډلو چي عملاً د جګړې په ډګر کي وه دغه تړون له دې کبله رد کړ چي مجاهدينو ته ګډون نه و پکښې ورکړل سوی. خو په عمومي توګه د مجاهدينو د مقاومت ډلو نظر ورته مثبت و. مقاومت وګټل او روسان له افغانستان څخه ووتل، د اوو ډلو ائتلاف اماده ګي نيول تر څو د روسانو تر وتلو وروسته خلا ډکه کړي خو دغه ائتلاف د روسانو تر اشغال وروسته د مقاومت په جريان کي خورا ډېر سره وېشل سوی و. په دوی کي درې منځلاري ډلي او څلور توندلاري ډلي وې. په منځلارو کي د پروفيسر صبغت الله مجدد اسلامي نجات، اسلامي حرکت او اسلامي محاز شامل وو. څلور توندلاري عبارت وه له جمعيت اسلامي، اسلامي اتحاد، د حکمتيار اسلامي حزب او د خالص اسلامي حزب. کرزی وايي چي په دغه توندلارو کي بيا هم ځيني نرم هم وه لکه رباني او خالص چي د هغه درو منځ لارو ډلو ائتلاف ته نژدې وه او په زياتو غونډو کي به يې ګډون کاوه.

په اسلامي نجات کي د حامد کرزي رول د هغه د کورنۍ پس منظر، تعليم، د ژبي ځواک او طبيعي اغېزمنتيا له کبله ډېر سوی و. دغه ډله پر ده ولاړه وه په ځانګړې توګه د غربي هيوادونو سره د نماينده په توګه ځکه چي ده د امريکا د متحده ايالاتو د چارواکو او نورو عربي ډيپلوماټانو سره ښه اړيکي جوړي کړي وې، په دغه اړيکو کي ببله شکه هغه د CIA سره ښه اړيکي لرل او هغه اړيکو او ملګرتيا چي کرزي د جهاد

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دوران کي جوړ کړي وه دی يې د يو ايډيال په توګه پرېښود که چيري افغانستان تر کلونو وروسته يو رهبر ته اړتيا ولري لکه تر طالبانو وروسته نو دی به وي.

ملي نجات تر ټولو د شاه خوښوونکې ډله وه، چي رهبري يې همېشه د پاچا سره چي په ايټاليا کي اوسېدی په تماس کي وه. حامد کرزی د ډلي نماينده و. کرزی وايي چي په ۱۹۸۸ م کال کي ما ايټاليا ته په منظمه توګه سفرونه پيل کړل، چي د کاله به يو يا دوه ځلي هلته تللم تر څو د عليحضرت سره ووينم، همدا ليدني خو د طالبانو په وخت کي خورا ډېري سوې. کرزی وايي چي زه وپوهېدم چي باچا څونه د افغانستان په چارو بوخت دئ، چي همېشه به خوشبين او د درک وړ يو افغان و. په ايټاليا کي به ده کرزي ته هغه څه ويل چي په عين شکل به هغه څه ده له قومي مشرانو او مذهبي رهبرانو څخه د افغانستان په دننه کي اورېدل. اعليحضرت به همېشه هغه پوښتنې مخ ته راته ايښودلي لکه څنګه چي به زما پلار راڅخه کولي داسي چي ته د امريکا ملاتړ د ځان سره لرې؟ نو کله چي به ما په هو جواب ورکړ نو ده به ويل ډېر ښه. اوس موږ دغه کار کولای سو. معنی دا چي شاه په دې باور و، چي په آخر کي به مقاومت کمونيستي حکومت رانسکوروي او افغانستان ته به آزادي ګټي او د افغانستان خلکو ته به يو نظام رامنځته کړي که چيري امريکا د دوی تر شا ودرېږي لکه څرنګه چي د جهاد تر شاه ودرېد د وسلو او تجهيزاتو مرسته يې ورسره وکړه. کرزی وايي هغه ډېر واقعيت بينه او په غوره توګه د مشکلاتو حلوونکی و.

کرزی وايي چي زما د ژوند يوه تر ټولو غوره کاميابي او خوشحالي دا وه چي زه پر دې برياڵی سوم چي د ۲۰۰۲ م کال په اپريل کي

(c) ketabton.com: The Digital Library

روم ته ولاړ سم، او اعليحضرت بيرته خپل ګران افغانستان ته راولم، په ځانګړې توګه هغه قصر ته چي ده په هغه کي بادشاهي کړې او ۳۰ کاله ورڅخه مسافر و.

کله چي روسان د وتلو په حال کي وه امريکا او پاکستان او (سعودي عربستان په افغانستان کي د توندلاري اسلامي حکومت په راوستلو کي دلچسپي لرل او ايرانيان د شيعه) د درو سوو په شاوخوا کي افغان قومي مشران په اسلام اباد کي سره، راغونډ سول تر څو په جلا وطني کي يو حکومت رامنځته کړي. کرزی وايي چي ځينو مهمو قومي مشرانو په هغه کي د ګډون کولو څخه ډډه وکړل ځکه چي يو خو دا غونډه د افغانستان په خاوره کي نه وه، بل دا چي دا د بهرنيانو لخوا رامنځته سوې وه. سره له دې بيا هم ټاکني وسوې، پروفيسر مجددي د ولسمشر او پروفيسر سياف د لومړي وزير په توګه وټاکل سول. هيڅ هيواد د دغسي يوه جلا وطنه حکومت د رسميت پېژندلو سره دلچسپي نه لرل. خو موږ د دې شي کومه پروا نه کوله، ځکه چي موږ د دغه حکومت په جوړولو کي د مخ په وړاندي تګ يو څرک وليد دغه شي مقاومت کوونکي پر يوه مېز سره کښېنول ځکه چي تر دې وړاندي هيڅ داسي نه وه سره ليدلي. که څه هم د يووالي خوند مو نه و. حکمتيار چي په هغه حکومت کي د بهرنيو چارو وزير ټاکل سوی و، ډېر ژر له حکومت څخه جلا سو او پر ځای يې پروفيسر رباني وټاکل سو. د نظامي کارپوهانو په نظر د حکمتيار کسان چي د جهاد په دوران کي عادي جنګيالي وه تر روسانو او طالبانو وروسته په تر ټولو ورانوونکو او تجزيه کوونکو توپکسالارانو واوښتل.

کله چي روسان له افغانستان څخه ووتل تر شا يې يو غلام حکومت د ډاکټر نجيب په مشري پرېښود او نجيب هغه څوک دئ چي په

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۹۸٦ م کال کې د ببرک کارمل ځای ناستی سو. نجیب په خټه پښتون دئ خو د زده کړو په جریان کې کمونیسټ سو. په ۱۹۷۹ م کال کې چې کله روسانو افغانستان اشغال کړ، دی یې د خاد د مشر په توګه نصب کړ. خاد د روسانو د KGB معادل دئ. پر همدې چوکۍ نوموړی په خورا وژونکي او ډاروونکي انسان واوښت چې ډېر ژر یې د قصاب لقب وګاټه.

د مقاومت ډلو، عربي حکومتونو او په پېښور کې د غربي مرستو ټولني فکر کاوه چې مجاهدین به ډېر ژر په کابل ورننوزي او د نجیب حکومت به د هغوی په مخ کې د بوس په شان وي. کرزی وایي چې موږ یعني مقاومت کوونکو فکر کاوه چې د نجیب حکومت به ډېر ژر اخیري سلګۍ ووهي. خو موږ غلط فکر کاوه. روسانو افغان کمونیسټ اردو تر هغه ډېر ښه روزلې، منظم کړې، تجهیز کړې او په یو جنګي ماشین بدل کړې و تر هغه چې موږ یعني مقاومت کوونکو یې فکر کاوه.

کرزی وایي چې موږ په دغه شي تر یوه ډېر سخت درس اخیستلو وروسته ډېر ژر پوه سوو، چې په ۱۹۹۰ م کال کې د موقت حکومت تر جوړولو وروسته مو پر جلال آباد حمله وکړه. جلال آباد د کابل او پېښور په منځ کې پروت دئ او د خیبر کوتل ته تر ټولو نژدې افغان ښار دئ. د افغانستان او پاکستان تر منځ لویه لار هم له همدې ځایه تېرېږي او د کابل شرقي دروازه ده. کرزی وایي چې موږ هلته سخته ماته وخوړل او دا د مجاهدینو له پاره یوه غمیزه وه. اطراف او کلي د هغوی د واک څخه بهر و خو لوی ښارونه تر هغه وخت پوري د دوی په واک کې وه تر څو چې ټوله حکومت په وروستي ځل تسلیم سو. د نجیب حکومت تر درو کالو پوري بېله د روسانو د مستقیم نظامي ملاتړ څخه ژوند وکړ.

مجاهدینو نور حیرانوونکي شیان لرل. نه یوازي دا چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

کمونیستي حکومت تر روسانو وروسته دونه قوي راووت چي فکر یې نه کېدی. بلکي افغانستان په خپله نور هغه ځای نه و لکه څنګه چي مهاجرو د جنګونو په کلونو کي پرېښي و. کرزی وایي روسانو د اشغال په دوران کي د افغانانو اروا بدله سوې وه. مورېِ یعني مقاومت کوونکي اوس بهرنیان سوي و او هغه افغانان چي د جنګونو په جریان کي په افغانستان کي پاته سوي وه داخلیان وه.

البته ډېر مجاهدین چي په کلونو د روسانو په مقابل کي جنګېدلي وه ببله دې چي وسلې پر مځکه کښېږدي، خپلو کورونو ته راستانه سي او په خپلو مځکو کي کار وکړي نور هیڅ نه غوښتل. دوی احساس کاوه چي د څه له پاره چي دغه مقاومت راپورته سوی و هغه یې تر سره کړ، چي هغه له هیواد څخه د سرو لښکرو ایستل وه. د دوی له پاره جګړه نوره ختمه وه او هدف تر سره سوی و. کرزی وایي چي زه په دغه شي د روسانو تر وتلو وروسته ډېر ژر وپوهېدم. دی وایي چي زه د کندهار ښار جنوب پلو ته په یوه کلي کي وم چي د یوه ښه مجاهد سره مي ولیده، دا شین کالی ملنګ و، ما له هغه څخه وپوښتل چي اوس په څه لګیا یې ده راته وویل چي د روسانو تر وتلو وروسته مي نه غوښتل چي د افغانانو سره جګړه وکړم له همدې کبله مي جنګ بس کړ اوس بزګري کوم.

په همدې شیان ډېری مجاهدین وه چي خپلي وسلې یې پر مځکه کښېښوولې او د کرزي له نظره همدا دوی تر ټولو ښه مجاهدین وه. خو د مقاومت لویي برخي په پاکستان کي د خپلو مرکزونو څخه د کمونیستي حکومت په وړاندي جګړو ته ادامه ورکړه، او د مهاجرو یوه لویه برخه یې چي په پاکستان، ایران او نورو ځایونو کي اوسېدل هم افغانستان ته راونه ګرځېدل. معنی دا چي د روسانو تر وتلو وروسته ډېر لږ تغیرات

(c) ketabton.com: The Digital Library

راغلل. کرزی وایي موږ د روسانو د اشغال د دوران قصابي د نجیب د حکومت سره تړل او فکر مو کاوه چي جهاد ته باید تر پایه ادامه ورکړل سي.

د مهاجرو لویه برخه د نولس سوه نیویمو کلونو په اوږدو کي او بیا د ۲۰۰۱ م کال د طالبانو تر سقوط پوري چي په افغانستان کي څه ورانی روان و لیري پاته سول. کله چي طالبان د کابل څخه لیري سول او د حامد کرزي په مشري لنډ مهاله اداره رامنځته سوه وروسته په لوی شمېر مهاجر افغانستان ته رامات سول. په دوی کي زیاتو خپل کورونه د تېرو شلو کلونو راهیسي نه وه لیدلي او په همدې جلا وطني کي یې یو نوی افغان نسل زېږولی و. چي په هغوی کي ډېرو یې د خپل لس کلني او شل کلني ژوند په جریان کي پښه په خپل هیواد کي نه وه ایښې چي زیاتو یې د ځان سره نوي ارزښتونه او توقعات راوړل.

د نجیب الله سره د درې کلني جګړې په جریان کي یو بل مشکل راپورته سو، چي حتی د روسانو تر وتلو وړاندې لا د مقاومت کوونکو ډلو لخوا د واک د تر لاسه کولو له پاره جګړه پیل سوه. د روسانو تر وتلو وروسته دا جګړه نوره هم سخته سوه. کله چي مختلفو ډلو د واک د تر لاسه کولو له پاره په مانورو لاس پوري کړ او نجیب په ۱۹۹۲ م کال کي په داسي حال کي مجاهدینو ته واک وسپاره چي د هغوی تر منځ سخته بې نظمي رامنځته سوې وه. د حکمتیار ځواکونه چي د پاکستان د ISI د چینل د لاري امریکا حمایه او شتمن عربي اسامه بن لادن تکویه کول په پراخه توګه د شمال د افسانوي قوماندان احمدشاه معسود سره نښتل، چي هغه هم په پراخه پیمانه د امریکا له مرستو څخه برخمن و.

دغو دوو مسلطو ځواکونو د دې له پاره مانورونه کول تر څو په

(c) ketabton.com: The Digital Library

کابل کې داسې ځایونو ته ځان ورسوي چې په پای کې نجیب واک وسپاري. دوی کابل تر لاسه کړ. د نجیب رژیم وروستی سلګی وهلې چې پر دېوالونو به داسې شعارونه ورته لیکل سوي وه چې یوازې یو له بل سره د خپل ځان ساتلو له پاره جګړه وکړئ. ځواکمن ازبک توپکسالار* چې په شمال کې د نجیب قوي متحد و د ۱۹۹۲ م کال په جنوري کې د خپلو ملېشو سره د نجیب څخه بېل سو او د مسعود سره ملګری سو. د نجیب څخه د دوستم جلا کېدنه د هغه د حکومت د پای شېبې خورا لنډې کړې. په جنیوا کې د ملګرو ملتونو تر نظارت لاندې خبرو پر دې موافقه وکړل چې نجیب دې د مجاهدینو د ډلو پر ځای (یوې بې طرفې ادارې) ته په تدریجي توګه واک وسپاري. کرزی وایي چې دا نو هغه وخت و، چې د نجیب حکومت وروستی سلګی وهلې او موږ یعنې مقاومت کوونکو د تغیر راوستلو له پاره اماده ګي نیول.

کله چې د نجیب په حکومت کې درزونه پیدا سول، تر دې حده چې په خپله ونړېږي، حکومتي کارنېزیونونه خپلې خواوې بدلې کړې او مقاومت ته د ښار ګوټو تسلیمول پیل شول خو هر څه مځکې لا پر غلطه لار خوځېدلې وه چې د کابل لار د مجاهدینو د نورو وینو او وحشت سره تړل سوې وه.

لومړې ښارګوټي چې مجاهدینو ته په لاس ورغلې هغه د ارزوګان ولایت مرکز ترینکوټ و. د کرزي هغه یاد دي وایي چې کله موږ د ښار پر لور حرکت کاوه یوه قوماندان ما ته را ږغ کړل چې ژر کوه ښار د سقوط په حال کې دئ. ما هغه ته وویل چې ته ژر مځکې ولاړ سه او زه هلته دوې ورځې وروسته ورسېدم. کله چې هلته ورسېدم او څه چې مې

* لیکوال دوستم په غلطۍ سره تاجک لېکلی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولیدل تکان مي وخوړ. تیاره یوه قصابي وه چي هر چیري د انسانانو جسدونه تر سترګو کېدل چي دا ټوله افغانان وه. کرزی وايي ما فکر کاوه چي ولي دا خلک ووژل سول؟ چا ووژل؟ زه د هغه وخت راهیسي د هغه سوالونو په جواب پسې ګرځم خو تر اوسه مي لا جواب نه دي ورته موندلي. زه اوس په دې باور یم چي هغه وژني او وحشت زموږ له پاره یوه ښه نښه وه، خو موږ دونه هوښیاران نه وو، چي په هغه په خپل وخت کي وپوهېږو. د ترهګرو تاکتیکونه یوه نوې پدیده وه، چي ښېله شکه ورته د مقاومت په جریان کي د داسي کسانو لخوا لکه حکمتیار ورپېچکاري سوې وه، چي د هغه د قدرت تندي هیڅ حدود نه پېژندل او د هغه سخت دریځه بنسټپالنه د هغه د سعودي او ISI ملاتړو لخوا هڅول کېدل.

کرزی وايي څنګه چي مجاهدین پر مخ تلل او ښارګوټي یې نیول د بهرنیانو د نفوذ نښانې راڅرګندي سوې هر شي وحشي ښه غوره کړل او افغانان پخپله دونه ظالم او شدید سول چي یو د بل په وینو نه اوښېدل. کرزی وايي کله چي کابل موږ ته تسلیم سو، وژني رواني وې خو دوه کاله وروسته کله چي مجاهدین یو د بل په وړاندي جنګېدل دا هر څه خورا په وحشي ښه او خلاص مټ تر سره کېدل، چي تر هغه وروسته مو په پوره او ربښتینې توګه د افغاني دولت ټوټه ټوټه کېدل ولیدل.

په همدې وخت کي یو بل دولت هم پر نړېدو و، له افغانستان څخه د سرو لښکرو تر وتلو وروسته کمونیستي زبر ځواک هم رانسکور سو. د برلین دېوال ونړېد، اوسپنیزه پرده ماته سوه او د نورو خپلواک سوو هیوادونو له کبله د شرقي اروپا په نقشه کي تغیر راغی. سړه جګړه پای ته ورسېده او غربیانو وګټل. دا نړۍ د پېښنو سلسلې سره ښورول هغه زلزلې چي شوروي اتحاد یې نسکور کړ او ځینو نورو تکانونو یې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانستان له پاره روښانه او خواشینوونکې لړۍ لرل. د حامد کرزي په پلرني ټاټوبي کې د غربي نړۍ دلچسپي پر یوه اصول ولاړه وه. په جنوبي اسیا کې د روسانو مخه ډب کول او سرې لښکري په داسي یو جنجال اخته کول او بې کفایته کول چې ښورښ ته ماته ورکړي لکه څنګه چې متحده ایالاتو په ویتنام کې ماته وخوړل. کله چې سرې لښکري ووتلې هغه هدف هم ورسره سم دستي سر ته ورسېد.

په ۱۹۹۲ م کال کې د مقاومت کوونکو ځواک پر دوو اصلي ځواکونو ووېشل سو، ملېشه هم ور اضافه او د ګلبدین حکمتیار ځواکونه چې د جنوب لخوا یې پرمختګ کاوه د افغان پلازمینه د دوو ځواکونو د زامو تر منځ راګیر و خو دا وخت دا زامي یو د بل په مقابل او د نجیب د پاته شونو ځواکونو په وړاندي کار کاوه. مسعود لومړی په حمله لاس پوري کړ د افغاني اردو د پاته شونو څخه یې د هوایي ډګر په شمول د ښار لویې ودانۍ ونیولې. حکمتیار په خوب بیده و چې له امله یې ځواکونه د ښار په څنډو کې پاته سول.

کرزی هغه روښانه پېښه بولي. دی وایي چې په ۱۹۹۲ م کال کې زه د مجاهدینو په هغه لومړۍ ډله کې وم چې کله نجیب د واک د سپارلو اعلان وکړ کابل ته ننوتل. ما د پروفیسر مجددي سره سفر کاوه ځکه چې هغه اوس د افغانستان ولسمشر و او هغه ډېره ترخه تجربه وه. کرزی د ۱۹۷۸ م کال راهیسي د کابل ښار نه و لیدلی په ځانګړې توګه پر داود خان تر خونړۍ کودتا وروسته چې ده هیواد پرېښاوه. په اپریل کې چې د مسعود ځواکونو په لویه پیمانه د ښار په شرقي دروازې یرغل ور وړ کرزی په پېښور کې د جلا وطني حکومت په غونډه کې و او ناکامي هڅې یې کولې، تر څو مسعود او حکمتیار وهڅوي چې ځواکونه سره یو کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو حکمتیار هغه رد کړ. کابل ته د مجاهدینو په بریالی او منظمه توګه راتګ د کرزي یاد دي. موږ په یوه کاروان کي سفر کاوه. چي په سلګونو کسانو د ټولو مقاومت ډلو استازیتوب کاوه خو حکمتیار زموږ سره نه و، ځکه چي دغه کاروان د مسعود لخوا چي په یوه ټانک کي سپور و رهنمایي کېدی، موږ د پېښور څخه جلال آباد او بیا کابل ته ولاړو. په دا سبا چي کابل ته ننوزو شپه مو د څرخي پله او نظامي اکاډیمی سره نژدې تېره کړه. ما په هغه شپه خپله خونه له جنرال نوروز سره شریکه کړه، چي زما انډیوال او په لنډ مهالې اداره کي لوی درستیز ټاکل سوی و، چي یو خورا باډسپلینه او مسلکي عسکر و. هغه شپه ډېره یخه وه. په دا سبا افغان اردو همهلته و چي مجاهدین د کابل ښار ته بدرګه کړي.

کرزی وایي چي کله مي هلته راغونډ سوی نظامي ځواک ولید ښایست او مسلکیتوب یې ډېر حیران کړم او دا زما لومړی ځل و چي روسي روزل سوی اردو له دونه نژدې څخه وینم، چي مجاهدینو په کلونو ورسره جګړه وکړه. د هغوی لباس خورا منظم، او وسلې او وسایط یې خورا پاک او اخلاق یې د باډسپلینه سرتېرو و. د اردو مشران د ولسمشر مجددي سره یوې خوني ته ننوتل چي ورسره د تسلیمی پر شرایطو وږغېږي، وروسته موږ موټرانو ته وختلو او د کابل پر لور روان سولو.

د ښار اوسېدونکي کله چي مقاومت کوونکي دښار څنډو ته ورسېدل د جګړو سره ډېر اشنا سوي وه چي هیڅ د وارخطایی احساس یې نه کاوه خو د همدې بري له کبله یو ډول محتاط و. خو کله چي موږ ښار ته ننوتو په خلکو کي مي یو ډول بېره ولیده. کله چي موږ د روسي جوړ لوی اپارتمانونو یعني مکروریانو څخه تېرېدو د اپارتمانونو پر کړکیو پردې کش سوي وې او خلکو د کړکیو تر شا موږ ته کتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغو مشرانو په موقتي توګه په يوه ماڼۍ کي واړول چي وروسته د متحده عربي اماراتو سفارت سو. کرزي خپل پلرني ښار ته په حيرانوونکي احساس سترګي ور واړولې. کرزی وايي چي کابل لا تر همدې وخت پوري روغ و خو را وروسته ونړېد. د روسانو سره د جګړې کولو وروسته د نجيب سره د جنګ په دوران کي کابل لا تر دي مهاله هغسي روغ رمټ ، پاك ستره او منظم ښار و لکه کرزي چي په ځواني کي پرې ايښی و. د ښار لويي ودانۍ د وزارتونو په شمول، مسجدونه او د دارالامان پرتمينه ماڼۍ چي د شاه امان الله خان له پاره په نونس سوه شلمو کلونو کي جوړه سوې وه تر اوسه ولاړه وه. خو بالاخره دا هر څه د راوروسته کلونو په جريان کي ونړېدل. زه چي هلته وم ډېر احساساتي وم خو هغه وخت خوشحالي په دې کي وه چي موږ بری لمانځه خو په دې نه و خبر، چي دا د تراتيژيديو پيل دئ. مجاهدينو د همدې بري د لمانځني په خاطر په زرګونو د توپکو ګولۍ په هوا کي فير کړې چي بيرته مځکي ته راتګ يې په درځنونو بېګناه انسانان او يوه شپه دمخه د کرزي د خوني ملګری جنرال نوروز د ورور په شمول يې ووژل.

په جادو کي د ډزو ږغونه اورېدل کېدل، ځکه چي د نجيب د اردو ځينو پاته شونو مقاومت وکړ خو نور اکثره ډزي د خوشحالۍ وې، خو د مسعود او حکمتيار د زرګونو جنګياليو سره ګډېدل ډېر ژر يوې بلي چاودني ته زمينه برابره کړه او دا د بلي افغاني جګړې پيل و.

نوي حکومت په پېښور کي د مقاومت کوونکو تر منځ د خبرو په ترڅ او د څلورم لاربنود د واک د سپارلو د موافقې په رڼا کي منځته راغلی. داسي چي پروفيسر مجددي به دوې مياشتي د ولسمشر په توګه وظيفه تر سره کوي. وروسته به رباني څلور مياشتي او تر هغه وروسته به

(c) ketabton.com: The Digital Library

واک د مجاهدینو د رهبرانو شورا ته سپارل کېږي. تر هغه وروسته به لویه جرګه د افغانستان حکومت ټاکي چې پر همدې لار به ملت مخ په وړاندې درومي. کرزی وايي چې هیڅ شی د پلان مطابق تر سره نه سو. کله چې مجاهدینو واک تر لاسه کړ خپله په دوی کې د ځینو ډلو تر منځ جګړه نوره هم بنسټیز سوه.

په حقیقت کې د واک د رسمي سپارلو څو ساعته وروسته د مسعود او حکمتیار تر منځ جګړه پیل سوه، چې یو د بل ځواکونو کابل ودانۍ په ودانۍ او بلاک په بلاک په کنډواله بدل کړ. کرزی په دې باور دئ چې د دغه ورانوونکي جګړې تخم په ډېره ښه توګه د واک سپارلو وړاندې کرل سوی و چې کله د مجاهدینو ځینو مشرانو او د بهرنیانو د ګټو ساتونکي کابل ته د نجیب د حکومت سره د خبرو کولو له پاره پر خپل سر راغلل. د پردې تر شا خورا ډېر کسان وه چې د هرې ډلې په وړاندې به یې دسیسې جوړولې. هر هیواد کوښښ کاوه چې د پلازمېنې یا هیواد یوه برخه ونیسي تر څو دوی پر واکمن وي.

د مجاهدینو تر برې وروسته کرزی د بهرنیو چارو وزارت ته ولاړ تر څو همدلته د بهرنیو چارو د وزیر د مرستیال په توګه خپل یو پوسټ اشغال کړي. خو د هغې ورځې وروسته په افغانستان کې هر څه پر بد مخ واوښتل. دی وايي چې دا یوه بدمرغي وه. د ملي یووالي ټولي هڅې په اوبو لاهو سوې. اردو او وسلې یې سره ووېشل سوې، هرې ډلې چې په کومه وسله، ټانک یا الوتکې نیولې وې خپل دډلې نوم به یې پر لیکلی و. د کرزي د اټکل له مخې د دوو درو کلونو په جریان کې ډېر ښه افغان هوايي ځواک چې څلور سوه روغې الوتکې او سل څرخې الوتکې یې لرلې او په سوونو ښه روزل سوي پیلوټان یې په ډېره اساني سره له منځه ولاړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کابل د درو ځلورو ډلو تر منځ وویشل سو. چې نور افغان ښارونه هم همداسي در واخله. کندهار چې د کرزي پلرنی کور دئ، قومي وفادارو د ډلو ځای ونیو او ښار د درو ځلورو قومونو تر منځ سره وویشل سو. یوازینی ځای چې د یوه کس په واک کي و هغه غربي ولایت هرات و چې د ایران سره پر پوله پروت دئ. کرزی وايي چې د اسمعیل خان تر قوي رهبری لاندي هرات جوړ پاته سو او ژوند هم پکښې ډېر ښه و، چې وروسته بیا کرزي هغه کابل ته راوست. هر چیري د ښارونو په شمول د ډلو تر منځ خپل منځي جګړه پیل سوه. ځورونه د هري ورځي کار وګرځېد. دی هغه ته د افغانستان د ودانیو، ملکیتونو، میراثونو، قانونیت او په لویه توګه د خلکو د ژوندا اساسي بربادي وایي. ما تاسي ته د اساسي ورانۍ وویل دا ځکه چې زه په دې باور یم چې دا د دغو ډلو هدف و چې د افغانانو ژوند ور وران کړي او هیواد د بېوسۍ منګولو ته ور ټېل وهي. پر روسانو باندي زموږ بری په غمیزه او ماته بدل سو.

پروفیسر مجددي یوازي تر خپل ټاکلي وخت پوري چې دوې میاشتي و واک په لاس کي درلود، چې وروسته یې رهبري شورا ته واک وسپاره او هغوی د افغاني لنډ مهالي اداري مطابق چې په پېښور کي ټاکل سوی و رباني د ولسمشر په توګه وټاکی. خو د کرزي په نظر اصلي مشکل وروسته رادبره سو. حکمتیار همدا پروسه رد کړه او پر کابل یې راکټونه و اورول، چې په زرونو خلک یې ووژل او بې شمېره ودانۍ یې ورانـي کړې. د مسعود ځواکونو په جواب کي د حکمتیار پر مرکزونو حمله وکړه چې په همدې ترڅ کي نور ګروپونه هم په جګړه کي ورګډ سول. کرزی وايي چې ځیني ورځي خو به له کورونو څخه نه سو وتلای او کله کله خو به راکټونه زموږ په کورونو کي هم ولګېدل. دی وايي چې زما په

(c) ketabton.com: The Digital Library

شخصي کور کي دوه ځله راکټونه ولګېدل. مورږ کوښښ کاوه چي حکومت همداسي فعاله وساتو، خو ناممکن و. لنډه مهاله اداره په خپله تر دې وروسته په خورا بېوسه توګه وبشل سوې وه. کرزی وايي چي يوه ورځ د بهرنيو چارو په وزارت کي زما دفتر ته يو پوليس راغی ماته يې وويل چي مورږ دوه کسه پاکستانيان نيولي دي چي هغوی د نورو دو کسانو سره ليدل سوي وه، چي د لومړي وزير له دفتر څخه رارروان وه. کرزي وايې ما وويل چي دا څنګه امکان لري چي مورږ دي همداشي بهرنی نړۍ او افغانانو ته تشريح کړو چي د ولسمشر کسان دي له دې کبله يو څوك توقيف کړي چي د لومړي وزير له کسانو سره قدم وهي.دا داسي يوه نړۍ وه چي هر څه پر خپل سر پکي روان و، چي په مکمله توګه د عادي او نورمال حالت اصول پکي له منځه تللي وه، چي دا شي هر چا ته څرګند و.

د بهرنيو چارو د وزير په توګه د ده د رول له مخي کرزی په بار بار د ملګرو ملتونو او په غرب کي د خپلو زړو ملګرو څخه مرسته وغوښتله خو هيچا يې پر خبره غوږ ونه نيوی. کرزی وايي چي دا اوس ډېره روښانه وه چي د شوروي اتحاد تر ماتېدلو وروسته افغانستان غربيانو پرېښود خو حتی مورږ د غرب د پرېښوولو دا نښي په ١٩٨٩ م کال کي د روسانو تر وتلو وروسته لانه ليدی ځکه چي وسلي د جنېوا د تړون پر خلاف را روانې وې. تر هغه وخت پوري چي کله مورږ په پېښور کي و د غرب ډيپلوماټيکه ټولنه زمورږ سره په چارو کي دخله وه خو چي کله مجاهدينو په کابل کي واك تر لاسه کړ غرب ولاړ.

امريکا خو د CIA د افغان عملياتو تر بندولو څو مياشتي وړاندي کډه بار کړه. د برطانيې سفارت چي د روسانو د ټولـه اشغال او د کمونيستي حکومت په جريان کي پرانيستی و وتړل سو. کرزی وايي چي ما هغوی ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

په خورا ټينګه وويل چې دا کار مه کوئ، خو هغوی وکړ. د امريکا سفارت خو څو کاله وړاندې لا افغانستان پرې ايښی و، حال دا چې د امريکا حکومت د روسانو ضد جګړه کې د افغان مقاومت ملاتړ کاوه. خو اوس د ۱۹۹۲ م کال په پسرلي کې دا دخالت پای ته رسېدلی و. افغانستان د يوه بې ارزښته دولت حيثيت خپل کړی و. کرزی وايي چې د دغو غميزو د لړلي تر شا دغه سببونه وه چې موږ افغانان يې په کلونو د اور په لمبو کې وسوځولو چې وروسته يې په ۱۱/ ۹ کې امريکا او ټوله نړۍ په غبږ کې راونغاړل.

د غرب د ملاتړ پرته افغانستان د نورو د اغېزو په مخنيوي کې ناتوانه و او دا دغرب دښمني ايډيالوژۍ وې چې غرب د دغه خطر په پېژندلو کې پاته راغلی و. د سعودي شتمن اسامه بن لادن چې وروسته پر غرب د حملو له کبله د نړۍ تر ټولو ستر غوښتونکی جنايتکار سو د جهاد تر پردې لاندې يې په خورا ارامه توګه خپل فعاليتونه کوله چې د نولسوه اتيايمو کلونو په جريان کې د پېښور په شاوخوا کې ليدل کېدی. هغه په سعودي کې بسپنه راغونډول تر څو توندلاري ډلې په حمايه کړي، لکه حکمتيار او سياف او ځوان سعوديان به يې په افغانستان کې د جګړې له پاره استخداموl. د ۱۹۸۸ م کال په شاوخوا کې يې يوه ډله جوړه کړه، چې په القاعده سره وپېژندل سول. چې ورته (Matia costa nostra) وايي چې ساده مفهوم يې بنسټ کېدای سي. د شاهي کورنۍ سره د ده د تقريري مخالفت په پايله کې هغوی دي په ۱۹۹۱ م کال کې له هيواد څخه وشړی او ده خپل ټول پام په افغانستان او افريقا کې د راډيکال اسلامي غورځنګونو و ملاتړ ته واړوی، په سوډان کې يې يو کور رانيوی چې له هغه ځايه به يې په يمن او افريکا کې امريکايي هدفونه په نښه کول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کرزی د مجاهدینو دوره د نورو ځواکونو له پاره د لویو مداخلو وخت بولي چې البته دا مثبتي مداخلې نه وې. دی وايي چې هیواد په نابېره توګه د ټولو ګاونډیانو د پلانونو له پاره پرانیستل سو. که چیري دوی غوښتل چې وران یې کړي کولای یې سوای. که یې زړه سوی وای چې یوه ډله د هغه بلې په وړاندي وجنګوي ورته مشکل نه وه. که یې غوښتي وای چې وژني وکړي په مخ کي ورته کوم خنډ نه و. ځینو مصلح کسانو غوښتل چې د افغانستان په اړه خپل اواز پورته کړي خو هغه چا نه اورېده. افغانسان خپل اواز له لاسه ورکړی و، او دا چې غربیان له افغانستان څخه پر شا سول د کرزي په وینا په لوی لاس د افغانستان ټولواکي کمزوري سوه.

کرزي بالاخره په ۱۹۹۹ م کال کي کابل پرېښود ځکه چې نور هلته د ده له پاره ژوند کول ناممکن و. دی وايي چې د ولسمشر رباني او بهرنیو چارو د وزیر سیاف سره یې ښې اړیکي لرلې خو په کابل کي حالت ورځ تر بلې خرابېدی. د بې نظمۍ په دغه دوران کي به کرزي هره ورځ وزارت ته د کار راپور ورکاوه، ماسوا له هغو ورځو څخه چې راکټي حملې به خورا ډېري وې او مور به له کوره نه سوای وتلای. وروسته یوه ورځ یو افغان چې ده نه پېژندی د ده دفتر ته راغلی ورته وې ویل چې ولسمشر رباني غواړي ستا سره ووینې. دی وايي چې زه یو څه شکمن سوم ځکه چې دا هغه عادي لار نه وه چې زه به ولسمشر ورغوښتم سره له دې بیا هم ما ورته وویل چې داسي ده نو درځه. هغه ناآشنا کس کرزی یوې ودانۍ ته بوتلی چې دی ډېر ښه پوهېدی چې دلته رباني د چا سره نه ګوري او لوړ منزل ته یې رهنمايي کړ، چې هغه ځای د تحقیقاتو د دفتر غوندي ښکارېدی. موږ کښېنستو چې یو بل نابلده کس هم راغی او زما

(c) ketabton.com: The Digital Library

څخه يې پوښتنې پيل کړې داسي چي څوک د ملي نجات پر طرف و؟ مختلفو کسانو د چا خوا ونيول؟ دا دغو کسانو خورا ناوړه پوښتنې وې چي زه هيڅ نه پوهېدم چي دا څوک دي چي زما څخه پوښتني کوي. د کرزي ژوند شايد په خطر کي لوېدلی وای ځکه چي دی په غيرخوندي ځای کي د ناپېژندلو کسانو سره په يوه وژونکي او ډاروونکي ښار کي و. خو کله چي به اوس ده جواب ورکاوه او يا به يې د تشريح له پاره غوښتنه ځني کول، راکټ د همدې ودانۍ پر سر ولګېد، خاوري، ډبري او د ښيښو ماتي ټوټې پر دوی راشوه سوې. کرزی له ودانۍ څخه وتښتېد او وزارت ته راغلی هلته يې وويني او هغه دوړي و خاوري له ځان څخه پرېولې او د بهرنيو چارو وزير يې پيدا کړ او له پېښي څخه يې خبر کړ. هغه ډېر حيران سو چي داسي پېښه څنګه امکان لري چي تر سره دي سي، چي دا زما او ستا دواړو له پاره يوه اشاره ده چي نور حالات د کنټرول څخه بهر دي. وروسته ما ده ته وويل چي نور دا ځای زما څخه پاته دئ. کرزي موټر کرايه کړ له هغه ځايه پېښور او بيا کوټي ته ولاړ. رباني دغه پېښه په سختو ټکو وغندل او هغه خلک چي له ده څخه يې پوښتني کړي وې د افغانستان دښمنان وبلل خو په هغه وخت کي د ده خبرو چنداني ارزښت نه درلود.

د هغه وخت کيسې ويل د ځوروني، ورانۍ، هيواد پلورني او د افغانستان د خلکو د غميزي او غربت پارونه ده. داسي ډېري کيسې سته چي هغه کسان چي خپل هيواد ته راستانه سول، څنګه بيرته پاکستان او ايران او نورو هيوادونو ته وتښتېدل. کرزی وايي چي د ډېرو داسي دسيسو کيسې سته چي د بهرنيانو لخوا پر لار اچول سوي وې تر څو د افغانستان روح ور ووژني.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغـه دا و چـي طالبـان صـحنې تـه راوړانـدي سـول او د افغانـانو
اکثریت د حامد کرزي په شمول د هغوی خوا ته ور مات سول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# (۵)

# د طالبانو راپورته کېدل



(c) ketabton.com: The Digital Library

طالبان چي په لومړي سر کي د مجاهدينو له پخوانيو ډلو څخه جوړ وه راپورته سول، ځکه يې طالبان بلل، چي د مذهبي ښوونځيو څخه راوتلي وه. طالب په اصل کي مذهبي عالم ته ويل کېږي. دغو ښوونځيو ته مدرسې هم وايي چي د پاکستان په خاوره کي موقعيت لري او زده کوونکي يې هغه افغان ځوانان دي چي کورنۍ يې د روسانو د اشغال په وخت کي پاکستان ته مهاجري سوي وې.

مدرسې د اسلام ډېر زيږ او سختګيره شکل تدريسوي، چي تر جګړې وړاندي افغانانو هغه هيڅ نه پېژانده. ډېرو افغانانو د سوني اسلام په حنفي ښوونځيو کي زده کړې کړې دي چي د قرآن تر ټولو د زغمه ډکه ترجمه ده. په پاکستان کي مدرسې وهابيزم تدريسوي چي په لويه پيمانه د سعوديانو لخوا راوړل سو، چي غوښتل يې د روسانو له خوا د اشغال سوي افغانستان په مذهبي او سياسي چارو کي نفوذ وکړي.

د ځوانو افغانانو جذبېدنه او د دغه ايسار سوي ديني زده کړو په اړه د دوی د نه پوهي له کبله مدرسو دغه متعصب ځوانان سره راغونډ کړل، تر څو د طالبانو تر سپين بيرغ لاندي د مذهب په نامه مارچ وکړي.

په ۱۹۹۴ م کال کي رواني کورنۍ جګړې هيواد ټوټه ټوټه او په يوه بې قانونه دولت او د سيمي د ټوپکسالارانو او بدمعاشانو په خوندي ځای يې بدل کړ. افغانانو سولې، نظم او ثبات ته ډېره اړتيا لرله او دوی طالبان خپل ژغورونکي وليدل، په نولس سوه نويمو کلونو کي طالبان د يو ځواک په توګه د راپورته کېدو په حال کي وه، چي د ۱۹۹۴ م کال په پسرلي کي تر يوې پېښې وروسته په پرهېزګارو سره مشهوره سول. کرزی هغه کيسه داسي کوي، چي په کندهار کي يو ټوپکسالار له خپلي حريفي ډلي څخه دوې نجوني وتښتولې چي وروسته د هغه ټوپکسالار په مرکز

(c) ketabton.com: The Digital Library

کي ورسره ډله ییز جنسي تېری وسو، د طالبانو یوې کوچنۍ ډلي پر هغه مرکز حمله وکړه، نجوني یې آزادي کړې او هغه خلک یې په دار وځړول. د دغي ډراماتیکي ژغورني خبر خورا ژر په پراخه کچه خپور سو. پاکستانیانو دا یوه موقع وګڼل او د طالبانو سره یې د وسلو، وسایطو او نظامي مشاورینو مرسته پیل کړه. پاکستان د هغي ستري تجارتي لاري چي مرکز یې اسیا ته غزېدلی دئ، چي د افغانستان له جنوب څخه تېرېږي په اړه ډېر تشویش درلود، دغه لار د حکمتیار د ځواکونو لخوا کنټرولېده، د دې مخالفت یې وکړ چي دغه پاکستاني بار سوي موټران دي افغانستان ته نه را اوړي، او هلته دي پر پوله په افغاني موټرانو کي خالي سي. حتی تر دې وروسته هم لاره ډېره ډاروونکې وه او اکثره به دغه موټران د وسلوالو داړه مارانو لخوا تښتول کېدل. کله چي طالبانو سرحدي ښارګوټی سپین بولدک د اسلامي حزب له ځواکونو څخه ونیوی، پاکستان دوی دې ته وهڅول چي هغه تښتول سوی کاروان راخوشي کړي چي البته دوی هم همدا کار وکړ. په همدې اوونۍ کي طالبانو کندهار ونیوی او د کابل پر لور په حرکت کي سول.

کرزی وایي د کندهار هر سړی پخپله طالبانو ته تسلیم سو، ځکه وژني، لوټماری او ورانی لا رواني وې د کله چي د مجاهدینو ډلو یو د بل په وړاندي جګړه پیل کړې وه. د مجاهدینو ځینو ډلو د طالبانو سره جګړه وکړه خو ډېر ژر یې له دې کبله ماته وخوړه چي طالبانو په پراخه اندازه ملاتړ تر لاسه کړی و او مجاهدینو هم د زړه له کومي جنګ نه کاوه. کرزی وایي چي موږ د دغه غورځنګ په اړه خورا لوړي هیلي لرلې، موږ هیله لرل چي طالبان به سوله راولي او افغانستان به بیرته افغانانو ته په لاس ورکړي. ولسمشر رباني، ما او نورو ګروپونو د دوی حمایت وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

طالبانو د شمال پر خوا مخ پر کابل روان سول، او په غرب کي د هرات پر خوا چي د اسماعیل خان له خوا اداره کېدی، د ده ځواکونو د څو اوونیو له پاره مقاومت وکړ خو بالاخره د ۱۹۹۵ م کال د سپټمبر په میاشت کي هرات د طالبانو لاس ته ولوېدی. اسماعیل خان ایران ته مهاجر سو، طالبان په همدې کال د کابل تر څنډو پوري ورسېدل، د لاري په اوږدو کي به یې د حکمتیار ځواکونه خالي سلاح او ماته ورکول خو د احمدشاه مسعود د ځواکونو له خوا چي د کابل د ساتلو هڅه یې کول مخه ونیول سوه. بالاخره طالبانو چي په پراخه اندازه د پاکستان او سعودیانو لخوا اکمال سوي وه د ۱۹۹۶ م کال د اګست په وروستیو کي یې جلال آباد چي د مرکز شرقي دروازه وه ونیوی او تر هغه یوه میاشت وروسته یې کابل پخپله ولکه کي کړ. برطرفه سوی کمونیست ولسمشر نجیب الله چي د ۱۹۹۲ م کال راهیسي یې د ملګرو ملتونو په دفتر کي پناه اخیستې وه له هغه ځایه راوایست او د ولسمشر ماڼۍ ته نژدې یې په دار وځړاوه. طالبانو دوه کاله په شمال کي د مزار شریف د نیولو له پاره چي د دوستم ټینګ مرکز و د ډېرو تلفاتو په ورکولو سره جګړه وکړه خو دغه چاره ډېر ژر په پاکستاني مدرسو کي د طالبانو په استخدامولو او د وسلو او موټرو په اکمال سره تر سره سوه. د ۱۹۹۸ م کال په مني کي طالبانو د افغانستان پر ۹۰ فیصده خاوره کنټرول درلود. هغه نوره ۱۰ فیصده خاوره چي د شمال غرنۍ سیمه وه د احمدشاه مسعود او د تاجکو، ازبکو او هزاره وو د شمالي اتحاد تر یوه بیرغ لاندي اداره کېده. طالبان په دې ونه توانېدل، چي د شمال دغه سیمي تر خپل واک لاندي راولي خو په نور ټول افغانستان کي یو زیږ قانون حاکم کړ. په تدریجي توګه هیواد د بهرنیانو لخوا یرغمل سو چي داسي اسلام یې ورته راوړ چي نړۍ یې سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولړزول.

کرزی وايي چي افغانانو په لومړي سر کي ځکه طالبانو ته ښه راغلی ووايه چي قانون او نظم يې رامنځته کړ چي تر دې وړاندې بې قانوني، وژني او ورانی روان و. هر ځای چي به طالبانو نيوی هلته به سوله راتله. خو هلته به ډېر فشار او خورا ډېر ټينګار و. دوی هيواد شا ته بوتلی او ټوله هغه منځلاري شيان يې بند کړل چي په پراخه توګه منل سوي دي.

د ساعتيري پر ټوله فورمو، د کاغذباد الوزولو په شمول بنديز لګېدلی و. دوی خلک دې ته اړ ايستل چي راډيوګاني او تلويزيونونه مات کړي او د هر ډول موسيقۍ پر اورېدلو بنديز و. نارينه له ږيري خريلو څخه بند سوي وه. د ورځي پنځه وخته لمونځ چي د افغانانو عادت ګرځېدلی دئ چي په هر ځای کي يې وخت راورسېد تر سره کړي اوس بايد په مسجد کي ادا سوی وای، خو پر ښځو د بنديز له کبله بيا طالبان د بهرنۍ نړۍ د ډېري غندني سره مخامخ وه. هيڅ ښځي نه سوای کولای چي بې له محرم کس څخه چي هغه به هم بالغ وي تر کور بهر ووزي، خو دا بيا د هغو ښځو له پاره خورا لوی مشکل و، چي مړونه به يې په جګړه کي وژل سوي وه. حتی که به يو څوک هم ورسره و نو بورقه يې بايد اغوستې وای. ښځو ته د کار او زده کړي اجازه نه وه خو دوی وعده کړې وه چي کله پر ټول شر او فساد بريالي سي بيا به د نجونو ښوونځي پرانيزي او کرزی وايي چي دوی لا خپل هغه شکنجو، د لاس و پښو پرېکولو او د اعدامولو قانون ته زور وکړی و. خو غرب ته تر ټولو تکان ورکوونکی شي د کوچنيو خطاوو له کبله په جادو کي د خلکو وهل، په لوبغالو کي د سرونو پرې کول او په ډبرو ويشتل چي خلکو به هغه ته په ډېره خاموشي

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره کتل.

طالبانو د خبرو نه کولو او هیڅ معاملې تر سره کولو قانون هم وضع کړ. کرزی وایي کله چې طالبانو کابل ولکه کړ دوی له دې څخه انکار وکړ چې د مجاهدینو د هغه ډلو سره قدرت شریک کړي چې له دوی سره یې د کابل په نیولو کې مرسته کړې وه او زیات دغه ناراضه مجاهدین د طالبانو پر ضد سول. کرزی له همدې غورځنګ څخه په لومړي سر کې بېل سو. د طالبانو په اړه چې په لومړي ځل په بدو شیانو وپوهېدم هغه په ۱۹۹۴ م کال کې د اعتراض په شکل کرزي په کابل کې د مجاهدینو د غیر فعال حکومت ته استعفی ورکړل، کابل یې پرېښود او کوټې ته راغلی چې هلته تر اوسه لا د پروفیسر مجددي مرکز موقعیت درلود. د طالبانو یو غړی چې یو ملا و کرزي د سرو لښکرو سره د جګړې راهیسي پېژنده د ده لیدلو ته راغلی. دغه ملا د افغانستان څخه راغلی او یو ناروغ یې راوستی او له کرزي څخه یې وغوښتل چې داسي زمینه ورته برابره کړي چې دغه مریض جرمني ته او یا بل غربي هیواد ته د تداوي له پاره ولېږي. کله چې مو د ناروغ کس په اړه خبري پای ته ورسولې د افغانستان په اړه بحث شروع سو. ده وویل ښاغلې کرزیه! د طالبانو دغه غورځنګ مخ په وړاندي ځي خو زه غواړم تاسي ته یو شی ووایم، زموږ تر منځ مېږ و او دغه ملا خپل لاس لوېشت کړ او پر مېږ یې کېښېښود او ویې ویل: بهرنیان چې زموږ هره لوېشت خاوره نیسي د زرګونو افغانانو وینې به وبهوي. دوی به د دې له پاره زموږ په زرګونو خلک ووژني. دوی به هیڅ رحم ونه کړي. دا د طالبانو د غورځنګ دریمه میاشت وه، چې زه په دغه لومړي خطر وپوهېدم چې هر څه سم نه دي.

راتلونکي خبر یو بل ملا چې ملا یارمحمد نومېده ورته راوړ. یوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورځ هغه په کوټه کي د کرزي دفتر ته ورغی او ورته ويې ويل چي په دغه تحريک کي داسي کسان سته، چي موږ يې نه پېژنو. دوی په ناڅاپي توګه زموږ په هيواد کي راښکاره سول. دا څوک دي؟ موږ هغوی نه پېژنو. خو تر اوسه لا خورا مجهز او خورا ښه وسلې لري. دا څه روان دي؟ ولي موږ افغانان دونه مسکينان يو چي دغه بهرنيان بيا خورا په غوره کي دي.

همدا رازونه همداسي پسې ښکاره کېدل، کله چي طالبان د کابل پر لور روان وه داسي چي سيمي به بېله د افغانانو د ښکاره دخالت څخه ورته تسليمېدلې. په داسي حال کي چي د طالبانو مهم مشران او قوماندانان په کندهار کي وه او ځايونه به ورته تسليمېدل. کرزی وايي دا چا کول؟ د رازونو افشا کېدل په همدې شان روان وه او زه وپوهېدم چي د طالبانو غورځنګ څونه تر اغېزې لاندي دئ.

په غورځنګ کي يوه بله نښانه هم راد بره سوه : په ۱۹۹۵ م کال کي هيڅ افغان طالب د کرزي سره تماس نه درلود. زه په دې وپوهېدم چي دوی زما سره په تماس نيولو کي مايوسه سوي دي او په کوټه کي زموږ کور ته راسي چي ما او زما پلار د پروفيسور مجددي په اداره کي کار کاوه او په دې هڅه کي و تر څو غربي هيوادونه افغانستان ته د مرستي له پاره رامات کړو. طالبانو به له کرزي سره د يوه مخالف کس په توګه کتل. چي البته دوی صحي هم وه. د ۱۹۹۵ م کال په نيمايي کي دی په دې وپوهېدی چي ځيني شيان خورا بد پر خرابېدو دي، ځکه چي طالبانو افغان کريکټر بايله او غورځنګ يرغمل سوی و. د چا له خوا؟ کرزی وايي چي يوه ورځ د څرخي الوتکي يوه پيلوټ چي ماله ډېره وخته راهيسي پېژانده زما د ليدلو له پاره څو واره زموږ کور ته راغی خو د دريم او که د څلورم مجلس په جريان کي يې ما ته وويل چي ما د طالبانو له پاره يوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وظيفه تر سره کړل. ما ته وويل سول چي يو لوی ږيري عرب سړي د څو نظامي افسرانو سره د شرقي ولايتونو له يوې سيمي څخه کندهار ته راوړه. دی وايي چي دغه عرب د پيسو دوه ډک بکسونه د ځان سره لرل او دی د طالبانو مرکز ته ورغلی چي د ملا عمر او ملا رباني سره وګوري.

د دغه پيلوټ د کيسې تر اورېدلو وروسته کرزی په دې خبر سو چي د عربي هيوادونو ډېر کسان د نورو بهرنيانو سره د کندهار د هوايي ډګر شاوخوا سيمي ته راغلي دي.

په همدې شان ډېري همدا ډول کيسې کرزي ته د هغو پخوانيو مجاهدينو لخوا ويل کېدې چي د جهاد له وخت راهيسي يې ورسره پېژندل او په افغانستان کي د ننه د روان بحران څخه خبر وه. وروسته نوموړی وپوهېده چي طالبانو پر هغه بنديزونه لګولي دي. يوه کس ده ته وويل چي په کندهار کي د بهرني استخباراتي شبکي يوه افسر راته وويل چي د کرزي څخه ليري ګرځه. وروسته چي کله امريکايي ځواکونو په هغه پسي د سوالونو د جوابولو له پاره کتل موږ د هغه د تسليمي چاري منظمي کړې خو هغه پاکستان ته وتښتېد هلته د پاکستانيانو له خوا ونيول سو او امريکايانو ته يې په لاسه ورکړ چي هغوی بيا ګوانتنامو ته ولېږه. د همدې تېښتي له کبله ده خپل ځان مشکوک مجرم ثابت کړ. يو بل وخت چي طالبانو کابل ولکه کړ او په شمال کي د احمدشاه مسعود د ځواکونو سره په جګړه لګيا وه يو ځوان طالب په کوټه کي زموږ کور ته راغلی او زما د ليدلو له پاره يې هلته څو ورځي تېري کړي وې. بالاخره يوه کس وويل چي دغه نفر د يوې هفتې راهيسي انتظار کوي که چيري وخت لرې له هغه سره وګورئ. د هغه سره مي د ماخستن تر ډوډۍ وروسته وخت وټاکه کله چي ډوډۍ وخوړله سوه، هغه مي په لوړ منزل کي خپل د

(c) ketabton.com: The Digital Library

مجلس خوني ته راوغوښت، چي موږ به هلته کار کاوه. ما ترې وپوښتل چي تاسي څوک یاست؟ ده کرزي ته خپل نوم ووایه او هغه نفر په مرکزي افغانستان کي د ارزګان ولایت څخه و. ده کرزي ته وویل چي زه د پروان په ولایت کي وم، چي دا ځای د کابل شمال پلو ته دئ او هلته مي یو ډېر نابلده شی ولید. ده وویل چي زه د طالبانو د هغه ۱۵۰ کسیزي ډلي غړی وم چي موږ ته وظیفه راکړل سوه، چي د پروان ولایت د غوربند د سیمي کنټرول په لاس کي واخلو. خو کله چي موږ د هغه ولسوالۍ کلي ته ورسېدو چي نور ځواکونه بیا د وړاندي لا هلته رسېدلي وه او ډېر خلک یې وژلي وه. موږ هغه څوک و چي باید پر دغه ځای مو حمله کړې وای.

دغه ځوان کرزي ته وویل چي په دا سبا سهار موږ د څلورو پنځو SUVموټرانو کاروان ولیدی، چي توري سیښې یې وې له دوی څخه تېر سول. دی وایي چي کله دوی تېر سول موږ زموږ قوماندان سره راغونډ کړو او راته ویې ویل چي دا یو راز دئ، چي دا خلک څوک وه او څوک هلته تر موږ مخکي ورسېدل. موږ د چا له پاره جګړه کوو؟ ما فکر کاوه چي موږ د افغانستان له پاره جنګېږو، د ښه حکومت له پاره جګړه کوو خو دلته اوس نور کسان دي. دغه قوماندان ولاړی چي د همدې شیانو په اړه ښه فکر وکړي، چي وروسته یې بېرته موږ سره راټول کړو. ده خپلو جنګیالیو ته وویل چي زه نور په دغه جګړه باور نه لرم. دا زموږ جنګ نه دئ. دا افغاني شی نه دئ، په تاسي کي چي هر څوک غواړي ولاړ سي کولای سي ځکه چي دغه کسان به سزا ونهویني.

دغه ځوان طالب کرزي ته وویل چي وروسته ما خپل ګروپ پرېښووی خپل کلي ته راغلم او هلته مي دا کیسه خپل پلار ته وکړه، هغه راته وویل چي کوټي ته ولاړ سه هلته همدا کیسه حامد کرزي ته وکه. دا د

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه ځوان داستان و، چې تر هغه وروسته د کرزي د کور څخه ولاړ او بیا یې تر اوسه نه دئ لیدلی.

کرزی وايي چې دغه پېښې زه په دوو شیانو باوري کړم، یو دا چې د افغانستان په ورانولو کې د بهرنیانو لاس و بل دا چې زه یې په سهېل ختیځ کې د طالبانو په مخالف مرکز بدل کړم. ما نه دغه طالب پېژانده او نه هم د هغه پلار، خو بیا هم هغه خپل زوی سیده ما ته راولېږه.

د کرزي په باور چې یو څرګند لاس او هڅې په طالبانو کې لیدل کېدې، چې افغانستان بې حرمته کړي. نژادي نفرت راولاړ کړي. د افغان ټولنې سپکاوی وکړي، زړه ورتوب یې ور مسخه کړي او په خپلو کولمو یې نس ور وګنډي. دوی غوښتل چې افغانان بې عزته کړي. د خپل پېژند څخه یې محروم، غیرانساني او بې کلتوره یې کړي. د بېلګې په توګه چې ښځه د خپل خاوند په مخ کې وهل او یا مېړه یې د خپلې ښځې په وړاندې له دې کبله په بازار کې وهل او سپکول چې مېرمنې یې غلط رنګ بوټونه په پښو کړي دي. کرزي ته په همدې اړه د ملګرو ملتونو د یوه کارکوونکي لخوا چې د بنګله دیش هیواد اوسیدونکي و د هغو تاکتیکونو په اړه وویل چې کله ده په افغانستان کې د کار کولو پر وخت لیدلي و. ده ماته وویل چې زه په افغانستان کې د بنګله دیش په شان د توهینونکو پېښو شاهد یم او کله چې ما هغه ولیدې سمدستي وپوهېدم چې خورا اساسي هڅې رواني دي تر څو د افغانانو څخه خپل تهذیب واخلي، اروا یې ور ووژني، او په مذهبي توند لاریتوب یې وربدله کړي. اسلام؟ طالبانو هیڅ اسلام نه عملي کاوه، برعکس دوی اسلام ته د ماتې ورکولو اله وه چې د همدې له پاره راوتلې و چې اسلام او افغانستان یو ځای سره وران کړي. هر څه چې دوی تر سره کړل هغه د اسلام پر ضد وه. د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښځو سپکاوی اسلام نه دئ، کوچنیان د ښوونځیو څخه محرومول اسلام نه دئ، د ژوند اخیستل د اسلام پر ضد دي او خپل هیواد خرڅول د اسلام پر ضد کار دئ.

کرزی په دې باور دئ، چې طالبان د بهرنیو ځواکونو اجنټان سول، تر څو افغانستان د زرګونو کلونو د تاریخ او کلتور څخه بې برخې کړي او افغانان هغه وخت په دې و پوهېدل چې د افغاني مشرانو اساسي وژني پیل سوې، چې په هغو کې د کرزي خپل پلار، او بل لوی قوماندان عبدالحق وژل او د بامیانو د بتانو ورانول شامل وه. د بودا دغه جوړه مجسمې چې یوه یې ۱۷۵ فوټه لوړه په بامیانو کې په یوه پرښه کې ۱۸ سوه کاله په افغانستان کې تر اسلام وړاندې جوړه سوې وه، دا یوه تاریخي خزانه وه، خو طالبانو هغه د ۲۰۰۱ م کال په اپریل کې په چاودېدونکو توکو او توپونو ونړول او ذره ذره یې کړل. چې په نړۍ کې یې په پراخه توګه پر ضد مظاهرې وسوې. کرزی وایي چې افغانانو دا کار غلط باله، خو په هغه وخت کې دوی د همدې شي د مخنیوي له پاره توان نه درلود. په هزاره بامیانو کې د طالبانو څخه نفرت کېده، هزاره ګانو د شمالي ټلوالي په ملاتړ په مزارشریف کې جګړه وکړه خو د طالبانو له خوا په اساسي توګه د کسات اخیستلو له کبله ووژل سول. د بامیانو اوسني اوسېدونکي وایي چې دوی د دې شاهدان دي چې دغه بتان د پاکستان د نظامي مشاورینو لخوا ونړول سول.

که څه هم کرزی او پلار یې په افغانستان کې نه وه، خو دوی د هغو پخوانیو مجاهدینو له کبله چې په پخواکي یې ورسره ملګري وه او اوس د طالبانو د غورځنګ غړي وه په واسطه په افغانستان کې معلوماتو ته په پراخه کچه لاس رسی درلود. دغه معلومات کرزیانو ته پر هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

سربېره راتلل چي د کرزي سره د تماس نه نیولو اخطارونه ورکول کېدل. کله چي د داسي کیسو اورېدل ډېر سول چي د طالبانو په غورځنګ کي د افغانانو واک ورځ تر بلي لږېږي کرزی په دې فکر کي سو چي د طالبانو په وړاندي یو مقاومت سره منظم کړي. کرزی وایي تر دې وړاندي چي موږ دغه مرحلې ته ورسېږو موږ کوښښ کاوه چي له دوی سره خبري وکړو. موږ د ۱۹۹۵ م کال په پیل کي یو لوړ رتبه پلاوی کندهار ته د ملا عمر سره د لیدلو له پاره ورولېږی خو ده له موږ سره د لیدلو څخه انکار وکړ او خپل مرستیال دوهم لمبر کس ملا رباني یې د هیئت سره د لیدلو له پاره ور ولېږی. د کرزي پلاوي دوی ته وړاندیز وکړ، چي طالبان دي د افغان کارپوهانو څخه مرسته وغواړي لکه اقتصاد پوهان، انجنیران او تیکنوکراتان چي هیواد پر پښو ودروي. خو طالبانو دغه وړاندیزونه رد کړل. کله چي طالبانو په ۱۹۹۶ م کال کي کابل ونیوی دوی حامد کرزی په ملګرو ملتونو کي د خپل استازي په توګه وټاکی، خو ده دغه وظیفه د ځینو ښکاره لاملو له کبله رد کړه. دی وایي چي ما به د افغانستان نماینده ګي نه کولای بلکي د بل چا استازی به وای. په ۱۹۹۸ م کال د طالبانو د بهرنیو چارو وزیر چي تر اوسه لا د کرزي نږدې ملګری و، ورڅخه وغوښتل سول چي د امریکا د شاردافیر سره وګوري. چي طالبانو وروسته دغه پېښه په رسمي توګه پر کرزي تړل. امریکایي شاردافیر وویل چي امریکا داسي معلومات تر لاسه کړي دي چي د خوست په ولایت کي د ترهګرو روزنیز مرکزونه دي کوم چي د افغانتسان سهېل ختیځ کي د پاکستان پر پوله پروت دئ. د بهرنیو چارو وزیر وویل ډېر ښه که تاسي زما څخه په دې اړه پوښتنه کوئ زه خو په داسي هیڅ شي نه یم خبر او نه موږ هلته کومي اډې لرو، شاردافیر وویل چي موږ شواهد لرو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

وزیر وویل که تاسي د دغو شیانو په اړه معلومات لرئ نو په دې به هم پوهېږئ چي دغه اډې چیري دي، د هغوی اکمالاتي لاري درته معلومي دي او تاسي باید په دې هم خبر یاست چي چا جوړي کړي دي او د دغو فعالیتونو اصلي مرکزونه چیري دي. نو په دغه قضیه کي تاسي د اصلي سړي سره خبري نه کوئ. د کرزي په قول چي د درو میاشتو په جریان هغه وزیر د خپلي دندي څخه لیري سو. د تروریستانو د روزنیزو مرکزونو مسئله د طالبانو تر وس تېر کار و.

د ۱۹۹۵ م کال په پای کي کرزي په آزاده توګه د طالبانو مخالفت پیل کړ او په ۱۹۹٦ م کال کي په فعاله توګه یې د دوی د مخالفینو په راغونډولو لاس پوري کړ. دا د ملي نجات د رهبري سره د بحث کولو څخه راپیل سو او د نورو منځلارو افغانانو سره چي په کوټه کي اوسېدل او له هغه ځایه پاشل سوي وه. په اسلام آباد کي د غرب د مختلفو هیوادونو د سفارتونو سره په ملاقاتونو کي به کرزي د طالبانو په وړاندي خبري کولې او غربیان به یې په غورځنګ کي د راپورته کېدونکي خطر له نښو څخه خبرول. مګر په یوه سفارت کي د ملاقات پر وخت یوه غربي ډیپلومات ده ته وویل چي تا د طالبانو پر ضد خورا خپله خوله پرانیستې ده. سړیه له ځان سره پام کوه هغوی به دي کوکي موکي کړي. خو کرزی وایي څونه چي به زه په افغانستان کي له حالاتو خبرېدم هغونه به زه د طالبانو مخالف واقع کېدم.

ده په اسلام آباد کي غونډې تر سره کړې او بله یې په استانبول کي د افغان ګروپونو سره ملاقاتونه وو. دغه پروسه ډېره لویه سوه چي په ۱۹۹۸ م کال کي په فرانکفورټ کي یې لویه غونډه راوبلل چي ورپسې څلوېښت مخور افغان مشران په روم کي سره جرګه سول کرزی وایي چي

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر هغه وروسته د طالبانو ضد دغه غورځنګ ډېر ژر وغوړېدی، او هر یوه لکه رباني، ملي نجات، احمدشاه مسعود او مورږ ټولو برخه پکښې اخیسته. د دغو خبرو نتیجه دا سول چي دا ټوله د افغانانو حل و او هغوی د لویي جرګې د رابللو پرېکړه وکړه. د طالبانو ضد دغه ټلوالي اعلامیه خپره کړه چي د نړۍ مطبوعاتو هم ورته توجه وکړل. مورږ همدا شان دا اعلامیه طالبانو ته ولېږل او هغوی ته مو په لویه جرګه کي د ګډون بلنه ورکړه خو دا هر څه یې رد کړل.

کرزي په دوامداره توګه د نړیوالي ټولني سره په تماس کي و او په هفته واره توګه به یې په اسلام آباد کي د امریکا، برطانیې، فرانسې، جرمني او ایټالیا له سفارتونو څخه لیدني کولې. کرزي په منظمه توګه روم ته شاه ته د حالاتو په اړه د راپور ورکولو له پاره سفرونه کول او ده د طالبانو د نسکورولو له پاره یوه پلان هم جوړ کړي و چي د لوي جرګې جوړول هم پکي شامل و.

کرزي څو واره واشنګټن ته سفرونه وکړل د سنا د بهرنیو اړیکو کمېټې ته یې وینا وکړه او د بهرنیو چارو د وزارت د مامورینو سره یې د سنا او پارلمان په ډېرو غونډو کي ګډون وکړ. دی وایي چي دې کار بېله دې چي سیاسي ملاتړ تر لاسه کړم نور کومي خاصي پایلي نه لرلې. په افغانستان کي د نظامي عملیاتو له پاره هیڅ ملاتړ نه و موجود. شاید افغانستان دونه مهم نه و او د افغانستان غمیزه او د افغانانو وژنه د دغو هیوادونو له پاره کوم د اندېښني وړ شی نه و. مورږ یو غریب هیواد و په تجارتي لحاظ مو دوی ته څه نه سوای ورکولای. کرزی وایي چي غربي حکومتونو د افغانستان مسئلې ته د غرب په عینکو کي کتل. زه اوس پوهېږم چي دوی به شاید غوښتل چي زمورږ ملاتړ د اصولو له مخي وکړي او دوی زمورږ په

(c) ketabton.com: The Digital Library

زړونو او روح کي د دې توان نه ليده چي موږ دي طالبان راوپـرزوو. دوی پوازې پر ټانکونو او توپونو حساب کاوه. دوی د دغه ځواکمن ملت د زړه اواز نه اورېده چي دا هر څه تر سره کولای سي، خو نه دا چي په افغانستان کي رواني غميزې ته د پای ټکی کښېږدي.

د قـومي مـشرانو څخـه نيـولې د ناراضـه طالبـانو پـه شـمول او ژورنالستان په کوټه کي د کرزي کور ته راتلل او د بي بي سي، امريکا ږغ او آزادی راډيو له پاره به يې مرکې ورسره کولې. د ده ږغ وزن درلـود چي دی په هغه وخت کي نه و په خبر، خو د بي بي سي دري او پښتو څانګو به افغانانو ته معلومات رسول چي حتی طالبانو د دغسي پروګرامونـو پـر اورېدلو بنديز لګولی و خو ډېرو افغانانو به په پټه غوږ ورته نيوی. کرزی وايي چي په يوه مرکه کي ما پر طالبانو ږغ وکړ، چي د بهرنيانو څخه خپل ځانونـه جـلا کـړي، مـا ويـل چي پروګـرام ستاسي سره يعنـي د افغـاني طالبانو سره نـه دئ دا بهرنـي طالبـان دي چي هيـواد يـې يرغمـل کـړی دئ. دغه نشراتو خورا زياتي اغېزې لرلې، تـر دې وروسـته افغـاني طالبـان تـر ډېر فـشار لانـدي راغلـل ځکـه چي پـر دوی بانـدي نـور هغـو بهرنيـانو چي غورځنګ يې کنټرولوی اعتبار د لاسه ورکړی و.

د طالبانو او د هغوی د پلويانو له پاره د کرزيانو فعاليتونه د يوه زنګ په معنی وه او حامد د دوی يو ښکاره او ژبور مخالف راڅرګند سو. لومړی دوی هڅه وکړه چي دی راضي کړي. يو ځل دوی ده ته قومي مشران ور واستول چي ته څه غواړې؟ راسه زموږ سره يو ځای سه کـه غـواړې چي د بهرنيو چارو وزير سې موږ به دي همدا اوس وټاکو. په جواب کي کـرزي ملا عمر ته يو ليک وليکه، چي په هغه کي راغلي وه، چي افغـانـانو سـتا څخه ډېري هيلي لرلې خـو تـا دوی تـه غـم او مايوسي راوړل. داسي چي

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغان کوچنیان دي له ښوونې څخه محروم کړل. په هیواد کې آزادي نسته او همدا شان داخلي جنګونه. ما ده ته وویل چې یوازینۍ لار چې هیواد له دغه غمیزي راوباسي هغه د لویي جرګې رابلل دي، چې بله هیڅ لاره نسته. ببله دې چې فنا کېږي. ملا عمر په جواب کې وویل چې زه ستا د ځینو غوښتنو سره موافق یم خو نه د لویي جرګې سره.

طالبانو همدا شان کرزي ته د ده د سرکښو فعالیتونو او د طالبانو پر ضد د وینا له کبله اخطار هم ورکړ، چې په پایله کې یې په ۱۹۹۹ م کال کې پلار ور مړ کړ. دی وایي چې شاید دوی به په ما پسې وه دا چې دوی زه نه سوم پیدا کولای نو زما پر ځای یې زما پلار وواژه. خو ما پر خپل ځان چاپېر هیڅ څوک نه لرل چې ما دي وژغوري، حامد او پلار یې څو واره د ممکنه ترور په اړه سره ږغېدلي و خو مشر کرزي به ویل دوی په ما هیڅ هم نه کوي ځکه چې زه سپین ږیری یم او له بله پلوه دوی پوهېږي، چې دا ټولي چاري ته تر سره کوې. له ځان سره دي پام کوه. حتی یوه ورځ تر هغه وړاندي چې د ده پلار ووژل سي د کرزي په یاد دي چې په کوټه کې هغه زما کور ته چې دده د کور په مخامخ کوڅه کې و راغلی او زموږ ځینو کسانو هغه احاطه کړی او بدرګه کاوه. ده ورته وویل چې دا تاسي هلکان څه کوئ؟ دوی به په ما هیڅ هم ونه کړي بلکې د ده پر شاوخوا راټول سئ یعني د حامد امنیت وساتئ. خو په دا سبا مشر کرزی وویشتل سو او مړ سو.

د کرزي د پلار دا هیله وه، چې په خپل کلي کې دي ښخ سي. د ده د همدې هیلي د پوره کولو په خاطر حامد کرزی د خپلو ملګرو افغانانو د درناوي له پاره همدا کار وکړ. دی وایي چې ما یې جسد له کوټې څخه د افغانستان کندهار ته انتقال کړ. په سلګونو کسان به په مراسمو کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګډون له پاره راتلل خو طالبانو هيڅ مزاحمت ونه کړ.

د ده د پلار تر وژلو وروسته په پاکستان کي د امريکا سفير ده ته وويل چي بايد نور دا ځاى پرېږدي ځکه چي کېداى سي هغوى تا هم ووژني، کرزي په جواب کي ورته وويل زه به هيڅ کله ولاړ نه سم، ددې پر ځاى چي ما ته د دې ځاى د پرېښوولو ووايي زما سره مرسته وکه. طالبانو په وار وار هڅه وکړه چي دى ووژني خو تر هغه وروسته د ده امنيت خورا ټينګ ساتل کېده. دى وايي چي خداى موږ وساتلو.

د ۲۰۰۰ م کال په جون کي کرزى د افغانستان کندهار ته (د شپې ليکونه واستول) چي هلته په پټه ووېشل سي چي په هغه کي يې د خلکو څخه غوښتي وه چي د طالبانو په وړاندي مقاومت وکړي او دغه رژيم ته خاتمه ورکړي. په ليک کي دا هم ويل سوي وه چي هيواد پر بهرنيو خرڅ سوى دئ او په خپله يې د افغانانو تر منځ مشکلات راپورته کړي دي. کرزي واي چي موږ يو ۱۵ کلن کوچنى پر بايسکله د شپې ناوخته د کندهار شاوخوا ته ولېږى او هغه د دغه ليک دوولس سوه کاپۍ توزيع کړې. طالبان وارخطا سول، او په زياته اندازه ځواکونه يې ښار ته ور داخل کړل، سړکونه يې وتړل او په ټوله ښار کي يې مورچلونه ونيول.

د ۲۰۰۱ م کال وروسته چي کله طالبان له واکه ګوښه سول، دوى هم همدا د شپې د ليکونو خپرول په کليو کي پيل کړل، په هغو کي به يې خلک ګواښل چي که د ناټو او ائتلافي ځواکونو سره همکاري وکړي نو د وهلو، شکنجه کولو او د مرګ د سزا سره به مخامخ سي.

د دې ټولو سره کرزي د هر چا سره چي غوږ به يې نيوى خبري کول جاري وساتل او د طالبانو په وړاندي کار يې همداسي جاري روان و. چي دقيقه په دقيقه په افغانستان کي دننه خلکو ته ټليفونونه کول هغوى به

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې په کوټه کي منل او له هغوی څخه به يې معلومات تر لاسه کول او ورته ويل به يې چې په افغانستان کي څه روان دي او کوښښ به يې کاوه چي د هغوی موږال ور لوړ کړي. کرزي وايي کله چي نړۍ زموږ مرستي ته راغله او موږ منظم سولو سبب يې دا و چې موږ دغه بې شانه ملاتړ مخکې تر لاسه کړی او منظم کړی و. د هغه پيلوټ کيسه چي څو مياشتي وړاندي يې د يوه ړيره ور او جګ عرب په اړه ويلې وه چي د پيسو دوه ډک بکسونه ورسره وه و کرزي ته خبرداری و، چي د پاکستان تر څنګ نور خارجي عناصر هم په افغانستان کي د نفوذ غځولو په هڅه کي دي. دغه جګ عرب ببله شکه اسامه بن لادن و. کله چي ده د نولس سوه اتيايمو کلونو د جهاد په جريان کي خپل ځان په افغاني چارو کي ور داخل کړ، نو ده د منځلاري پروفيسور مجددي د ملي نجات سره هيڅ اړيکي نه ساتل د هغه پر ځای يې دې ته ترجيح ورکول چي خپلي پيسې او ايډيالوژي چي په توندلارو اسلامي ډلو کي نفوذ وکړي په ځانګړې توګه د حکمتيار او سياف سره.

په هر صورت هر يو زموږ په شمول د دې مسئوليت لري اوبايد وغندل سي چي داسي کسانو ته يې د راتګ اجازه ورکول، مګر غرب او راډيکال توند لارو مسلمانانو يو ځای کار سره کاوه، هيڅوک نه سي کولای غرب ددغه مسئوليت څخه خلاص کړي چي د دوی د مرستو څخه څه کوچ راووتل. په دا خورا نژدې وخت کي چي په افغانستان کي مذهبي توندلاري توب غوړيدلي و ملت يې سپک کړ او افغانانو ته يې لويه غميزه راوړل. اسامه په آزاده توګه کولای سوای چي په کندهار او د هيواد په نورو برخو کي خپل د روزني مرکزونه جوړ کړي له همدې امله نو نړيوالي ترهګرۍ په يوه داسي هيواد کي چي فعاله هوايي ډګرونه،

(c) ketabton.com: The Digital Library

الوتکي او په پراخه پيمانه وسلې يې لرلې خپل وزرونه وغوړول .

په ۱۹۹۸ م کال کې چې کله د طالبانو د بهرنيو چارو وزير امريکايي شاردافير ته ويل چې دوی په خوست کې د ترهګرو د اډو په اړه هيڅ معلومات نه لري په همدې وخت کې په شرقي امريکا کې نايروبي او دارالسلام کې القاعدې د امريکا پر سفارتونو بمي بريدونه وکړل. د اګست پر اوومه په يوه وخت کې دغه موټرو چاودنو ۲۵۰ کسان ووژل اوپه سلګونو نور يې ټپيان کړل. امريکا په مستقيمه توګه بن لادن په دغو حملو کې په لاس لرلو تورن کړ. د اګست پر ۲۰ مه ولسمشر کلنټن د افغانستان په خوست کې د اسامه بن لادن ښوونيز مرکزونه او په سوډان کې يوه فابريکه چې د اسامه بن لادن ملکيت و او د امريکا د استخباراتو د راپورونو له مخې چې دا ځای اټومي وسلو بټۍ ده په کورز توغنديو وويشتل.

کرزی نن پوښتي چې ايا ولسمشر کلنټن په هغه وخت کې تر دې نور څه نه سوای کولای؟ که په هغه وخت کې نړۍ تر هغه ډېر څه کړي وای د نيويارک غبرګولي ټاورونه به نن ولاړ وای. دغه قوي درس مخکې لا هېر سوی و مشکل بيا راپيدا سو، او افغانستان يو ځل بيا ژغورلو ته اړتيا لرل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# (٦)

# د ۲۰۰۱ کال د سپټمبر ۱۱ مه

## په افغانستان کې د تروريزم پر ضد د جګړې پيل



(c) ketabton.com: The Digital Library

د ۲۰۰۱ م کال د سپتمبر پر نهمه دوه عرب د ژورنالستانو په بڼه یوه ویډیو کیمره عیار کړل او د افسانوي قوماندان احمدشاه مسعود چې د پنجشېر د زمري لقب یې ګټلی و پخپله پلرنۍ غرنۍ ښایسته دره کې چې په بریالۍ توګه د هغه په دفاع توانېدلی و د مرکې امادګي ونیول. مسعود د روسانو سره د جګړې په اوږدو کلونو کې ژوندی پاته سو، چې هغوی په وار وار هڅه وکړه، چې مځکه په بمباریو، ټانکونو او توپونو پر هغه باندي سور تنور وګرځوي. ده او د ده تاجک، ازبک او ترکمن اردو په دوامداره توګه روسانو ته سرخوږی جوړ سو او د شمال غرونه یې د جګړو په ټول جریان کي وساتل.

کله چې په ۱۹۹۲ م کال کي کمونیستي حکومت رانسکور سو، مسعود د مجاهدینو د بې اتفاقه حکومت د دفاع وزیر سو. کله چې په ۱۹۹۶ م کال کي طالبانو کابل ونیو دی غرونو ته پر شا سو او هلته یې په تکرار سره د طالبانو حملې د روسانو په شان پر شا کړې. چې د هغوی نظامي افسرانو د مجاهدینو په ټولو نظامي قوماندانانو کي ده ته د هوښیار قوماندان په توګه قایل وه. روسانو وروسته دی د طالبانو په وړاندي په جګړه کي حمایه کاوه.ښایسته، جادوګر، هوښیار او توریالي مسعود خورا لږ غرونه پرېښوول خو د هغو ژورنالیستانو سره به یې په ازاده توګه مرکې کولې چې پنجشېر ته به ورتلل او د افغان لانجې په وخت کي یو نړیوال اتل سو. ده د طالبانو سره وسله واله مبارزه کوله او په ځو ځو واره یې د امریکا او غربي هیوادونو څخه وغوښتل چې له ده سره د افغانستان څخه د طالبانو او د هغوی د عرب ملګرو په شړلو کي مرسته وکړي.

همدې شي دی نه یوازې د طالبانو او د هغوی د مشر ملا محمدعمر په

(c) ketabton.com: The Digital Library

دښمن بدل کړ، بلکي د اسامه دښمني هم ور تر غاړې سوه، چي په يو ترهګر سره پېژندل کېده او په ۱۹۹۸ م کال کي په افريقا کي د امريکا پر سفارتونو د حملو طراح و.

مسعود د هغې کېمرې مخ ته کښېناست چي هغه عرب عيار کړې وه، تر څنګ يې پخوانی ملګری مسعود خليلي ناست و، چي اوس د مسعود په اداره کي په هندوستان کي سفير و. او د اسلامي وحدت سره يې تړاو درلود. خليلي د انګليسي په شمول په څو ژبو ږغېدلای سي، چي په دغو عربو کي د يوه يې هم انګليسي زده وه.

يوه عرب کېمره روښانه کړه، چي سمدستي ورسره چاودنه رامنځته سوه. يو ډېر زوره ور بم په هغه کي ځای پر ځای سوی و او د مسعود کسانو د هغه په چيک کولو کي غفلت کړی و. مسعود ډېر شديد زخمي سو. يو عرب ځای پر ځای مړ سو او هغه بل چي کله د تښتي هڅه کوله د مسعود د ساتونکو لخوا ووژل سو. مسعود خليلي او فهيم دشتي چي پر مسعود يې مستند فلم جوړاوه هم سخت ژوبل سول.

مسعود ګاونډي تاجکستان ته په څرخکه کي واستول سو، چي هلته يې ملګرو خورا زيات کوښښ وکړ، چي هغه وژغوري خو وې نه سوای کولای، خو ځيني څارونکي بيا وايي چي مسعود په هغه چاودنه کي سمدستي مړ سو.

دا حمله د القاعده کار و، خو دا چي دغه وژني د ۱۱ سپټمبر له پېښي سره تړاو درلود که نه لاتر اوسه نه ده روښانه. خو دا هم سر سره لګوي چي بن لادن غوښتل چي مسعود تر ۱۱ سپټمبر تر پېښي وړاندي له مخي ليري کړي او ځواکونه يې سره بې نظمه کړي، ځکه چي دی پوهېده چي امريکا به په امريکا کي تر حملو وروسته په طالبانو پسې راځي، خو

(c) ketabton.com: The Digital Library

حامد کرزی په دې نه دئ خبر چې د دغو پېښو تر منځ تړاو و که نه. سړی نه پوهېږي چې د دغو دوو پېښو تر منځ ته تړاو و او که په تصادفي توګه یې وختونه سره برابر سول. دا هغه څه دي چې شاید موږ هیڅکله په خبر نه سو. په څه چې موږ پوهېږو هغه دا چې یو لوی افغان توریالی مو د لاسه ورکړ.

په ژوند کې مسعود اتل و خو په مړیني یې د پیر مقام تر لاسه کړ. ده ته د ملي اتل لقب ورکړل سو او د هغه تصویرونه به د دوکانونو پر دېوالونو او په کورونو کې ځړېدل او یو رنګه تصویر یې چې څو منزله لوړ دئ د کابل په ترمینل کې د کرزي د کوچني عکس تر څنګ مښتی دئ. کاشکې مسعود ژوندی وای چې خپله شمالي ټلواله یې لیدلې وای چې طالبان له کابل څخه باسي او د ولسمشرۍ له پاره یو ځواکمن کاندید و.

د ۲۰۰۱ م کال د سپټمبر پر ۱۱ مه کرزی په اسلام آباد کې و او د سفارتونو دوره یې کوله چې پر مسعود د حملې یې واورېدل خو په هغه وخت کې لا دا څرګنده نه وه چې د پنجشېر زمری وژل سوی دئ. کرزی تر ۱۱ سپټمبر یوه میاشت مخکې له مسعود سره لیدلې وه او د طالبانو په وړاندې پر روان کمپاین سره رېغبدلي وه او پر دې موافقې ته سره نژدې سوي وه چې دغه رېغیز مخالفت به په وسله وال شورش اړوي. په اسلام آباد کې د ورځې تر ملاقاتونو وروسته کرزی د ماښام د ډوډۍ دمخه قدم وهلو ته ولاړ، دا په اسلام آباد کې د ورځې پای خو په متحده ایالاتو کې د نه هېرېدونکې ورځې پیل و.

کرزی وايي چې زما موبایل ټلیفون ته زنګ راغی. دا زما د ورور ږغ و، چې ویل یې یوه الوتکه د نیویارک په ښار کې د نړیوال تجارتي مرکز له یوه ټاوره سره ولګېده، کله چې مې دا واورېدل زه دستي

(c) ketabton.com: The Digital Library

وپوهېدم چي دا اشتباه نه ده، کله چي یوه بله الوتکه د نړیوال تجارتي مرکز د هغه بل ټاور سره ولګېدل زه پوه سوم چي دا یوه تروریستي حمله ده.

د ورور تر ټلیفون وروسته کرزی د سبا ورځي له پاره په سفارتونو کي خپلي غونډې وځنډولې. دی وایي چي تر دې وروسته به نو د دوی هغه ټول څه ور په زړه سوي وي چي ما په دا تېرو شپږو کلونو کي ورته ویل. کرزي غرب ته د خطرناکه توندلاري غورځنګ په اړه خبرداری ورکړ، چي د طالبانو تر واکمنۍ لاندي یې په افغانستان کي خوندي ځایونه پیدا کړي وه. ده کوټي ته د تګ تیاری ونیو، او په دې پوهېده چي نور د خبرو وخت تېر دئ او هغه وخت رارسېدلی دئ چي افغانستان ته دننه ولاړ سم او طالبان له واکه لیري کړم.

یوه ورځ وروسته کرزی کوټي ته راورسېد په سلګونو کسان له ټولو سیمو څخه و ښار ته راغلي او دوی په دې باور وه چي اوس نو باید یو څه تر سره سي. کرزی د طالبانو په وړاندي پېژندل سوی مشر و او افغانانو هغه ته د لارښووني له پاره کتل. د طالبانو تر واکمنۍ لاندي افغانستان په یوه تیاره هیواد بدل سوی و، چي یوازي پاکستان، سعودي عربستان او متحده عربي اماراتو په رسمیت پېژانده. اوس پر متحده ایالاتو باندي ترهګرو بریدونه کړي وه چي هغوی په افغانستان کي تربیه سوي وه او د اسامه بن لادن له خوا هلته د ځانمرګي عملیاتو له پاره لېږل سوي وه، نو له همدې کبله افغانانو په عکس العمل کي د امریکا او د ملګرو د یوې لویې حملې تمه لرل. کېدای سوای چي افغانستان بیرته افغانانو ته حواله سوی وای.

کرزی وایي چي زموږ د کور پر شاوخوا خورا لویه ګڼه ګوڼه وه او

(c) ketabton.com: The Digital Library

نور هم پسې را روان وه. په راتلونکو څو ورځو کي مي په پټه افغانستان ته د تګ تابيا وکړل. چي زه لا د وړاندي دې کار ته چمتو وم. کرزی په تېر مارچ کي د هرات د ځواکمن قوماندان اسمعيل خان سره وليدل، چي اوس په ايران کي د طالبانو له کبله مهاجر سوی دئ، چي چاري سره همغاړي کړي. تر دې وړاندي شمال ته د مسعود د ليدلو له پاره تللی و. نو نور څه هغه دا چي پاکستان د کرزي د وېزې د اوږدولو څخه انکار وکړ، چي شايد دا به د طالبانو ضد فعاليتونو له امله و. دی وايې چي زما له پاره نور څه نه وه پاته چي تر سره يې کړم. زما له پاره يوازينۍ لار دا وه چي يا به تسليمېدلای او يا به افغانستان ته دننه تللای، تر څو حمايت تر لاسه او جګړه وکړم.

تر دې څو ورځي وړاندي چي کرزی کوټه پرېږدي ده خپل ورور ته وويل چي د ده له پاره پيسې پيدا کړي او ورور ته يې وويل چي زه افغانستان ته ځم. هغه ډېر حيران سو او ما ته يې وويل چي خپل له دې پرېکړي څخه تېر سم، خو ما ورته وويل چي نه زه به خامخا ځم. د دا سبا ورځي د ماپښين پر پنځه بجې کرزي خپلي مېرمني ته وويل چي زه سرحد ته د يوه ملګري وفاتحي ته ځم چي زما يو څو جوړې کالي، د غاښو برس او کريم سره تيار کړي. دې وويل چي نو بيا دې شيانو ته څه اړتيا ده. ته کولای سې چي په يوه ګړي کي ولاړ سې او بيرته راسي. ما ورته وويل چي خبره داسي نه ده که زه په دوو ورځو کي نه راغلم او يا مي ټليفون نه راوکړ، نو ما هېر کړئ. د کرزي مېرمن ډېره حيرانه سوه، خو تر دې چي هغه نور څه ووايي کرزي دروازه بنده کړه او ووت. کرزی وايي چي ما نه غوښتل چي هر چا ته دا موقع ورکړم چي ما دي له خپلي پرېکړي څخه واړوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په کوټه کې د هغو ورځو په جریان کې چې دی لا افغانستان ته نه و تللی له ډېرو خلکو سره چې په هغه کې د امریکا نامعلوم چارواکي هم شامل وه ولیدل، او هغوی له ده سره ژمنه وکړه چې کله ته افغانستان ته ننوزي نو ستاسي مرسته به کوو. خو دی په دې نه پوهېدی، چې څونه ژر او په څومره پیمانه به امریکا په افغانستان کې د نظامي لحاظه مشغوله سي. له ده سره د نظامي ملاتړ وعده وسوه، خو په دې ډاډه نه و چې معنی هوایي ملاتړ دئ که مځکنی. ځواکونه دي او که یوازي وسلې او مهمات دي. کله چې کیسه ښکاره سوه ده دا هر څه او تر دې زیات لرل.

د ۱۱ سپټمبر تر پېښې وروسته د بوش اداري توجه د ساعتونو اوورځو په جریان کې افغانستان او اسامه ته راواوښتل. واشنګټن له پاکستان څخه ځیني غوښتني وکړې چې په هغه کې د پاکستان هوایي اډې او خاوره د امریکایي نظامي عملیاتو د مرکز په توګه کارول و، خو په دغو شیانو کې ځیني شیان د پروېز مشرف له پاره د سیاسي نګاه څخه ډېر ګران وه، چې ورسره موافق سي. د دې ټولو سره پاکستان په افغانستان کې د طالبانو حکومت په رسمیت پېژانده او استخباراتي اداره ISI یې د دغه غورځنګ په چارو کې ډېره داخله وه.

د بوش اداري د دې غوښتنه هم وکړه چې طالبان دي اسامه ونیسي او دوی ته دې وسپاري، په اسلام آباد کې د طالبانو استازي وویل چې دوی اسامه ته د افغانستان پرېښوول وویل، خو د هغه په وړاندي به اقدام ونه کړو.

په افغانستان کې د اسامه د ترهګرو د روزلو کمپونو تر ۱۱ سپټمبر وروسته خورا ژر خالي سول او د امریکا د حملو د بېري له کبله په غرونو کې سمڅو ته وتښتېدل، چې د امریکایي بم غورځوونکو الوتکو

(c) ketabton.com: The Digital Library

له پاره يې هيڅ مهم هدف پرې نه ښود. امريکايي نظامي پلان جوړونکو د بمبار له پاره په کابل کې ځيني هدفونه تر لاسه کړل چې کولای يې سوای د طالبانو پښې ور سستي کړي، خو په کورنۍ جګړه کې د هيواد زيربنا نړېدلې وه. دوی تر ټولو ښه لار دا ګڼل چې افغانستان ته کمانډو واستول سي، هلته د ترهګرو روزنيز مرکزونه او پټن ځايونه له منځه يوسي او د شمالي ټلوالي په مرسته چې اوس يې مشري د احمدشاه مسعود د مشر نظامي قوماندان محمدقسيم فهيم پر غاړه ده پر کابل او نورو ځايونو حمله وکړي او د اړتيا په وخت کې د امريکا د هوايي ځواک څخه کومک وغواړي. امريکايي چارواکو د شمالي اتحاد او پښتنو له مشرانو سره چې په هغه کې حامد کرزي او وتلي جهادي قوماندان عبدالحق او حتی په روم کې له ظاهرشاه سره خبري پيل کړې. باچا وويل چې دی غواړي د يوه سمبول په توګه د افغانانو خدمت وکړي او دوی بيرته سره راټول کړي او ده زياته کړه چې هيڅکله به بيا تخت قبول نه کړي. متحده ايالات همدا شان د ائتلاف جوړولو په هڅه کې وه چې په هغه کې برتانيه هم د نظامي ملګري په توګه ورسره وه.

دا ښېره وار په وار پر ډېرېدو وه، چې د امريکا حمله به طالبان بې نظمه کړي. داسي راپورونه هم وه چې طالب سرتېري اماده دي چې شمالي اتحاد ته تاوان ور واړوي، ملا عمر چې مرکز يې په کندهار کې و او له هغه ځايه يې افغانستان اداره کاوه د خپل دفتر څخه ووت په غرونو کې پټ سو، له ده سره دا ښېره وه چې کېدای سي ځيني کسان د ده خوا پرېږدي او حامد کرزی يې پر ځان راټول کړي.

کله چې کرزي کوټه پرېښووله شپه يې د افغانستان او پاکستان پر پوله د خپل يوه ملګري سره تېره کړه. سهار وختي يې هغه کور پرېښود

(c) ketabton.com: The Digital Library

او د سهار ناري يې د خپل يو بل ملګري کور ته ورسوي، هلته يې د خپلو درو ملګرو سره وليدل چې د ده د طالبانو ضد غورځنګ غړي و. ده وويل موږ پر موټرسايکلانو سپاره بګړۍ مو وتړلې پولي ته پر عمومي لاره ور روان سولو. دغه وخت ببغمي وه او پر سړک چندان موټران نه وه. همدارنګه پر پوله نه ډېر پاکستاني عسکر او نه هم ډېرطالبان وه چې له همدې کبله موږ تر سرحد ببله کوم مشکله څخه واوښتو. دا چې د امريکا د خورا درنې هوايي بمبارۍ تمه کېده نو پر موټرسايکل سپرو کسانو ته د چا توجه نه ور اوښتل. کله چې دغه کوچنۍ ډله د کندهار هوايي ډګر ته راورسېدل، ډېر طالبان يې وليدل چې د پاکستان څخه راتلونکي او تلونکو موټرانو تلاښي يې اخيستل. کرزی وايي چې زما يوه ملګري راڅخه وپوښتل چې اوس بايد څه وکړو؟ ما جواب ورکړ چې هسي باندي درځه که يې ودرولو ويې درولو او که يې نه ودرولو ځني تېرېږو به. همدې شي کار وکړ ځکه چې طالبان د لويو موټرانو په چيکولو مصروف وه او موږ ته يې هيڅ پام نه سو. موږ له دوی څخه تېر او خدای موږ وساتلو.

دغه کسان د کندهار ولايت يوه کلي ته ولاړل، هلته ډېره آرامي وه هيڅوک شاوخوا نه تر سترګو کېدل، دوی د کرزي د اکا د زوی کور ته ورغلل خو چې هر څه يې دروازه وټکول چا جواب ور نه کړ. کرزی وايي چې بالاخره زما يو ملګری راغی موږ يې خپل کور ته بوتلو زموږ يې ښه عزت وکړ، د ماخستن ډوډۍ يې راکړه او د خوب له پاره يې ښه ځای. تر دې ټولو وروسته دا هغه سيمه وه چې کرزی پکښې لوی سوی، ډېر قريبان او انډيوالان يې دلته اوسېدل، او د ده کورنۍ دلته د ښه نامه څښتنه وه. اوس چې ده مرستي ته اړتيا لرل دوی ببله پوهېدلو ورسره وکړه. په دا سبا سهار کوربه دوی ته راغلی او ورته ويې ويل کومه وظيفه چې تاسي پر

(c) ketabton.com: The Digital Library

غاړه اخیستې ده خورا درنه ده. بیرته کوټې ته ولاړ سئ ناحقه خپل ځانونه مه وژنئ. کرزي له ده څخه مننه وکړه او ورته ویې ویل چې نه. د همدې ملګري په کومک دوی د ورځې په نیمایي کې یې دغه کور پرېښود او د یوه بل د تره زوی کره ورغلل. د اکا زوی دوی ته د غرمې ډوډۍ ورکړه هغه ډېر بېرېده چې حتی خپله د دوو کالو لور یې هم مېلمستون ته نه پرېښوول، چیري چې دوی ناست وه. په همدې شپه د امریکا بمبارۍ پیل سوې.

امریکایي الوتکو به له هندي سمندر څخه د الوتکو لېږدوونکي بېړۍ څخه پروازونه کول او حتی د امریکا په متحده ایالاتو کي له اډو څخه به یې پروازونه کول او په افغانستان کي به یې هدفونه ویشتل، په امریکایي او برتانوي کورز توغندیو به په افغانستان کي د طالبانو نظامي اډې نوري مشکوکي قرارګاوي د ترهګرو روزنیز مرکزونه او د وسلو ډیپوګان ویشتل کېدل. د کابل په شمال کي د شمالي ټلوالي سرتېري د لومړۍ لیکي پر لور وخوځېدل او د مرکز څخه د یوې حملې په اندازه لیري وه.

په کندهار کي بمونه د طالبانو پر لویو وسله تونونو ولګېدل، او راکټونه هري خوا ته په ښار کي موښتل. کرزی وایي چې موږ بهر راووتلو ډېر خلک مو پر سړکونو ولیدل، چې د چاودنو څخه تښتېدل. موږ بل داسي ځای هم نه درلود چې ورسو نو له همدې کبله په همدې هیله چې راکټونه به راباندي ونه لګېږي همدلته پاته سوو.

په دا سبا د کرزي د ډلي سره د طالبانو مخالف ډلي یو بل ګروف یو ځای سو، چې هغوی لا د وړاندي د کندهار شمال ارزګان ته لېږل سوي وه، دغه ډلي پر دې خبري سره وکړې چې په کندهار کي پاته سي او که

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترینکوټ ته ولاړ سي، چي د ارزګان ولایت مرکز دئ، او له کندهار څخه ۷۰ مایله لیري د شمال خوا ته دئ. کرزی وایي چي فیصله پر دې باندي وسوه چي ترینکوټ ته ولاړ سو، یو ټکسي موټر مو راوغوښت، چي زموږ یوه ملګري چلوی او د ترینکوټ پر خوا روان سولو. موږ د شپې تر اتو بجو پوري سفر وکړ چي یو داسي ځای ته راورسېدو چي هلته د طالبانو ډېر ځواکونه پراته وه او د شپې پر اته بجې به ګرځ بندیز لګېده چي له همدې ځای څخه هیچا ته د تېرېدو اجازه نه ورکول کېده. یوه طالب پیره دار دغه کسان ودرول او موټر یې تلاښي کړ. هغه یو شی پیدا کړ چي کېدای سوای دوی ټوله یې په مشکل اخته کړي وای چي هغه ستلایټ ټلیفون و.

په افغانستان کي د سرو لښکرو تر وتلو وروسته په کورنۍ جګړه کي د ټلیفون سیستم وران سوی و. د مجاهدینو قوماندانان د جهاد په دوران کي په دې عادت سوي وه چي خپلي ټولي چاري او نظامي عملیات د لاسي مخابره له لاري سمبال کړي. موبایل ټلیفونونه چي تر طالبانو وروسته په افغانستان کي د نړیوالو اړیکو برقراره کوونکي سول، بندیز پر لګېدلی و خو د اوږدې فاصلې د تماس نیولو له پاره یوازي ستلایټ ټلیفونونه وه.

پیره دار ټلیفون راپورته کړ او ویې پوښتل چي دا څه شي دئ؟ د کرزي یوه نفر جواب ورکړ چي دا مازي یو بکس دئ، هغه وویل چي د مازي بکس څخه دي مطلب څه شي دئ؟ طالب وویل چي زه پوهېږم دا بکس نه دئ. هغه یو افغان طالب و د کرزي په نظر چي هغه خورا زورور افغاني احساس درلود. د امریکا په بمباریو سره ډېر طالبان په دې فکر کي وه چي له کوم طرف سره ودرېږي، کرزي نه غوښتل چي وپېژندل سي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځکه چې یوه بله ډله یوې غونډۍ ته ور وختل تر څو هلته د طالبانو قوماندان راضي کړي، چې دوی پرېږدي. د طالبانو قوماندان وویل پروا نه لري تاسي کولای سئ چې ولاړ سئ.

کرزی وایي چې کله یې ایله کړو ټکسي مو دونه تېز کړ چې په توان کي یې و، چې یوه رود ته ورسېدو او هلته ځني راکښته سوو. تر رود واوښتو بیا پر پښو روان سولو، چې د شپې پر یوولس بجې د ترینکوټ څنډې ته د یوه ملګري کور ته راورسېدل او شپه یې همدلته تېره کړه.

په دا بله ورځ دغه ډلي د دغه ملګري کور د لمر لوېدو پر مهال پرېښود او د ترینکوټ هغه بلي خوا ته د یوه محافظه کاره ملا کور ته ورغلل چې کرزي له ډېر پخوا څخه پېژندل او اوس یې ورور د ارزګان په ولایتي اداره کي قاضي و. تر دې وړاندي چې موږ هلته ورسېږو ما هغه ملا ته پیغام ولېږه چې قومي مشران راغونډه کړي، کله چې موږ هلته ورسېدو نو هغه قومي مشرانو هلته انتظار کاوه. کرزی وایي چې تقریباً د شپې پر نهه بجې ما په افغانستان کي دننه د طالبانو پر ضد خپل لومړی مجلس تر سره کړ. په دغه غونډه کي زما دوه ملګري ملا او څلور قومي مشران حاضر وه.

تر دې وړاندي چې کرزی څه ووایي یوه قومي مشر کرزي ته وویل چې موږ په دې پوهېږو چې ته د څه له پاره راغلی یې ایا امریکا ستا ملګرې ده؟ کرزي ورته په هو جواب ورکړ او ویې ویل چې حتی تر یوولس سپټمبر وړاندي زه نه یوازي د امریکا سره په تماس کي وم بلکي د فرانسې، ایټالیا، برتانیې او نورو سره مي اړیکي لرلې، چې هغوی زما سره د مرستي ژمنه کړې ده. ما تر دې وړاندي چې افغانستان ته راسم له واشنګټن، روم څخه مي پیغامونه تر لاسه کړل او په کوټه کي مي د

(c) ketabton.com: The Digital Library

امریکایې چارواکو سره ولیدل. کرزی وایي په څه چي زه نه پوهېدم هغه دا و چي دوی به راسي او که به یوازي وسلې راولېږي، وروسته ملا وویل چي ستا سره خوستلایټ ټلیفون درسره دئ امریکایانو ته ټلیفون وکه چي راسي په ترینکوټ کي دطالبانو د قوماندې پر مرکزونو بمباري وکړي.

کرزي ورته نه وویل او زیاته یې کړه چي دی به داسي کار ونه کړي. دی وایې ما وویل چي دا زما ضمیر نه قبلوي چي امریکایانو ته ووایم چي زما خلک او هیواد رابمبار کړي. ملا وویل چي داسي ده نو بیا خو ته ډېر یو وطن پال انسان یې. کرزی هم په هوجواب ورکړ. ملا وویل په داسي حال کي به نو ته ګټونکی نه بلکي بایلونکی یې.

کرزي په قار جواب ورکړ، چي ستا مطلب څه دئ؟ وروسته ملا وویل ښه نو چي داسي ده نو ولس ستا سره دئ، او موږ به تاتر وروستۍ سلګۍ پوري وساتو. خو دغه کسان چي موږ یې په وړاندي دربرو ډېر ظالمان دي او له هیواد څخه بهر پراخ ملاتړ لري، چي پر موږ به هیڅ رحم ونه کړي. دوی به موږ بمباري کړي، کورونه به مو په راکټونو راوولي او د ښځو او کوچنیانو غوښي به مو په درختو پوري وځړوي. ایا ته همدا غواړې؟ کرزي وویل چي نه زه دا نه غواړم . ملا وویل چي نو بېله امریکایانو موږ نه سو بریالي کېدلای. که ته دوی ته د بم غورځولو له پاره نه وایې دا نو ورته ووایه چي یو څه وسلې راته راوغورځوي چي کرزی هم ورسره موافق سو.

کرزی د همدې ملا په کور کي څو ورځي تېري کړې او د ملا قاضي وروړ به هر ماپښین د چاي څښلو له پاره ورته راتلی. ده کرزي ته وویل چي ته به دا جګړه ونه ګټې، خو زه به ستا په اړه خبر ور نه کړم. په هر صورت طالبان په ښه توګه په افغانستان کي د کرزي د حضور څخه خبر و

(c) ketabton.com: The Digital Library

او دوی له وضعیت څخه ډېر په ډار کي وه او په دې هڅه کي وه چي د کرزي ملګري پیدا کړي.

کرزی وايي چي دلته تقریباً تر لسو ورځو تېرولو وروسته زه بیرته هغه کور ته راستون سوم چي ما په ارزګان کي لومړۍ شپه پکښې تېره کړې وه، او هلته مي د طالبانو د یو لوړ پوړي پلاوي سره وکتل. دوی راته وویل که چیري امریکا درسره ملګرې ده نو سمه ده خو که نه وي پام کوه چي یوه کوچنۍ هڅه هم ونه کړې. مه خپل ځان وژنه مه تاریخ خرابوه او مه د دې سیمي خلک تباه کوه.

دا طالبانو ته څرګنده ده، چي ډېر افغانان اوس کرزي ته د خپل مشر په سترګه ګوري او هغه ځوک دئ چي کېدای سي د افغانانو څخه هغه ظالم قانون لیري کړي چي طالبانو پر ایښی دئ. یوه شپه کرزي ته پیغام ورسېد چي ملا عمر د ارزګان والي ته ټلیفون وکړ چي ویل یې کرزی ستا په ولایت کي دئ، چي ولي ستا سي ځواکونو لا هغه نه دئ نیولی؟ والي په جواب کي ورته وویل چي زه پوره ځواکونه نه لرم، چي هغه ونیسم. ملا عمر په جواب کي ورته وویل چي د ځواکونو د نه لرلو څه دي مطلب څه دئ، کرزی یوازی د لسو کسانو سره هلته دئ. والي جواب ورکړ چي ولس د هغه تر شا دئ او خلک ټوله د هغه پر خوا دي. موږ دوه ځله کوښښ وکړ چي هغه ونیسو خو د کلیوالو له خوا به زموږ مخنیوی وسو او زموږ له ورتګ څخه یې دی خبر کړی و. ملا عمر وویل چي دا سي ده نو دی به یې له کندهار غم وخوري او دوې ورځي وروسته د زرو نفرو په اندازه یو ځواک راورسېد تر څو کرزی ونیسي یا یې مړ کړي. بیا هم ده ته د خلکو لخوا خبر ورکړل سو چي وتښتي.

کرزی وايي طالب ځواکونو فیصله وکړه چي په همدې شپه چي

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوی راورسېدل په موږ پسې راسي خود سيمي خلکو موږ تـه خبر راوړ او د طالبانو له پلان څخه يې خبر کړو. ده او ملګرو يې دغه ځای پرېښود او دوه ساعته يې پياده مزل وکړ چي د يوه بل قومي مشر کور ته راغلل هلتـه يې شپه تېره کړه چي البتـه د دغـه قـومي مـشر دوه زلمي زامـن د طالبـانو قوماندان وه. دوی په همدې شپه په کور کي وه خو د کرزي په وړاندي يـې هـيڅ اقـدام ونـه کـړ. سـهار وختـي مـوږ دغـه ځـای پرېښود او د ترينکوټ شمالي غرونو ته روان سولو، چي هلتـه بـه طالبـان نـه سي رارسېدلای او وسلې به هم راته راوغورځول سي.

دی په داسي ځای پسې ګرځېده چي د کليـو څخـه ليري وي کـه چيري جنګ مښلي ملکي خلکو ته خطر نـه وي، د طالبـانو او د هغـوی لـه پيکپ موټرانو څخه ليري وي، که چيري وسلې ورته راوغورځي داسي نـه چي تر دوی وړاندي طالبان ورته راورسېږي.

ده خپـل سـټلايټ ټليفـون راوکـيښ او پـه اسـلام آبـاد کـي يـې د امريکا سفارت د خپل پلان څخه خبر کړ، چي وروسـته د غرونـو پـر لـور رهي سو. د ده ډله اوس پنځوس کسيزه سوې وه.

کرزی وايي چي د شپې پر اته بجې مو مـزل پيـل کـړ او د شـپې پـر يوه نيمه بجه د غره يوې څوکي تـه ورسـېدو، چي البتـه دا د غـره تـر ټولـو لوړه څوکه نه وه، خو بيـا هـم پـه دغـه سـيمه کـي تـر ټولـو لـوړ ځـای و، چي خورا ټينګ يخ و، چي زما پـه ګـمان هغـه مي د ژوند تـر ټولـو سـړه شـپه وه. ده د دوبي کـالي اغوسـتي وه چي حتـی د اکتـوبر پـه نيمـايي کـي پـر اواره مځکه هوا ګرمه وي خو کلـه چي دوی لـه اواري مځکـي څخـه پورتـه سـول هوا يو دم يخه سول. کرزی وايي چي غره ته ختلو زه ډېر ګرم کـړم خـو کلـه چي موږ ودرېدو نو ټوله بدن مي خوله و. موږ ټوله بيـده سـوو خـو تـر شـلو

(c) ketabton.com: The Digital Library

دېرشو دقیقو وروسته بیرته راپاڅېدو، خو د یخي له کبله داسي رېږدېدو چي هیڅ مو ځان نه سو کنټرولولای. کرزي خپل زنګنونه په سینه پوري ونیول خو بیا یې هم لړزه نه کړه راکابو. هغه نورو کسانو ځومره چي په توان کي یې وه هغونه لرګي راغونډ کړل او اور یې بل کړ خو بیا هم دوی سم نه سول تاوده. تر دې وروسته یې بیا حرکت وکړ چي د سهار پر نهه نیمو بجو یو ښایسته درې ته ورسېدل، چي غرونه پرې چاپېره وه او هلته یوې کورنۍ ژوند کاوه. کرزی وایي چي موږ له هغه سړي څخه چای وغوښتې او ده هم یو لوی چاینبر چای پر اور راجوش کړې. ده یوازي شپږ ګیلاسونه لرل چي موږ به هر یوه یو ګیلاس وڅښه هغه بل ته به یې ورکړ، چي په همدې سره ټولو تودې چای نوشیجان کړې. په همدې وخت کي یې زموږ له پاره کډو راپوخ کړ. کرزی او ملګرو یې هلته دوې ورځي استراحت وکړ او دغه بزګر به هم چي څنګه یې توان و هغسي به یې دوی مړول، خو هغه د دې تیاري نه لرل چي پنځوس کسه دي هره ورځ ماړه کړي. د همدې له پاره کرزي څو کسه نژدې بازار ته ولېږل چي خوراکي توکي رانیسي. خو دغه اکمالات هیڅکله تر کرزي پوري ونه رسېدل، ځکه چي طالبانو د غرونو ټولي لاري تړلي وې.

کرزي تر دې وړاندي چي طالبان یې ونیسي لاس په کار سو، په خپل سټلایټ ټلیفون یې په اسلام آباد کي د امریکا د سفارت سره تماس ونیوی چي وسلې ورته راوغورځوي.

هغوی وپوښتل چي تاسي چیري یاست؟ کرزي وویل چي موږ په ارزګان کي په یوه سیمه کي یو. همدلته نوموړي ته د امریکایي ټکنالوژۍ د غوره والي څرک ولګېد. امریکایانو ورڅخه وپوښتل چي تاسي د ترینکوټ څخه پر کومه خوا راغلاست او ده هم په هغه اړه معلومات

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورکړل چې پر کومه لار راغلي او څونه لیري تللي دي. امریکایانو ورته وویل چې د سلو مترو په اندازه د اور مربع جوړه کړئ او په دا سبا بیا موږ ته ټلیفون وکه.

دوی بوټي راغوند او په هغه شانې یې اور بل کړ، چې څنګه امریکایانو ورته ویلي وه، په همدې شپه دوی د هیڅ الوتکي ږغ وانه وربد، چې د دوی پر سر الوزي خو په دا سبا چې کرزي امریکایانو ته ټلیفون وکړ هغوی ورته وویل چې موږ ستاسي اور ولید. اوس موږ ته ستاسي موقعیت رامعلوم دئ. په همدې شان سبا شپه هم اور ولګوئ چې د شپې پر اته بجې به موږ تاسي ته وسلې در وغورځوو. دوی بیا اور بل کړ خو هیڅ الوتکه رانغله. کرزی وایي چې ما امریکایانو ته ټلیفون وکړ، او ورڅخه ومي پوښتل چې څه پېښ سول دوی په جواب کي وویل چې په هغه شپه الوتکه له جرمني څخه راتلل خو پر وخت راونه رسېدل خو سبا به یې درته ولېږو.

په دا سبا شپه دوی بیا اور ولګوی او انتظار یې کاوه، دی ډېر ستړی و چې په نیمه شپه کي بیده سوی و، چې وروسته د شپې پر یوه نیمه بجه یوه کس نارې کړې چې الوتکي !

موږ الوتکي نه لیدې ځکه چې بتۍ یې نه لګېدې، خو ږغ مو یې اورېده خو چې کله یې پراشوټونه مځکي ته راخوشي کړل او د مځکي پر لور را راوان وه لیدل مو. دوه درې پر هغه نښاني سوي مځکه ولګېدل خو هغه نور په نورو سیمو کي راشوه سول. دوی نژدې ښکارېدل چې کرزي څو نفره ورسره روان کړل چې هغه راوړي، دوی په غره کي درې ساعته سخت مزل وکړ، تر څو هغه ځای ته ورسېدل چې پراشوټونه راشوه سوي وه. کله چې کرزي او کسانو یې د وسلو او مهماتو کریټونه پیدا کړل. نو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورته څرګنده سوه چي دا ډېر درانه دي او دوی نه سي کولای چي ورسره یو يې سي. په همدې وخت کي سهار سوی و او د ده له کسانو څخه څو نفره ولاړل چي اوښان راولي . دوی اوښان پیدا کړل او د مالک څخه يې د یوې ورځي له پاره کرایه کړل، وسلې په دا سبا پر اوښانو د کرزي ځای ته راورسېدې، خو اوس د ده د کسانو شمېر ۱۵۰ ته رسېدلی و. اوازې په ټوله ولایت کي خپرې سوې او د ولایت د مختلفو برخو څخه به کسان راتلل د کرزي سره به یو ځای کېدل. په دغه وسلو کي (RPG-7) راکټونه ، توپکونه او مهمات شامل وه، کرزی وایي چي وسلې په خورا ښه وخت کي راورسېدې ځکه چي طالبانو ته زموږ ځای معلوم سوی و او په دا سبا شپه يې پر موږ حمله وکړه.

د غره پر هغه بلې خوا د کلي ملا د سهار پر درې بجې د لمانځه له پاره اماده ګي نیول چي د خلکو حرکت يې ولید هغه سمدستي د کرزي پر لور روان سو او دی يې خبر کړ د سهار تر لمانځه لږ مخکي د ټوپک ډزي واورېدل سوې چي دا د حملي خبرداری و. له ده سره ستلایټ ټلیفون و خو د ده کسان چي پر څو کوچنیو ګروپنو وېشل سوي وه هیڅ د ارتباط نیولو اله یا مخابره نه لرل. له همدې کبله نو یو ګروپ د هغه بل د حال څخه نه و خبر، چي څه ورپېښېږي. د ټوپکو دا جګړه د ماپښین تر څلوروبجو پوري روانه وه، کرزي هغه قومي مشرانو ته چي د ده سره ورسره وه، وویل راځي چي خپل ځانونه څرګند کړو. راځي چي د لویې جرګې ږغ وکړو. وروسته که موږ ووژل سو دغه اواز به ژوندی وي. د لویې جرګې ږغ به د دې زمینه برابره کړي چي ټوله ولس د طالبانو پر ضد راپورته سي. د هغو غرونو څخه کرزي د بي بي سي راډیو ته ټلیفون وکړ.

په لومړي سر کي یوه کس د ده سره د خبرو کولو څخه انکار وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کرزی وايي چي ده وويل که موږ ستا زړغ خپور کړو نو تاسي به ټول په هغه غرونو کي ووژل سئ. ما ورته وويل چي ته دا د ټوپکو ډزي نه اورې؟ ايا دغه ټکان نه اورې؟ زما په اړه د تشويش کولو اوس خورا ډېر ناوخته دئ. موږ غواړو چي زموږ همدا ټليفون دي خپور سي. لطفاً دغه شېبه د افغانستان له پاره مه وژنه. بالاخره هغه نفر راضي سو او کرزی ټليفون خپل وياند ته ورکړ. (دا چي ولي کرزي دغه مهم وخت خپل وياند ته ورکړ ده يې په اړه څه ونه ويل) وياند وويل چي زه د کرزي په استازيتوب خبري کوم. موږ د طالبانو پر ضد لويه جرګه رابولو. دا د طالبانو په وړاندي يو ملي پاڅون دئ. د هغه وينا بي بي سي په افغانستان کي نشر کړه. کرزی وايي چي دا زموږ اخيري ټليفون و، چي و مو کړای سو ځکه چي د ټليفون بطرۍ ختمي سوې.

تر همدې ټليفون وروسته قومي مشرانو کرزي ته وويل چي نور خپل کسان له دې ځای څخه وباسي ځکه چي کېدای سي ډېر ژر زموږ شمېر کم او يا محاصره سو، چي بيا به موږ ته د رارسېدو څوک نه وي. ما ورسره خوښه کړه او ومي ويل چي راځئ. مشرانو لومړۍ حرکت وکړ ځکه دوی سوکه وه او د غره څخه مخ پر کښته روان سول، کله چي موږ حرکت کاوه زموږ يو کس چي پر هغه بله تپه و راغلی ويل يې چي تاسي چيري ځئ؟ موږ بری تر لاسه کړ. طالبانو ما ته وخوړه او هغوی ولاړل.

طالبانو شايد ما ته خوړلې وي خو دوی خپلو قوماندانانو ته د دې اجازه ورنه کړه. دوی اوازه خپره کړه چي کرزی يې وواژه. له همدې وخت راهيسي په بهرنۍ نړۍ کي هيڅوک په دې نه و خبر چي دی چيري و. دی هم پدې نه و خبر چي په نور هيواد کي څه روان دي او نور يې د خپل ستلايټ ټليفون څخه ټليفونونه هم نه سو کولای. دی وايي چي پر موږ د

(c) ketabton.com: The Digital Library

طالبانو حملې هر څه بدل کړل او زما د مرګ اوازه خپرول يې تر ټولو لويه غلطي وه، ځکه چې دې د ترينکوټ خلک په دې اړ کړل چې ځانونه سره منظم او خپل مرکز بيرته تر لاسه کړي.

د طالبانو د ځواکونو تر ماتې وروسته چې په غرونو کې يې د کرزي پر ګروپ حمله وکړه دوی کولای سول، چې هلته استراحت وکړي او راتلونکي حرکت پلان کړي خو سپين ږيري قومي مشران لا د وړاندې درې ته شوه سوي وه، دا ښکاره وه چې قومي مشران او نور کسان په غوسه وه او دا د دوی له پاره ډېر مشکل کار و، چې په غرونو کې دې بيرته د کرزي و ځای ته راوګرځي. له همدې کبله ده خپلو کسانو ته امر وکړ، چې په قومي مشرانو پسې کښته سي او تعقيب يې کړي، خو د ښو د دې اوږده سفر تر ټولو مهمه برخه لا نه وه را رسېدلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# (۷)

# د طالبانو نسکوربدل

## د افغانستان نوی پیل



د افغانستان ولسمشر حامد کرزی د کندهار ولایت په شاه ولیکوټ ولسوالۍ
کې د امریکایي سپیشل فورس په منځ کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کرزي کوچنی اردو پر درو ډلو ووېشل سو او په غرونو کي يې هغه ځای پرېښود چي له طالبانو سره يې جګړه پکښې وکړه او په دره کي هغه ځای ته راکښته سول چي الوتکي ورته شيان راغورځولي وه. د کرزي ګروپ چي ټوله يوولس کسان وه د چارچينو د ولسوالۍ پر خوا روان سول، چي هلته د کرزي د پخواني ملګري کور و. کرزی وايي چي موږ په ساعتونو ساعتونو په ډېر اند ښمن حالت کي چي ډېر يخ هم و په ښايسته منظرو کي مزل وکړ. کرزی وايي چي موږ پر يوه طبيعي تونل وربرابر سوو، چي لاندي درې ته شوه سوی و او هلته مو يو ځای پيدا کړ، چي د اوبو صفا چينه د يوې غونډۍ څخه راوتلې وه. دوی هلته د اوبو څښلو او لږ استراحت کولو له پاره ودرېدل، چي په همدې وخت کي کرزي د سټلايټ ټليفون د بطرۍ په چيکولو مصروف سو. ټوله بطرۍ ختمي سوي وې، چي شايد له هري يوې څخه يو يو ټليفون سوی وای، چي شايد ببله سخت بېړني حالت څخه يې له ټليفون څخه استفاده نه وای کړې. زموږ اړيکي په مکمله توګه له نړۍ سره شلېدلي وې. هيڅوک نه پوهېده چي موږ چيري يو او حتی موږ لا تر اوسه ژوندي يو که نه؟

د امريکا او برتانيې د هوايي بمباريو کمپاين په افغانستان کي د اکتوبر پر ۷ پيل سو، چي کرزي ته په کندهار کي ورمعلوم هم سو. امريکايي او برتانوي کمانډو د CIA د ځينو افسرانو سره په افغانستان کي څو ځايونو ته رسېدلي وه تر څو محلي مقاومت او شمالي ټلواله سره منظمه کړي، چي پر کابل او مزار شريف حملي ته يې چمتو کړی. کله چي کرزی په غرونو کي و په شمال کي سخته جګړه روانه وه. اوس د نومبر په نيمايي کي طالبان د تېښتي په حال کي وه او مخالفانو يې نيم هيواد ځني ولکه کړی و. تر افغانستان بهر هڅي رواني وې چي د ملګرو ملتونو تر

(c) ketabton.com: The Digital Library

نظارت لاندي د ځانګړي استازي لخدر ابراهيمي په مشري او د افغان مقاومت د څلورو ډلو په ګډون د جرمني په بن کي يو کنفرانس داير کړي کله چي دا هر څه د تر سره کېدو په درشل کي وه، حامد کرزي د افغانستان په غرونو کي د خپل تقدير پر لور قدم واهه او د افغانستان دا نوی پيل ډېر نژدې و چي د ده د ژوند پای سي.

کرزی وايي چي موږ خپل مزل ته داسي ادامه ورکول چي په يوې غټي درې ننوتلو چي غرونو احاطه کړې وه او د درې په پای کي مو يوه زراعتي مځکه وليده. کله چي هلته راورسېدلو دبزګر کوډله مو پيدا کړه چي ډېره کوچنۍ وه او دروازه يې تر سينې پوري لوړه وه چي يو کس ترې راووت او زموږ سره يې روغبړ وکړ. بزګر دوی دننه رهنمايي کړل چي دکرزي په فکر هلته يې د شپږو يا اوو په شاوخوا کي کوچنيان هم وه، چي دوی ته يې د شنو چايو چايبرونه او ډوډۍ راوړه. کله چي موږ چای وڅښلې هغه نفر ولاړ، چي زموږ له پاره خواړه تيار کړي خو دې ته ډېر حيران يم چي دغه خلک څنګه له کليو څخه ليري د محصولاتو د کوټې ساتنه کوي، چي په همدې وخت کي يې ډېري ښه بينډۍ او څو لوی افغاني ډوډۍ چي پر تبخي پخېږي راوړې. ډوډۍ او بېنډۍ مو نوشيجان کړلې او د لږ وخت له پاره مو هلته دمه جوړه کړه چي د ماپښين پر دوو بجو بيرته د چارچينو خوا ته روان سولو.

دغه ډله يو ځای ته راورسېدل چي د کوچيانو کيږدۍ ښکارېدلې چي ورڅخه يو کس راووت او له دوی څخه يې وپوښتل چي چيري ځي؟ کرزي د سيمي څخه يو رهنما چي په غرونو کي بلد و د ځان سره واخيست چي ډېر هوښيار او په غرونو کي پر پښو ډېر چابک و. رهنما وويل چي دوی واده ته تلل خو هغوی راڅخه ولاړل. مګر هغه نابلده کس د دوی تر

(c) ketabton.com: The Digital Library

مخه ډېر چابک يوازي روان و، چي دغه ډله نه سو پسې رسېدلای، چي رهنما پر دغه شکمن سو او ويې ويل راځئ چي پر فرعي لار ولاړ سو. له همدې کبله دوی پر بله خوا پر يوه بل غره روان سول، چي هلته د دوړو داسي توپان و چي دوی تر يوه متره ليري آخوا څه نه ليدل. کله چي دوی د شپې پر اته بجې د چارچينو ولسوالۍ ته راورسېدل هغه رود چي دوی بايد پر پوري وتلی وای ټوله د طالبانو د پيکپ موټرونو ډک و، چي بتۍ يې روښانه او په دوی پسې ګرځېدل. هغه کس چي په خيمه کي و ښېله شکه د طالبانو جاسوس و. کرزی وايي موږ ښېله دې چي کشف سو تر رود واوښتو او په کلي کي ورک سولو، خو هغه کس چي موږ يې ليدلو ته راغلي و په کور کي نه و. شکر خدايه ! که چيري موږ هلته پاته سوي وای نو په هغه شپه به طالبانو له منځه وړي وای. طالبان په هغه کلي کي کور په کور په حامد کرزي او د هغه په جنګياليو پسې ګرځېدل. دغه ډله د کلي بهر د کرزي د وياند د خور کور ته ورغلل. د هغه اخښي ورته وويل چي د دې هيڅ امکان نسته چي تاسي دلته پاته سئ ځکه چي طالبان خبر دي چي تاسي دلته راځئ.

ده دوی ته بادام او انار ورکړل، او کرزي ته يې وويل چي د خپل امنيت په خاطر بيرته غرونو ته وخېژه. بيرته غرونو ته وخېژه ! کرزی وايي موږ ډېر خواشيني سوو ځکه چي فکر مو کاوه که موږ نور مزل وکړو نو مړه به سو، نو بله مو کومه چاره لرل؟ که چيري موږ په کلي کي پاته سو وبه نيول سو او وبه وژل سو. بيرته په ډېره ستوماني سره د هغه ځای پر لور روان سول په کوم ځای کي چي دوی ته وسلې راوغورځول سوې، مګر پر بله لار چي دا د دوی د مبارزې برخليک ټاکونکی ټکی و.

تر نيمي شپې پوري تر څلور ساعته مزل وروسته کرزی او ملګري

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې د دمي جوړولو له پاره ودرېدل، يو کس چې دا کښېناست بيا له وخته خوب په منګولو کې اخيستی و. ده خرهار پيل کړ، کرار کرار پسې په زوره کېده تر دې چې سپې غپا شروع کړل. کرزی وايي موږ فکر وکړ چې شايد هلته به کلی او يا د کوچيانو کيږدۍ وي. دوی نه غوښتل چې څوک يې وويني له همدې کبله د سهار پر څلور بجې راپورته سول چې تر اوسه لا تاريکه وه په حرکت يې پيل وکړ چې د غه رهنما نابېره ودرېد او کرزي ته راغی چې آرام سي ږغ مه لرئ. ټوله کښېناستل ده شپېلکی وکړ. کرزي ورڅخه وپوښتل چې څه پېښه ده؟ ده وويل چې ما يو کاروان وليد. دوی ټولو وکتل خو بېله تاريکې څخه نور څه يې نه ليدل. رهنما وويل چې تاسي انتظار وکړئ. تاسي به يې ووينئ، پروت وکړئ.

دوی هلته پروت وکړ، چې تر پنځلس دقيقو انتظار وروسته د زنګولې ږغ واوريدل سو . په افغانستان کي خلك زنګولې د اوښانو په غاړه تړي، کرزی وايي چې دا ډېر ښايسته آواز و، چې له ډېري ليري څخه راتلی. جنګيالي آرام پرېوتل چې کله کاروان دونه ليري سو چې نور يې د زنګولې ږغ نه راته رهنما وويل چې اوس نو د حرکت له پاره خطر نسته.

دوی سهار تر پنځو بجو پوري مزل وکړ، چې مرګوني ستړي وه، چې تقريباً ۳۵ ساعته يې مسلسل مزل کړی و دوي بيا د هغه بزګر کوډلي ته راغلل چې دوی ته يې ډوډۍ او چای ورکړي وې. هغه يو ځل بيا دوی ته ښه راغلې وويل او دننه يې بوتلل او ورته وېې ويل چې بيده سي. کرزی وايي چې اوس هغه شکمن و، چې موږ ساده مسافر نه يو او دا چې موږ به بيا د ده جونګړي ته راځو خو ده هيڅ ونه ويل. تر يوه ساعت آرام وروسته بزګر دوی ته چای، ډوډۍ، بادام او آنار ورکړل. دا منی و چې په سيمه کي د بادامو او انارو سېزن وي. بزګر کرزي ته مشوره ورکړه چې غرونو ته د

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپنو پر لار ولاړ سي او د نورو لارو څخه ډډه وکړي، ده وویل چي اوس ما ته دا څرګنده ده چي تاسي غواړي د یو چا مخه ونیسئ. دوی روان سول او د ورځي په نیمایي کي تم سول او پر ډبرو د خوب له پاره بیده سول چي لمر هم تاوده کړل بیا یې تر نیمي شپې د کوچیانو د پسونو د دوبي تر څړ ځایونو چي هلته دوی د خوب له پاره سمځي جوړي کړي وې مزل وکړ، ځکه رهنما فکر کاوه چي هلته تاسي بېله خطره خوب کولای سئ دوی هلته تر سهاره پوري خوب وکړ.

کرزی وایي موږ په غرونو کي خورا لیري تللي و، په داسي حال کي چي نه مو خواړه او اوبه لرل او نه مو د چا سره تماس نیولای سوای. دوو کسانو درې ساعته مزل وکړ تر څو اوبه پیدا کړي داسي ښکارېدل چي زموږ عملیات (میشن) پر هیڅ لور حرکت نه کوي او نه کوم پلان او هدف لري.

بالاخره د کرزي ملګري حفیظ الله خان په قار سره کرزی له هغه نورو څخه جلا کړ. ورڅخه وې پوښتل ته څه غواړې؟ ته غواړې چي دلته په غرونو کي مړ سې؟ د لوږي د لاسه هغه هم ناکامه؟ او که غواړي چي بریالی سې؟

کرزی وایي چي البته ما غوښتل چي بریالی سم. حفیظ الله خان وویل چي داسي ده نو دا یې د ګټلو لار نه ده. کرزي یې په جواب کي وویل چي بلې همدا یې د ګټلو لار ده. موږ به ډېر ژر د کلیو سره تماس ونیسو او بیا به ګورو چي څه وکړو.

حفیظ الله خان وویل چي داسي نه ده تاسي پر غلطه یاست. طالبانو باید دا ټوله سیمه محاصره کړې وي. نه موږ کلیو ته رسېدای سو او نه کلي موږ ته. نور موږ خپل توان د لاسه ورکړی دئ. په ورځو مو څه نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي خوړلي. نو څنګه به ژوندي پاته سو؟ کرزي وويل نو ته څه غواړې چي ويې کړې؟ده وويل د امريکا په سفارت کي دي خپلو ملګرو ته ټليفون وکړه هغو ته ووايه چي راسي موږ پورته کړي.

کرزي وويل ټوکي خو به نه کوې؟ هغوی به هيڅکله زما له پاره دا کار ونه کړي، څنګه به هغوی موږ له دغه غرونو څخه پورته کړي. ده وويل ته خو ټليفون ور وکه بيا به ګورو چي څه کېږي.

کرزي د ټوله ټيم نظر وغوښت. هغوی ورته وويل چي حفيظ الله خان سم وايي موږ بايد د دغه ځای څخه د وتلو يوه لار پيدا کړو. دوی وويل چي دا د بري لار نه ده. جنګياليو وويل د دوی لويه غلطي دا وه چي هغه مرکز يې پرېښود چي طالبانو ته يې ماته پکې ورکړل او بل دا چي ګروپ سره وو ښشل سو. اوس دوی د خپلو ټولو ملګرو کليوالو څخه ليري وه او په دې نه پوهېدل چي طالبانو دوی ته چيري کمينونه نيولي دي. دوی کرزي ته وويل په هغه شپه چي تر رود پوري وتو ډېر بختور و. اوس نو ته ټليفون لرې د دې ځای څخه د وتلو يو د حل لار پيدا که.

کرزي وويل که ستاسي فتوا همدا وي زه به هم کوښښ وکړم. خو فکر نه کوم چي بطرۍ دي دونه چارج ولري، چي يو ټليفون په وکړم. د ورځي په ګرم وخت کي ده بطرۍ راوکښلې او لمر ته يې کښېښوولې چي که لمر يو څه چارج کړې خو دی شي هم کار ونه کړ. کرزي يوه بطرۍ ټليفون ته ور واچول او ورور ته يې ټليفون وکړ، چي زه ژوندی يم. ورور يې وويل شکر خدايه ! نو ولي دي موږ ته مخکي ټليفون نه کاوه؟ کرزي وويل چي مابطرۍ د سخت وخت له پاره ساتلي وې خو دا چي کرزي نور څه ويل بطرۍ ختمه سوه. وضعيت توپاني ښکارېده. که ټوله بطرۍ په همدې شان کمزوري وای نو د دې امکان نه و چي امريکايانو ته دي هيڅ

(c) ketabton.com: The Digital Library

وویلای سي. حتی چي مازي يې خپل موقعیت ورښوولی وای. کرزی وايي چي ما د بطريو په چيکولو پيل وکړ چي يوه داسي بطرۍ پيدا کړم چي د يوې يا دوو دقيقو له پاره خبرو کولو چارج ولري. خو يو ناڅاپه مي بخت رابيدرا سو. ما يوه بطرۍ چيک کړل چي پول نوې وه او پوره چارج وه، دا څنګه راځخه پاته سوې وه؟

په همدې چارج بطرۍ سره کرزي په اسلام آباد کي د امريکا له سفارت،د روم او خپل ورور سره بيا خبري وکړې. ده ټولو ته وويل چي زه ژوندی يم او په غرونو کي يم او له هغه ځايه د راوتلو له پاره مرستي ته اړتيا لرم. امريکايانو بيا هغه تکراري پوښتنه وکړل چي تاسي چيري ياست؟ کرزي بيا دوی ته وويل چي چي دي او ملګرې يې څونه ليري دي او پر کومه خوا راغلي دي. هغوی بيا ورته د مربعي اور د بلولو وويل چي وروسته به مو موږ پيدا کړو. په دغه شپه دوی په غرونو کي يو اوار ځای پيدا کړ او اور يې پر بل کړ. په دا سبا کرزي بيا ټليفون ور وکړ او ورته وېې ويل چي شايد دا زما وروستی ټليفون وي ځکه چي دا نوې بطرۍ هم مخ پر ختميدو ده. امريکايي تماس نيوونکي ورته وويل چي موږ ستاسي اور وليد او سبا ماښام پر اته بجې به موږ درسو.

دوی بيرته د کوچيانو د پسو سمڅو ته راغلل او هلته بيده سول. او په دا سبا ماښام کي بيرته غره ته وختل او اور يې ولګوی. کرزی وايي چي څلورو خواوو ته د وسلو سره کښېناستو ځکه چي کېدای سو طالبان هم زموږ اور ووينې. اتو بجو ته لا پنځه دقيقې پاته وې چي ناڅاپه يې د څرخکو ږغ واوريد. دوی د غرونو تر څوکو کښته پرواز کاوه چي شاوخوا ګرځېدې. دوی نه ليده ځکه چي څراغونه يې نه وه روښانه خو يوازې به يې ږغ تعقيبوی چي نابېره يوه بله څرخکه راغله او هلته کښېناستل چيري چي

(c) ketabton.com: The Digital Library

کرزی او ملګرو یې انتظار کاوه، چې بله سمدستي په پسې وه. کرزي وویل چې ځونه په زړه پوري صحنه وه. یو کس چې د شپې دوربین یې پر سترګو و د لومړۍ څرخکي څخه راکښته سو په زوره یې ناره کړل: ښاغلی کرزیه! دا تاسي یاست؟

دغه ډلي د څلورو خواوو څخه د اور ځای ته راوځغستل او څرخکو ته وختل خو چې کله یې پرواز کاوه کرزی وپوهېد چې یو نفر کم دئ. دا حفیظ الله خان و چې پر ده په غوسه سوی و او ورته ویلي یې وه چې مرسته وغواړه. دی له څرخکي څخه راکښته سو او پسې کتل یې. ناري یې ور ووهلې له یوه اور څخه تر بله به یې منډې وهلې او پسې کتل به یې چې بالاخره یې په داسي حال کي پیدا کړ چې ټینګ یې په پټو کي ځان پېچلی و. کرزي پر نږغ کړه چې دا څه کوې؟ هلیکوپټر راغلی دئ حفیظ الله خان وویل فکر کوم چې ما یو څه واورېدل، خو ډېري دوړي وې له همدې کبله مي ځان ټینګ وپېچئ.

څرخکي دوه ساعته پرواز وکړ، چې بالاخره په هلمند کي یو ځای راکښته سوه، چې هلته یو تعداد د کرزي ملاتړو انتظار کاوه. اوس د پښتو شل سوی کوچنی اردو پنځه څرخکي او خورا مجهز امریکایي ځانګړي ځواکونه (سپېشل فورس) د ځان سره لرل. دوی هلته څو ورځي تېري کړې چې کرزی په دې وتوانېده د خپل ټلیفون بطرۍ چارج کړي او څو ټلیفونونه وکړي. هلته دی په دې بریالی سو چې د حاجي بدر سره تماس ونیسي حاجي بدر د ده د هغو قوماندانانو څخه و، چې د غرونو په جګړه کي یې د ده سره اړیکي پرې سوي وې چې البته ده هم ستلایټ ټلیفون درلود.

کرزي کماندو ته وویل چې دی غواړي هغه کلي ته ولاړ سي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

چیري چي حاجي بدر دئ خو بدر نه سو کولای چي سم لوری ور وښووي. دوی کرزي ته وویل چي ورته وو ایه چي هغسي اور بل کړي لکه څنګه چي يې په غره کي بل کړی و. امریکایي کمانډو و کرزي ته وویل موږ هم ستا سره ځو او هلته درسره پاتېږو. اوس د هغو اړیکو په مننه چي کرزي په پاکستان او نورو ځایونو کي د متحده ایالاتو سره د استازي په توګه ساتلي چي اوس کرزی تر طالبانو وروسته افغانستان کي د امریکا له پاره تر ټولو غوره مشر ښکاره سوی و او غوښتل يې چي وې ساتي.

یوه شپه تر هغه وروسته چي بدر اور ولګوی امریکایان، کرزی او ملګري يې د هغه پر خوا الوتنه وکړه تر څو له هغه سره یو ځای سي. څلور څرخکي په خوندي توګه راکښته سوې خو هغه پنځمه دانه چي څلور امریکایي ځانګړي ځواکونه پکښې سپاره وه تر اصلي ګروپ څخه یو یا یونیم مایل لیري کښته سوه، ځکه چي مخکنیو څرخکو دوړي او باد جوړ کړی د پیلوټ له پاره يې مشکلات جوړ کړل ده دغه څلور کمانډو همدلته شوه کړل او ځني ولاړی. کرزي د حاجي بدر څخه وپوښتل چي دا څه ډول اراضي وه چي څرخکه پکښې کښېناستل وروسته ده امریکایي قوماندان او خپل کسان ورسره واخیستل او په تاریکه کي د هغه ځای پر خوا ور روان سول.

کرزی وایي چي موږ بیا غره ته په ختو سوو او زه ختلو ډېر ګرم کړم چي وروسته باد بیرته یخ کړم. یوه امریکایي راته د وړیو جاکټ راکړ، چي دې هم یو څه مرسته راسره وکړه. وروسته د شپې پر دوولس نیمي بجې موږ خلک ولیدل چي په یو څه فاصله کي زموږ پر خوا د لاسي او لانتهرین څراغانو سره راروان وه. کرزی وایي موږ نه پوهېدو، چي دا دوستان کلیوال دي او که طالبان؟ کله چي هغوی موږ ته نژدې راغلل او

(c) ketabton.com: The Digital Library

موږ يې وليدو نارې يې کړې چې تاسې څوک ياست؟ کرزی نه پوهېده چې څه جواب ورکړي، چې وروسته يې په مخابره کې پر حاجي بدر ږغ وکړ، هغه ورته وويل چې ورته ووايه چې موږ د ده ملګري يو. ما هم همداسې ورته وويل. خو دوی وويل چې موږ بايد څنګه پوه سو چې تاسې د ده ملګري ياست؟ ما ورته وويل چې راسئ خپله له ده سره خبرې وکړئ. دوی خبرې ورسره وکړې او وروسته يې وويل چې داسې ده او تاسې طالبان نه ياست. موږ تاسې ته څلور امريکايي سرتېري راوستي دي.

سرتېري ټوله روغ رمټ وه او هغه کسان بيرته د غرونو اخوا د خپل کلي پر خوا ور روان سول. دا چې اراضي ډېر خراب و نو يوه امريکايي سرباز خپله بجلکه ماته کړې وه او نورو اوږه ورکړې وه او کرار کرار را روان وه. د شپې پر دوې بجې دوی د غره اوارې سيمې ته راووتل چې هلته د کلي څخه د حاجي بدر لخوا موټران ورته رالېږل سوي وه او دوی ته انتظار وه، چې وروسته ټولو ټوله لار په موټر کې سفر وکړ.

کرزی وايي چې اوس نو روژه رانوې سوې وه او ما پېشلمی وکړ چې وروسته بيده سوم. کله چې دی راويښ سو د سپېشل فورس عسکرو شاوخوا د کليو د کوچنيانو سره لوبې کولې چې د امريکايانو د ليدلو له پاره راغلي وه. يوه ماشوم يو امريکايي سرتېری وليد چې سپينه خولۍ يې پر سر کړې وه ورته ويې ويل چې القاعده ! دا خولۍ هيسته کړه. د طالبانو او القاعدې ملګرو به سپيني بګړۍ د سپېڅلتوب د سمبول په توګه تړلې او هغه هلک هر هغه چاته چې سپين شی به يې پر سر و د هغوی په سترګه کتل چې وروسته ده خپله خولۍ و هغه سرتېري ته ورکړه.

کرزي د حاجي بدر په کلي کې دوې ورځې تېرې کړې چې هلته ورته د امريکايانو له خوا نورې وسلې راورسېدې. په دغو ورځو کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوی شمېر څو چنده سو، ځکه چي خلک به د هر ځای څخه راتلل او د طالبانو ضد دغه ځواک سره به یو ځای کېدل. دا لومړی ځل و، چي کرزي په افغانستان کي دننه په خپل واک د یوه نظامي قوماندان په توګه کلیوال منل. په دغو راتلونکو کي یو سپین ږیری او یو هلک چي پر خره یې یو څه را بار کړي وه. د کرزي د راتګ په شپه چي کله هغه یوه څرخکه د حاجي بدر د کلي څخه د یوه او یا یو نیم مایل په اندازه لیري کښېناستو ته اړه سوې وه او هغه څلور سپېشل فورس سرتېري یې هلته خوشي کړي وه هغوی تر خاشو لاندي ځني سامانونه پټ کړي وه او کله چي کلیوال د هغوی د ژغورلو له پاره ورغلل دوی په تاریکه کي ونه توانېدل چي هغه بیرته پیدا کړي. دغه زاړه سړي کرزي ته وویل چي موږ دغه سامانونه تر خاشو لاندي پیدا کړل چي فکر مو وکړ چي شاید دا به د امریکایانو وي. موږ فکر وکړ چي شاید دوی به ورته اړتیا لري نو ځکه مو دلته درته راوړل.

په کلي کي د کرزي په دوهمه ورځ یو شپانه تېرېده چي یو څه ګڼه ګوڼه یې ولیده. ده وپوښتل چي دا څه روان دي؟ ده ته وویل سول چي کرزی دلې دئ. شپانه وویل کرزي ته وو ایاست چي ترینکوټ سقوط وکړ او خلک په تا پسې ګرځي. په همدې اړه یې په تا پسې هري خوا ته خلک ولېږل.

کله چي کرزي ته دا وویل سول ده پر خپل ګروپ ږغ وکړ، چي سره راټول سي. هغو مشرانو چي د ده سره په غرونو کي وه او نورو ده ته وویل چي د ده په خبرو باور مه کوه. شاید دا یوه دسیسه وي. یو ځل هلته یو څوک ولېږه چي دا خبره کره کړي. کرزي یو ځوان پر موټرسایکل ترینکوټ ته پټ ولېږه چي د دې خبري جاج واخلي او هغه نفر بیرته د نوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

خبر سره راوګرځېد داسي چي ترينکوټ په رښتيا سره سقوط کړی و. ده وويل چي د افغانستان ملي تور، سور او زرغون بيرغ هلته د طالبانو د بيرغ پر ځای رپېدی. دی د محلي مشرانو هغه جرګې ته ورغلی چي تازه جوړه سوې وه او ورته ويلي وه چي زه د کرزي له خوا راغلی يم. د شورا غړو ويلي وه چي هغه چيري دئ؟ ځوان ورته ويلي وه چي کرزي په خپلي کلي ورجان کي دئ.

کرزی وايي په دا سبا مو د پنځلسو يا شلو موټرو کاروان وليد، چي د کلي پر خوا را روان وو. دا د ترينکوټ د مشرانو شورا وه چي ما ته را روان وه او راته وې ويل چي دوی ښار د طالبانو څخه واخيست او په تاسي پسې مو هره خوا ته پيغام رسوونکي ولېږل، خو موږ نه و خبر چي ته يوازي درې ساعته د موټر د مزل په واټن زموږ څخه ليري په غرونو کي سرګردانه ګرځې.

کرزی ډېر ژر دې ته چمتو سو، چي خپل عمليات و ترينکوټ ته ولېږدوي چي په مخ کي يې پر کنډو او کپر سړک شپږ اووه ساعته سفر پروت. د ټکسيو او پيکپ موټرانو دغه کاروان هلته د شپې پر لس بجې ورسېد، چي کرزی سيخ سيده د ولايت مقام ته ولاړی. ترينکوټ د افغانستان په جنوب غرب کي لومړی ځای و، چي سقوط يې وکړ.

دی وايي چي د طالبانو په شمول خورا ډېر کسان د ده د ليدلو له پاره راغلل. موږ ته اوس خورا ښه جنراتورونه او نور سامانونه د امريکايانو له خوا اکمال سوي وه او د نړۍ سره مو ښه ثابتي اړيکي لرلې. زه اوس په ناڅاپي توګه د نړۍ سره وصل سوم.

په ترينکوټ کي د کرزي په دوهمه ورځ يو طالب ده ته راغی او ورته وې ويل که ته ما ته خط راکړې زه به خپل دوه موټران او وسلې دلته

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترینکوټ ته راوړم او تاسي ته به یې تسلیم کړم.

کرزي ترې وپوښتل چي ته ولي زما لیک ته اړتیا لرې؟ کندهار، زابل او نوري هغه سیمي ټولي د طالبانو تر واک لاندي دي. نو ته ولي زما لیک ته ضرورت لرې؟ دا سړي وویل چي ښاغلې پر لویو لارو زه کوم مشکل نه لرم خو مشکل په کلیو کي دئ. داسي نه چي موږ په کلیو کي تېرېږو کلیوال موږ ودروي. کرزی همدا خبره د خپلو ملګرو سره شریکه کړه چي تاسي په دې اړه څه نظر لرئ؟ دوی وویل ده ته لیک ورکړه وبه ګورو چي څه پېښېږي؟

کرزي و هغه طالب ته لیک ورکړ، چي د ده د خوندیتوب هیله پکښې سوې وه، چی دوې ورځي وروسته هغه د خپلو موټرانو او وسلو سره راغی او کرزي ته یې وسپارل. دا هغه نښه وه چي کرزي باید نور خپلواک غځولی وای، ځکه چي دا هر څه د حیثیت له کبله وه، ولي چي کرزی کوم ربښتونی ځواک نه درلود. خو په افغانانو کي د حیثیت ځواک خورا ارزښت لري. خورا ډېر کسان ده ته راتلل او د لیکونو غوښتنه یې ځني کول ده هم وېشل چي هغوی هم کار کاوه. کرزی وایي زه په ترینکوټ کي په یوه درې خوني کور کي ناست وم هلته به مي قومي مشران منل، خلکو ته به مي لیکونه ورکول تر هغه ځایه چي به یې کار ورکاوه.

کله چي کرزي د طالبانو وروسته جنوبي افغانستان کي خپله ولکه ټینګول دا مریکا په مشري د هوایي بمباریو کمپاین د طالبانو د ځواکونو د پاته شونو د منځه وړلو پر ضد روان و. ترینکوټ ته د کرزي تر راتګ شل پنځلس ورځي وړاندي امریکایانو د طالبانو په شک په غلطي سره د ارزګان ولایت په لیري پرتو سیمو کي د توري په کلي کي پر یوه کور بم وغورځوي چي د بېګناه ملکي خلکو ډک و او زیات قربیانیان یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوچنیان وه ووژل. بم غورځوونکي الوتکي له همدې ځای څخه د یو نیم کیلومتر په اندازه لیري د طالبانو پر معلومي قرارګاه بمبار کاوه، چې یو بم غلط سو که پیلوټ په خطا سره دا ځای په نښه کړ.

د هغو کوچنیانو نیکه چې په توري کي وژل سوی و، ترینکوټ ته د کرزي د لیدلو له پاره راغی او کرزي ته یې د ماخستن ډوډۍ راوړل ځکه چې کرزی د هغه مېلمه و او دا میلمستیا د عجبي پیښې ډکه وه. ما دغه کس امریکایي سپېشل فورس سرتېرو ته ورمعرفي کړ او ورته ومي ویل چې امریکایي بم د ده ټوله کورنۍ ور ووژل. دغه کس وروسته خورا په زړه پوري خبره وکړل چې په هغه کي د داسي شي څرک تر سترګو کېدی چې افغانان څونه د آزادۍ آرمان لري. ده امریکایانو ته وویل د هغه بم د لوېدو له کبله مې خپل اووه کوچنیان له لاسه ورکړل، خو که زه ټوله کورنۍ هم د لاسه ورکړم پروا نه کوي خو تاسي افغانستان آزاد کړئ.

خطا بمونو په دوامداره توګه په افغانستان کي د بېګناه ملکیانو د وژلو وسیله ګرځېدلې وه حتی د طالبانو د حکومت تر ړنګېدلو وروسته چي کله به ائتلافي ځواکونو د القاعدې او بیا منظم سوو طالب ښورښیانو پر ضد جګړه کول. خو ټوله پاته سوي کسان د توري د نیکه په شان بخښونکي نه وه.

د نومبر پر اووه ویشتمه پر افغانستان باندي د ملګرو ملتونو خبري د ملګرو ملتونو د استازي لخدر ابراهیمي په مشرۍ پرانیستل سوې. د افغان مقاومت څلور لویو ډلو په کنفرانس کي ګډون درلود. چي په هغه کي شمالي ټلواله، پاکستان مېشت پېښوري ائتلاف، ایران مېشت سایپرس ګروپ او د روم ډله چي د پخواني شاه استازیتوب یې کاوه. کرزی هم د همدې کنفرانس ګډون وال و، چي د ټرانسپورټ د

(c) ketabton.com: The Digital Library

نشتوالي له کبله يې نه شو کولای چي هلته ولاړ سي او بل دا چي د ده له پاره دا ډېره مهمه وه چي د بن پر ځای په افغانستان کي وي. خو ګډونوالو له ده څخه وغوښتل چي له هغه ځایه دوی ته په سټلایټ ټلیفون خپله وینا واوروي. کرزی وايي کله چي کنفرانس پیل سو، زه په ترینکوټ کي په یوه خاورین کور کي د پراشوټ پر یوه ډېره کوچنۍ ټوټه په ډېره یخه خونه کي ناست وم. له بله پلوه زه ډېر سخت زکام وم خو بیا هم زما ټلیفون په بن کي د کنفرانس سره وصل سو او ما استازو ته وینا واورول. ده په پښتو او دري خبري وکړې او ویې ویل چي موږ ټوله افغانان یو او د دې هیواد کامیابي باید ډاډمنه کړو.

وروسته چي کله دی د سیمي د مشرانو سره په غونډه کي و د طالبانو په وخت کي د مجاهدینو د حکومت ولسمشر برهان الدین رباني ورته د کابل څخه ټلیفون وکړ او ورته ویې ویل چي زه غواړم ته واک په لاس کي واخلې. زه غواړم چي قدرت تاسي ته وسپارم.

کرزی وايي ما ورته وویل ښه ښاغلې ولسمشره خو اوس زه هیڅ نه پوهېږم چي تاسي ته څه ووایم. دی د یوه کوچني کور په یوه خاورینه خونه کي په داسي حال کي ناست و، چي ډېر ستړی او د نه خوراک او څښاک له لاسه يې د بدن سبک ختلی و. زه هیڅ نه پوهېدم چي دا نړۍ د څه له پاره ده او همداسي نه پوهېدم چي په دې نړۍ کي څه روان دي. تر ټلیفون وروسته ده مشرانو ته وویل چي تاسي په دې اړه څه فکر کوئ؟ دوی وویل چي ستاسي مطلب د فکر کولو څخه څه دئ؟ ته باید همدا کار وکړې.

خو کرزي ته دا اړینه برېښېدل چي دا خبره د ټولو مشرانو سره شریکه کړي چي په دا سبا شپه يې د ټولو مشرانو غونډه راوبلل. دوی پر

(c) ketabton.com: The Digital Library

مسایلو خبري وکړي او ټوله په دې راضي وه چي ته باید همدا کار وکړې.

په هغه ورځ چي د بن کنفرانس دایر سو د عبدالحق د مرګ خبر خپور سو، نوموړی د سرو لښکرو په وړاندي خورا مشهور قوماندان و او د طالبانو سرسخت مخالف و. عبدالحق د کرزي په شان پښتون او د مولوي خالص د حزب قوماندان و. په جګړه کي زړه ور او هوښیار پښتون چي د احمدشاه مسعود برابر و. د کرزي په شان په انګلیسي ډېر ښه رغېدلای سوای. ده د نړۍ له ډېرو مشرانو د امریکا دولسمشر رونالډریګن سره لیدلي وه، چي هغه یې د یو اتل په شان هرکلی وکړ او د برطانیې له لومړي وزیر (Margaret Thatcher ) سره .ده په ۱۹۹۲ م کال د مجاهدینو په حکومت کي د کابل د امنیه قوماندان په توګه خدمت وکړ، خو کورنۍ جګړې زړه توری کړ چي تر هغه وروسته یې په لندن او ډوبۍ کي آزاد تجارت پیل کړ. د طالبانو د واک ته رسېدلو وروسته ده ډېر ژر دوی د کرزي په شان وغندل او د کرزي په شان یې د همدې مخالفت خورا لویه بیه ورکړل. په پېښور کي د ده مېرمن او ځوان زوی په ۱۹۹۹ م کال کي ووژل سول چي په همدې کال د طالبانو له خوا د کرزي پلار هم ووژل سو.

تر ۱۱/ ۹ وروسته عبدالحق متحده ایالاتو ته وویل، چي پر افغانستان حمله مه کوئ، ځکه چي دی په دې باور و، چي شمالي ټلواله او د هغوی پښتون سیاله ډله به وکولای سي چي د طالبانو د پوځ د مشرانو په وژلو سره به په خورا لږ ویني بهولو سره د طالپانو څخه واک تر لاسه کړي. د کرزي په شان دی هم خورا ژر افغانستان ته ننوت خو حق په لومه کي ونښت، طالبانو ونیوی چي وروسته یې اعدام کړ. د پاکستان استخباراتي شبکه د هغه سره په خیانت کولو تورنه ده. که نوموړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژوندی وای تر طالبانو وروسته افغانستان کي به یو ځواکمن او د درناوي وړ کس وای.

په بن کنفرانس کي تر وینا وروسته کرزی د کندهار پر لور د حرکت په حال کي سو. ده وویل موږ د لاري په اوږدو کي هیڅ جګړه ونه کړه، ځکه چي موږ له یوې ولسوالۍ څخه بلي ته تللو، نو خلکو به زموږ تر ورسېدو وړاندي لا واک د طالبانو څخه اخیستی و. وروسته د کندهار په شمال کي د شاه ولیکوټ ولسوالۍ ته ورسېدو، چي دلته لوبي بل رنګ واخیست. خدای هلته یو ځل بیا زما سره مرسته وکړه.

کله چي کرزی شاه ولیکوټ ته راورسېد، یوه مجاهد ده ته ټلیفون وکړ، چي د طالبانو رهبري غواړي هلته درسي، او واک درته تسلیم کړي. سبا ورځ د غونډي تر سره کولو له پاره وټاکل سوه. کله چي کرزی په دا سبا راکښېناست ډېر ساړه یې کېدل، له همدې کبله یې پرېکړه وکړه چي په کلي کي یوې کوچنۍ رېګني غونډۍ ته وخېژي او تر هغه وخته پوري چي طالبان راځي پیتاوی وکړي. کرزی وایي چي دا د روژې میاشت وه دا چي سړی د ورځي خوراک او څښاک نه کوي نو یخ یې کېږي.

په همدې شپه ډېره امریکایي مرسته راورسېده. چي په هغه کي نور سرتېري، دوا او خواړه شامل وه، ځکه چي د بن په کنفرانس کي د افغانستان د موقتي اداري د مشر په توګه د کرزي د احتمالي ټاکلو له کبله امریکایانو ډېره پاملرنه د ده خوا ته کړې وه.

په دغه سهار ډېر کسان د کوچنیانو او زما د کسانو په شمول پر هغه غونډۍ ښکارېدل، کله چي زه هغه غونډۍ ته ور روان سوم، یو کس په ما پسې راځغستل او ویل یې چي یو ګروپ مشران راغلي غواړي چي ستا سره ووینې. زه بیرته راوګرځېدم او په هغه خونه کي د مشرانو سره یو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځای سوم، چې ما به ليدونکي پکښې منل. کرزی کښېناست او دوی په خبرو پيل وکړ. د خبرو تر پيل څو دقيقې وروسته خونه وچاودل. د خونې کړکۍ او دروازه وغورځېدل او پر مشرانو خاورې او ټوټې راشوه سوې. دی بهر راووت چې جسدونه، کنډوکپر موټرونه او کلي يې په بده ورانې کې وليد. يو ۲۰۰۰ پونډه بم د (B-52) ډوله لوړ ارتفاع لرونکي امريکايي الوتکې څخه پر هغه غونډۍ شوه سو چې يو تعداد خلک پر راغونډ سوي وه او چې کېدای سو کرزي به هم هلته ولاړ وای. ده وويل که چيرې دغه خلک زما د ليدلو له پاره نه وای راغلی او په دغه مهمه شېبه کې ما ته د دوی د ليدلو نه وای ويل سوي زه به پر هغه ځای ولاړ وای چې بم پر ولګېد او په ايرو به بدل سوی وای.

په دغه بم کې ده خپل پنځه غوره ملګري، درې امريکايي کماندو بايلول چې البته په وژل سوو کسانو کې کليوال د کوچنيانو په ګډون هم شامل وه. د نولسو امريکايانو په شمول خورا زيات نور ژوبل سوي هم وه.

دا د ډسمبر ۵ مه وه او د بن غونډې د پای ورځ وه، چې تر يوې اوونۍ زيات يې په افغان موقته اداره کې د واک وېشلو پر سر خورا سخته مناقشه وکړه. تر چاودنې وروسته په وينو ککړ کرزی خورا ژر د بم له ځای څخه لرې کړل سو او نژدې په يوه ځای کې د بل بم د راپرېوتلو له وېرې د پرښو په منځ کې ځای پر ځای کړل سو. کله چې د ده ياور له ده څخه د وينو په پاکولو لګيا و، د ده سټلايټ ټليفون ته د بن څخه د بي بي سي د ليزدوسيټ زنګ راغی او دا زېرې يې وکړ، چې دی د افغانستان د موقتې ادارې د مشر په توګه وټاکل سو. د بن په غونډه کې کرزی د زورواکو سره تر خورا سختو مناقشو وروسته وټاکل سو، چې يو بل ته د غونډې د پرېښوولو ګوابښ يې وکړ. کرزی د امريکايانو ملاتړ د ځان سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

درلود چې د ده پر خوا یې د توازن په برابرولو کې مرسته کول او له بله پلوه د مسعود او عبدالحق تر مړینې وروسته کرزی تر ټولو قوي کاندید و. له بله اړخه کرزي د خپلې کورني پسمنظر، د شاه سره د ښو اړیکو او د خپلې نړیوالي اوږدې ډیپلوماسۍ له کبله خورا منطقي انتخاب و.

کرزی وایي چې زه په وینو لړلی د شاه ولیکوټ تر کلي دباندې په پرښو کې ناست وم، چې راته وویل سول تاسي د افغان ملت د مشر په توګه غوره سوي یاست. تر دې ډېر ژر د بن څخه د لخدر ابراهیمي رسمي ټلیفون راغی او د لیزدوسیټ خبري یې تایېدولې. کله چې ده همدا خبر هضموی او دده ملګرو او امریکایانو مړي او ټپیان د پېښې له ځای څخه ایسته کول د تسلیمۍ له پاره د طالبانو پلاوی راورسېد.

کرزی وایي چې موږ د کلي په ښوونځي کې یوې خونې ته ولاړو، او هلته د تسلیمۍ له پاره د خبرو کولو له پاره کښېناستو. طالبانو خورا قوي پلاوی رالېږلی و، چې په هغه کې د طالبانو د دفاع وزیر، د کورنیو چارو وزیر، د ملا عمر شخصي سکرتر او نور شامل وه. دوی هم هلته وروستل سول او کرزي ته یې وویل چې موږ غواړو تاسي ته د افغانستان د نوي قانوني مشر په توګه قدرت تسلیم کړو.

ما ورته وویل مننه خو تاسي باید د تسلیمۍ رسمي لیک راوړی وای، دوی ولاړل او په دا ماپښین بیرته د لیک او ځوبندیانو سره بیرته راوګرځېدل، چې په هغو کې یو د کرزي نژدې ملګری و، چې وروسته د ارزګان والي سو کرزي ته تسلیم کړل. دا یوه بېله شرطه تسلیمېدنه وه.

د طالبانو تر تسلیمۍ دوې ورځې وروسته کندهار ته راغی او د ملا عمر په کور کې یې واړول، چې په بمباریو کې خورابد زیانمن سوی و. دا وخت ملا عمر الونیا سوی و. کرزی وایي کله چې موږ کندهار ته راغلو

(c) ketabton.com: The Digital Library

خورا ډېر خلک موږ ته د روغبړ له پاره راغلل. بهرنۍ میډیا هم راغلل چي اوس هغوی ما ته د نژدې لاس رسی درلود.

د کرزي د کابل د تګ له پاره تیاری ونیول سو. او پرېکړه یې وکړه چي کابل ته به یوازي ننوزي. چي هیڅ ځواک حتی یو باډیګارډ به نه وي ورسره. ده د قومي مشرانو او نورو مخورو کسانو غونډه راوبلل او د خپل پلان څخه یې خبر کړل. د ده د همدې پرېکړې سره ځینو مخالفت وکړ. دوی ویل ته باید کابل ته د درو څلورو زرو کسانو سره خورا په درب ننوزې. خو اکثریت زما ملګري سول. هغوی وویل یوازي ولاړ سه ځکه چي هر افغان یو افغان دئ که چیري یو کندهاری ستا سي ساتنه کولای سي نو ولي یو کابلی او نور ستا ساتنه نه سي کولای. زما پرېکړه ومنل سوه چي البته دا تر ټولو ښه پرېکړه وه.

کرزی د کابل پر لور په امریکایي نظامي الوتکه کي د خپل ورور، اکا او د کورنۍ د یوه نژدې ملګري سره والوت. کرزی وایي بس همداسي مو وکړل. د باګرام هوایي اډې ته زموږ سره د لیدلو له پاره خورا ډېر کسان راغلي وه او ګڼ شمېر موټران یې ورسره راوستلي وه، ځکه چي دوی د خوراډېرو کسانو د راتګ له پاره تیاری نیولی و. خو چي کله موږ د الوتکي څخه کښته سوو موږ یوازي څلور کسان وو. شپه ناوخته وه او د شمالي ټلوالي جنګیالیو د کابل په تیاره جادو کي ګزمې کولې. کرزی ارګ ته بوتلل سو، چي په دا سبا د کابل د هري خوا څخه خلک راغلل او د ماڼۍ دروازه یې په پلاستیکي ګلونو وپوښل چي خپل نوی مشر ته ښه راغلی ووایي. د افغانستان نوي مشر د ارګ ماڼۍ خپل نوی کور ولید چي د یوې لسیزي جګړې ته په کتو سره یې وضعیت خورا ښه و. دا ماڼۍ پر ۱۸ ایکړه مځکه باندي د کابل په شمال ختیځه برخه کي په اتلس سوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

اتیایمو کلونو کي جوړه سوې ده، چي د هر افغان واکمن کور و، خو حفیظ الله امین پکښې ووژل سو. د مرمیو سوري یې پر بهرني دېوال هر چیري ښکاري او د همدې ستري ماڼۍ برج رالوېدلی چي د تشناب کار ځني اخیستل کېده، خو دننه په ماڼۍ کي وراني ډېره لږ سوې ده. ګلخانه چي د ولسمشر د کار د دفتر ودانۍ ده او مسجد جوړ او روغ و او همدا شان د استوګني سیمه چي دوهمه درجه لویه دفتري ودانۍ ده. دلکشاه ماڼۍ چي د شاه رسمي د اوسېدو ځای دئ او د کله چي باچا ظاهرشاه له واک څخه په ۱۹۷۳ م* کال کي لیري کړل سو نه ده اشغال سوې دلکشاه اوس بیرته رغول سوې او د درنو خلکو له پاره مېلمستون دئ. په دې ماڼۍ کي د باختري دورې دوه زره کلن زاړه تاریخي آثار کله چي په ( ۱۹۷۸ م) کال کي پیدا سول سمدستي پټ کړل سوي وه. ډېر کلونه دغه خزانه چي شل زره طلایي توکي، لکه د پیل غاښونه، او غمي یې لرل پټه سوې وه. داسي بېره وه چي د جګړې په جریان کي دغه اثار ورك سوي وې او یا به د ټوپکسالارانو له خوا ویلي کړل سوي وي. خو یوازي څو کسانو ته دا حقیقت څرګند و او کله چي کرزی ولسمشر سو، د دغه لوی راز ښخوونکو فیصله وکړه چي دغه خزانه باید نوره راڅرګنده سي. دغه توکي اوس کیتلاک سوي دي او په ۲۰۰۶ م کال کي یې سل په پاریس کي ننداري ته وړاندي سول. کله چي کرزی په ارګ کي ځای پر ځای سو، نو د ولسمشر رباني او نورو سره د غونډو لړۍ پیل سوې، وروسته یې روم ته پرواز وکړ چي د باچا ظاهرشاه دعا وغواړي. کرزی وایي چي ده ما ته قرآن کریم او خپله چتهۍ راکړل. بیرته کابل ته راوګرځېد او د واک تبدیلي یې په رسمي توګه تر سره کړه. په اپریل کي کرزی بیا روم ته ولاړ چي دا وار

* په اصل کي لیکوال د شا د لیري کېدو کال ۱۹۳۳ بللی دئ (؟)

(c) ketabton.com: The Digital Library

یې پاچا د ځان سره راوست. کور ته د شاه ظاهرشاه راتګ باید یوه میاشت مخکې په مارچ کې تر سره سوی وای خو امنیتي ځواکونو یوه دسیسه کشف کړه چې په هغه کې د شاه او کرزي د مرګ پلان جوړ سوی و.
هغه مراسم چې کرزي او نورو ملیونونوافغانانو یې په خورا لېوالتیا تیاری نیولی و وځنډېدل. خو ټولو افغانانو د شاهي نظام د بیرته فعاله کېدو هرکلی ونه کړ، مګر په جنوري کې د افغانستان په شرقي ښار خوست کې په زرګونو پاچا پلوه قبایلو لاریون وکړ چې ویل یې امریکا د شاه ضد شمالي ټلوالي چې د تاجکو او ازبکو څخه جوړه ده پلوي کوي چې البته یاد سو قومونو خورا ډېر وخت د پښتنو تر واکمنۍ لاندي تېر کړي دي.
د ۲۰۰۲ م کال د اپریل پر ۱۸ شاه ته د کابل په نړیوال هوايي ډګر کي خورا تود هرکلی وویل سو، خو مراسم یې خورا ټینګ کنټرول سوي وه. کله چې د ایټالیا هغه نظامي الوتکه چې شاه پکښې سپور و، د کابل بم ببرووکي هوايي ډګر ته راورسېدل امنیت خورا سخت کړل سوی و چې یوازي یو څو ځانګړو قومي مشرانو شا ته د نژدې ورتګ اجازه لرل. امنیتي چارواکي هغه وخت د خورا مشکل سره مخامخ سول، چې کله قومي مشرانو د شاه د لاس مچولو له پاره کوښښ کاوه. دا مهال شاه ۸۷ کلن و، چې کله له الوتکي څخه را روان سو نو خورا کمزوری ښکارېده، چې کرزي ورسره کومک کاوه. د افغان ملي جامو پر ځای ده د توري نرمي څرمني کوټ اغوستی و. یعني هغه جامه چې اوس کرزی په مشهوره دئ لکه دقره قول خولۍ او اوږده زرغونه چپنه.
ظاهرشاه اوس په هغه مانۍ کي اوسېږي چې یو وخت ده پکښې

(c) ketabton.com: The Digital Library

واکمني کول، چي کورنۍ او دوستان يې پر راګرځېدلي دي*. په بن کنفرانس کي د افغانستان د حکومت له پاره ټوله وزيران ټاکل سوي وه، چي اوس يو فعاله اداره پر ځای و. کرزی وايي د موقتي ادارې د مشر په توګه ما ببېله غونډو او بحثونو څخه بل کوم جلا کار نه دئ کړی. ما به خورا ډېر د محلي خلکو سره ليدل. په دې ټولو کي زما ښه اصول همهغه و: کار له افغانستان له پاره ډېر ساده. د طالبانو تر نسکورېدلو وروسته په افغانستان کي خورا ډېر تغيرات راغلي دي، خو کرزی د هغه د کريډيټ اخيستلو څخه ډډه کوي. دی وايې دا تغيرات خپله افغانانو راوستل، ځکه چي دوی تغير غوښت او دوی بالاخره د همدې کار د تر سره کولو له پاره آزاد وه.


---

* د کتاب دليکلو پر مهال د افغانستان پخوانی شاه محمد ظاهر ژوندی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# (۸)

# د نوي افغانستان جوړول




د افغانستان ولسمشر حامد کرزی د رایي ورکولو پر مهال

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بن غونډې دافغانستان دموقتي ادار ې پر وزیرانو چې په سر کې یې حامد کرزی و موافقه وکړه. همدې موافقې د هیواد له پاره یو دایمي حکومتي چوکاټ رامنځته کړ او په شپږو میاشتو کې دننه یې د بېړنۍ لویې جرګې جوړول وغوښتل. د بېړنۍ لویې جرګې وظیفه دا وه چې د دوو کالو له پاره د افغانستان د انتقالي ادارې مشر وټاکي. د یو آزاد کمېسیون یوویشت غړو چې مشهور اقتصاد پوهان، اداره چیان او مذهبي مشران وټاکل سول، چې د لویې جرګې چارې منظمې کړي. د جرګې تر سره کېدو څو میاشتې وړاندې په ټوله هیواد کې د ډلو تر منځ د استازو د ټاکلو له پاره غونډې تر سره سوې. دغه استازو د ولایت په سطحه غونډې تر سره کړې چې خپل نماینده ګان و لویې جرګې ته وټاکي چې البته دغه ټاکنې ښکاره وې. کله چې د زرو استازو ټاکنه په همدې شان تر سره سوه پنځه سوه نور بیا د آزاد کمېسیون له خوا وټاکل سول.

کمېسیون خورا سخته لار په مخ کې لرل، په ځانګړې توګه چې کله به یې غړو د انصاف په اړه د ټوټه سوي افغان ولس په سوونو شکایتونه اورېدل. داسي تورونه هم وه چې رایې رانیول سوي دي خو د کمېسیون له پاره دا ناممکن کار و، چې د پروسې څارنه وکړي، نو ځکه دوی پر محلي شوراوو تکیه وکړه چې محلي شخړې حل کړي تر جرګې پوري یوه دوامداره موضوع دا وه چې جرګه او که به ولسمشر کابینه ټاکي.

د پخواني پاچا پر رول هم بحثونه روان وه. کله چې شاه په اپریل کې بیرته افغانستان ته راوګرځېد ملاتړ یې زیاتېده تر څو د دولت د مشر په توګه یې رول بیرته برقرار سي. له بحثونو څخه خورا اساسي شکلونه راووتل چې په هغو کې دا سناریو هم شامله وه، چې شاه ته دي د ملت د

(c) ketabton.com: The Digital Library

پلار لقب ورکړل سي، خو کومه ربښتوني حکومتي واک دي نه لري او بلـه دا وه چي شاه دي د ولسمشر او دولت د مشر پـه توګه وټاکل سي، چي لومړی وزير به لري او هغه به د حکومت روزمره چاري پر مخ بيايي.

کله چي د لـويي جرګې نېټه راورسېده، دا ښکاره سوه، چي د جرګې د غړو شمېر ۲۰۰۰ زرو تـه رسېدلی پـه داسي حال کي چي ۱۵۰۰ سيټونه په نظر کي ورته نيول سوي وه. د لويي جرګې کمېسيون جرګـه يـوه ورځ وځنډول تر څو پرېکړه وکړي چي څوک بايد له جرګې څخه منع سي، چي په پای کي ۱۶۵۰ غړو تـه پـه جرګـه کي د ګډون لـه پـاره اجازه ورکـړل سوه.

نړيوالي ټولني د لـويي جرګې پـه جوړولـو او منظمولـو کي خورا ډېر کومک وکړ. د جرمني حکومت يوه خورا لويـه خېمـه د کابل پوهنتـون په انګړ کي د لويي جرګې د تر سره کولو له پاره ودرول. د کرزي پـه قـول د افغانـستان لـه پـاره د ملګـرو ملتونـو خـاص اسـتازي لخـدر ابراهيمـي د جرګې په دايرولو، د مختلفو ډلو سره د خبرو کولو او هغوی ته د مشورې ورکولـو سـره خـورا سـتر خدمت تـر سـره کـړ. کـرزی وايـي د افغـان اصـله امريکـايي زلمـي خليلـزاد حـضور چـي د ولسمـشر بـوش مرسـتيال چـي وروسته بيا په افغانـستان کـي د امريکـا سـفير سـو رول هـم خـورا مهـم و، ځکه هغه په ځايي ژبه پوهېده او د افغانانو په منځ کي د درناوي وړ و.

د خليلزاد حضور به ګټور و خو جنجالي هم و. دی افغانستان ته د جګړې په جريان کي راورسېد، او د شمالي ټلوالي سره يې د طالبانو په له منځه وړلو کي د خورا نژدې سره کار وکړ. دی او کـرزی نـژدې ملګـري دي او د کرزي سره يې د حکومـت پـه جوړولـو کـي مرسـته او مـشورې ورکـړي دي. ځينو غړو په جرګه کي هغه د اصلي ځواک په توګه وليد، چي د پردي

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر شا به يې د امريکا د نفوذ څخه په ګټه اخيستنه به يې د کرزي ټاکل ډاډمنول. د افغانستان په داخلي چارو کي د خليلزاد د رول پر سر شخړو تر هغه روانه وه چي کله نوموړی دولسمشر بوش له خوا عراق ته د ۲۰۰۵ م کال د اپريل په مياشت کي د سفير په توګه ولېږل سو.

د ۲۰۰۲ م کال د جون پر ۱۰ مه لويه جرګه په رسمي توګه پرانيستل سوه. شاه شورا ته يوه اطلاعيه ولېږل چي په هغه کي راغلي وه، چي دی په پخله د دولت د مشرتوب له پاره د کانديدۍ څخه تېرېږي او ولسمشرۍ ته د حامد کرزي ملاتړ کوي. کرزي ولسمشرۍ ته د کانديد په توګه په جرګه کي سيټ نه درلود خو د انتقالي اداري د مشر په توګه يې شورا ته وينا واورول.

کرزي وايي چي ما يې د پرانيستلو په مراسمو کي ګډون درلود او د ځو غړو سره مي وليدل چي تر هغه وروسته مي خپل ځان ليري ځني ساتی. د ولسمشرۍ چوکۍ له پاره خورا ډېر کانديدان وه، چي په هغو کي د مسعوده جلال په نامه يوه ښځه هم وه، چي وروسته بيا د ښځو چارو وزيره سوه. پخواني ولسمشر رباني هم په کانديدانو کي و چي د شورا په دوهمه ورځ د خپلي کانديداتورۍ څخه تېر سو او د کرزي څخه يې خپل ملاتړ وښود، چي ويل يې دا کار يې د ملي يووالي په خاطر تر سره کړی دئ.

د جون پر ۱۳ مه استازو د ولسمشرۍ له پاره پټي رايي واچولې چي دا په لويه جرګه کي لومړی ځل و. ملګرو ملتونو رايي شمار کړې او اعلان يې وکړ چي له ۱۵۵۵ رايو څخه ۱۲۹۵ رايي کرزي وړي دي.

کرزي وويل چي اوس نو زه د انتقالي اداري مشر وم. ما و استازو ته په خپله وينا کي وويل، چي دا ځونه د وياړ ځای چي يو ځل بيا ټوله

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانان تر يوې خېمې لاندې سره راټول سوي دي. ما د سولې، ثبات او امنيت پر اړتيا خبرې وکړې. ما تر دغې خېمې لاندې د افغانانو هغه ستر ارمان حيسوی چې د خپل هيواد ملکيت بيرته د افغانانو لاس ته ورسي.

د کرزي تر ټاکلو وروسته لويې جرګې د نوي اساسي قانون پر موضوعاتو باندې بحث پيل کړ. د بن په غونډه کې د افغانستان د اساسي قانون د مسودې د جوړولو له پاره يو ځانګړی کمېسيون ټاکل سوی و خو لويې جرګې پرېکړه وکړه چې د اساسي قانون د تصويب له پاره دې په اتلسو مياشتو کې بله جرګه راوبلل سي. د لويې جرګې ناسته يوه اوونۍ وغځېدل، چې خيمې دننه او د کابل په جادو کې خورا کشمکش روان و. څو واره داسې پېښه سوه چې ځينې خوابدې استازي به د اعتراض په توګه له خېمې څخه ووتل او ځينو نورو بيا چې ويل يې دلته بهرنۍ مداخله روانه ده يوه ورځ له جرګې څخه بايکاټ وکړ. د کابل په جادو کې د ايساف سرتېرو د احمدشاه مسعود د ورور ولي مسعود د وسله والو کسانو سره چې په برتانيه کې د افغانستان سفير دئ، برخورد وکړ، خو په ټوليزه توګه د ايساف عسکرو په مرکز کې ثبات ساتلی و. هغه ورځ چې فکر کېده جرګه به پای ته ورسېږي برتانوي تورن جنرال چې په افغانستان کې يې سوله ساتي ځواکونه ځای پر ځای کړل، په مډال ونازول سو او د استازو له خوا ورته د اوږده عمر او بريالیتوب دعا وسوه.

د جرګې په اخره ورځ استازي د کابينې پر ټاکلو کومې موافقې ته ونه رسېدل، او منتخب ولسمشر کرزي استازو ته وويل چې د جرګې وخت پوره سوی دئ چې زه بايد خپله کابينه په خپله وټاکم.

همدې شي خورا ډېر اعتراضونه راوپارول، او کرزي د استازو څخه وغوښتل چې جرګه دوې ورځې نوره هم وغځوي. د جون پر ۱۹ مه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کرزي خپله کابينه اعلان کړه، چې په هغه کې د مسعود د اردو پخوانی قوماندان جنرال قسيم فهيم د دفاع وزير په توګه او يو له خپلو دريو معاونينو څخه وټاکی. يو بل مرستيال ولسمشر حاجي عبدالقدير تر دې يوه مياشت څه کم په کابل کې ووژل سو.

تر ببړنۍ لويي جرګې وروسته کرزي او د ده کابينه د خورا سختي دندي سره مخامخ وه. چې بالاخره د کنډ او کپر افغانستان څخه يو نوی ملت جوړ کړي، چې په هغه کې د يوه فعاله حکومت جوړول هم راځي او په هيواد کې بې شمېره سيمه ييزي اونژادي ډلي سره متحدي کړي چې زياتي يې لا تر اوسه پوره وسله وال وه.

کرزی وايي چې تر لويي جرګې وروسته د ائتلاف د ځواکونو امريکايي قوماندان په ببړنۍ توګه راغلی چې ويل يې زه ستا د امنيت په اړه خورا اندېښمن يم. جنرال وويل هغه افغانان چې ستا پر شاوخوا راټول دي ښه روزنه نه لري او د دې جوګه نه دي چې د تروريزم د خوا تاسي ته د متوجه تهديدونو تر هوده ووتلای سي، او هغه مغلق امنيت ونيسي چې د يوه ولسمشر له پاره اړين وي او ده راته امريکايي امنيتي پلان تشريح کړ. کرزی وايي ما جنرال ته وويل چې زه به په دې اړه فکر وکړم او د خپلو افغانانو سره به دا مسئله شريکه کړم. وبه ګورو چې دوی په دې اړه څه نظر لري. دی ډېر حيران سو چې ټولو افغانانو د هيواد له هر ګوټ څخه د دې خورا په ورين تندي ملاتړ وکړ، چې ما به د همدې پلان په اړه خبري ورسره کولې. دوی کرزي ته وويل دا به ستا تر ټولو غوره کار وي چې تر سره يې کړې او څومره ژر چې امکان لري بايد ويې منې. دوی ده ته وويل چې امنيت يوازي په نفرو نه ساتل کېږي، بلکي پوهه، روزنه او تجهيزات خورا ورته مهم دي. ځکه نو زه ورسره موافق سوم او امريکايانو د امنيت

(c) ketabton.com: The Digital Library

په برابرولو کې خورا ستر خدمت تر سره کړ، بلکې دوی هغه افغان هم وروزل چې له دوی څخه مسئولیت واخلي. زه اوس یو ځل بیا افغان ساتونکي لرم چې خورانبه روزلي او نبه تهجیز دي. امریکایي امنیتي ځواک چې دوه کاله د کرزي پر شاوخوا راټول و تر څنګ یې د افغان ولسمشري ګارډ هم وروزی، د کرزي امنیتي ساتونکو ټولو د امریکایي اردو په ځانګړو ځواکونو کې د کمانډو په توګه او یا په بحري سیلز کې دنده تر سره کړې وه. غبنتلو او جګو امریکایانو چې د لمر عینکې به یې پر سترګو وې او خورا ډېري وسلې به ورسره وې چې کله به کرزی کوم ځای ته تلی هر چیري به دغه امنیتي کسان تر سترګو کېدل، چې همېشه به تر ده شاوخوا راچاپېر و. کله چې به کرزي د یوه ولایت مرکز ته د والي د لیدلو له پاره تلی نو په څرخکه کې به یې سفر کاوه چې د کنبېناستلو سیمه به لا د وړاندي د امریکایانو له خوا ساتل سوې وه. که چیري به محلي مشرانو او یا دولتي چارواکو د ولسمشر د روغبړ له پاره لیکې جوړي کړي وې او کرزي به ورسره تېرېده دوه امنیتي ساتونکي به یې اړخونو او دریم د اتوماتي وسلې سره د تیارسي په حالت کې د لیکې تر شا روان و.

د انتقالي اداري د مشر په توګه تر ټاکلو درې میاشتې وروسته د ۲۰۰۲ م کال د سپټمبر پر پنځمه نېټه په کندهار کې چې کله د ورور واده ته تللی و وژونکې حمله پر وسوه، خو دی ژوندی پاته سو. د خپل وطنوال د لیدلو له پاره خورا ډېر خلک راغونډ سوي وه، ځکه چې دا دده تر ټاکلو وروسته کندهار ته د ده لومړی سفر و. کله چې د ولسمشر کاروان په جادو کې د خلکو تر ګڼې ګوڼې کرار تېرېدی یو کس چې د افغان پولیسو یونیفورم یې اغوستی و د کرزي پر موټر یې ځلور ډزي وکړې، یوه مرمۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کرزي له سر څخه تېره سوه او د کندهار والي ګل اغا شېرزي يې په سر کي ژوبل کړ. د ده زخمونه شديد نه وه او د کرزي امريکايي ساتونکو پر هغه کس ډزي وکړې او ويې واژه. دغه کس عبدالرحمن نومېده چي يو مشکوک طالب و او تر يوه مياشت لږ موده وړاندي د کندهار د والي په شخصي امنيتي ځواک کي شامل سوی و.

تر دې دوه کاله وروسته د ولسمشرۍ د ټاکنو په هيواد کي د پراخ کمپاين پر مهال چي يو ځای ته په سفر و د ۲۰۰۴ م کال د اکتوبر په مياشت کي يې پر هيلکوپټر راکټي حمله وسوه.

خو د اوس له پاره ډېر څه په مخکي وه چي تر سره سي. کرزی وايي موږ بايد د اساسي قانون د لويي جرګې د دايرولو له پاره خورا سخت کار کړی وای. لومړی کار دا و چي د اساسي قانون د مسودې له پاره بايد کمېټې جوړي سي چي يوه د اساسي قانون مسوده جوړه کړي او هغه بله يې تر نظر تېره کړي. ما د ډېرو کسانو سره تر سلا مشورو وروسته د دغو کمېټو غړي وټاکل او د راتلونکي کال له پاره د دوی په وړاندي خورا ډېر کارونه پراته وه، چي تر سره يې کړي. د کمېټو غړو لومړی د عامو افغانانو نظر وغوښت. دوی کسان د افغانستان هري برخي ته ولېږل، چي د افغان ولس نظر معلوم کړي چي څه ډول حکومت غواړي. څو نظرونه وه چي په هغه کي د رياستي نظام، صدارتي نظام / پارلماني نظام او د شاهي نظام بيرته راتګ غوښتل سوی و، خو مطلق اکثريت د رياستي نظام غوښتونکی سو.

کرزي پخپله د مختلفو موضوعاتو په اړه د افغانانو د نظرياتو په راټولو بوخت و. دی وايي تر دې وړاندي چي زه د افغانستان د انتقالي ادارې د مشر په توګه وټاکل سم ما د هيواد د ټولو پرګنو سره غونډې

(c) ketabton.com: The Digital Library

وکړي او همداسي پسې جاري وي. په هغو ورځو کي لومړی شی چي خلکو غوښت هغه بې وسلې کول، بې وسلې کول او بې وسلې کول و. خلکو غوښتل چي د بې شمېره ملېشو او ټوپکسالارانو څخه وسلي راغونډي سي او په هیواد کي د تشدد د بیا راتلو خطر کم سي. افغانانو همدا شان په پوره توګه د قانون پر حاکمیت ټینګار کاوه. تر دغو شیانو وروسته چي نور شیان خلکو کرزي ته ویلي وه هغه ښوونه او روزنه، روغتیایي اسانتیاوي، سړکونه، اوبه، برېښنا او هغه ټوله شیان چي پرمختللي نړۍ ورڅخه برخمنه ده. تر دې وړاندي هم د افغانستان زېربنا پرمختللي نه وه خو اوس بیا بېخي د مرګ پر پوله ولاړ و. یوازي ٦ فیصده خلک د برېښنا څخه برخمن دي او حتی نن هم په کابل کي هر ځای د جنراتورونو ږغونه اوربدل کېږي، ډېر داسي کلي سته چي په ژمي کي یې د واورو له کبله چي پر لوړو کوتلونو و سي د نورو سیمو سره یې اړیکي پرې کېږي. روغتیایې خدمتونه خو تر لویو ښارونو بهر بېخي پر نېست حساب و. د جنګونو په جریان کي په سلګونو ښوونځي نړېدلي وه. د کرزي مکتب حبیبیه لېسه چي په افغانستان کي تر ټولو لوی او غوره ښوونځی دئ په کنډواله بدل سوی و، خو د دې ټولو سره افغانان په دې پوهېدل چي که وسلې ټولي نه سي د پرمختللي ټولني له هیڅ ګټي څخه به برخمن نه سي.

ډي ډي آر یا د بې وسلې کولو پروګرام د ۲۰۰۳ م کال په فبروري کي د افغانستان د نوي پیل پروګرام لاندي د یو ان ډي پي په ملاتړ او د یوناما په همکاري پیل سو. د راتلونکو درو کلونو په جریان کي د ډي ډي آر د پروګرام تر چتر لاندي په زرونو میله وسلې، د توپونو ټوټې، کلاشینکوفونه، ټانکونه، او نوري درنې او سپکي وسلې راغونډي سوې

(c) ketabton.com: The Digital Library

او د دفاع وزارت په واک کي ورکړل سوې. تر ۲۵۰ زيات مليشه ترخيض او تر ۶۳۰۰۰ ډېر پخواني جنګيالي بې وسلې سول. د ډي ډي آر پروګرام همدا شان د پخوانيو جنګياليو سره مرسته وکړه، چي د حرفوي زده کړو له لاري او نورو وظيفو ته په استخدامولو سره بيرته خپل ملکي ژوند ته راوګرځي او يا بيا په افغانستان کي د نوي ملي اردو نظامي ژوند ته ور وګرځي.

کرزی وايي چي ترخيض سو افسرانو او سرتېرو ته د بيا استخدامولو له پاره ډېر شيان وه، چي په لسو کي نهو يې ملکي چاري انتخاب کړې لکه بزګري ، حرفوي زده کړې او تجارت. دوي نور د جګړې څخه ناروغان او د جنګي الاتو د کارولو څخه ستړي او زاره ترکي و.

د ډي ډي آر پروګرام د ۱۴۱ ميليونو ډالرو په لګښت زياته برخه جاپان پربکړه چي د روسانو په مقابل کي يې د مجاهدينو سره د تجهيزاتو مرسته کوله، په ځانګړې توګه د وسايطو او د ۲۰۰۲ م کال په جنوري کي د افغانستان د بيا رغوني په اړه د نړيوال کنفرانس کوربه و. په يقين سره چي د ټول افغانستان څخه وسلې ټولي نه سوې خو د درنو وسلو لوی اکثريت لکه ټانکونه او توپونه د ملېشو او ټوپکسالارانو د لاسونو څخه ووتل او و نوي حکومت ته وسپارل سول.

افغانستان يوازي دا نه چي د وسلو څخه ډک و، بلکي د نړۍ له نهو ماين ګذاري سوي هيوادونو څخه و، چي په سوونه زره انسان ضد، ټانک ضد اونور چاودېدونکي مواد يې په ډېرينه خاوره کي کرل سوي وه. د ماين پاکۍ هڅي د طالبانو د حکومت د نسکورولو راهيسي رواني دي، خولا هم په افغانستان کي تر ټولو لويه وژونکې وسيله ده چي هره مياشت تر سلو زيات افغانان وژني او يا يې ټپي کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چي مسافرين د کابل و نړيوال هوايي ډګر ته راورسېږي د رن وي او ټکسي لارو پر دواړو غاړو د ماين پاکانو د ډېرو نښانونو په ليدلو حيرانېږي خو د کابل هوايي ډګر تقريباً د ماينونو څخه پاک سوی دئ.

کله چي خلکو وليدل چي د ډي ډي آر پروسه بريالی ده نو لومړيتوب بلي خوا ته وګرځېد داسي چي خلک به د ښووني او روغتيايي خدمتونو په اړه ډېر ږغېدل. کرزی وايي چي يو شی مي ډېر خوشحاله کوي هغه دا چي خلک د هرکلي او ولايت نه زما څخه د پوهنتون غوښتنه کوي. ما کوچنيان وليدل چي په خېمو کي يې زده کړې کولې او داسي ښوونځي چي دبمباريو له کبله به يې چتونه نړېدلي وه. تعليم د خلکو تر ټولو لوی ارمان و.

هندوستان چي حامد کرزي پکښې پوهنتون ولوست او انګليسي يې پکښې زده کړه. د حبيبيې ليسې د بيا رغوني له پاره يې بسپنه ورکړه، د ښووني ستره غوښتنه چي کرزی يې په خبرو کي يادونه وکړه ډېره ښکاره وه، ځکه شاګردان په مختلفو دوروکي ښوونځي ته تلل او راتلل چي په خېمو کي به يې زده کړې کولې او د ورانو ټولګيو د بيا رغوني کار به د دوی په شاوخوا کي روان و.

يوبل شی چي د کرزي څخه به د کلي مشرانو غوښت هغه ښځينه روغتيايي اسانتياوي وې. دی وايي چي ما احساس کړه چي ښه ښځينه روغتيايي اسانتياوي ډېري مهمي دي، ځکه چي خلک يې خورا ډېره غوښتنه کوي. دا زما له پاره په دې معنا وه چي ټوله خلک د ښه ژوند ارمان لري. تر دې وروسته به دوی د سړک او برېښنا غوښتنه کوله چي د تجارت او سوداګرۍ له پاره ډېر اړينه ده.

دی وايي چي نن اول لمبر غوښتنه د برېښنا ده، چي د ده دا خبره د

(c) ketabton.com: The Digital Library

راډيو د يوه مخترع پروګرام چلوونکي لخوا عام ولس هم تايد کړه. په کابل کي يوې شخصي راډيو يوابتکاري پروګرام جوړ کړ چي په هغه کي به اورېدونکي په پروګرام کي برخه اخيستل چي خپل نظر ووايي. د همدې راډيو د ټليفون شمېره په راډيو کي خلکو ته اعلان سوه چي کله به اورېدونکو زنګ ورته راوواهه نو يوازي به جواب ورکوونکي ماشين بيپ بيپ کاوه چي نور هيڅ لارښوونه يې نه ورته کول، ځينو ټليفون کوونکو به همداسي ټليفون وکړ چي هيڅ به نه پوهېدل چي څه وکړي خو نورو به خپل پيغامونه پرېښوول او هغه څه به يې ويل چي په زړه کي به يې وه. دغه پيغامونه وروسته نشر سول چي وروسته ډېر خلک په وپوهېدل، د دغه غير رسمي او نامنظمو نظرياتو اورېدلو وروسته د راډيو مشر هغه پايلي ته ورسېد چي ولسشمر کرزی رسېدلی و. د افغانانو لومړني شکايتونه د برېښنا د نسته والي په اړه وه.

د برېښنا غوښتنه ښېله شکه چي ډېره وه، خو د طالبانو تر واکمنۍ وروسته چي کله بازار ته برېښنايي توکي راوارد سول څو چنده يې نوره هم زياته کړل. هيواد اوس د موبايل ټليفون او برېښنا ليک له لاري د نړۍ سره وصل سو، چي همېشني چارج ته يې اړتيا لرل. ځوان افغانان د کمپيوټر پر خوا ور مات سول، د کمپيوټر دوکانونه او کورسونه د کابل په شمول ښارګوټو او کليو ته وغځېدل. افغانانو په خورا پرېمانه توګه د موسيقۍ د سي ډي ګانو د کاپي کولو غلاوي پيل کړې او په ډي وي ډي کي به يې امريکايي او هندي فلمونه کتل. د امريکايي هغو فلمونو غيرقانوني کاپي به په څو ورځو کي د کابل په دوکانونو کي تر لاسه کېده چي تازه به په امريکا کي ننداري ته وړاندي سوي وه او په کوچنۍ کېمره به په ډېره اسانۍ سره د تياتر د پردې څخه ريکارډ سوي وه. د دغو ډي وي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډیانو کنټل داسي وه لکه سړی چي خپله په تیاتر کي وي چي د فلم د لغړیانو، خبري، خندا او ټوخی به پکښې اوربدل کېدی. چي بالاخره به یې پرده هغه وخت بنده سول چي کله به یو لیدونکي او لیدونکي ولاړ سول، او پیاده رو ته به ووتل. افغانانو همدا شان د ټلوېزیون له لیدلو سره مینه درلوده چي دا کار یې د سټلایټ ډیشونو له لاري کاوه او حتی په لیري پرتو سیمو کي به هم تر سترګو کېده.

کرزي وویل چي البته موږ د نوري برېښنا له پاره پلان جوړوو خو دا هر څه ډېر ژر نه سي تر سره کېدلای. اوس دا تر ټولو مهم شی دئ چي نړۍ باید زموږ سره مرسته وکړي چي تر څو د برېښنا د تولید ظرفیت ډېر کړو.

د نوي افغانستان په دغه لومړیو مراحلو کي تر هغه ډېر ژر وروسته چي نړۍ د جګړې دغه ببروونکی هیواد ته بیرته راوګرځېدله افغانانو خورا ډېري هیلي او ارزوګاني لرلې، چي دا خورا لوړي وې. کرزي وایې چي ما په خپله داسي فکر کوي چي موږ به هیواد په څو کلونو کي ورغوو، چي البته زه پخپله د ډېرو افغانانو سره غلط وم، هیله بلکي فکر مو کړی و چي دا هر څه به ډېر چسپ ورغېږي. خو د ژر تر سره کولو هیله لا تر اوسه ژوندۍ ده ځکه چي افغانستان څو کاله له لاسه ورکړي دي دوی د هغه فاصلې په بیرته ډکولو کي خورا په بېړه کي دي او غواړي چي خپل ځانونه نوري نړۍ او په ځانګړې توګه د ګاونډیانو سره برابر کړي.

کله چي هیواد له کورنۍ جګړې له تیارې څخه راووت او طالبانو ته واک ورسېد په لومړي سر کي پرمختګ خورا چټک و خو بیرته دغه پروسه ټکنۍ سوه، چي د هیواد حرکت همداسي پاته سو خو اوس ارزوګانو هم تغیر کړی و. خلکو لوړي تنخواوي غوښتې چي ښه کالي په

(c) ketabton.com: The Digital Library

رانیسي او کورونه په سم کړي. کرزی وایي چي کله به ما په لومړي سر کي د خلکو سره غونډي کولې خلکو به خراب کالي اغوستي وه او ستړیا او مشکلات به یې له ورایه له مخه ښکاریدل، نن دوی ډیري ښه جامې اغوندي اونظرونه یې مثبت سوي او د هیلو ډک دي. په افغانستان کي ژوند مثبت تغیر کوي چي همدا تغیر لا پسې روان دئ. کرزي دا خبره په ۲۰۰۵ کال کي وکړه کله چي د طالبانو په حملو کي زیاتوالی راغلی، افغانان د پرمختګ د کراري ودي څخه خواشیني سول، په ځانګړې توګه د هغه ډول امنیت نه ورته برابرول چي دوی یې هیله لرل.

د اساسي قانون لویه جرګه د ۲۰۰۳ م کال په جنوري کي تر سره سوه، کرزی وایي چي هلته خورا سختي چنې ووهل سوې مګر پروفیسر مجددي چي د جرګې مشر وتاکل سو ټوله شیان ده د مختلفو خلکو د ګټو او د هغوی د نظریاتو سره په معامله کي د خورا حیرانوونکي طریقې څخه کار واخیست. د اساسي قانون مختلف شکلونه په نظر کي نیول سوي وه، چي بالاخره استازو ریاستي نظام خوښ کړ چي البته دا د افغانانو هیله هم وه. دې کیسې شل ورځې په بر کي ونیولې چي بالاخره مسوده داسي حال ته راورسېده چي لوی مشکلات یې حل او د اضافي تغیراتو راوستلو تر پولي ورسېده. کله چي د نورو تغیراتو راوړلو نور څه نه وه پاته پروفیسور مجددي و هغه ته د رایي ورکولو اعلان وکړ. دا آزادي رایي وې چي ده یې د منلو له پاره د درېدلو وویل چي تقریباً ټوله غړي چي تر ۵۰۰ ډېر وه په تایید یې ولاړ سول. کرزی وایي چي یوازي دوه درې کسان یې په تایید ونه درېدل. چي دا خورا د حیرانۍ وړ و، ځکه چي افغانستان اوس اساسي قانون درلود چي دا خورا ښه اساسي قانون و چي په نړۍ کي خورا ځانګړی او حکومت ته یې په خورا سمه توګه د رسېدلو چاره

(c) ketabton.com: The Digital Library

تنظیمول.

د دغه نوي اساسي قانون يوه ځانګړنه دا ده چي کرزی په وياړي چي ټولو ژبو ته پکښې مساوي حق ورکړل سوی دئ، چي اوس به کوچنيان کولای سي چي په خپله سيمه کي په خپله ژبه زده کړې وکړي.

ښځو ته په پارلمان کي ۲۵ فيصده سيټونه ورکړل سوي دي، خو عملاً د هيواد په ډېرو برخو کي خورا مشکل او ناممکن کار دئ، چي ښځې دي په آزاده توګه دمحلي دفترونو له پاره کمپاين وچلوي. په نتيجه کي د پارلمان خرڅ سوي غړي د ځواکمنو په توګه چي په هغو کي قاچاقبران، ټوپکسالاران د چوکيو د تر لاسه کولو له پاره هڅې کوي.

خو بيا هم ښځو ته قانون دا اجازه ورکړېده، چي په پارلمان کي چوکۍ ولري او اساسي قانون هم په دې اړخ کي لږ څه مرسته کړې چي په افغانستان کي د ښځو دغه دردمنه وضع لږ څه سمه کړي چي په روايتي توګه يې حيثيت خورا ټيټ و، چي د جګړو په جريان او د طالبانو د واکمنۍ په جريان کي خو يې هيڅ نه درلود. د ښځو وضعيت مخ پر تغير دئ خو دغه پروسه په اطرافو کي خورا ټکنۍ ده. د ۲۰۰۴ م کال په پرتله ما په ۲۰۰۵ م کال کي په کابل کي خورا لږ ښځې وليدې چي بورقې به يې کړې وې او هر وخت به مي دوې درې ښځې ليدې چي بېله نارنه به سره ملګري او د نوي ښار په لوړو مارکېټونو کي به يې سودا کول. د ځوانانو نجونو ډلي به ليدل کېدې چي د کابل د مرکزي هوټل په هال کي به يې قهوه څښل، باناړار به يې کاوه او خندل به يې چي تر دوی څو مېزه ها خوا به بيا هلکانو په ناز او نخرو ورته کتل. خو د کابل په اطرافو کي د ښځو حقوق تقريباً له نېست سره برابر دي. کورنۍ تاوتريخوالي ډېر او په زوره ودول خورا عام دي. کم عمره نجوني د کورنيو د غريبۍ له کبله د پيسو په

(c) ketabton.com: The Digital Library

مقابل کي څلوېښت کلونو پنځوس کلونو خلکو ته ودېږي. د داسي پېښو راپور خورا لږ ورکول کېږي، خو بیا هم د بشر د حقوقو د خپلواک کمېسیون مشره سیما ثمر وايي چي د افغان ښځو د ځان وژني په سلګونو پېښي يې ثبت کړي دي. کمېسیون وايي چي په زوره ودول، د کم عمر نجونو ودول او پر ښځو ورکول د ځان وژني تر ټولو لوی عاملونه دي چي اکثره دغه پېښي په مرګ پای ته رسېږي.

په افغانستان کي رسنیو ته په لاس رسي سره بېله شکه چي د ښځو په حقوقو کي به ښه والی راسي او د هغوی د اعتبار په اعاده کولو کي به مرسته وکړي خو سرعت یو تصوري ربط دئ چي دا به یو او دوه نسلونه په بر کي ونیسي چي د ښځو په وضعیت کي رښتوني پرمختګ راسي خو په دې شرط چي په هیواد کي امن او ثبات وي.

د اساسي قانون تر تصویب وروسته حکومت د ټاکنو له پاره په تیاري بوخت سو. دوو ټاکنو ته ضرورت یو یو د ولسمشرۍ له پاره او هغه بل د پارلمان د غړو د ټاکلو له پاره چي دواړه باید جلا تر سره سوي وای. په نړۍ کي داسي شکونه وه چي په افغانستان کي به آزادي ټاکني تر سره نه سي، داسي بېره وه چي طالب او القاعده ترهګر به خلک د انتخاباتو نوم لیکلو ته پرې نه ږدي او خلک به د رایو ورکولو څخه بېروي. کرزی وایي چي زما خپل توقعات خورا لوړ وه، چي یو ځل بیا غلط ثابت سول، ما ویل چي که د شپږو څخه تر اوو میلیونو افغانانو پوري نوم لیکنه وکړي دا به زموږ له پاره تر ټولو لوی شی وي او د ډیموکراسۍ له پاره به ستر ګام وي. خو په خورا ډېر لږ وخت کي د نوم لیکني پروسه ۱۰ میلیونو ته ورسېده چي دا یوازي د افغانستان د پولو دننه وه. خو کله چي په پاکستان او ایران کي مهاجرو نوم لیکنه وکړه دغه شمېره ۱۲ ملیونو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورسېده. کرزی وايي چي افغانانو د انتخاباتو سره خورا مينه لرل او دې ته لېوال وه چي د خپل هيواد په راتلونکي کي برخه واخلي.

د ولسمشرۍ ټولټاکني لومړی د جولای پر پنځمه پلان سوي وې خو د ټاکنو د اماده ګۍ له پاره چي کوم اټکل سوې و هغه تر هغه ډېر ګران راوخوت. د رايو د کاغذونو له پاره ښه تياري ته اړتيا وه ځکه چي په هيواد کي د بې سوادۍ کچه خورالوړه وه، او خورا ډېرو کسانو د ولسمشرۍ له پاره ځانونه کانديد کړي وه، په لومړي سر کي درويشت کسانو د ولسمشرۍ له پاره ځانونه نومولي وه چي شپږ يې تر انتخاباتو مخکي له خپلي کانديداتورۍ څخه لاس پر سر سول. د رايي پر هر کاغذ به د کانديد عکس، نوم او يوه خانه چي د ده او يا دې له پاره نښاني سي. دا چي زيات کانديدان مستقل وه او که به کوم رايه ورکوونکي د کوم کانديد نوم نه سو ويلای او عکس به يې نه پېژندی نو دا به يې زده کول چي کومه خانه نښاني کړي. تر انتخاباتو وړاندي ټولو رايه ورکوونکو ته کارډونه ورکړل سول او داسي آوازې هم وې چي ځينو رايه ورکوونکو څو کارډونه اخيستي دي. دا چي د دې مخنيوی وسي چي رايه ورکوونکي تر يو ځل ډېر رايه ورنه کړي تر رايي ورکولو وروسته به يې ګوته په رنګ ور لړل داسي تورونه هم وه چي دغه رنګ په خورا اساني سره پاکېږي.

د جولای ۵ و سپټمبر ته وځنډېدل خو چي بيا هم کارونه نه وه سم ټاکني يو ځل بيا د اکتوبر ۷ ته وځنډېدې.

کرزی وايي چي تر ټاکنو وړاندي ما د هيواد د هر ګوټ له خلکو سره وليدل، د ولايتونو څخه په ډلو ډلو مشران راتلل او که به هوا ښه وه نو په ارګ کي به مي له دوی سر د ارګ په باغ کي تر ونو لاندي کتل او هر څه چي به يې په زړه کي وه راته ويل به يې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ارګ کې دننه غونډې د کرزي د انتخاباتي کمپاين تر ټولو ښه او خوندي لار وه، چې په بهر کې د ده د وژلو ډېره موجوده وه خو په ارګ کې غونډې هم يو ډېر زړه ور سياسي تاکتيک و، په اوونۍ کې څو ورځې چې کله به دی په کابل کې موجود و د ولايتونو څخه چې به کوم قومي مشران راوستل سوي وه له ده سره به په وار شلو او تر دې زياتو قومي مشرانو مخامخ ليدل. دغه قومي مشران به تر ساعتې ټاور لاندي څوځايه تلاښي کېدل او د ارګ مسجد ته نژدې به د لويو ونو تر سيوري لاندي راغونډېدل. ولسمشر کرزي به د ګلخانې ماڼۍ څخه راووت او هلته به يې له دوی سره وليدل او د دوی خبري، شکايتونه او ستايني به يې واورېدې. دغه مشران به د ارګ د ستر والي څخه اغېزمن کېدل او په حقيقت کې به يې يو په يو د هيواد له ولسمشر سره خبري کولې. خو کله چې به خپلو کليو ته وګرځېدل خلکو ته به يې ويل چې ما له ولسمشر سره وليدل او هغه داسي راته وويل.

کرزی وايي چې زما هغه غونډه په ياد ده چې د کابل و جنوب ته د پکتيا د ولايت د مشرانو سره مي لرل، يوه مشر حاجي عبدالرحمن ځدراڼ راته وويل چې موږ له دې کبله تا ته رايه نه درکوو چې ته پښتون يې. موږ تاسي ته د يوه افغان په توګه رايه درکوو، او ده زياته کړه چې رايه هم تا ته درکوو، ځکه چې موږ پوهېږو چې ته به له هزاره ګانو سره مرسته وکړې او که موږ په دې پوه سو چې ته د دوی ولسمشر نه يې نو موږ تاسي ته رايه در نه کړو.

په يوه بله غونډه کي د مزار شريف يوه افغان ازبک کرزي ته وويل چې ما پرېکړه کړې ده چې رايه به تاسي ته درکوم دا له دې کبله چې زه هم ستاسي غوندي د پاکستان په کوټه کي مهاجر وم او ما هغه ځای

(c) ketabton.com: The Digital Library

ليدلی دئ چي تاسي به کار پکښې کاوه او هلته به ټول افغانان درتلل او غونډي به يې کولې او هلته هيڅ داسي غونډه نه ده تر سره سوې چي ما ته پکښې د ګډون بلنه نه ده راکړل سوې او لـه همدې کبلـه زه پر تاسو باور لرم.

کرزی وايي چي يو استازي لـه پامير څخه راغلی و دا سيمه پـه شمال کي واقع ده سفر کول ورته ډېر ګران دي او دا پـه خورا ډېرو کلونو کي د دوی لومړی ځل و، چي خپل مشکلات يې حکومت ته وويل.

ولسمشر تـه پـه خبرو کـي پتـه ولګېده چي دوی تـه ملي يووالی خورا ډېر ارزښت لـري. دوی داسي حکومت غوښت چي د ټولـو پرګنـو استازيتوب وکړي او دا شي پـه ځانګړې توګه پـه غير پښتنو کي خورا پياوړی و، چي څو پېړۍ پښتنو واکمني پر کړېده. خو زيات پښتانه ټولـو افغانانو ته په مساوي توګه کتلو تـه خورا زيات ارزښت ورکوي. کرزی وايي څه موده وړاندي له کندهار څخه يو مخور کس چي زموږ د کورنۍ دوست و دلته راغی او تر پنځلس ورځو تېرولو وروسته يې وويـل چي زه بيرته کندهار ته ځم. ما ورته وويل چي زه کوم خدمت وکړم؟ ده وويـل هيڅ نه زه مازي راغلم چي ستاسي احوال واخلم او تاسي هم شکر ښه ياست مګر زه يوه هيلـه لـرم هغـه دا چي افغانان ټولـه ځورېدلي دي او تاسي بـه البتـه د هغـه چا سـره مرستـه کـوئ چي کومـک تـه اړتيـا لـري. مګـر د افغانستان هندوان تر ټولو ډېر ځورېدلي دي خو په هره لار چي وي د دوی سره تر ټولو لومړی مرسته وکړه.

د ولسمشرۍ ټاکني د ۲۰۰۴ م کال د اکتوبر پر نهمه تر سره سوې خلکو چي د کومي ببري احساس کاوه غلط راوخوت او په خورا ډېر شمېر کي کسان د رايي اچولو له پاره راووتل او يوازي يو څو پېښي د ترهګرو

(c) ketabton.com: The Digital Library

له خوا تر سره سوې. د رايي اچوني مرکزونه د سهار پر شپږو او اوو بجو پرانيستل سوه او د مازديګر پر ۴ بجو وتړل سول. د ټاکنو په ورځ اعلان وسو چي ځونه امکان ولري هغونه رايي اچوونکي بايد رايي واچوي، د رايي اچوني مرکزونه بايد د مازيګر تر شپږو بجو پوري پرانيستي وي. خو دا خبر د رايو ځينو مرکزونو ته ناوخته ورسېده، درې برخي راجستړ سوو خلکو رايي واچولې او خلک په ډېره خوشحالۍ سره د ډيموکراتيکي پروسې له پاره راووتل.

کرزی وايي چي وروسته مي د انتخاباتو په اړه خورا حيرانوونکي کيسې واورېدې. ځيني دغه کيسې په نړيوالو مطبوعاتو کي هم خپرې سوې چي افغانستان ته د ټاکنو د خبرونو له پاره راغلي وه. يو کس چي خپل عمر يې پنځوس کلن ښووه او پر مخ يې د اوښکو سېلاب را روان و و بي بي سي ته وويل داسي ښکاري لکه خوب چي وينم. پنځه ويشت کاله بې ځايه توب او د خپل کور ځخه ليري ژوند مي ملا راماته کړه، خو نن داسي احساس کوم لکه چي بيرته زېږېدلی يم.

کرزی د انتخاباتو د ورځي بله کيسه داسي بيانوي: د فراه په ولايت کي يوه زړه ښځه د رايو اچولو مرکز ته راغله ويل چي دا د ځان او لور له پاره رايه اچوي. دې ته وويل سوه چي ته يوازي د خپل ځان له پاره رايه کارولای سې، خو د لور پر ځای يې نه سې کارولای. ښځي وويل چي ولي هغه خو زما لور ده زه غواړم د هغې پر ځای رايه واچوم. کارکوونکو ورته وويل : بخښنه غواړو خو تاسي داسي نه سئ کولای. دا ښځه ولاړه او تر دوه درې ساعته وروسته بيرته راوګرځېده او خپله ځوانه لور يې د ځان سره په داسي حال کي راوستل چي يو ګړی مخکي يې اولاد زېږېدلی و، او هغې خپله رايه پخپله واچوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوه بله کیسه له بامیان څخه راغله چې هلته یوې سپین سرې ښځې څلور ساعته په واوره کې پر پښو مزل کړی و تر څو د رایو اچولو مرکز ته ورسېږي. کارکوونکو ورڅخه وپوښتل چې ولې دې دونه تکلیف د رایو اچولو له پاره پر ځان تېر کړ؟ ولې رایه دونه ارزښت درته لري؟ دې په جواب کې ورته وویل زما ژوند خو هغسې تېر دئ خو زه غواړم د خپلو کوچنیانو له پاره او د دوی د بچیانو له پاره رایه ورکړم. د رایو اچولو په یوبل مرکز کې یوه ناوې چې د واده جوړه یې په غاړه وه له موټر څخه راکښته سوه او ویې ویل چې په خدای سوګند که رایه ورنه کړم نو خپل واده ته به په آرامو مغزو ولاړه نه سم. د کابل ورځپاڼې یوخبریال چې د مریم لېسې د رایو اچولو مرکز مخ ته شل دقیقې ولاړ و خبر ورکړ، چې زه دلته ډېرې ښځې وینم چې د رایو اچولو د مرکز څخه د خوشحالۍ له کبله په اوښکو ډکې سترګې راوزي. یوه اتیا کلنه ښځه چې په سترګو ړنده وه د خپل لمسي په مرسته د ملالۍ لېسې د رایو اچولو مرکز ته د سهار پر نهو بجو راورسېدل. دې یوه خبریال ته وویل چې تېره شپه مې یوه سترګه خوب هم نه دئ کړی. خپل لمسی مې د شپې له دې کبله راکښېنوی چې حتی لیدی مې هم نه، چې سهار سوی به وي د رایو اچول به راڅخه پاته سوي وي. ټکسي ډرایور عبدالمتین وبي بي سي راډیو ته وویل دا یو داسې خوب دئ چې د تل له پاره به راسره وي. دا ټوله کیسې وې چې رایو اچوونکو ټوله خطر هېر کړی و او د رایو ورکولو له پاره راوتلي وه.

د کرزي تر ټولو لوی سیال د شمالي ټلوالي وتلی کس یونس قانوني و، چې پر ډېرو چوکیو یې کار کړی و او په لنډه مهاله اداره کې د کورنیو چارو د وزیر په توګه پاته سوی و. کرزي باید د ټولو رایو څخه پنځوس فیصده تر لاسه کړي وای تر څو د دوهم ځل له رایو لوېدلو څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې مخنيوی کړی وای. کله چې د نومبر پر دريمه د رايو پايلې اعلان سوې دی د افغانستان د لومړي ولسمشر په توګه په ۴، ۵۵ فيصده رايو وټاکل سو. دی وايي چې رايي د ټولو قومونو لخوا د هيواد په هره برخه کې وشمېرل سوې. په رايو کې د درغليو ناري پورته سوی، چې ملګرو ملتونو يې د يوه مستقل کمېسيون له لاري د پلټلو ژمنه وکړه، خو هيڅ داسې يو شی پيدا نه سو چې هغه دې دغه پايلې بې اعتباره کړي.

د ولسمشرۍ تر ټاکنو وروسته سمدستي د پارلماني او ولايتي شوراګانو د انتخاباتو له پاره اماده ګي نيول پيل سوه، چې د ۲۰۰۵ م کال د سپټمبر پر ۱ مه تر سره سوې. د ولسي جرګې د ۲۴۹ سيټونو له پاره ۲۷۰۷ کسانو ځانونه نوملي وه او ۳۰۲۵ د ولايتي شوراګانو له پاره. کرزی وايي چې ترهګرو د رايو اچولو پر ځينو مرکزونو حملې وکړې تر څو رايي ورکوونکي وبېروي، مګر افغانانو، کانديدانو او د هغوی ملاتړو او رايو اچوونکو تر هغه ځايه چې زه خبر يم د هيڅ وران کاري پېښې سره نه دي مخ سوي.

د افغانستان او حامد کرزي سفر (۲۰۰۱) کال راهيسې او بيا تر اوسه د خورا ډېرو پېښو ډک و، چې اکثره به دغه پېښې خورا بېروونکې وې. کرزی وايي چې زه احساس کوم دا د افغانستان له پاره خورا د وياړ شېبې دي. کرزی وايي زما په نظر چې د دغه ښو شېبو په تر لاسه کولو کې قومي مشرانو، جهادي رهبرانو، روحانيونو او هر چا مرسته کړې ده. موږ خپل هيواد بيرته تر ډېري ورانۍ وروسته تر لاسه کړ، سره له دې چې خورا لويې ستونزې او دسيسې يې په وړاندې لوېدلې وې. خو د هيواد تاريخ چې په ژوره توګه يې په ملت کې ريښې غځولې وې او هغه باغيرته خلک چې د خپل هيواد سره يې بې کچې مينه لرل دا ټولې هڅې شنډې کړې،

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چي موقع راورسېده ملت هم يو سو.

په دغه يووالي کي هغه وخت بيرته درز پيدا سو، چي د افغانستان د بيا رغوني پروسه خورا ټکنۍ پر مخ روانه وه، چي دې کار د کرزي او ډېرو نورو افغانانو هيلي په اوبو لاهو کړې. د افغانستان د بيا رغوني پروسه ځکه کراره وه چي يو خو دا هيواد ټوله وران سوی و او بل دغه ناکامه دولت دې ته اړتيا لرله چي تقريباً ټوله بايد له سره جوړ کړل سي. بل علت يې دا هم و، چي د جنګ په جريان کي يو نسل د جوړوني مهارتونه او ملکي تعليم يافته کسان يې له لاسه ورکړي وه. امنيت يوبل مشکل و. طالبان چي د ۲۰۰۱ م کال په پای کي له واکه ليري کړل سوي وه هغه وخت بيرته راپورته سول کله چي متحده ايالاتو خپله توجه عراق ته واړوله. راپورته سوو طالب ښورښيانو ښوونځي ونړول. استادان او اداري کارکوونکي يې ووژل او د هغه خلکو ملاتړ يې بيرته تر لاسه کړ چي فکر يې کاوه د کابل اداره د دوی امنيت نه سي خوندي کولای. کرزی د نړيوالي ټولني د مرستو په اهميت چي تر اوسه يې د افغانستان سره کړي دي او کوي يې پوهېږي، او دا ورته معلومه ده چي د نوري نړۍ د مرستي او ژمنو پرته دغه هيواد دغه سفر په يوازي سر په ثابته اوخوندي توګه نه سي تر سره کولای. ډېر څه تر لاسه سوي دي او ډېر نور شيان بايد تر سره سي.

افغانستان اوس يو انتخابي حکومت لري، کرزی وايي چي موږ اوس بيرته د ملتونو ټولني ته راوګرځېدو. افغانان يوځل بيا دنړۍ د بلنو په ليست کي چي په کنفرانسونو کي به يې برخه اخيستل او ويناوي به يې اورولې راغلی، دا د افغانانو له پاره د وياړ تر ټولو ښه نخښه ده چي دوی يوځل بيا په نړيوالي ټولني کي ځای لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغاني پاسپورټونه یو ځل بیا وښل کېږي چې دا تر ټولو مهم شی او د دې څرګندونه کوي چې افغانان نور بې دولته خلک نه دي چې نوري نړۍ ته سفرونه نه سي کولای. د کابل نوی ښار د جادو پر خامه خواوو چې دغه سیمه هر واګون چلوونکي ته معلومه ده په درزنو خلک د پاسپورټ د تر لاسه کولو له پاره ولاړ وي. په دغو کسانو کي زیات یې لیك لوست نه سي کولای چې عرضه لیکونکو د جادو پر څنډو دوکانونه ورته پرانیستي دي. د سړک د غاړي عکس اخیستونکي په زړو بکسي کامرو باندي تصویرونه ور باسي.

کرزی وایي زه چې د نړۍ هر ګوټ ته سفر کوم په دې ډېر خوشحاله او ویاړم چې د افغانستان بیرغ ما ته ښه راغلی وایي. د افغان حکومت یوه لاسته راوړنه دا وه چې کرزی په هغه ډېر فخر کوي هغه د زړو پیسو ټولول او په نوې سکه بدلیدل دي. کله چې انتقالي حکومت منځ ته راغی ډېري کرنسۍ د چلېدو په حال کي وې. موږ فیصله وکړه چې دغه زاړه بانک نوټونه راټول کړو، چې ټوله اتلس تریولینه وې او په نوي کرنسۍ مو بدلي کړې. دی وایي چې دا هر څه مو په درو میاشتو کي تر سره کړه او هغه زړې پیسې مو وسوځلې. کله چې نوي نوټونه چاپ سول لومړی سړی چې تر لاسه یې کړې په کابل کي و. کله چې هغه ته پیسې په لاس کي ورکړل سوې مچ یې کړې او ویې ویل چې دا زما پیسې دي. معنا دا چې دا د افغانانو پیسې دي. نوي پیسې د هیواد هري برخي ته په موټرو، الوتکو، خرو، اسانو او په غرونو کي پر پښو ورسول سوې. کرزی وایي چې یوه انه یې هم ورکه نه سوه.

د کرزي هغه یاد دي چې په خپل یوه سفر کي ورته یوه بزګر ویلي وه، دا داسي کیسه ده چې دی یې کوي نو ورسره خاندي، ځکه چې دا ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته ښکاره کوي پر کوم څه چي دی باور لري هغه د افغانانو ربښتینتوب او حقیقي طبیعت دئ. دی وایي چي زه بدخشان ته تللی وم او هلته د یوه زیارت سره تم سوم. د دغه زیارت ترڅنګ یوه کوچنۍ کوډل وه چي یو سړی پکښې مېوه خرڅول. دا د شاتو په شان د خوړو خټکیو وخت و ، دغه کس یو خټکی مات کړ ما ته یې یوه دړه راکړه ما هم وخوړل او مننه مې ترې وکړه. ما ورته وویل ښاغلې خدای دي ستا دوکان دونه در لوی کړي لکه افغانستان. ده په جواب کي وویل نه ښاغلې زه داسي نه غواړم. موږ باید د ټول افغانستان د آبادۍ او ښه والي له پاره دعا وکړو چي په هغه صورت کي به زما دوکان هم ښه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# (۹)

# پرمختګ، ژمنه او مشکلات

## په مخ کي پرته لار



(c) ketabton.com: The Digital Library

د اې بي سي نيوز(ABC News) لخوا چې په ۲۰۰۵ م کال کې تر دې سرليك لاندي سروې تر سره سول چې ايا افغانستان به پر پرتو ستونزو بريالی سي پايلي يې په دې ډول وې: ۷۷ افغانانو فکر کاوه چې هيواد يې پر سم لورو روان دئ. ۷۱ فيصده خلک دا حکومت د طالبانو تر هغې خوښوي. ۸۷ فيصده خلک فکر کوي چې د امريکا په مشري د طالبانو له واکه ليري کول د افغانستان په ګټه دي او د لسو څخه نهه افغانان د اسامه په اړه بد نظر لري. لوی اکثريت په دې نظر دئ چې د ژوند په حالت کي ښه والی راغلی دئ. د نظر څرګندول تر پخوا ډېر آزاد دي او امنيت هم ښه سوی دئ.

چې دا تر ټولو ښه خبر دئ.

په همدې کال کي تر ټولو بد خبرونه دا وه، چې د افغانستان د ټوله نفوذ څخه يوازي ۶ فيصده خلک د برېښنا څخه برخمن دي. د افغانستان سم نيمايي بالغ افراد بې سواده دي او افغانستان لا د نړۍ تر ټولو غريبو هيوادونو په ليکه کي دئ. د تېرو دوو کالو راهيسي د پولي د هغي غاړي څخه د پاکستان ميشت طالبانو او القاعده ښورښيانو په حملو، په کابل کي د ځانمرګو بريدونو په شمېر او د اپيمو په توليد کي زياتوالی راغلی دئ او په حکومت کي فساد خپلي لوړي کچې ته رسېدلی دئ، چې په کابل کي د حکومتي مامورينو ښايسته ودانۍ يې تر ټولو ښه بېلګه ده. تر هغه چې دغه وضعيت حاکم وي تر هغه وخته به افغانان پر خپل حکومت او د هيواد پر ښې راتلونکي اعتبار ونه کړي.

دا هغه مشکلات دي چې ولسمشر حامد کرزی ورسره مخامخ دئ. دی په دې پوهېږي چې دا ټوله شيان په يوازي سر نه سي سمولای.

کرزی وايي د ۲۰۰۱ م کال راهيسي افغانستان ډېر پرمختګونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړي خو موږ په مخ کي خورا اوږده لار لرو، چي وروسته دا دعوه وکړو چي موږ پر خپل ځان ويسا او خوندي يو. موږ ډېر مشکلات لرو، چي بايد حل يې کړو او ډېر خنډونه چي بايد له مخه يې ليري کړو.

يو تر ټولو لوی مشکل مخدرات دي، د امريکا او برتانيې پنځه کلني ګډې هڅې چي د ترياکو توليد له منځه يوسي او يا يې کم کړي په ځرګند ډول غير اغېزمني تمامي سوي دي. او افغانستان اوس په تخميني توګه د نړۍ د هيروئينو او اپيمو د ۸۵ څخه تر ۹۰ فيصده توليدوي. د سي بي سي (CBC) د ۶۰ دقيقو په راپور کي چي په ۲۰۰۵ م کال کي يې خپور کړ ويل سوي وه چي اپيم د افغانستان تر ټولو لوی نقد حاصل دي او د هيواد د کورنۍ کرهني سم نيمايي توليد دئ.

ولسمشر کرزی د ترياکو پر کرنه خورا سخته نيوکه وکړه، خو افغان حکومت د دې توان او منابع نه لري چي د دغې پديدې سره جګړه وکړي. د افغان ملت ملي پاليسي هيڅ چيري د دې جوګه نه ده چي د قاچاقبرانو سره مبارزه وکړي، چي زيات يې اوس په پارلمان کي ناست دي. چي د همدې لاري لاسته راغلو پيسو باندي اوس د هيواد په سياسي تشکل کي ځای لري.

کرزی وايي د مخدره موادو مشکل اقتصاد ټکني کوي. چارواکي فاسدوي او ترهګرو ته مالي منابع برابروي. زه په دې باور لرم هغه ترهګر چي نړيوال تجارتي مرکز يې ونړاوه د مخدره موادو او نورو غير قانوني لارو څخه په لاس راغلو پيسو څخه يې استفاده کړې وه.

ډېر څارونکي دا اندېښنه لري چي افغانستان به د مخدره موادو په يو دولت بدل سي. داسي چي هر څه به يې د قاچاقبرانو له خوا اداره کېږي. لکه د کولمبيا د (Pablo Escobar) او (Cali) د کوکينو نېکمرغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

شرکتونه چي هر څه د دوی په انحصار کي وه. کرزی وايي چي هغسي يو حالت به هيڅکله رانه سي خو دا يو جدي مشکل دئ او وي به، خو افغانان به يې د نړيوالي ټولني په مرسته او همکاري له منځه يوسي.

کوکنار په افغانستان کي د پېړيو راهيسي کرل کېږي. اپيم به همېشه د کوچنيو ډلو له خوا د اوښانو د کاروانو په واسطه د شرق څخه و غرب ته د افغانستان د ورېښمو پر لار تېرېدل. د نونس سوه شپېتمو او اويايمو کلونو کي افغانستان د اروپا او امريکا د خوشحاله کلتور له پاره تر ټولو له دې کبله ښه ځای و چي هلته به اپيم او د هغوی اشتقاق سوې ښه يعني هيروئين په خورا کښته بيه تر لاسه کېدل. له همدې کبله د هيروئينو کمپنيو د پاکستان په غير علاقو يا قبايلي سيمو کي د اپيمو په تصفيه پيل وکړ، چي په غرب کي خورا ډېر غوښتونکي لري. خو کرونده ګر د همدې پيسو خورا لږه برخه تر لاسه کوي چي ډېري پيسې يې د توليدونکو، قاچاقبرانو، منځګړو او پر چادو خرڅوونکو جېبونو ته لوېږي. دا چي د مخدره موادو د کرلو غوښتنه ډېره وه کوکنارو د افغانستان په نقدي محصولاتو کي لومړی ځای ونيوی او هيواد چي د انارو، انګورو او خټکيو له کبله مشهور و بازار له لاسه ورکړ. جګړو د هيواد د غلو محصول ته نور زيان واړوی. د مجاهدينو ځيني ډلي بالاخره د همدې مخدره موادو په پيسو چلېدلې. دا چي د هيواد اقتصاد په خورا بد حالت کي و ځينو افغان بزګرانو له دې کبله چي ژوندي پاته سي خپلي مځکي د کوکنارو په مزرع واړولې او ځينو ته خو د کوکنارو نه کرلو په صورت کي د قاچاقبرانو له خوا د فصلونو اړولو او حتی وژلو ګواښ سوی و.

کرزی په دې اړه داسي څرګندوني لري چي وايي کله چي په ۱۹۷۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

م کال کي روسانو پر افغانستان يرغل وکړ ډېر افغانان مختلفو هيوادونو ته مهاجر سول. هغه خلک چي په افغانستان کي دننه د خپلو کورونو او فارمونو د ساتلو له پاره پاته سول د روسانو اومجاهدينو تر منځ جګړه کي د دوام داري بېړي سره مخامخ وه. هيڅ افغان پرته له دې بېړي په خپل کور کي بېديدای نه سوای چي سبا به د دوی کور روغ وي، فارم به يې په راکټونو او بمونو نه وي وران سوی. سبا به ډوډۍ وخوري او حتی چي سبا به ووينې که نه. افغانان د سبا له پاره په پلان جوړولو نه وه اړ بلکي د هغه ورځي هغه ساعت او هغه دقيقې چي دوی پکښې ژوند کاوه.

افغانان په خورا مايوسه حالت کي وه له همدې کبله نو د کرزي په قول چي (بهرنيو عناصرو) د دغه وضعيت څخه ګټه پورته کړه او د کوکنارو کرلو ته يې وده ورکړه. بزګران چي د پېړيو راهيسي يې خټکي، انار او انګور کرل او هغو چي غواوي او پسونه روزل د قاچاقبرانو له خوا وهڅول سول، چي خپل زاړه محصولات پرېږدي او په خپلو مځکو کي کوکنار وکري. په ډېرو ځايونو کي دغه بزګران د ټوپک په ځوکه دې ته اړ کړل سول خو زيات يې په نورو لارو هم رامات کړل سوي دي. د مخدره موادو قاچاقبرانو به بزګرانو ته په لويه اندازه پيسې په پور ورکړې خو د هغه بيرته ادا ينه به يوازي د کوکنارو په کرلو کي ممکنه وه. کرزی د همداسي يوې کورنۍ يادونه کوي، چي د کندهار ولايت تر ټولو حاصل خېزه سيمه کي اوسېدل. چي په زوره دې ته اړل کړل سول چي خپل د انارو باغ له منځه يوسي. دی وايي دا چي نوره ټوله کورنۍ پاکستان ته مهاجره سوې وه او يو کس تر شا پاته و، چي مازي ژوندی پاته سي د انارو پر ځای کوکنار کرل. دا ډېر ګران او ځوروونکی کار و، چي هغه دي په زړه پوري د انارو باغ له منځه يوسي، چي د ده په کورنۍ کي د څو کلونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

راهیسي و ، چي ډېر به دي نازوی او له مېوو څخه دې خوند اوګټه پورته کړل. خو دغه کس په دې ارو ، چي همداسي وکړي. ډېر افغان بزګران په همدې شان وځورول سول، چي خپل باغونه او د ښځیو فارمونه یې وران کړل خو ځینو بیا دا کار بېله کومي اقتصادي ګټو او ژوندي پاته کېدلو له بېري وکړ.

وروسته طالبان راغلل، چي هر څه له بدوبتر سول. کرزی وایي چي تر دوی وړاندي په افغانستان کي د هیروئینو هیڅ کمپنۍ نه وه کله چي دولت ونړېدی قاچاقبران وپوهېدل چي اوس نو په هیواد کي دننه په خوندي توګه فعالیت کولای سي. تر دې وړاندي د هیروئینو دغه کمپنۍ په همسایه هیوادونو کي وې. البته دا د دې کبله نه چي بزګران دي د کوکنارو د کرلو له کبله شتمن سوي وي داسي نه ده، ځکه چي د غه زیاته ګټه د اکمالولو کړۍ وړي خو بیا هم بزګران تر اناروډېري پیسې جوړوي، چي له همدې کبله کرزی د کوکنارو په وړاندي د سوځېدونکي مځکي پالیسي مخ ته بیایي. دی وایي چي بزګرانو ته باید بدل معیشت برابر سي، تر څو دوی بیرته خپل رښتوني ژوند ته راوګرځي چي د افغانستان او نړۍ په پرمختګ کي برخه واخلي.

یوازي پنځه ویشت کلنه جګړه نه وه چي تر څنګ یې وچکالي هم چي په نونسوه نیویمو کلونو کي پیل او په یویشتمه پېړۍ کي لا روانه ده. همدې ګډ ترکیب په لویه پیمانه د افغانستان د اوبو لګولو زوړ سیستم زیانمن کړ چي ښارویو او حاصلاتو ته یې زیان واړاوه او دې ته یې زمینه برابره کړه چي بزګران دي ډاډمن توکي وکري. په ملیونونو پسونه او غوایان له منځه ولاړل. دوی اکثره د لوږي او تندي له کبله مړه سول او یا په ارزانه بیه د مالکانو له خوا خرڅ سول ځکه چي نور یې نه سو کولای د

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوی د اوبو او خوراک تر اوده ووزي. کرزی وايي چي زه يو داسي کوچي پېژنم چي هر څوک به دده سره تېرېدی نو وريان به يې ورکول ځکه چي هغوی دونه کمزوري سوي وه، چي ده مړولای نه سوای او هغوی نور د ژوند کولو نه وه. ده به خلکو ته ويل چي دا درسره بوزئ که يې مړولای سئ وې ساتئ که يې نه سئ نو حلال يې کړئ.

کرزي وايې يوبل شی په غرب کي د مخدره موادو لويه غوښتنه ده، چي دوی يې په اړه ډېر څه نه وايي. په مطبوعاتو کي لويه خالګاه د اکمال په برخه کي ده، چي راپور جوړوونکي يوازي په افغانستان کي د اپيمو د توليد د ډېرېدو خبر ورکوي چي دا مناسب او متوازن راپور نه دئ ځکه چي هغه اړخ يې له پامه غورځول سوی دئ چي په افغانستان او د هغه په ګاونډيو هيوادونو کي د توليد سوو هيروئينو هر ګرام په غرب کي د روږدو کسانو لخوا رانيول کېږي وروسته څکول او پېچکاري کېږي. خو کرزی نه غواړي چي د پړې ګوته بل چا ته ونيسي. دی وايي چي موږ نه سو کولای غرب ته ووايو چي د مخدره موادو مشکل له دې کبله رامنځته سوی دئ چي ستاسي خلک يې رانيسي. دا يوازي د غرب مشکل نه دئ چي مبارزه ورسره وکړي بلکي دا د ټولو هيوادونو وظيفه ده. موږ په نشه يي توکو ډېر اخته کسان لرو، ايران همدا مشکل لري، چي دا يوازي تر غرب پوري محدود نه دئ، ځکه چي دا د ټول بشريت مشکل دئ. برتانوي او امريکايي ځوان، په افغان کليو کي نجلۍ او هلک ټوله يو شان دي، ټوله يو ډول ارزښت لري، دوی ټوله يو بشر دي، موږ ټوله بايد په ګډه هڅه وکړو، چي دوی د دغه خطر څخه وژغورو. کرزی يو داسي موقف غوره کوي چي بس افغانستان بايد د مخدره موادو دغه مشکل په خپله حل کړي ځکه چي افغانستان ته زيان رسوي، او له بله پلوه دا د اسلام،

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغاني کلتور او اخلاقو خلاف کار دئ.

دی وايي چې افغانان په دې ډېر ښه پوهېږي چې کله زه دوی د مخدره موادو په وړاندې مبارزې ته رابولم دوی هم غبرګون ښوولی دئ. ننګرهار چې د کوکنارو د کرلو ډېر لوی ولایت و په خورا لویه پیمانه یې په تولیدولو کې کموالی راوستی دئ. بدخشان، ارزګان اونور ولایتونه همداسي درواخله. دا چې افغانستان په کراره یوځل بیا پر خپلو پښو درېږي د یو څه استقرار له کبله بزګران یو ځل بیا پر دې بریالي سوي دي چې خټکي، انګور او انار تر مارکېټ پوري ورسوي، او په ښه بیه یې وپلوري. کرزی وايي چې موږ د مخدره توکو په وړاندي مبارزه کي ښه پرمختګ وینو.

د ۲۰۰۵ م کال په پای کي د ملګرو ملتونو د سروې پر اساس د کوکنارو په کرنه کي ۲۱ فیصده زیاتوالی راغلی و او د امریکا د متحده ایالاتو د سروې له مخي ۴۸ فیصده خو په نیولو کي یې هم زیاتوالی راغی چې په۴ ۲۰۰ م کال کي افغان امنیتي ځواکونو ۱۸۰۰۰ کیلو ګرامه اپیم، ۱۴۰۰ کیلو ګرامه هیروئین او ۸ د مخدره موادو لابراتوارونه ونیول او له منځه یې یووړل. خو سره له دې بیا یې هم په تولید کي زیاتوالی راځي.

ترهګري او توندلاریتوب د افغانستان له پاره یو بل مشکل دئ، چې دا د نړۍ د ډېرو هیوادونو ګډه وظیفه ده، کرزی وايي اسلامي هیوادونه باید د توندلاریتوب په وړاندي سخته مبارزه وکړي. د هغو په وړاندي چې مذهب د نورو د ځورولو له پاره کاروي او د هغه چا په وړاندي چې لومړني قربانیان یې اسلامي ټولني دي. دی وايي چې توندلاریتوب د غلطو پالیسیو او تنګ نظریو پایله ده، چې هغه وخت بیا سیاسي بڼه خپلوي چې حکومتونه د مذهب توندلاري بڼه د خپلو سیاسي

(c) ketabton.com: The Digital Library

اهدافو له پاره وکاروي. کرزی اخطار ورکوي چي د نړۍ په هیڅ ګوټ کي به هیڅوک پر ارامه پاته نه سي چي توندلاریتوب د راپورته کېدو په حال کي وي، او هغه ته په بل نظر ګوري. په هر فورم کي او د هري ټولني او مذهب په نامه توندلاریتوب د ټولي نړۍ له پاره خطر دئ او ټوله نړۍ د هغه سره د مبارزې مسئولیت لري.

دا چي افغانستان اوس د مخدره توکو، فساد او ترهګرۍ له مشکل سره لاس او ګرېوان دئ سبب يې دا دئ چي د طالبانو تر نسکورولو وروسته له دې هیواد سره لږ مرسته وسوه، د ډېرو ډالرو مرستي او وعدې ورسره وسوې خو هغه هیوادونه چي په ۲۰۰۱ م کال کي د افغانستان د ژغورلو له پاره راغله چي په سر کي يې امریکا دئ دلته يې د یوه فعاله حکومت په جوړولو کي غلطه محاسبه کړې وه. دا بس نه وه چي طالبان دي له واکه ګوښه سي او د القاعدې ښوونیز مرکزونه دي له منځه یوړل سي. دا چي افغانستان د بیا ناکامۍ او د ټوپکسالارانو، تنګ نظرو او ترهګرو و لاسو ته د لوېدلو څخه وساتو غربي هیوادونه تر هغه وخته پوري له افغانستان سره مرسته وکړي چي نوی حکومت پر پښو ودرېږي. د ښه امنیت په صورت کي افغانان کولای سي چي د ملي سرکونو د رغولو سیستم، ملي بربښنا او محلي او ساحوي د اوبو لګولو سیستم ته توجه وکړي. د ښه امنیت په صورت کي به ښوونځي د هلکانو او نجونو له پاره پرانیستي وي چي په همدې سره به د یوه نسل د افغان عالمانو تشه ډکه سي. د ښه امنیت په صورت کي به وزارتونه او د حکومت قضایي سیستم فعاله وي لکه څنګه چي باید وي او په داسي حال کي به ممکن وي چي واک د ټوپکسالارانو او قاچاقبرانو څخه واخیستل سي او یو قانوني ادارې ته وسپارل سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چي افغانستان د طالبانو څخه ازاد سو، اسامه بن لادن او د هغه عرب (د ځینو راپورونو له مخي چیچینیایان) جنګیالي د جلال آباد په شرق کي د توري بوړي غرونو سمڅو ته پر شا سول داسي ښکاري لکه چي متحده ایالاتو سترګي د توپ څخه واړولې، ولسمشر بوش په خپلو خبرو کي دا شعار ګرځولی و، چي دی به اسامه مړ یا ژوندی عدالت ته راولي، خو د امریکایي ځواکونو هغه کوچنۍ ډلي ته چي اسامه یې په غرونو کي تعقیبوی سرتېري ورنه کړل سول، چي پاکستان ته د ده د تښتېدلو لار بنده کړي. چي له همدې کبله د نړۍ لومړی لمبر ترهګر او د القاعده سازمان مشر وتښتېد. دا چي القاعده ماته سوې وه او نژدې و، چي له منځه یوړل سي بیا دغه ترهګري ډلي ته موقع ورکړل سوه، چي سره راټوله او خپل ځان سره منظم کړي.

تر هغه وروسته د بوش اداري عراق ته د جګړې له پاره تیاری پیل کړ. چي په ۲۰۰٦ م کال بوش د یوې خبري غونډي په جریان کي دې ته اړ کړل سو چي ومني دې د ۱۱/ ۹ له پېښي سره هیڅ تړاو نه درلود. له همدې کبله پر افغانستان د بسپني نل لیکه وچه کړل سوه او نظامي ځواک یې ورڅخه لیري کړ، چي له امله یې د افغانستان د نوي ژوند هیله په نا امیدي بدله سوه. توجه تر دې حده ورسېدل چي ولسمشر بوش په دې کي پاته راغی چي د ۲۰۰۳ م کال په بودجه کي دافغانستان ته بسپنه ځانګړې کړي چي وروسته بیا د امریکا کانګرس دغه کار وکړ.

د امریکا د دفاع پخواني وزیر ډونالډ رمسفلډ هغه وړاندیز رد سو چي افغانستان ته اضافي عسکر ولېږي، حتی د ۲۰۰۱ م کال په هغه وخت کي هم چي د افغانستان توري بوړي ته په اسامه او د القاعدې په مورال بایللو سرتېرو پسې عسکر ولېږي. خو امریکا په مځکه کي پر بې

(c) ketabton.com: The Digital Library

باوره ټوپکسالارانو باندي تکيه وکړه او امريکايي الوتکو به په دوام داره توګه له هوا څخه بمباری کولې. خو پينتاګون له دې څخه انکار وکړ چي هلته مځکني پوځونه ولېږي، تر څو پاکستان ته د اسامه د تېښتي لار بنده کړي چي له کبله يې اسامه په اسانۍ سره تر پولي واوښت چيري چي هلته ده ته د يو اتل په سترګه کتل کېږي. هلته يې پر سوونو کسانو اغېزه وکړه او په خپله ترهګري شبکې کي يې استخدام کړل.

د ترهګرۍ ضد جګړې په پيل کي د پاکستان ولسمشر پروېز مشرف د امريکا سره د ترهګرو په له منځه وړلو کي د پوره همکارۍ ژمنه وکړه. د هغه راهيسي پاکستاني حکومت د طالبانو او القاعدې په له منځه وړلو کي يوازي نمايشي جګړه کړې ده سره له دې چي د ولسمشر کرزي د اعتراض او د امريکا له فشار سره هم مخامخ سوي دي. کله چي پاکستان خپل ځواکونه قبايلي سيمو ته د عملياتو له پاره ولېږي نو پر ضد يې د تشدده ډکي مظاهرې وسي او پر مشرف فشار راوړي چي د اسلامي توندلارو سره موافقه وکړه او پوځ له هغه ځای څخه راوباسه، تر څو اسلامي توندلاري پر آرامه وي. البته دوی د پاکستان خوا ته خورا ښه آرام ژوند لري، خو امريکايي او افغان نظامي قوماندانان شکايت کوي چي تر تړون وروسته په افغانستان کي د طالب او القاعده سازمان جنګياليو په حملو کي ډېروالی راغلی دئ، ځکه چي دوی په آزاده توګه پر پوله تګ راتګ کوي. د طالبانو پخواني وياند د ۲۰۰۷ م کال په جنوري کي چي کله افغانستان ته را اوښت ونيول سو. او ده افغان ادارې ته وويل چي د طالبانو مشر ملا عمر د کوټي په سرحدي ښار کي په ازاده توګه ژوند کوي، دا هغه ځای دئ چي يو وخت کرزی پکښې اوسېدی. کار يې پکښې کوی او په ۱۹۹۹ م کال کي يې پلار د طالبانو لخوا پکښې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ووژل سو.

په افغانستان کې د طالبانو او القاعده شبکې نفوذ په تدریجي توګه مخ پر ډېرېدو دی او دوی په ډېره پیمانه د عراقي ښورښیانو تاکتیکونه کاروي چې په هغوی کې ځانمرګي بریدونه، چاودیدونکي مواد او د سړک د غاړې بمونه د ناټو، امریکا او افغان امنیتي ځواکونو په وړاندې استعمالوي.

د ۲۰۰۷ م کال په پیل کې څلیرویشت زره امریکایي سرتېري په افغانستان کې وه، چې د هغو څخه یې یوولس زرو د ناټو د ګډ ملتي ځواکونو په چوکاټ کې کار کاوه چې هغوی هم یو دېرش زرو ته رسېدل. نظامي قوماندانان او سیاستوال د بوش اداره دې ته راکاږي چې افغانستان ته نور سرتېري ولېږي. سناتور جان کیري چې په ۲۰۰۴ م کال کې یې بوش ته د ولسمشرۍ ټاکني بایلودې بوش له دې کبله ملامت کړ چې په افغانستان کې د زړه نا زړه پالیسۍ پر مخ بیایي او پر ده یې ږغ وکړ چې هلته نور پنځه زره سرتېري ولېږي. امریکایي قوماندانانو هم د نورو اضافي عسکرو غوښتنه کړېده.

د دفاع نوي وزیر رابرت ګېټس چې کله د ۲۰۰۷ م کال په جنوري کې د افغانستان څخه لیدنه وکړه په دې راضي سو چې د بوش له ادارې څخه غوښتنه وکړي چې هلته نور سرتېري ولېږي، خو په عین حال کې بوش په عراق کې ((نظامي څپې (Surge))) پلان کړ، چې هلته به سرتېري زیاتوي. چې په هغه کې باید ځیني پوځیان له افغانستان څخه استول سوي وای، چې دې هیواد لا په نور بد حالت کې پرېښود. په همدې مهال کې د ناټو ځیني هیوادونه په دې کې پاته راغله چې په ګډ ملیتیزه ځواکونو کې خپلي ژمني پوره کړي. افغانستان یو ځل بیا د خورا

(c) ketabton.com: The Digital Library

ضرورت په وخت کي د مرستو څخه محروم دئ.

پر ولسمشر کرزي باندي له دې کبله انتقادونه کېږي، چي په دې کي پاته راغلی دئ، چي خپل هیواد مخ ته او په چټکه توګه د خودکفایۍ پر لار بوزي. پر ده باندي له دې کبله هم تورونه لګېږي، چي د کوکنارو د کښت په مخنیوي کي بریالی نه دئ. ټوپکسالاران یې په ټوله هیواد کي ایله کړي او ملي اداره د فساده ډکه ده. مګر دغه ناروغي به تر هغه وخته پوري پاته وي چي کله مرکزي حکومت او ولایتي اداري ددې جوګه سي چي افغان قانون په ټوله هیواد کي نافض کړي څکه چي په افغانستان کي تر جګړې وروسته واك له منځه تللي و. خو دا کار یوه نسل او یا تر دې ډېر وخت ته اړتیا لري، چي افغانستان ته باید مرستي ورکول سي. د کرزي د بې ځواکه اقداماتو ملامتي باید د ده پر نړیوالو ملګرو واچول سي، په ځانګړې توګه د بیارغوني په چارو کي چي د ده حکومت د دې جوګه نه دئ چي د هیواد لوی مشکلات دي حل کړي او بل شي په افغانستان کي د بوزکشی د ذهنیت حاکمیت دئ.

لکه یو خان چي تر هغه وخته پوري به د بوزکشۍ لوبي راونه بولي چي په بري یې ډاډمن نه سي. کرزی به هم هیڅکله پر هغه لار ولاړ نه سي چي وروسته د ده ځواک ته زیان ورسوي. ده ځیني ډېر با جرئته او بریالي اقدامات کړي دي د بېلګي په توګه کله چي لویه جرګه په شخړه کي راګیره سوه ده کابینه اعلان کړه. اوقوي کسان یې له خپلو سیمو څخه لیري او مرکز ته یې راوستل. لکه اسعمیل خان له هرات او دوستم له مزار څخه چي اوس دوی دواړه په کابل کي دي تر څو د دوی له نفوذ څخه په سمه توګه د حکومت په راتلونکو اهدافو کي کار واخیستل سي.

هیڅا تر اوسه داسي تور نه دئ لګولی چي کرزی شخصاً په فساد

(c) ketabton.com: The Digital Library

ککړ دئ او نه يې تر اوسه سترګي پر پټي کړي دي. څه چي بايد دی وکړي هغه دا چي د خپل ټول شخصي او اخلاقي نفوذ څخه کار واخلي چي کابينه او پارلمان دې ته چمتو کړي چي په حکومت کي ريفورم راولي او په فساد اخته چارواکي له مخي ليري کړي چي دا لړ ناځرګنده او مشکل ته د رسېدلو اوږده لار ده.

د ده په پراخو سفرونو کي چيري چي لا ده ته د يو اتل په سترګه کتل کېږي، د کرزي پيغام هغه يو شان دئ : زموږ سره مرسته وکړئ چي دا به مو په اصل کي له ځان سره کومک وي. ده په ۲۰۰۵ م کال کي د بوسټن پوهنتون فارغينو  ته په وينا کي وويل چي : «همېشه بايد د ملي ګټو سوال درسره وي» او همېشه مو بايد پربکړي بشريت ته د خدمت په رڼا کي وي. ده متحده ايالات او نور ځواکمن هيوادونه له دې کبله ملامت کړل چي افغانستان يې د نونس سوه نوي په کلونو کي ترهګرو ته پرېښود او  افغانان له ځورونې څخه خلاصول چي  د دوی مسئوليت و سترګي پر پټي کړي او حتی پر خپلو ملي ګټو تر هغه چي د ۱۱/ ۹ پېښه وسوه او دوی يې متوجه کړل. د بوسټن په پوهنتون کي د نيکرسن په ځای کي د ده د خبرو په تايد دوه واره پنځه ويشت زره کسان په تودو چکچکو ودرېدل.

ولسمشر کرزی په دې باور دئ، چي افغانستان خورا ښه اينده لري خو دی و دغه راتلونکي ته د نړيوالي ټولني د مداخلې په اهميت هم پوهېږي. د ۱۱/ ۹ پېښي تر پنځه کاله زياته موده کي افغانستان بيا هم د نړۍ د غريبو هيوادونو څخه دئ.

کرزی وايي چي وګورئ د ۲۰۰۱ م کال څخه ځونه ليري راغلي يو. پنځه سوه ښوونځي مو جوړ کړي او تر درې زره زيات مو رغولي دي. په سلګونو مايله سړک مو جوړ کړی او که مو کار همداسي روان وي نو

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲۰۰۸ م کال ته به تر دوه زره مايله ډېر سړک جوړ سوي وي.

خو هيواد تقريباً تر ۱۱ زره مايله زيات نوي سړکونو ته اړتيا لري او د ښوونې او روزنې وزارت اټکل کوي دا چې ټولو افغانانو ته ښه ښوونه برابره سي نو تر اوه زره زياتو نوو ښوونځيو ته اړتيا ده.

کرزی وايي چې موږ بايد ټوله هيواد ته برېښنا برابره کړو، ځکه چې بېله برېښنا سرمايه ګذاري امکان نه لري، په همدې شان روغتيايي اسانتياوي بايد برابري سي. زموږ د زراعتي توکو په محصولاتو کي بايد ډېروالى راسي او نړۍ يې بايد راڅخه رانيسي. دی وايي افغانان د سخت کار سره خورا ډېره مينه لري او نوره نړۍ بايد د افغانانو سره په څنګ کي ودرېږي، تر څو بالاخره ملت د خپلو ارزښتونو په رڼا کي پر پښو ودرېږي.

يو غريب او کمزوري دولت په توګه افغانستان د نړيوالي ټولني منځګړيتوب ته ضرورت لري تر څو د ګاونډيانو سره يې مثبت اړيکي رامځنته کړي. کرزی دا احساس کوي چې هيواد يې د ترانزيټي لاري په توګه يو ځل بيا ښه رول لوبولای سي لکه د پېړيو په اوږدو کي چې يې لوبولی و. د مرکزي اسيا څخه د تيلو نل ليکه چې د افغانستان او پاکستان څخه تېرېږي او تر هندي سمندر پوري غځېږي چې خورا ډېر بحث پر سوی دئ به يو مثال وي. خو اوس چې د افغانستان او پاکستان اړيکي خورا ترينګلي دي او په پراخه توګه د پاکستان څخه د طالبانو او القاعده د غړو را اوښتل چې تل د متحده ايالاتو د غندني سره مخ سوي دي په داسي يو وضعيت کي نو د داسي يوې پروژې تر سره کېدل ممکن نه برېښي.

افغانستان ډېره مرسته تر لاسه کوي، په بليونونو ډالر افغانستان ته د بيارغوني او امنيت له پاره ورتوی سول. ولسمشر بوش د ۲۰۰۷ م

(c) ketabton.com: The Digital Library

کال په پلان کي اعلان وکړ، چي د افغانستان د بیا رغوني له پاره به مرسته ډېروي او همدا شان د سرتېرو په شمېر کي به زیاتوالی راولي. نور غربي هیوادونه د جاپان او چین په شمول همداسي در واخله. کرزی په روکه توګه وایي چي زه به ډېر خوښ سم چي د اسلامي هیوادونو ډېره مرسته ووینم چي البته اوس دوي په خپله د دغه مشکل سره په کراره کراره مخامخ کېږي.

په افغانستان کي د سرمایه ګذارۍ له پاره په خصوصي سکتور کي ځای سته. په ۲۰۰۵ م کال کي په کابل کي یو عصري هوټل پرانیستل سو، چي مارکیټ، د کافي ښنبلو ځای په افغانستان کي لومړی برقي ځیني یې لرلې، چي کابلیانو به په خورا خندا سره پورته او کښته پکښې کېدل. د اغا خان بنیاد یو پنځه ستوریز هوټل جوړ کړ او همدا شان یې د تاریخي ځایونو د بیا رغوني له پاره ځو پروژو ته بسپنه ورکړل. یو شمېر تعلیم یافته افغانان چي د جګړې په جریان کي امریکا، اروپا او استرالیا ته تللي وه، بیرته هیواد ته راوګرځېدل. ځینو یې په حکومت کي پوستونه اشغال کړل او ځینو بیا شخصي تجارتونه پیل کړل، لکه د راډیو او ټلویزیون مرکزونه، د موبایل ټلیفون شرکتونه او د بیا رغوني کمپنۍ.

د افغانستان د بیا رغوني بریالۍ نمونه د کابل د لرغونتون بیا رغونه ده چي د مرکزي او جنوبي آسیا د زرګونو کلونو تاریخي خزانې پکښې خوندي وې. دا چي لرغوني او د تجارت لویه لار د افغانستان څخه تېرېږي نو له کبله یې همېشه د چنګېزخان ،لوی سکندر او نورو د لښکرو لخوا اشغال سوي دي. له همدې ځایه به کلتورونه تېرېدل چي خورا لرغوني مختلفي تاریخي خزانې به یې تر شا پرېښودلې. د کابل په لرغونتون کي اوس رومي سیکې، هندي عاج بودایي آثار او تر اسلامي

(c) ketabton.com: The Digital Library

پېر وړاندي مجسمو خزانې خوندي وې خو د کورنۍ جګړې په جريان کې ورته سخت زيان ورسېد ، چې په دوامداره توګه به يې آثار لوټېدل. خو کله چې طالبان واک ته ورسېدل دوی د موزيم د لوټماري، مخه ونيول خو د غير اسلامي هنرونو ننداره يې منع کړه. دوی هغه مجسمې او نور هنرونه يې مات کړل چې ژوندي موجودات به يې انځورول چې په هغه کې يوتعداد د لرګي څخه جوړ د انسانانو او حيواناتو لويې مجسمې وې، چې له کافرستان څخه په لاس راغلي و. د لرګي څخه جوړ په دغو مجسمو کې ځيني يې تر دوه متره جګې وې چې د کافرانو جدي او حيواني خدايان وو. د دوی سيمه د افغانستان شمالي شرق غرونو کې وه او دا د هيواد يوازينۍ سيمه وه چې اوسېدونکي يې ياغي او غير مسلمانان و. دا د دې هيواد يوازينۍ سيمه وه چې بايد رعيت سوي او وګړي يې مسلمانان سوي واى چې په اتلس سوه نوييمو کلونو کي همدا کار تر سره سو او د ولايت نوم يې نورستان سو چې معنی يې د (رڼا ځای) ده.

د طالبانو تر واکمنۍ وروسته د موزيم کارکوونکي په خورا احتياط اخته وه تر څو ځيني اثار بيرته ترميم کړي چې اوس يې يو څو و ننداري ته ايښوول سوي وه، په نونس سوه اتيايمو کلونو کي د موزيم د کارکوونکو لخوا ډېر شيان يوې او بلې خوا ته سره پټ کړي وه، چې ځني د باختري دورې آثار په ملي زېرمتون کي ساتل سوي وه. د کابل موزيم دوباره پرانيستل سو او په خورا ښکلې بڼه رغول سوی چې د بيا رغوني کار يې لا دوام لري.

د ملي ارشيف ودانۍ بيرته رغول سوې او په زرګونو دوسيې او اسناد يې و مجموعې ته وراضافه سوي دي. امنيتي ځواک مؤظف سوی دئ چې کلتوري او تاريخي ځايونه د بيا تالان څخه وژغوري چې په هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کي د باميان د بودا د مجسمو ځايونه هم شامل دي، چي د طالبانو تر وخت پوري ولاړ او وروسته بيا هغوی په ۲۰۰۱ م کال کي د خاورو سره برابر کړل.

په افغانستان کي د ۲۰۰۱ م کال راهيسي د لوړو زده کړو په موسسو کي زده کوونکي ډېر سوي دي چي شمېر يې څلوېښت زرو ته رسېږي، چي ۲۰ فيصده يې نجوني دي.

کرزی وايي چي موږ د پرمختګ په حال کي يو، چي بايد هيڅکله بيرته شا ته راونه ګرځو، دی وايي کله چي نړی نن د افغانستان په اړه فکر کوي او په هغه علتونو پسې ګرځي چي ولي بايد هلته منابع په کار واچوي نو دې ته اړتيا نه لري چي ليري وګوري يوازي دي د ۱۱/ ۹ پېښې ور په ياد کړي. اوه زما خدايه ! دغه ښايسته ټاورونه د اور خوراک سول او خلک يې د اتيايم يا نيويم منزل څخه راوغورځېدل.

کرزی وايي نړی افغانستان ته د هغه لوی خطر د له منځه وړلو له پاره راغله چي په افغانستان کي له دې کبله راپيدا سوی و، چي ملت له پښو غورځول سوی و. ترهګرو او نورو بهرنيو عناصرو دغه هيواد يرغمل کړی او چلوی يې. په سترګو خو داسي ښکارېدل چي هر څه د افغانانو له خوا تر سره کېږي، خو په حقيقت کي افغانانو دا هيواد نه اداره کاوه. د هيواد ټوله تاسيسات د ترهګرو په خدمت کي وه چي هر وخت يې ببله کومه مشکله استفاده څني کولای سول. افغانستان هوايي ډګرونه، الوتکي، ټيکنالوژي، ماشينري او د ښه نظامي سابقې کارپوهان لرل چي د هيواد دا ټول جوړښت د ترهګرو لاس ته ورغلی و.

کرزی وايي مګر نوري نړی افغانستان هېر کړی و، دوی فکر کاوه چي هلته هر څه روان وي تر دوی پوري به ور ونه رسېږي. دا و چي د

(c) ketabton.com: The Digital Library

نیویارک او واشنګټن پېښې رامنځته سوې. هر هغه هیواد چې اوس د افغانستان د پرېښودلو په لټه کې دئ او تر هغه وړاندې چې هیواد پر خپلو پښو نه وي درېدلی خپل ځان په خپله وساتي خپله ډوډۍ ولري، او د هغو بدو خلکو سره جګړه وکړي، چې هر وخت د بیرته راتلو هڅه کوي، شاید بیا د ۱۱/ ۹ د پېښو سره مخامخ سي. موږ نه سو کولای د هغسې یوه افغانستان بیه ورکړو لکه دمخه چې مو ورکړل. موږ باید دغه خطر له پامه ونه غورځوو. افغانستان باید د نړۍ د سولې او ثبات او پر افغانانو د رحم په توګه ورغول سي چې دا پخپله یو ښه دلیل دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نطق

کله چې د ۲۰۰۷ م کال په پیل کې د امریکا په کانګریس کې ډیموکراتانو اکثریت تر لاسه کړ تقریبا د افغانستان څخه هر راوتونکی خبر تکان ورکوونکی و. پر ایتلافي او افغان ځواکونو باندې د طالبانو او القاعدې لخوا حملې زیاتې سوې وې او په ۲۰۰۶م کال کې چې د پاکستان او ښورښیانو تر منځ چې کوم تړون له دې کبله وسو چې تر پولې د ښورښیانو اوښتل کم کړي په اصل کې دوی ته لا ښه زمینه برابره کړه، چې په خورا بیخاره به له سرحده پورې وتل. کله چې پاکستان د افغانستان او پاکستان پر پوله په قبایلي سیمو کې دنظامي عملیاتو څخه ځان وژغوري ښورښیانو دا یوه موقع وبلل چې بیله د پاکستان له بېرې یې په افغانستان کې خپلو حملو ته زور ورکړ.

دا چې د پرویز مشرف حکومت د ښورښیانو په مقابل کې په اقدام کولو کې سوړ او بې میله ښکاري نو سړي ته دا شك ورپیدا کیږي چې په اصل کې دغه تړون ښورښیانو ته په افغانستان کې د خپلو وژونکو فعالیتونو له پاره یو جواز په لاسه ورکول دي. هم مهاله کوکنارو د خپل وخت ریکارډ ټینګ کړ او د مخدره موادو د پیسو له لارې په افغان حکومت کې فساد د ساري ناروغي په شان خپرېږي . د امریکا او نورو ایتلافي ځواکونه لخوا پر غلطه رهبري سوي بمونه او د غلطو استخباراتي معلوماتو پر اساس پر کلیو هجوم وروړل د ملکي خلکو مرګ ژوبله زیاتوي چې دا د غربي هیوادونو په وړاندې د عامو خلکو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کرکه راپاروي او د یاغیانو سره مرسته کولو ته یې هڅوي. د ۲۰۰۷ م کال ځینو پېښو د نونسوه اتیایمو کلونو له حوادثو سره ورته والي درلود چې پاکستان میشتو مجاهدینو به د روسي یرغلګر ځواك په مقابل کې جګړه کول. اوس امریکایي او ناټو ځواکونو ته ډیرو افغانانو د اشغالګرو قواو په سترګه کتل چې د افغانانو پر خاوره هیڅ داسي یوه ځواك ته ښه راغلی نه دئ ویل سوی.

د کانګریس د غړو په منځ کې ورځ په ورځ دا پوهاوي زیاتیږي چې امریکا د دواړو جګړو د بایللو په درشل کې ده او د بوش اداري هیواد د ۹\۱۱ تر پیښو وروسته د افغانستان او عراق په شحړه اخته کړ. افغانستان ته د نورو مرستو د ورکړي ږغونه را اوچت سول ځکه چې ددي سمي جګړي ګټل ممکن دي او حتي په کانګریس کي ډیمکراتانو او جمهوري خواهانو ویل چې د عراق څخه دي د سرتیرو د را ایستلو له پاره مهال ویش وټاکل سي ځکه چې د هغه جنګ د ګټلو څرك خورا لږ ښکاري.

د ۲۰۰۶م کال د ډسمبر پر ۱۳ د نیویارك ټایمز د Op-ed column کي (یوه جګړه اوس هم ګټل کیداي سي) تر سر لیك لاندي د titled ستراتیژیکو او نړیوالو مطالعاتو له مرکز څخه Anthony Cordesman پر امریکا او د ناټو پر غړو هیوادونو ږغ کړی و چې افغانستان ته نظامي او اقتصادي مرستي ډیري کړي . ده غرب ته اخطار ورکړي و چې پر کابل توجه زیاته کړي په خاصه توګه د ښه حکومتداري په برخه کي چې د دي چاري د نسته والي له کبله د دښمنو ډلو د پیاوړتیا او نفوذ له پاره ډېري خالیګاوي موجودي دي.

د ۲۰۰۷ م کال په مارچ کي ژورنالیست Rory Stewart په ټایمز کي په یوه کالم کي نړیواله ټولنه له دي کبله ملامته کړي وه چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانستان د کلتور او ارزښتونو سره اشنايي نه لري او کوښښ کوي چې غربي ډيموکراسي او مدني ټولنه پر افغانستان وتپي. ستيورت استدال کړی و، چې ډيري پيسي افغانستان ته د فساد او مخدره موادو پر ضد مبارزې په لار کي مصرف سوي چي زموږ پر عمليايتو (ميشن) يې هيڅ مثبته اغيزه نه ده کړې او د نورو غربي هيوادنو د مرستي پرواګرامونه و محلي کلتور ته د خطر په سترګه کتل کېږي، چي همدې شي د افغانانو کرکه راپارولې ده. شايد غربي هيوادنونه په خپل هدف کي پاك وي او هدف يي د افغانستان سره مرسته کول وي خو تر ټولو مهمه دا ده چي په دغه غربي پيسو باندي کوم هدف تر لاسه سي هلته د کلتور او ارزښتنونو پيژندنه وسي. هغه څوك چي افغانان ډېر ښه پېژني وايي چي افغانان د هغو مرستو چي دوی ته ورکول کېږي قدرداني کوي خو دا د دې مخالفت کوي چي که چيري دوی غربي ارزښتونه ومني نو هر څه به د دوی له پاره سم سي.

په داسي وضعيت کي نو هر څه يوه معما ښکاري. غربي هيوادونه فکر کوي چي دوی د يو داسي ټولني ملاتړ نه سي کولای چي هلته نارينه خپلي ښځي په بورقه کي ساتي، چيري چي د کوکنارو کرنه د نړۍ د مخدره موادو مشکل تغذيه کوي، چيري چي يو غيري انتخابي ټوپکسالار واك چلوي او چيري چي مذهبي قانون د غير مذهبي مخه نيسي. افغانان استدلال کوي چي دا د دوی خپل شخصي کارونه دي. د کوم علت له مخي چي دوی کوکنار کري هغه ګټه ده نه دا چي دوی پدې باور دي چي کوکنار ښه شی دي. په هغه غربي هيوادونو کي چي دوی ته وايي کوکنار مه کرئ د هيروئينو غوښتنه خورا ډيره ده نه په افغانستان کي که څه هم د تخميني راپورونو پر اساس چي يو مليون افغانان په نشه

(c) ketabton.com: The Digital Library

يي موادو اخته دي. که چيري دوی د اپيمو غوښتنه لږ کړي افغانان به يي هم لږ کري. د افغانانو د ژوند او کلتور اړخ غربي هيوادونو ته د منلو وړ نه دئ او دا خورا مغلقه مسئله کرځيدلې چي د بازاري ځواکونو په واسطه يي حلول ناشونی کار دئ. دغه اړخ کېداي سي او (کيداي هم نه سي) چي په مرور د زمان تغير وکړي خو په افغانستان کي د غربي نړۍ په پرتله وخت خورا ورو درومي.

راډيکال اسلام د افغانانو د ژوند کلتور نه و، تر هغه چي بهرنيو يرغلګرو شوروي اتحاد هڅه وکړه چي خپلو راډيکالو ته تغير ورکړي. تر هغه وخت پوري افغانستان يو ربښتوني او د زغمه ډك مسلمان هيواد و، چي په نونسوه شپيته او د نونسوه اويا په لومړيو کي يي غربي سيلانيان شاهدان دي. د روسانو د اشغال په وخت کي مليونونو افغانانو خپل هيواد پرېښود او دا توندلاري وه چي د جهاد له پاره يې په لوړ اواز ناري وهلي او همدې شي د غربي هيوادونو په ځانګړې توګه امريکا مرستي راجلب کړې. د سړې جګړې ذهنيت د هيڅ داسي موقع مخنيوی نه سو کولای چي شوروي اتحاد ببله مخامخ جګړې څخه په بهرني هيواد کي را ايسار کړي. د توندلاريتوب تر ټولو شرير او موقع پېژوندونکی ګلبدين حکمتيار و، چي په نتيجه کي يې د امريکايي مرستو تر ټولو لويه برخه تر لاسه کول او د پاکستان استخباراتي اداري ISI چي د امريکا د لاسپوځي او پيسه ويشونکي اداري په توګه يې کار کاوه د ده پوره درناوی کوي. موږ بايد دا هېر نه کړو چي يو وخت امريکا دغه اسلامي توندلاري تربيه، تجهيز او بسپنه ورکول چي نن يې د له منځه وړلو هڅي کوي.

۹\۱۱ تر پېښو وروسته د بوش اداري ډېر لوي چانسونه د لاسه ورکړل.تر ټولو څرګند يي د اسامه په وژلو او نيولو کي پاته راتلل دي چي

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ۹\۱۱ د پېښې پلان جوړونکی دئ. پر افغانستان د حملې په وخت کې چې د ده د القاعده سازمان د رهبرې په نیولو کې چې ټوله بې زړه سوې، ماته سوې او د پښنو غورځېدلې وه چې ټوله باید د شرقي افغانستان په غرونو کې له منځه تللې وای هلته د پاکستان پولې ته نژدې د لارې بندولو له پاره د پوځونو په استولو کې پاته راغلل چې همدې شي اسامه او د ده ډلې ته موقع برابره کړه چې پاکستان ته وتښتي. دې تېښتې اسامه په یو اتل بدل کړ او مرسته یې ورسره وکړه چې د خلکو کومکونه راجلب، نوې کسان استخدام او دا تروریستي سازمان تر پخوا لا ډېر ښه سره منظم کړي. د لارو د بندولو له پاره د مځکنیو پوځونو د لېږلو پرېکړه د دفاع پخواني وزیر ډونالډ رمسفلډ ته راجع کېږي داسې چې دا د ترهګرۍ په وړاندې د بوش د ادارې تر ټولو لویه تېروتنه وه. دې د نړې تر ټولو لوی ترهګر ته اجازه ورکړه، چې بیرته لوبې ته راسي.

کله چې امریکا د طالبانو پر رژیم حمله وکړه اسامه او القاعده پټ سول ځکه چې په حمله کې تقریباً هیڅ ځمکنیو ځواکونو ګډون نه درلود. د طالبانو چاره د شمال ټلوالې او د امریکایي او برتانوي کماندو په لار ښوونه او د هوایي ځواك په مرسته وسول. په ټوله افغانستان کې د طالبانو د پخواني مرکز څخه نیولې په شرق کې تر هراته، له شماله تر کابله او نور په هر ځای کې چې د طالبانو حکومت نسکورېدی یو هوس یې درلود. په دې ټوله راضي وه چې د طالبانو دغه زېږ او ناپوه حکومت دې د دوی د غرب ملګرو سره چې دغه ناکامه هیواد ته د وینې په سرطان اوښتی دئ له منځه یوړول سي.

حامد کرزی فکر کوي چې دی د غرب تر اغېزې لاندې د بون په غونډه کې د موقتي ادارې د مشر په توګه ټاکل سوی دئ او له هغه پراخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملاتړ څخه خوند اخلي چې د ۲۰۰۴ م کال په ملي ټاکنو کې افغانانو د لومړي ځل له پاره د خپل مشر د ټاکلو له پاره په ډېري خوشحالۍ سره رايي واچولي. نوي ښوونځي د نجونو او هلکانو څخه په خورا شوق سره ډکي سوي او خوشباوريو هر چيري خپل وزرونه غوړولي و. کله چې طالبان نسکور سول غربي يو بې کنټروله ځواك د ټانکونو سره هيواد ته ننوت چې ور پسې يې حکومتي ادارو، انجوګانو او شخصي د امنيتي کمپنيو هيواد پر سر سره واخيست چې افغانانو ته به يې ويل د يو مکمل ملت له پاره بايد څه تر سره سي. د غربي نظاميانو وظيفه چې ښورښ له منځه وړل و، يو څه د دوی دناپوهۍ او يو څه د افغانان کلتور او عنعناتو ته نه درناوي دا مسئله نوره هم پېچلې کړل. افغانانو بيرته په مقاومت لاس پوري کړ او د غرب ضد ښورښيانو چې د خلکو په زړونو کې يې ځای د لاسه ورکړی و بيرته تر لاسه کړ.

د افغانستان د بنسټونو جوړونه او رغونه تقريباً په هغه اوايلو کې د بې کاره بيروکراټيك او بې اغېزې او د فساد له ډك حکومت له کبله د خنډ سره مخامخ سوه. حتی په کابل کې چې بې ساري ودانۍ جوړي سوي او نفوس هم خورا ډير سوی دئ حکومت په دې بريالی نه سو، چې خلکو ته بريښنا او نور اساسي خدمتونه برابر کړي. مرکز د پيسو ډك و خو بيا هم ملکي کارکوونکو او ښوونکو ته معاش نه رسېدی. د افغانستان د ملي اردو او ملي پوليسو روزنه د تجهيزاتو د نسته والي او د فاسدو قوماندانانو له کبله چې ټولي پيسې به يې په خپلو جيبونو کې اچولې وځنډيد. په سوونو مليونه ډالر افغانستان ته راغله خو تر اوسه لا د هيواد د اقتصادي پياوړتيا تر ټولو ښه نښه د کابل په خامه جادو کې د لوکسو موټرانو کرځېدل، د فاسدو حکومتي چارواکو لوړي لوړي ودانۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

او ښايسته او د خيال رستورانتونه وه چي مړو غربيانو به را وارد سوي الکول پکښې څښل او ډوډي پکښې خوړل.

بيا هم پرمختګونه سوي دي ځکه چي ډېر افغانان سولي او ثبات ته خورا ډېر لېوال دي او د پرمختګ په کارونو کي ونډې اخيستلو ته ډېره تلوسه لري. نجوني مکتبونو ته ځي ځکه چي ډېر افغانان د نجوني زده کړي غواړي او ډېرو استادانو او اداري کارکوونکو د ښوونځيو په فعال ساتلو سره خپل ژوند د هغه دوامدار تهديد له کبله چي دوی ته د توندلارو له خوا متوجه و په خطر کي اچولی و. د اطرافو ډېر ښوونځي وران او ښوونکي او اداري کار کوونکي يې د طالب ښورښيان له خوا ووژل سول. ملکي کارکوونکو د تنخوا نه تر لاسه کولو له کبله غوغا جوړه کړې وه. د ښاروالۍ کار کوونکو چي بايد د کثافاتو غرونه يې له منځه وړي وای د نوو خلکو په راستنېدلو سره د سونامي سره مخامخ سول. ترافيك پوليسو په کابل کي په کابل کي د نظم راوستلو خوشي هڅي کولې او افغاني سرتېري به د ښورښيانو سره په جګړه کي وژل کېدل.

د حامد کرزي هغه هڅي چي د ښه حکومتدارۍ له پاره يې کولې د کورنيو شخړو او فساد له کبله له خنډ سره مخامخ سوې. په ۲۰۰۱م کال کي د طالبانو چټکه ماته چي په ټوله هيواد کي د خوشحالۍ سبب سوه، چي ور سره سمدستي دا سوال ور سره راپورته سو چي په افغانستان کي د ائتلافي ځواکونو يو داسي ځواك ته اړتيا سته چي په افغانستان کي سوله وساتي. د ائتلافي ځواکونو د هوايي ځواك په ملاتړ شمالي ټلوالي ډېر ژر پر دې بريالي سول چي طالبان له پښو وغورځوي. دغه ټلواله د تاجکو او ازبکو څخه جوړه ده چي په څرګند ډول يې د جنوب د پښتنو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوا هر کلي ونه سو. د عبدالحق د وړاندیز له مخي چي باید په جنوب کي هم د ټوپکسالارانو یوه ټلواله رامنځ ته سوې وای او دې به د طالبانو په بیا راپورته کولو کي تر ائتلافي ځواکونو ډېره اغېزه لرلای چي اوس یې غربي ځواکونه لري.

حامد کرزي په خپل وخت کي دغسي یو ایتلاف جوړوی او طالبان هم خورا غلي وه تر څو چي دوي بالاخره په هغه ویرجنه ورځ په ترینکوټ کي تسلیم سول. که د پښتنو دغه ناخبره ائتلاف تقویه سوی وای او ائتلافي ځواکونو یې د هوا څخه ملاتړ کولای دا به د هیواد له پاره تر ټولو ښه امنیتي ځواك وای. دا هغه طریقې دي چي افغانستان خپل ځان د تاریخ په اوږدو کي په ساتلی دئ. افغانستان هیڅکله هم په یوي قوي او ملي اردو سره نه دئ ساتل سوی او د قومي حکومتونو اتحاد د محلي او ساحوي حکومتونو په چلولو کي خورا اغېزمن دئ لکه څنګه چي د کرزي پلار کارونه د یوه قومي مشر په توګه تر سره کول. د افغانانو مطلق اکثریت د طالبانو د رژیم څخه ښه خاطره نه لرل خو که د طالبانو تر نسکورېدلو وروسته د افغانانو سره مرسته سوې وای کېدای سول چي دوی په خپله د طالبانو د بیرته راتګ مخه نیولې وای.

ددي ټولو سره افغانستان یو ځل بیا د بهرنیو سرتېرو له خوا اشغال سو او د ۲۰۰۷ مال په پیل کي هلته د نورو سرتېرو جوپې ور رواني وې. د جنوب د ائتلاف موقع د ۲۰۰۱م کال په اخیر کي د همېشه له پاره له منځه ولاړه. دا شاید د غربي ځواکونو پر ځاي تر ټولو ښه چاره وای چي د هیڅ سره هم بلد نه و. مګر د دغو غربي ځواکونو قومانده او کنټرول داسي یو شی دئ چي اوس هم کېدای سي چي خبري پر وسي او یو تغیر راولي چي په څه ډول د افغانانو سره متقابل عمل وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ۲۰۰۵م کال د مي ۵ ولسمشر کرزي سپيني ماڼۍ ته ولاړ، چې هلته يي په خپل هيواد کي پر بهرنيو ځواکونو د ډېر کنټرول غوښتنه وکړه ولسمشر بوش نه يوازي دغه غوښتنه رد کړل بلکي په خلکو کي يي د ولسمشر کرزي سپکاوی وکړ. کرزي په دې اړه په عامه خبري نه دي کړي او نه زما سره په شخصي توګه خو ولسمشر ته نژدي افغانانو ماته وويل چي دی دې کار ډېر په غوسه کړی و. شايد کرزي په رسمي او عامه توګه پر خپلو غوښتنو ډېر ټينګار کړی وي خو ولسمشر بوش بايد له ده څخه د خلکو په وړاندي خپل ملاتړ څرګند کړی وای. اوس ولسمشر کرزی د ناټو او امريکايي قواوو د وژونکو اشتباهاتو له کبله خورا ځورېږي او غندل کېږي او له بله پلوه د هغوی په اداره کولو کي هم بېوسه دئ. که چيري کرزی او دده لوړ پوړي مشاورين پر دغو ځواکونو ډېره اغېزه ولري نو په ډاډ سره ويلای سو چي مثبت تغير به راسي. له بله اړخه به کرزی دافغانانو په سترګو کي د اعتبار خاوند سي. د بلي خوا به د ناټو او امريکايي ځواکونو له خوا چي کوم تاکتيك په کار اچول سوی دئ په تضمين سره به د وراني، ملکي وګړو ته د مرګ ژوبلي او د افغانانو سره د راشي درشي په چارو کي د کلتوري حساسيتونو د پېښو په مخنيوي کي مرسته وکړي.

په افغانستان کي د سولي له پاره هيلي ژوندۍ دي او خوشبختي مخ پر ډېرېدو ده، ځکه چي ډېر افغانان ورته لېوال دي. خو د افغانستان راتلونکی شکل بايد يوازي د افغانانو لخوا د دوی د خپل مهال وېش له مخي او د دوی په خپلو طريقو باندي وټاکل سي. څونه چي غرب پر افغانانو د خپلو نظرياتو د تپلو کوښښ کوي هغونه د افغانانو د مقاومت سره مخامخ کېږي. لکه څرنګه چي مخکي وويل سول چي افغانان د بهرنۍ نړۍ د مرستي مننه کوي خو هيڅکله مداخله نه مني. غرب بايد

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانانو ته ببلچه په لاس ورکړي خو دا باید ورته ونه وایي چي کوم ځاي وکیندي. دوی ته خښتي په لاس ورکړي خو باید ورته ونه وایي چي څه پـه جوړ کړي. افغانان خورا غښتلي، ځانګړي او په زړه پـوري خلك دي. دوی خورا دوستانه او میلمه پال خلك دي خو یوازي میلمنو ته نه اشغالګرو ته. دوی محافظه کـار دي خـو تونـدلاري نـه دي. تونـدلاریتوب د افغـانـانو پـه خـاوره کـي د امریکـا او نـورو هیوادونـو د غلطـو پـالیـسیو نتیجـه ده چـي افغانان یي د خپلو هدفونو له پاره وکـارول. یـو وخت ټـولي نـړۍ د افغـانو احترام کاوه. په افغـانستـان کي بـه مثبت تغیـرات راسـي خـو پـه کـراره کـه چیري موږ د ژر تغیر راوستلو هڅه وکړو نو پـایلي به یي راته په زړه پوري نه وي.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**